# قتیبه بن مسلم


ليكوال: اسلم راهی

ژباړن: قریب الرحمن سعید






بسم الله الرحمن الرحيم

# ددی کتاب په اړه

قتيبه بن مسلم رحمه الله د اسلامي تاريخ يو ځلانده ستوری دی ٠

په نوی هجري سپوږميز کال کې يې د اسلام د ترويج ، خپرولو، د نړۍ گوټ گوټ ته د ور رسولو او د هيوادونو په فتوحاتو کې د يوه ستر قهرمان په څير د خپلو ځواکونو سپه سالاري په پوره اتلوالي سره تر سره کړي ده٠ د مرکزي اسيا د هيوادونو په گډون يې ان تر چين پورې د اسلام د دين د ور رسولو دنده په ډيره ميړانه او سرخنډنې سره پوره کړه ٠

دنوموړي د تاريخي پيښو په اړه يو شمير تاريخپوهان ليکي چې نوموړي د خپلو شل زرو وسلوالو ځان ځارونکو په مرسته د چين دوه لکه په وسلو سنبال فوځ په گونډو کړي او هغوی يې نه يوازې باج ورکولو ته اړ کړي بلکه په هغه هيواد کې يې د جوماتونو د جوړولو او د اسلام د تبليغ له پاره د لارې د خلاصون په اړه هم ګرندۍ ګامونه اخيستي دي ٠

د قتيبه بن مسلم رحمه الله سره يو بل ملاتړي او دير نوميالی عرب سالار، خينس بن يوسف ، چې د بني تميم د قبيلې غړی دی ، هم په تاريخ کې ځانته مقام او ځای لري ٠

نوموړي چې يو ځوان غښتلی ،جنگجو او ځان ځارونکی سالار و ، د قتيبه تر څنګ يې په ټولو فتوحاتو کې د ختيځ نه تر لويديځ پورې ځانګړې کرچار درلود ٠

دا هغه ځوان دی چې بيا د قتيبه بن مسلم رحمه الله سره د ملګرتوب او اسلام ته د وفادارۍ په لاره کې د خپلې قبيلې په خلاف ودريد او په دې توګه يې خپله ټوله کورنۍ قربان کړه ٠

د قتیبه بن مسلم شهادت هم ډیر غمناکه او د اسلامي امت د کرغیړنو او ناولې څیرو یو شرمناکه تاریخ دې چې تل به یې د اسلامي امت راتلونکي نسلونه په یاد لري ....

اسلامي امت د عروج او زوا ل مختلف مراحل تیر کړي دې ، تل یې عروج همغه وخت په برخه شوې چې د قتیبه بن مسلم ، محمد بن قاسم او خینس بن یوسف په څیر سپه سالاران او ځان ځارونکې په کې راپیدا شوي، خو کله چې دغه ډول اتلان د شاهي مستبدو او ظالمو کورنیو رژیمو د اختلاف ښکار شوي نوبیا په ډیره ناوړه توګه یا په شهادت رسیدلي اویا یې د نوم ورکۍ ژوند تر سره کړې دې.

په دې اره د سندهـ د فاتح محمد بن قاسم رحمه الله ژوند هم ، که له یوه ارخه د ویاړونو ډک دې خو د بله ارخه د شاهي میراثي ظالمواو مستبدو کورنیو د اختلافاتو په پایلو کې په یوه ستره غمیزه بدل شوې دې .

ددې کتاب لوستل ، لوستونکې ته د اسلام د ترویج ، په دې لاره کې د ځان ځاریو ، د لومړنیو فتوحاتو او بیا د شاهي میراثي کورنیو د اختلافاتو په پایلو کې دداسې ثامتو او ویاړلو وګړو د له منځه تللو بیلګې تر مخ ږدي، او امت ته درس ورکوي تر څو د پخپلو پښو ه دریدو له پاره د ظالمو رژیمونو په لاسو کې د لوبې وسیلې و نه ګرزیږي .

دا کتاب وایې چې .... نوریې پخپله ولولئ .

قریب الرحمن سعید

۱۴ اپریل ۲۰۱۵ کال

## خینس بن یوسف ...

دجیحون (امو) دسیند په غاړه یوه ځوان خپل اس په پوره چټکتیا سره ځغلاوه ، د هغه د مخ د کیفیت څخه داسې ډاګیزیده چې څوک ورپسې دي او تعقیبوي يې ، هغه د بدخشان څخه د خوارزم په لور روان وو.

د سیند دغاړې غرونه په واورو پوښل شوي وو ، د ارال د بحیرې څخه را الوتې یخبنه هوا د همدې غرونو د واورو او په واورو پوښل شوو ونو سره ټکر او شریدله .

دهغه کالي د ټاټ څخه چې دننه برخه يې د مالوچو څخه ډکه شوې وه جوړ کړل شوي و، د ټاټ د پاسه يې زره اغوستې وه اوبیا يې دهغې دپاسه یو زوړ او دکاره لویدلې پوستین اچولې و. په سر يې د وړیو څخه جوړه شوې ګرمه خولۍ وه چې دهغې د پاسه يې اوسپنیز خول را اچولې و . شاته يې د غشو څخه ډکې خلطې او د اس د زین تر شا يې یو شاهین هم ناست و کله به چې اس کوم خطرناکه موړ ته ورسید نو شاهین به هم دخپل ځان د کنترول له پاره وزرونه ووهل اوبیرته به په ځاې کیناست .

هغه د فریار نومې کلې په لور په دغه لویه لاره روان و ، دا لاره د یوې لورې د بخارا په لور تلله چې د طوادس ، کرمینیا څخه تیریدله او تر سمرقنده اوبیا دهغه ځایه تر تاشقنده پورې رسیدله او د بلې لورې د جیجون یا امو د سیند د پله څخه تیریده او د امل نومې کلي څخه په تیریدو سره د مرد طوس ، مشهد او رې په لور ور تلله .

لا تراوسه ددې کلي نه دوه درې مایله لرې و چې شاته يې و کتل ، ګوري چې درې اس سپاره په ډیره ګرندی توګه د یوه موړ څخه راتاو شول او دده په تعقیب پسې را روان دي ، خپل اس يې تم کړ او د غره د یوې لوې تیږې تر څنګ و درید ، کمان يې په لاس کې و نیوه او یو غشې يې د خلطې څخه را وویست اوبه کمان کې يې کیښود ، دهغه د مخ بدلیدونکې رنګ دا څرګندوله چې هغه کومه ستره پریکړه کړې ده ، هر څومره چې دغه درې

سپاره را نژدې کیدل ددې د مخ او ځیرې رنګ نور هم دغضب اوقهر نه تک سور ګرزیده •

خو کله چې هغوې ورته را نژدې شول نو غشي يې پرې وربرېښود ، د هغوې يو کس په دې غشي په ستوني کې ولګيد اود اس نه لاندې په تيږ.لوړه ځمکه راپرېوت ، د هغه دوه نورو ملګرو چې کله دخپل لومړي ملګرې دا حال وکتلو نو سمدلاسه يې ځانونه سنبال کړل ، په خپلو مخو کې يې ډالونه ونيول او په بيړه دهغه په لور ور روان شول •

هغه هم سمدلاسه خپل کمان په کيڼ لاس کې و نيوه او ښي لاس يې شاته کړ ، شاهين سمدلاسه را والوت او د هغه په لاس کيناست ، ددې کار سره سم يې توره را وويستله او د غره د پناه ځاې ځخه را ووت او ددې کسانو په لاره کې و دريد کله چې يې چې توره په فضا کې پورته کړه او و يې خوزوله نو داسې ځرګنديده چې په سلګونو بريښناوې په هوا کې اوړي را اوړي ، بيا يې په غضب ناکه تو ګه وويل : زما ددې تورې په لور ووينئ ، ددې په کتلو سره به په رېښتيا هم تاسو ته ستاسو مرګ تر مخه راشي •

د هغوې د ډلې ځخه يې يوه په ډيره ميړانه وويل : دا د ګيدړانو خبرې نورو ته وکړه ، پر مونږ داسې خبرې هيڅ ډول اغيز نه شي کولې ، که چيرې مونږه دومر بې زړه واست نوتر ددومره لرې ځايه به مو ستا تعقيب نه کاوه او که ته دومره ميړنې او شجاع وې نو بيا به دې د خپل ځان د خلاصون په خاطر د ګيدړې په ځير منډې نه وهلې • خو اوس ستا هڅې پاې ته رسيدلي دي او همدا به ستا اخري ساه وي •

هغه دخپل شاهين په لور اشاره وکړه وويل : که زه وغواړه نو دغه شاهين به تاسو په ولاړه ولاړه په تلپاتې خوب ويده کړي • خو نه ••• نه ، زه تاسو ته د جنګ موقع اوفرصت درکوم •

شاهين يې شاته کيښوه اوبيا يې دېخوا نه په زياته قهريدلي توګه وويل:

داسې یې مه ګڼئ چې زه له تاسو دریواړو څخه ویریدلي او را تښتیدلي یم ، ما ستا ځواک او قوت کتلو او هغه مې دادې اوس تر مخه دې ، اوس نو په دغه پرانستې میدان کې تاسو دواړو ته د مقابلې کولو بلنه درکوم ٠

هغه دواړه دهغه ښیې او کیڼ لورې ته را غلل او په ډیره ژوره توګه یې دهغه په لور وکتل ، ویې کتل چې هغه خپله توره په پوره ځواک سره په خپل لاس کې نیولې ده ، او دحالاتو سره دمقابلې کولو له پاره دهره اړخه تیار اومستعد ولاړ دې ٠

د جیحون (امو) دسیند په غاړه ، په دغو تیرلوړه ځمکه کې دوه خنزیرانو په یوه زمري باندې په یوه وار حمله وکړه ، دوه غوښه خوړونکې کارغان په یوه شاهین باندې راغبرګ شوي وو٠ هغو دواړو فیلانو په یوه زمري باندې په پوره ځواک سره حمله کړې وه ٠٠٠ مګر ٠٠٠ زمرې هیڅکله هم د خنزیرانو څخه نه ویریږي اونه شاهین د غوښې خوړونکو کارغانو څخه ویره احساسوي ، زمري هم د فیل په څیر دیوه ځواکمن او قوي حیوان تر مخه خپل خوې بوې نه بدلوي ٠٠٠٠

په همدې وخت کې هغه ددې دواړو څخه په یوه حمله وکړه ، حمله یې دومره ځواکمنه او وینه تویونکې وه چې توري یې دهغه وجود دوه برخې کړ او په خپلو وینو کې یې په ځمکه لاندې را پرېیاسته ٠ دهغه د راپرځولو نه سمدلاسه وروسته شاته شو او بیا یې خپله توره په هوا کې وخوزوله او د پاته دښمن په مقابله کې و غرید وویل : اوس خو دې د خپل ملګري انجام وکتلو خو ددې سره سره بیا هم که څه شک لرې نو رامخته شه ، زه به درته د لومړي ګذار نوبت هم درکړم ، د هغه اس هم بیا بیا د ځمکې څخه پورته کیده ، شنړیده او داسې څرګندیده چې دحملې کولو له پاره ناکراره و ، د هغه مقابل کس لا هملته په خپل ځاې ولاړ و او داسې معلومیده چې د حالاتو جاج اخلي اونه غواړي خپل ژوند په خطر کې واچوي ٠

هغه یوځل په ډیره وحشتناکه توګه وخندل ،چې خندا یې د غرونو په ناو کې بیرته را انګازه کیدله ٠

که چيرې د تيښتې هڅه دې وکړه نو ياد ساته چې ستا انجام به ستا د ملګرې څخه هم بدتر وي خوکه خپله ناکامي دې منلي وي نو په يوه شرط دې پريښوولو ته تيار يم ٠

هغه ورته په لړزيدلي او تريدلې اواز سره وويل : زه په هر شـرط له تاسره سولې کولو ته تيارېم ، ما خپله ماتې منلې ده ، خپله توره په نيام کې کيږده ٠

کله چې هغه خپله توره په نيام کې کيښوده نو ده خپل اس ور مخته کړ او دهغه سره نزدې و دريد ٠ تر لږې شيبې پورې يې هغه ته په غور سره وکتل اوبيا يې ورته وويل : ما پيژنې ؟

ډير ښه دې پيژنم ، ته د بنو تميم د قبيلي خينس بن يوسف يې ٠

ستا نوم څه دې ؟

شاهک

فارسي يې ؟

هو !

که چيرې ته راته همدومره ووايې چې دهغې تجارتي قافلې خلک چيرې دي چې د بادغيس د حکمران تيرک خلکو لوټ کړي او بنديان کړي يې دي ٠ نو زه به دې پريږدم ٠خو دا ياد ساته چې که غلطي دې راسره وکړه اويا دې غلط خبر راکړ نو بيا زه د انتقام د اخيستو له پاره د نړۍ تر بل سره پورې هم ستا په تعقيب پسې در تللې شم٠

شاهک ورته پرته له څنډه ووېل : د هغوې د ډلې څخه يې څه وژل شوي دي ٠ خينس لږ څه خفه شانته شو ٠

دومره پوهيږم ٠٠٠٠خو له تا نه پوښتنه کوم چې هغه ژوندې يې اوس چيرې دي ؟

ما خو کتلي نه دي خو اوريدلي مې دي چې هغوې د شومان په ښار کې بنديان دي اود هغه ځاې حاکم يې په ډيره کلکه توګه څارنه کوي ، ددې نه پرته هغه ته په دې اړه هم معلومات تر لاسه شوې دي چې ستاسو د قبيلي

څو ځوانان په ډیره جدي توګه دهغوی پلټنه کوي ، په دې خاطر د شومان حاکم د کرایې قاتلین ټاکلي دي تر څو د بني تمیم د قبیلي هر هغه کس ووژني چې ددې بندیانو د لټون پسې راوتلې دي •

دکرایې قاتلانو ته یې چې دبني تمیم دقبیلي دکومو ځوانانو نوم لړ برابر کړي دې په هغې کې ستا نوم تر ټولو لومړی راغلې دې او له تا نه وروسته ستا ورور حرب بن یوسف دې ، هغه له تاسو دواړو څخه ډیر ویرېږي ، په دې خاطر هغوی تاسو ته د لیوانو په نامه نوم اخلي •

دقافلي په لوټولو کې تر ټولو چا ډیره برخه اخیستې ده او دا ټول کار یې د چا په حکم تر سره کړې دې ؟

د ترمذ ښار دې که نه ؟

ته خپله خبره کوه ••• وایه ، زه پوهیږم •

هلته یو ډیر شتمن فارسي اوسیږي چې توفیل نومیږي ، داټول کار دهغه اودهغه د زوی د وصیف دې ، همغه د مسلمانانو ددې قافلي د هر حرکت په اړه اطلاع ورکوله او بیا چې ددې قافلي د لوټولو څخه کوم سره زر او نور قیمتي شیان تر لاسه شوي دي په دې ټولو کې غوره برخه همدې توفیل او د هغه زوی ته ورکړل شوې ده ، اوس چې د بنوتمیم د ځوانانو د وژلو له پاره د کرایې کوم قاتلان ټاکل شوي دي نو د هغوی څارنه او پیدا کول هم دهمدې توفیل او د هغه د زوی په لاسو کې دي ، د دې نه پرته هغه ستا د وژلو له پاره یو ځانګړی قاتل ټاکلی دی ، هغه سفدي نومیږي او یو وخت یو مشهور غل و، هغه هم نن سبا ستا تر شا ګرځي ، د هغه سره توفیل ژمنه کړې ده چې که چیرې خینس بن یوسف دې وواژه نو ورته به زر طلایې دینارونه ورکړي•

خینس بن یوسف وویل : هغه څه نومیږي ؟

هغه باغر نومیږي او دکش نومي کلي اوسیدونکې دې •

خینس بن یوسف وویل : دا کلي چیرې دې ؟

دا يو کوچنۍ شانته ښار دې ، د ترمذ نه دوه سرکونه بيرون وځي ، يو يې د صفانيان او شومان په لور ورځي او بل يې د سمرقند په لور • هغه کلي هم په همدې سړک پروت دې ، د همدې کلي نه يو سړک تر سمرقنده پورې ځي او بل يې د نسف او بزده څخه تيريږي او بخاراته رسيږي •

زه پوه شوم ايا ماته يې د مخ د شکل په اړه لږ څه معلومات را کولې شې •

ولي نه ، هغه يو لوړ ، تور رنګې ځوان دې ، په تندي يې د پوزې نه لږ څه دپاسته د زخم نښه ده ، وريښمينه کالي اغوندي او نن سبا سپين رنګه قيمتي پوستين هم په غاړه کوي •

خينس بن يوسف وويل : د کرايې دا قاتل اوس دې چيرې ؟

هغه ډيره لويه حويلۍ لري ، چې دحويلۍ يوه برخه يې خپلو بدمعاشانو ته ځانګړې ده •

خينس بن يوسف وويل : يوه بله خبره هم راته وکړه •

شاهک وويل : ووايه

خينس بن يوسف وويل : تاسو ولې زما تر شا را روان واست ، ايا تاسو هم د کرايې قاتلان ياست ؟

شاهک وويل : مونږ خو بزګران يو ، د يوه وخت د ډوډۍ پسې منډې وهو ، همدې باغر مونږ ته ويلي وچې که چيرې خينس بن يوسف مو وواژه ، نو زه به تاسو هر يو ته سل سل ديناره درکړم ، ما خوپه لومړيو کې دا خبره نه منله ، خو بيا هغه ګواښ وکړ چې که چيرې تاسو زما خبره و نه منئ نو کورونو ته به مو اور واچوم ، په دې اساس مونږ يې مجبور کړو تر څو دغسې يو قدم واخلو •••

هغه وخت چې تاسو زما په تعقيب پسې راتللئ نو ستاسو شميره شپږ کسان وو ، هغه درې نور چيرې ولاړل ؟

د هغوې څخه دوه زما سکني ورونه وو او بل زما دماما زوې و ، ما پخپله هغوې بيرته وليږل ، ځکه چې هغوې د جنګ کولو هيڅ ډول تجربه نه درلوده •

خينس بن يوسف وويل : ته زما سره يوه ژمنه کولې شې ؟

شاهک وویل : څه ډول ژمنه ؟

خینس بن یوسف وویل : زه به ستا ټول مصارف په غاړه واخلم • خو په بدل کې به یې ته ما د توفیل ، باغر او نورو بدمعاشانو د کړچار او فعالیتونو څخه خبروې •

ما ته قبوله ده ، ما همدا نن د خپلو وفادارو او با اعتماده انسانانو له ډلې وشمیره •

خینس خپل جیب ته لاس کړ او د نقدو یوه ډکه کڅوړه یې را وویسته او شاهک ته یې ورکړه او ورته یې وویل: واخله ، دا سل دیناره دي ، ددې نه اخوا به نور هم ډیر څه درکړم •

شاهک خوشحاله شو او هغه کڅوړه یې را واخیسته •

خینس یوه پریکړه وکړه او ورته یې وویل : همدا اوس زه هم له تاسره یو ځای ترمذ ته ځم •

شاهک وویل : ولې

خنیس وویل : د شپې له ازخه ، څه وخت ، په کومه بهانه ، باغر جنوبي سرای ته له ځانه سره راولم بیا وګوره چې زه ددې بدمعاش سره څه ډول معامله کوم •

شاهک وویل : هغه خو نن سبا په ترمذ کې نه شته ، ځکه باغر د کوم خاص کار په خاطر خوارزم ته استولی دی •

خینس بن یوسف وویل : د څه کار له پاره ؟

شاهک وویل : په دې نه پوهیږم •

زه که له تاسره کتل غواړم نو چیرې او څه ډول به درسره وینم • ،

دښار په بازار کې یو زوړ سبزي پلورونکې دې ، سپینه ږیره لري ، ته به دهغې څخه زما په اړه پوښتې ، هغه به دې ان زما کورته راولی ، زه به همدا نن ستا له پاره کار پیلوم •

خینس خپل لاس ورمخته کړ •

پخښه خبره ده ؟

شاهک هم خپل لاس دهغه په لاس کیښود •
بلکل پخښه خبره ده ، د نن نه وروسته مونږ دواړه ورونه یو •
دواړو یو بل ته خداي پاماني وویله اوپه مختلفو لارو روان شول •

***

خینس لږ څه مخته ولاړ ، د غره سر ته وخوت او بیا د یوې نالې په لور ور وګرزید • ددې نالې دواړو خواو ته د چنار سترې سترې ونې ولاړې وې ، مخامخ یې یو ستر میدان و چې د سترګو تر نظره پورې د مختلفو حیواناتو څخه ډک و • دمیدان ښیې لورې ته یو ستر کلې تر سترګو کیده ، چې هلته د جوماتونو سترو منارونو دسیمي ټول ماحول ښایسته کړې و •

د میدان په هر ځاې کې شپونکې د تیږو په سرو ناست وو او خپلې خپلې رمې یې څارلې ، کله چې خینس میدان ته ښکته شو نو سمدلاسه یو شپونکي چې ددوې رمه یې پووله ، رامنده کړه اومخې ته یې راغې او دخینس د اس واګې یې په لاسو کې و نیولې •

خینس یې په لور وکتل او په خندا یې ورته وویل : تمامه ، څنګه یې ؟
بلکل روغ جوړ یم •
په کور کې خو خیریت دې کنه ؟
بلکل
حرب ورور مې په کور کې دې ؟
نه ، هغه د څو ورځو راهیسې شومان ته تللې دې او لا تر اوسه بیرته نه دې راستون شوی •
اوښان څنګه دی شیدی کوی او که ؟
ښه دی دپخوانه یې شیدې زیاتې شوې دي •
خینس خپلې مخکې په تیږه ناست د یوه کس په لور اشاره وکړه : هغه بل درسره څوک ناست دې ؟
ورور مې دې ، زما دحال د معلومولو له پاره دکور نه راغلې دی •
خینس بن یوسف وویل : نوم یې څه دې ؟
عتبه

خینس بن یوسف وویل: هغه یو څو ورځي همدلته له ځانه سره وساته او ښه خوراک څښاک پرې وکړه.

څنګه چې خینس روان شو نو تمام هملته و درید او دهغه ترشا یې کتل بیا بیرته خپل ورور ته راستون شو.

عتبه ترې وپوښتل: دا څوک و؟

دا هغه څوک دی چې رمه یې زه څروم.

نوم یې څه دی؟

خینس بن یوسف.

دکومه ځایه راغلی دی؟

د هغه کیسه ډیره اوږده ده.

ماته خو لږڅه ووایه.... زما خوښیږي چې وایې ورم.

دا درې ورونه دي، چې مشرې احمد بن یوسف نومیږي او دهغه څخه کوچنې یې حرب بن یوسف او تر ټولو کوچنې یې خینس بن یوسف دې. په دې کلي کې د څو قبایلو خلک میشت دې، لکه د بني تمیم، بني بکر، بني زبیان، بنولحم او د بنو سلیم عرب هم په کې میشت دي دوی ټول تاجران دي، دوي وزې، میږې لري او اوښان هم پالي، ددوې د تجارت تر ټولو لویه سرچینه ددې حیواناتو وړه، غوښه، شیدې .... دي.

د بنو تمیمو یوه تجارتي قافله چې په هغې کې د هغه پلار، ماما او دماما زامن شامل و د تجارت په خاطر د شومان دښار په لور تللي وو، اوس معلومه نه ده چې د هغوې قافله چا و لوټله خو څه خلکو چې د جنګ له پاره یې ملاتړلې وه، ووژل شول او پاته یې بندیان کړل شول، د هغه پلار، ماما او د ماما زوې وژل شوي دي او لاشونه یې هم پیدا کړل شوي دي. خو د بندیانو په اړه اوس مختلف افواهات خپاره شوي دي، څوک وایې چې هغوې ټول د شوما ن په ښار کې بندیان دي او د بادغیس د حکمران ... تر کلکې څارنې لاندې دي.

اوس بنو تميمو خپل زړه ور او میړني ځوانانو د هغوی دپیداکولو او ازادولو له پاره تاکلي دي چې په دې ډله کې دغه دواړه وروڼه هم شامل دي خینس ددې ټولو ځوانانو مشري په غاړه لري ، په شمیر ځوانان دي چې مرګ هم ترې په تیښته تښتي او همدا ددوی کیسه وه ٠٠٠٠

عتبه په خفګان سره وویل: دا غمګینه پیښه کله رامخته شوی ده ؟

تمام وویل: داسې یوه میاشت به کیږي ٠

په دې وخت کې یو بل شپونکې هم ددوی خوا ته را روان وو نو په دې خاطر دوی چوپ شول ٠

***

کله چې خینس د بنو تمیم محلې ته رو ننوت نو په بامونو ولاړو ښځو اونجونو اوپه کوڅو اولاړو کې تلونکو نرو ښځو په ډیره خوښه توګه ورته ښه راغلاست وایه او په ډیره خوږه لهجه یې ورته ویل:

اهلا و سهلا مرحبا          اهلا و سهلا مرحبا

د خینس بن یوسف په شونډو خندا وه ، ډیره ژوره او دسکون نه ډکه خندا ، هغه خپله ټوله ستومانتیا له یاده ویستلې وه ، لږه شیبه وروسته هغه یوې حویلۍ ته ورننوت ٠ مور یې سلامه ، ورور یې احمد ،د ترور لوریې دمنه او ترور یې مراجل ټول راپورته شول او د هغه مخې ته راغلل اوپه ډیره ګرمه توګه یې دهغه ښه راغلاست وکړ ٠

د میره او زوی د وژل کیدو وروسته د هغه ترور او د ترور لور یې هم هلته ددوی په کور کې میشت شوي وو، د منه یې اس و نیوه او په اخور یې وتړه٠

هغه د شپاړلس کالو ښایسته نوې پیغله وه او د خپل ورور په خوشحالۍ کې اخوا دیخوا په منډو ترړو مصروف وه ، کوټي ته د راتلو سره سم خینس د خپلې مور سلامه څخه وپوښتل: مورې ! ورور می لاندې راغلې ؟

سلامه ورته په مړاوي اواز وویل: زویه ! د څو ورځو راهیسې هلته شومان ته ورغلې دې ، خو تر اوسه یې څه درک نه دی معلوم ، ما ته خو ستا په اړه هم اندیښنه راپیدا شوی وه ٠

زویه ! ته خو د هغه نه دوه ورځې مخته وتلې وې •
مورې ! ما ډیر کلې او ځایونه چاڼ کړل •
په دې وخت کې احمد ترې وپوښتل : څه درک درته معلوم شو ؟
وروره ! ما داسې یو کس خپل باوري ګرځولې دې چې ماته ددښمن د هر پل په اړه خبر راکوي ، زمونږ دښمنانو زمونږ د وژلو له پاره د کرایې څو کسه قاتلان ټاکلي دي خو اوس به زه هغوې د مرګ کندې ته ور رسوم •
مور یې سلامه ورته په اندیښمنه توګه وویل : زه خو وایم زویه ! دا انتقام او بدله پریږده ••• دا جنون او لیونتوب دې •
زویه ویریږم چې د میړه ، زوې او دخور دمیړه سورې خو لا دپخوا رانه الله تعالي واخیست ، الله تعالی دی نه کړي چې پـه تاسو بانـدې څه چل وشي •••••
خینس بن یوسف یې حوصله لوړه کړه او ورته یې وویل : مورې ! غم مه کوه ••• زه به د هغوې د یوه یوه قاتل څخه پوره پوره بدله واخلم ، زه تر ټولو لومړی ددې کرایې د قاتلانو څخه ځان بي غمه کوم او د هغې وروسته به داصل قاتلانو پورې ځان ور رسوم •
مورې ! زه به دا ثابته وم چې د یوسف بن نعمان زامن بې زړه او بې غرته نه دي •
دمنه هم راغله او ددوې تر څنګ و دریده •
خینس یو ځل بیا دخپلې مور څخه وپوښتل : مورې ! ورور مې څوک له ځانه سره یو ځاي بوتللی دي ؟
سلامه وویل هغه خو پخپله ددوو ملګرو سره شومان ته ولاړ او پاته درې کسان بخارا ته ولاړل ، هغوې ته دا شک پیدا شوې چې د قاتلانو څخه یې یو دوه کسان هلته په بخارا کې میشت شوي دي •
مورې ! زه هم سبا د خوارزم په لور ورځم ، زه به ځان خبروم چې زمونږ د قافلې په لوټولو کې چا ډیر لاس درلود او چا زمونږ د وژلو له پاره کرایې قاتلان مقرر کړي دي ••• یو وینه تویونکې قاتل چې په یوه وخت کې

سترغل و٠٠٠ هغه يې زما ترشا تاكلې دي ٠٠٠ هغه بدمعاش اوس په ځانته ځان د كوم كار په خاطر هلته خوارزم ته ورغلې دې ، زه غواړم چې هلته په خوارزم كې يې له منځه يوسم او په دې توګه په خپل كار كې څه اسانتيا راپيدا كړم •

په دې وخت كې يو ځوان راننوت او خينس ته يې وويل : خلك درته بيرون انتظار كوي ٠٠٠ هغوې له تانه د ډيرڅه په اړه پوښتنه كول غواړي ؟

دمنه ورته سمدلاسه مخته شوه او ويې ويل : همدا اوس خو را ننوت ، پريږده چې خوراک څښاک وكړي بيا به در وځي •

خينس ورته په مينه وويل : دمنه ته ډوډۍ غذا تياره كړه زه بيرته سمدلاسه را ستنيږم•

ددې خبرې سره سم دهغه ځوان سره بيرون ووت •

***

واوره ښه په زور سره وريدله ، د ماښام د تيارې توري څپې را خپرې شوې وې ، خينس خوارزم ته ورننوت ، د يخنۍ تيزو څپو هرڅه يخ كړي وو ، د هغه غاښونه د يخنۍ نه لړزيدل ، غوښتل يې چې ډير ژر په كوم سراې كې پناه واخلي •

ښار ته د ننوتلو نه وروسته همغه لومړی سراې يې چې مخې ته راغې همغې ته ورننوت ، د سراې يو نوكر ورمخته شو او د هغه اس يې و نيوه ، كله چې هغه اس د اخور په لور بوت نو شاهين هم د اس د زين څخه را ولوت او د هغه په اوږه كيناست ، په دې وخت كې د سراې مالک په خپله مخكې پراته كاغذونه د نظره تيرول •

كله چې خينس بن يوسف د هغه مخې ته ورغې نو هغه لږ شانته خپل سر راپورته كړ او د سر نه تر پښو پورې يې هغه ته وكتل ، بيا يې سترګې په شاهين باندې و نښتلې •

خينس ترې په خندا وپوښتل : څه شي ته ګورې ؟

هغه خپله انديښنه پټه كړه اوځواب يې وركړ : ګورم چې ستا او ددې شاهين په سترګو كې پوره يو شانتوالې تر نظره كيږي ، دا زماپه لور

داسې راګوري لکه همدا اوس چې پرما حمله کوي ، ايا دا ستا روزل شوې مرغه دی ؟

خينس بن يوسف ورته په مسکا سره ووېل : هو ! زه چې د چا په لور اشاره وکړم ، دا سمدستي ورالوزي او حمله پرې کوي •

ته کوټه غواړې ؟

هو!

هغه ورته يوه کنجي ورکړه او ورته يې ووېل لاندې منزل کې نهمه کوټه ته ورشه •

خينس کنجي واخيسته او څو قدمه وړاندې ولاړ ••• بيا بيرته راستون شو او ورته يې ووېل : ستا نوم څه شی دی؟

اکتائي

خينس بن يوسف ووېل : چينايې يې

هو !

خينس بن يوسف ووېل : ستا په سرای کې څو داسې کوم مسافر چې باغر نوميږي شته ؟

هغه ورته په نفې سره سر وخوځوو•

نــه !

ډير ښه واوره ! زما اسپ څو ساته په پرليسې توګه په واورينه سيمه کې سفر کړې دې . هغه په کوم ښــه ځای کې بند کړه دانه او اوبه ورکړه • زه به لږه شيبه وروسته راځم تر څو هغه ووينم ، زين به يې راښکته کړې ، په خرجين کې يې توبــره ده ، هغه به د دانو څخه ډکه کړې او ورتــه به يې را ځوړنــده کړې او هو ! زما دکوټې په اور ځــای کې هم بايــد ارو روښانه کړی •

اکتائي لږ څه سره ټيټ کړ او ويې ويل : هر څه به ستا دخوښې په مطابق تر سره شي •

خینس یو ځل بیا هغه ته په ژوره توګه وکتل اوبیا د کوټې څخه بیرون ووت ، بله ورځ هم واوره اوریده ، خو ددې سره سره بیا هم هغه د ښار هر سراې وکتل خو په هیڅ ځاې کې یې د باغر درک معلوم نه کړ ۰

دریمه ورځ یې یو ځل بیا لټون پیل کړ ، ټول بازار یې وکتل، یو یو دوکان ته ولاړ ۰ خو بریا یې په برخه نه شوه ۰

په همدې ورځ په داسې حال کې چې تیاره په خپریدو وه هغه د بازار څخه تیریده او دخپل سراې په لور ورته نو ویې کتل چې دوه کسه عسکر یوه ښځه په ډیره ناروا توګه وهي تکوي ، ښځه په ځمکه را پریوتې او عسکر یې په پښو پښو وهي او څه ترې پوښتي ، ښځه چې عمر به یې دیرش کاله وه په ډیره بده توګه ژاړي او فریاد کوو ۰

خینس د یوه بند دوکان تر خوا و درید او دښې لاس ګوته یې د شاهین په سر باندې ووهله ۰ هغه وزرونه وخوځول او مخې ته یې و کتل ، کله چې خینس دخپلې ګوتې په واسطه د هغو عسکرو په لور اشاره وکړه نو شاهین والوت او په دومره ګړندۍ توګه یې حمله وکړه چې دسترګو په رپ کې یې ددواړو عسکرو څخه سترګې وویستلې او بیرته د خینس لاس ته راستون شو. خینس بن یوسف هغه بیرته د خپل زین شاته کیناوه ۰

عسکرو چغې سورې جورې کړې او شاته شول ، یو د بل سره ټکر شول اوپه ځمکه را پریوتل او فریادونه یې پیل کړل ، خینس ورمنډه کړه او دا ښځه یې راپورته کړه بیا یې هغه د خپل ځان مخته کینوله او اس یې په ځغاسته کړ د ښار بیرون یې دهغې ښځې په لور وکتل ، هغې په ډیره سختۍ سره ساه اخیسته ۰

خینس ترې په ډیرې همدردۍ سره وپوښتل : محترمې ! ته چیرې ځې ۰۰۰ او نوم دې څه دې ؟

هغې خینس ته داسې کتل چې تا به ویل د پیژندلو هڅه یې کوي ، بیا یې ورته په ډیره ستونزمنه توګه وویل : ته څوک یې ؟

زه په دې ښار کې اجنبي یم ۰

زما نوم ظلوم دې

هغو سپاهيانو ته ولې وهلې ؟

ظلوم وويل : ته خو ډير ښه انسان ښکاريږې ، لومړی زما يو کار وکړه ٠

خنيس وويل : هرو مرو به يې وکړم ٠٠٠ ته يې راته ووايه ٠

ظلوم ووېل : واوره ! خوارزم شاه د خپل کوچني ورور خرزاد په واسطه د تخت نه لرې کړل شوې او پخپله يې په تخت ولکه کړې ده ، هغه يو ډير ظالم ، زړه سختې او وحشي انسان دې ، اوس دلته د هيڅا عزت خوندي نه دې ، هغه د پخواني پادشاه ټول سالاران ووژل ، زه هم د يوه سالار په کور کې خدمتګاره وم ، هغه ظالم هغه سالار وواژه او د هغه کورېې د خاورو سره خاورې کړ ، د هغه ښځه او لور يې د يوه خدمتګاره سره يو ځاې د خپل کور په تاخانه کې پټ شوي دي ، خرزاد يې پلټنه کوي خو هيڅا ته يې په اړه معلومات نه شته ٠ هغوې دريواړه وږې تږې دي ، ما دهغوې له پاره څه خوراکي مواد اخيستل، په همدې وخت کې دې عسکرو زه و نيولم ، هغوې زه ډيره و ډبولم تر څو د هغوې په اړه معلومات ورکړم ، خو ما ورنه کړ ٠ خو اوس زه د مرګ په حال کې يم نو را سره ژمنه وکړه چې ته به دهغوې سره هرو مرو مرسته کوې ، ته يو زړه ور او ميړنې ځوان يې٠ کيداې شي چې الله تعالي ته دهمدې په خاطر را ليږلي يې چې ته هغوې ددې ځايه وکاږې او کوم خوندي ځاې ته يې ورورسوې ٠

ستاکور چيرې دې ؟

زه رومي نسله يم او د کوچنيوالې څخه ددوې سره خدمتګاره وم ٠

اوهغوې څوک دي ؟

هغوې فارسيان دي ٠

واوره ! زما د ژوند څو شيبې پاې ته دي دومره وخت نه شته ، د ښار نه د شمال په لور پنځه ميله واټن وهلو وروسته يو کلې مخې ته راځي ، چې سرقوسه نوميږي ،ددې په ختيځ کې يو کوچنې غونډۍ ده چې د چنا ونو ګڼې ونې پرې ولاړې دي او د همدې غونډۍ په سر دهغوې حويلۍ هم ده ٠

ددې حويلۍ لويدلي ديوالونه اوس هم تر سترګو کيږي ، يوازې دوه ديوالونه يې پاته دي چې شرقا اوغربا ولاړ دي ، د هغې تر منځ د بيروني ديوال نه لس ګزه لاندې يو ګول شوې تور شکله کانې دې چې د ځمکې سره برابر دې او په نورو تيږو کې راښکيل دې ، همدا د تاخانې لاره ده ، که چيرې ته په هغې باندې دوه ځله لاس راکاږې نو هغوې به يې ددننه څخه پورته کړي ، ځکه هغه د بيرون څخه نه شي ويستل کيدې ...

ظلوم خپله ساه واخيسته.

خينس ترې بيا وپوښتل : دهغوې نومونه څه دي ؟

د سالار د ښځې نوم قراطيس دې ، د لور نوم يې ماروه او د غلام نوم يې طوانه دې .

هسې نه چې هغه تيږه په واوره کې پټه شوي وي .

نه ، هلته د ګڼو ونو سيورې دې ، هغوې د څو ورځو راهيسې وږي دي .

که چيرې مرسته ورسره ونه کړل شي نو د لوږې او تندې څخه به ومري .

هلته خو دعسکرو کومه پهره نه شته

په دې وخت کې ظلوم ځواب و نه شو ويلې ، خنيس يې سر و خوځوو ، ويې کتل چې دهغې سر يوې لورې کوږ شو ، دهغې نبض يې وکتلو ، هغه له منځه تللې وه . هم هلته يې په واوره کې ورته قبر وويست او په کې يې ښخه کړه .

بيرته بازار ته راستون شو او د يوه دوډۍ پلورنکې څخه يې دوډۍ واخيسته او بيا ولاړ او پوره اندازه وچه ميوه يې واخيسته ، ټول هر څه يې په خپله خرجين کې واچول ، خو په اس د سپريدو نه مخته يې فکر شو چې کوم شې ترې پاته شوي وي، بيرته دوکان ته راغې او خپله مشکيزه يې د اوبو څخه ډکه کړه .

هغه دشمال په لور دښار نه بيرون ووت او په تيارو کې يې اس په ځغاسته کړ ، په ډير کم وخت کې يې هغه پنځه ميله واټن وواهه . مخې ته يې يو کلې راغې ، همغې ته ور ننوت او د يوه کس نه يې وپوښتل او دادمن شو

چې دا همغه د سرقوسه کلې دې • خو هغه په دې ډېر خفه شو چې په کلي کوم سراې نه و موجود •

بالاخره د کلې څخه ووت او د ختیځ په لور روان شو ، لږ څه مخته یې په تیاره کې هغه غونډۍ تر سترګو شوه چې په ګڼو ونو بوټو پوښل شوې وه ، اس یې د یوې ونې سره وتړه ، بستره یې راپرانسته او هغه یې په اس باندې وغوړوله ، بیا یې خورجین او داوبو نه ډکه مشکیزه راپورته کړه او په ارام سره د غونډۍ په لور روان شو •شاهین هم را والوت او د هغه په اوږه کیناست •

دغونډۍ دپاسه څو فټه واوره لویدلې وه او تر څنګ یې لا د واورې اوربښت همغسې روان وو• هغه په ډېر احتیاط سره د غونډۍ په سر ور خته کله چې پورته ولاړ نو لکه څنګه چې ورته ظلوم ویلي و بلکل همغسې دوه دیوالونه ولاړ وو ، هغه د منځني دیوال په لور ولاړ او کله چې د هغه تیږې په لور ور نژدې کیده نو د چا د پس پسکو خبرې یې واوریدې ، سمدستي یې ځان تیار کړ ، توره یې راوویسته او ددیوال تر څنګ و درید اوهغه لورې ته یې سترګې و نیولې دکومې لورې چې ددغه پس پسکو اواز راته •

هغه وکتل چې په هغه ځاې کې چې دغه دواړه دیوالونه یو دبل سره یو ځاي کیږي ، دکور د بام یوه برخه سلامته پاته وه . د همدې لاندې دوه کسه سپاهیان ولاړ وو،دوې په خپلومنځو کې خبرې کولې ، څو نور سپاهیان شاوخوا پراته وو او ویده شوي وو. خو هغه و نه شواې کولاې چې په دې تیارو کې دهغوې شمیره ډاګیزه کړي او داسې یې و انګیرله چې ددوې د ټولو شمیره د شپږو کسانو څخه کمه نه وه •

هغه د خپلو قدمونو د غږ نه پرته دمنځني دیوال په لور ور غبرګ شو او په داسې حال کې چې په پوره غور سره یې کتل مخته ورغې او هغه ځاې ته یې ځان ور ساوه چیرې چې د ونو ګڼه ګڼونه زیاته وه ، هملته تم شو ، ویې کتل چې تر مخ یې همغه تیږه پرته وه چې ښیې لورې ته یې څه بوټي هم

راشنه شوي وو. لږ څه فکر یې وکړ ، بیا هملته کیناست او ددویم ځل له پاره یې هغه تیږه په خپل لاس ووهله او د عکس العمل منتظر شو .

لږه شیبه وروسته هغه تیږه د کوم اواز کولو پرته پورته کړل شوه ، خنیس وکتل چې یو تور رنګي سړي هغه تیږه پورته کړې او هملته په پاتخو کې ولاړ دي . د تیږې د لرې کیدو سره سم خنیس دننه ور توپ کړ ، هغه کس چې تیږه یې پورته کړې وه غوښتل یې د خنیس په خلاف توره استعمال کړي ، خو خنیس تیله کړ او د پاتخو څخه یې لاندې و غورځوو او ددې ویرې نه چې هسې نه چې دا کس شور او غالمغال جوړ کړي ، ژر یې هغه تیږه بیرته په خپل ځاي کې نصب کړه ، د هغه کس د لاندې پریوتو سره سم دوه کسو ښځو رامنډې کړې ، دواړو په لاسونو کې توري نیولې وې خو دخنیس اودهغه په اوږه د ناست شاهین دکتلو په واسطه وویریدلې ، د هغوې حالت داسې وګرزید لکه په خپله مخه کې چې یې مرګ پروت وي ، خنیس هم د پاتخو څخه را ښکته شو او لاندې راغې . هغه کس خپله توره خوځوله او یو ځل بیا د خنیس په خلاف یې دحملې کولو هیله درلوده ، خنیس هم خپله توره را وویستله خو په ډیره نرمه توګه یې ورته وویل توره په تیکې کې کیږده ، زه ستا دښمن نه یم بلکه دوست دې یم .

خو هغه پرې باور ونه کړ ، کیدې شي چې په دې هم په غصه و چې ولې یې د پاتخو څخه لاندې را وغورځوو، هغه ورمخته شو اوپه خنیس یې ګذار وکړ ، خنیس په خندا شو او د خپلې تورې په واسطه یې دهغه ګذار واخیست او د لاسه یې و نیوه اویو ځل بیا یې تیله کړ او دځانه یې لرې و غورځوو. هغه په ډیرې بې وسۍ سره په ځمکه پروت وو، خنیس ورته یو ځل بیا په پوره نرمۍ سره وویل : له ځانه بیوقوفه مه جوړوه ، یو ځل زما خبره واوره !

ددې خبرې سره سم یې د هغو ښځو په لور وکتل ، دهغوې څخه یوه یې دپاځه عمر ښځه وه اوبله یې د اولس یا اتلس کالو ښایسته پیغله وه .

هغه کس یو ځل بیا خپله توره په هوا کې پورته کړه او د خنیس په لور را مخته شو ، نو هغه پیغلې ورته په قهر سره وویل : طوانه ! لږ په هوش کې را شه ، یو ځل واوره چې هغه څه وایې ؟

طوانه هملته ودرید او سر یې د خجالت نه لاندې واچوو ۰۰۰۰ خنیس د نجلۍ په لور وکتل او ورته یې وویل : لکه څنګه چې ماته ویل شوي دي که زه غلطي و نه کړم نو ستا نوم ماروه دې او دغه بله ښځه چې ستا تر څوا ولاړه ده دهغې نوم قراطیس دې او دا طوانه ستاسو غلام دی ۰

نجلۍ یې دخبرو تائید وکړ ۰

ته سهې وایې، خو دا را تــه ووایــه چې دلته دکوم غرض په خاطر راغلې یې ؟

نن ستاسو خدمتکار ظلوم بازار ته تللې وه که څنګه ؟

هو تللې وه ۰

کله چې زه بازار ته ولاړم نو هغه سپاهیانو را ګیر کړې وه او په وهلو وهلو یې ترې ستاسو په اړه پوښتنه کوله خو هغې ورته هیڅ هم نه ویلې ، ما هغه دواړه عسکر ووژل ، ظلوم مې له ځانه سره راواخیسته او د بازارنه مې بیرون راوسته ، همغې ماته ستاسو په اړه ټولې خبرې کړې دي او رانه یې غوښتنه وکړه ترڅو له تاسو سره مرسته وکړم ۰

ماروه ترې په ډیرې ناکرارۍ سره وپوښتل : اوس ظلوم چیرې ده ؟

هغه خو سپاهیانو دومره وهلې وه چې زما سره یې د یو څو خبرو کولو وروسته ژوند پای ته ورسیدا او ما هم هلته ښخه کړه ۰

دا ځل ماروه په ډیره نرمۍ سره خنیس ته په یوې بسترې د کیناستو اشاره وکړه او ورته یې وویل : ولې دلته ولاړ یې راځه او په دې بستره باندې کښینه ، زه داسې انګیرم چې شاید الله تعالي زمونږ سره دمرستې کولو په خاطر ، په دغه تیاره کې ،چې هیڅوک زمونږ د حال دپوښتنې نه شته ، ته د رحمت په څیر را استولې یې ۰

خنيس تاخانې ته په غور سره وکتل ، دوه بسترې يو دبل سره يو ځاې پرتې وې او يوه بله بستره لږڅه لرې پرته وه ٠

خنيس ددې دوو بسترو څخه په يوې کيناست ، قراطيس اومارو يې هم مخې ته کيناستلې ، طوانه راغې او ددوې ترڅنګ و دريد ٠

دا ځل ترې قراطيس وپوښتل : نوم دې څه دی ؟

خنيس بن يوسف

دلته په ښار کې چيرې اوسيږې ؟

زه اجنبي يم او د جيحون دسيند څخه په تيريدو او د بخارا په لور په تلونکې سرک پرتې د فرياد نومې کلې اوسيدونکې يم ٠

دلته خوارزم ته د څه له پاره راغلې يې ؟

زه خو دلته د خپل يوه دښمن د لټون په خاطر راغلې وم او په يوه سراې کې ميشت شوې وم ، خو هغه راته تر لاسه نه شو ، مګر د مظلوم پيښه را ته تر مخه راغله ٠

قراطيس چوپ شوه نو خنيس ورته وويل : تاسو ددې ځايه د وتلو وروسته چيرې تلل غواړئ ؟

دا ځل ماروه ځواب ورکړ : زما د ترور خاوند د جيحون دسيند په غاړه ، چيرې چې د نيل سيند د جيحون په سيند کې پريوځي ، په يوه کوچني ښار ترمذ کې اوسيږي ، که چيرې ته مونږ هلته ور ورسوې نو مونږ به تول ژوند ستا د احسان لاندې وو ٠

خنيس بن يوسف ورته په پوره باور سره وويل : ما هغه ښار کتلې دې ، زه به هرو مرو تاسو هلته ور ورسوم ٠

که چيرې خوندې پاته شو نو هله ! د ماروه سترګې د اوښکو نه ډکې شوې ٠

ايا ددې ځايه وتل شوني دي ؟

خنيس بن يوسف وويل : ولې به شوني نه وي ؟

قراطيس بيا په خبرو شوه او ويې ويل : تاته به داګيزه نه وي چې بيرون سپاهيان ولاړ دي او پهره کوي ؟

ما هغوې وکتل ، شميره يې شپږ ياواوه کسان به وی ٠

بيا به نو دهغوې سره څه کوو ؟

کله چې زه ستاسو ددې ځايه د ويستلو او بلې لورې ته د بوتللو مسؤليت په غاړه اخلم نو زه به دهغو سپاهيانو کار هم ور خلاص کړم ٠

ماته همدومره ووایاست چې تاسو خلک څه وخت ددې ځايه د تيښتې او وتلو له پاره تيارېداې شئ ؟

مونږ خو همدا اوس هم تيار يو ٠

زه همدا اوس ددې ځايه روانيږم اوپه هغه سراې کې شپه تيروم ، سبا به د درې نورو اسونو غم هم وکړم او که چيرې کومه ګډوډي راته ارزانه تر لاسه شوه هغه به هم واخلم اوله ځانه سره به يې راولم ٠

دومره زياتې پيسې به ته ولرې ؟

زما سره څه نقدي شته ، هيله لرم چې هغه به پوره والي وکړي ٠

ماروه ورته وويل : زمونږ سره ډيرې زياتې پسې شته ، هر څومره چې ضرورت وي همغومره تيارولې شو ، ستا دخبرو څخه داسې ډاګيزيږي چې مونږ ته چې دکوم مرستندويه ضرورت و مونږ ته هغه الله تعالي تر لاسه کړې دې ٠

خنيس بن يوسف وويل : د څومره وختنه راهيسې مو څه نه ده خوړلې ؟

قراطيس ځواب ورکړ : ددرې ورځو راهيسې ٠

خنيس بن يوسف د خپل خرجين څخه ورته د اوبو مشکيزه اونور خوراکې مواد را وويستل او دهغوې ترمخه يې کيښودل٠

ما ستاسو له پاره ډير څه له ځانه سره راوړي دي ٠

ماروه د خورجين څخه راويستل شوي شيان وکتل وويل : ريښتيا هم تا مونږ ته ډير څه له ځانه سره راوړي دي ، دا خو زمونږ له پاره يوه اونۍ هم بسنه کوي ، اوبه خو لا دېخوا څخه زمونږ سره شتون لري ، په هر صورت يو څو ورځې دا هم بسنه کوي ، مونږ له تانه ډير ممنون يم ٠

څه ډول ممنونیت ! ... قدرت زما څخه همدا کار اخیستل غوښتل ، اوس ماته اجازه راکړئ ، زه ورځم .

خنیس راپورته شو ، قراطیس ورته په ډیره مینه وویل : زویه ! خوراک څښاک همدلته زمونږ سره وکړه او بیا ولاړ شه .

نه ! زه سراې ته ورځم انشاء الله خوراک څښاک به هلته وکړم .

ماروه او قـراطیس دواړه و دریدې ، بیا دریواړه تر پاتخو پورې راغلل ، کله چې خنیس په پاتخو خوت نو ماروه ورتـه وویل : تـه بیا کله بیرته را ستنیږې .

زه به ټول هر څه تیار کړم او سبا به بیرته راستون شم .

لږ صبر وکړه ، تیږه مه پورته کوه .

لږه شیبه وروسته هغه بیرته راغله ، دهغې په لاس کې د نقدي پیسو یو کڅوړه وه ، هغه یې خنیس ته ورکړه .

په دې پیسو ته ټول انتظام په ډیره ښه توګه کولې شې ، که چیرې د بګۍ انتظام وکړې نو هغه به ډیر ښه وي ، ځکه په هغې کې په ارام سره سفر کولې شو .

خنیس ورته داډ ورکړ .

زه به هرو مرو دبګۍ انتظام وکړم ، ایا ددې تاخانې تیږه دبیرون څخه نه شي پورته کیدې ؟

ولي نه شي پورته کیدلې ، په دې تیږه کې یو کوچنې شانته سوري دې ، زمونږ سره د اوسپنې یوسیخ شته چې دهغې په واسطه دا تیږه د بیرون څخه هم پورته کیداې شي . که چیرې ته هغه سیخ له ځانه سره اخیستل غواړې نو اخیستلې یې شې .

نه ، اوس ورته هیڅ اړتیا نه شته .

خنیس هغه تیږه پورته کړه ، د داډ په خاطر یې شاوخوا و کتل ، بیا یې توپ کړ اوبیرون ووت او تیږه یې بیرته په خپل ځاې همغسې کیښوده ، او په ډیرو پټو قدمونو دخپل اس په لور ولاړ .

* * *

بله ورځ ماښام قراطیس ، ماروه او طوانه د هغه ځایه د کوچ کولو له پاره ځانونه تیار کړي و ، ټولې بسترې یې تړلې وې او په ډیره ناکرارۍ سره یې دخنیس د راتلو انتظار کاوه ، قراطیس په هغو تړل شوو بسترو ناسته وه ، ماروه په پوره ناکرارۍ سره تلله راتلله او طوانه هملته په پاټخو کې منتظر ناست وتر څو دخنیس د راتلو سره سم ورته تیږه پورته کړي .

قراطیس په ویریدونکې توګه د ماروه څخه وپوښتل : که چیرې هغه را نه شي نو بیا ؟

د ماروه په اواز کې یو عزم ؤ وویل : مورجانې ! هغه به هرو مرو راځي .... زما زړه وایې چې هغه به هرو مرو راځي ، هغه مونږ ته دوکه نه شي راکولې ځکه دهغه په خبرو کې پوخوالې او په عزم او هوډ کې ریښتونوالې موجود دې ، هغه به د کوم خاص کار په خاطر ناوخته کړې وي او که نه تر اوسه پورې به وختي دلته راغلې و .

که چیرې نن را نه شي نو بیا ؟

نو مونږ به د هغه انتظار کوو ، ځکه د هغه پرته ددې تاخانې څخه وتل زمونږ د مرګ سره برابر دي .

په همدې وخت کې په تیږه باندې لاس و وهل شو ، ماروه په خندا راپورته شوه اوطوانه ته یې وویل : طوانه ! خنیس راغې ... تیږه پورته کړه او واوره چې دپخوا په څیر بدتمیزي ور سره و نه کړې .

طوانه ورته مسکې شو وویل : دا به څه ډول شوني وي اوس خو هغه زمونږ محسن دی .

کله چې طوانه تیږه پورته کوله نو ماروه خپلې مور قراطیس ته مخ کړ . مورې ! ما درته نه ویل چې هغه به هرو مرو راځي .

قراطیس ورته مسکۍ شوه او ورته یې وویل : هو لورې ستا خبره بلکل سهي وختله .

کله چې ماروه مخ واړوو نو ویې کتل چې خنیس هملته په پاټخو کې ولاړ او ددوې خبرې اوري ، خوشحاله و ، په اوږه یې شاهین ناست و او همغه زوړ

پوستین يې په غاړه و چې په ځاې ځاې يې د وراورۍ پشمونه نبنتي وو• دهغه په بله اوږه کمان را ځوړند شوې و او تر ملايې د غشو ملابند را چاپيره کړې و•

د خنيس بن يوسف دليدلو سره سم ماروه وويل مور مې شک کاوه چې ته به راشي او که نه •••••خو ما ورته ويل چې هغه به هرو مرو راځي

خنيس بن يوسف ورته رانژدې شو او ورته يې وويل کله مې چې د راتلو ژمنه کړې وه نو بيا به ولې نه راتلم •

قراطيس هم ددوې څنګ ته راغله او ودريده • طوانه هم د پاتخو څخه را ښکته شو اوهملته و دريد •

خنيس بن يوسف ترې وپوښتل : تاسو تيار ياست ؟

ماروه ورته وويل : بلکل تيار يو ••• ايا بګۍ دې پيدا کړې ده ؟

خنيس بن يوسف وويل : د غونډۍ په ښيې اړخ کې د ګڼو ونو تر منځ مې بګۍ درولې او راغلې يم •

د څو اسـونو ده ؟

خنيس بن يوسف وويل : ددوو اسونو •

بيا خو ډيره ښه شوه ، تا ولې دومره ځنډ وکړ ؟

ډيره زياته واوره پرته ده ، اسونو په کې کرار کرار مزل کاوه ، اوس هم واوره اوريږي •

قراطيس يې په خبرو کې را ټوپ کړ : پاس اوس هم سپاهيان شته •

هو! ما هغوې وکتل او بيا راغلم ، هغوې شپږ کسان دي ، زه يو ځل بيا بيرون ورځم ، تر څو د هغوې کار ور خلاص کړم تر څو ددې ځايه د وتلو له پاره کومه ستونزه مخ ته رانه شي •

طوانه ورته وويل : زه هم ستا سره ځم •

دهغوې شميره شپږ کسان دي اوپه يوازې ځان د هغوې سره جنګيدل د ځان وژنې په څير دي •

ماروه هم په خبرو راغله •

خنیس ! دا طوانه هسې وایې ، زه ددې څخه په تورې وهلو کې تکړه یم • زه هم له تاسره یو ځاي ورځم ، دلته په تاخانه کې به مور یوازې پرېږدو •

خنیس هغوې دواړه منعه کړل او ورته یې وویل تاسو دواړه همدلته د مور سره اوسیږئ •

قراطیس ورته سمدلاسه وویل : خنیس ! دا ډیره ضدي ده ، پرېږده یې چې درسره ولاړه شي • بس ته یې لږ څه فکر کوه ، دې د حرب په فنونو کې پوره زده کړه کړې ده او د طوانه څخه په تورې وهلو کې ډیره تجربه لري •

خنیس په پاتخو وخوت ، لومړی یې تیږه پورته کړه ، بیا یې شاوخوا وکتل ، چاپیریال د سکون او داد نه ډک و او واوره په پوره قوت سره وریدله •

ته په کوم فکر کې یې ؟

خنیس په خپلو شونډو باندې لاس کیښود اوهغې ته یې د چوپ کیدو اشاره وکړه ، کمان یې په لاس کې ونیوه او دغشو د کڅوړې څخه یې څو غشي را واخیستل ، هغه یې په خپله مخه کې کیښودل ، بیا یې دهغوې څخه یو را واخیست اوهغه یې په کمان کې کیښود اوننښه یې و نیوله ، هلته د ولاړو دوو کسو سپاهیانو څخه یې یو ولګید او په سخت اواز سره په ځمکه راپریوت ، د هغه بل ملګري په چټکۍ سره د ځان د تیارولو هڅه پیل کړه ، خو خنیس هغه دې هڅې ته پرینښود او او د یوه بل غشي په ویشتلو یې هغه ځاې په ځاې کړ •

ماروه دخنیس ملا وټپوله او په ټیټ اواز سره یې وویل : ستا نښه ویشتل مې بلکل و منل •

دا دواړه عسکر هلته د اور د نغري تر څنګ ناست و ، کله چې هغوې په غشو سوري شول او د اور د نغرې څخه لرې پریوتل او شور و غالمغال یې پیل کړ نو دهغوې تر څنګ دهغوې څلور کسه بیده ملګري وویریدل اورا پورته شول ، هغوې په وینو کې دخپلو دواړوملګرو په کتلو سره ډیر

اندیښمن شول ، سمدلاسه يې خپلې تورې را وويستلې او اخوا ديخوا يې پلټنه پيل کړه .

په دې وخت کې خنيس يو بل غشې ورخوشې کړ او دهغوې دريم ملګري يې هم له منځه يوړ ، دا ځل ماروې خنيس ته وويل : ډيرښه !

په کلاره خبرې کوه خنيس د هغې په دې خبره ورته په خندا نه توګه وويل : اوس به د څه فکر وي ، درې هغوې دې او درې مونږ يو ، اوس خو به مونږ هرو مرو هغوې له منځه ورو .

خبره داسې نه ده ، زه غواړم چې تاسو دواړه ددې ځايه حرکت هم نه وکړئ او هغوې ټول د همدې ځايه ختم کړم .

دا به څه ډول شوني وي زه هرو مرو له تاسره ملګرتيا کوم .

په هره خبره کې ضد کول نه وي په کار ، تر هغې چې ما درته نه وي ويلې تاسو دواړه به همدلته ددې ديوال تر څنګ پټ ناست ياست .

خنيس راپورته شو ، ويې کتل چې دهغوې هغه پاته درې واړه ملګري ډير وارخطا او تيار ولاړ دي ، هغه د ديوال تر څنګ ور مخته شو او هڅه يې وکړه چې هغوې را ګير کړي ، په دې وخت کې خنيس دديوال تر څنګ د پټوالې څخه را ووت او په درې واړو يې ور غږ کړ .

زما د کلابندۍ هڅه مه کوئ ، زه تاسو درېواړو ته بلنه درکوم تر څو زما سره دمقابلې له پاره رامخته شئ .

هغوې دريواړه مخته را نه غلل خو هڅه يې وکړه ترڅو خنيس کلابند کړي .

خنيس يوه وحشي خندا وکړه او ويې ويل : تاسو دريواړه ډير نا پوهه ياست ، زه ستاسو په هر حرکت باندې ښه پوهيږم ، په خوارزم کې داسې توره نه شته چې زما د وينې تږې وي ، اوس زه تاسو د بدترين مرګ سره مخ کوم .

شاهين ته يې اشاره وکړه او د هغوې څخه يې يو سپاهي ورته په نښه کړ شاهين ور والوت او لږه شيبه وروسته يې دهغوې دريواړو څخه يو د

سترګو څخه خلاص کړي و ، هغه اه اه کول خو شاهين يې سترګې ويستلې وې •

د خنيس په اشارې سره شاهين دهغه دويم سپاهی په سترګو هم ورونښت دريم سپاهی هڅه وکړه تر څو په شاهين باندې ګذار وکړي ، خو خنيس سمدستي ور مخته شو او هغه يې دخپلې تورې په واسطه له منځه يوړ•

***

کله چې دوې درېواړه بيرته د تاخانې په لور راستانه شول ، نو ويې کتل چې قراطيس هم توره په لاس ولاړه ده •

ماروه ورمنډه کړه او د هغې نه يې ځان را چاپيره کړ•

مورې ! خنيس مونږ ته موقع او فرصت هم رانه کړ ••• هغه په ځانته ځان هغه شپږ واړه له منځه يوړل خو د هغه دا شاهين د هغه څخه هم ډير خطرناک وخوت •

قراطيس په خندا وه •

ما هر څه وکتل ، لورې !

خنيس هغوې دواړه متوجه کړې وويل : وخت بايد ضايع نه کړل شي • اوس دلته زمونږ له پاره هره لمحه يو خطراوکواښ شته ، څومره ژر چې شوني وي بايد ددې ځاى څخه پښې سپکې کړو •

قراطيس په منډه منډه تاخانې کې وګرزيده •

هلئ ، ژر کوئ تر څو ددې ځايه دغه ټول سامان بيرون کړو او د تيښتې له پاره لاره هواره کړو •

څلور واړه تاخانې ته راغلل ، درېواړه بسترې يې په دوو برخو کې سره را ټولې کړې ، خنيس هغه دواړه بسترې په اوږه را واخيستې اوپه يوې خوا کې د اينښوول شوو لرګيو په لور يې اشاره وکړه او طوانه ته يې وويل :

طوانه! دا ټول لرګي په يوه رسۍ کې و تړه او له ځانه سره يې را واخله په لاره کې په کاريږي •

طوانه ټول لرګي په يوه پړي کې و تړل ، او له ځانه سره يې را واخيستل ، قراطيس او ماروه خپل خپل وړيز شالونه په ځانو واچول ، تر څنګ يې

ماروي دخوراک ښناک له پاره وچه میوه او ډوډۍ په یوه دستمال کې را تاوه کړه او له ځانه سره یې را وخیسته.

ټول د تاخانې څخه را ووتل او تیره یې بیرته په خپل ځای کیښوده. هغوي د خنیس په لارښوونه په ډیره بیړه د ونو د ګڼې ګوڼې په لور روان شول، هلته د اسونو یوه ګاډۍ ولاړه وه او تر څنګ یې د خنیس اس هم ولاړ و.

خنیس قراطیس اوماروه دواړه په ګاډۍ کې کینول، بسترې او لرګي یې دهغوي تر پښو لاندې واچول، بیا یې دخپل اس د پاسه چې کومه بستره خپره کړې وه، هغه یې هم را واخیسته او د بګۍ د پاسه یې واچوله، اوبیا په خپل اس سپور شو او طوانه ته یې وویل: طوانه! پورته ور وخیږه او ګاډۍ زما د اس پسې را ځغلوه.

د څلور میله واټن د وهلو وروسته هغوي د جیحون دسیند په لور تلونکې لویې شاهراه ته ور ننوتل، ټوله شپه یې سفر وکړ، اسونه هم ډیر کرار کرار روان وو ځکه چې د بګۍ تیرونه په واورو کې ځای ځای نښتل.

بله ورځ ماسپښین ته نژدې، په داسې حال کې چې د جیحون دسیند په غاړه د غرنیو سیمو څخه تیریدل نو یوځای کې د بګۍ تیرونه و نښتل، طوانه اسونه ووهل خو اسونو دټول قوت سره هم ونه شو کولای چې تیرونه دهغه ځایه وکاږي، هغه په واورو کې دننه ور ننوتلي وو، مارو د بګۍ پرده پورته کړه او د طوانه څخه یې وپوښتل: څه خبره شوې ده؟

بګۍ په واورو کې نښتې ده.

هغه ډیره ویریدلې وه.

خنیس بن یوسف چیرې دې؟

هغه مخته روان دې

هغه ته ورغږ کړه: ته خو هم عجب شی یې.

طوانه خنیس ته ور غږ کړ ، هغه هم راغې او د بګۍ تر څنګ ودرید ، هغه ددې جایزه واخیسته، په دې وخت کې قراطیس او ماروه هم دګاډۍ څخه راښکته شوی ۰

خنیس طوانه ته وویل ته ور وخیږه او اسونه متحرک کړه ، زه به د هغې دتیرونو د ویستلو هڅه وکړم ۰

طوانه داسونو په متحرک کولو پیل وکړ ۰

خنیس هڅه وکړه ترڅو ګاډۍ د واوری څخه وکاږي خو داسونو د حرکت کولو سره سم دهغې تیرونه نور هم په واورو کې ور دوب شول ۰

خنیس ناهیلې شو ۰۰۰۰ طوانه هم بیرته راښکته شو ۰

ماوره په ډیرې ناهیلۍ سره وپوښتل : خینس ! اوس به څه کیږي ؟

خینس د لږ څه فکر کولو نه وروسته وویل : بګۍ به همدلته پریږدو او تاسو په اسونو سپرې شئ او نور لاره به د خپل اسونو په وسیله ووهو ۰

ددې خبرې سره سم یې د بګۍ پردې پورته کړې او د سامانو په را ویستلو یې پیل وکړ ۰

طوانه هم ورسره دسامانو په را ویستلو کې مرسته کوله ۰

کله چې طوانه د لرګیو هغه بندل را پورته کړ او په ځمکه یې وویشت نو د هلته د هغه نژدې غره تر څنګ د ویښتانو ډک یو غرڅه راپورته شو او یوې لورې ته یې منډې کړې ، د هغې دکتلو سره سم خنیس خپل شاهین ته حکم وکړ اوهغه هم په ډیره چټکه توګه ور والوت او پر هغې یې حمله وکړه ۰

ددې حملې د کتلو له پاره خنیس ور منډه کړه او هلته د واورې په یوې ډکې غونډۍ د ختلو هڅه یې وکړه ، خو دختلو په وخت کې یې پښه وخویده او دهغې غونډۍ نه لاندې په یوې بلې کوچنې باندې راپریوت ، خو پښه یې هلته هم تینګه نه شوه او لکه د یوه توپ په څیر لاندې راورغړید او د جیحون دسیند په غاړه باندې پریوت ۰

ماروه ، قراطیس او طوانه په ډیرې اندیښنې سره دا حال کتلو، خو لږه شیبه وروسته هغه راپورته شو ، کالي یې وڅنډل او دوې درېواړه هم دهغه د راپورته کیدو څخه داډ من شول •

د راپاڅیدو سره سم خنیس اخوا دیخوا وکتل خو شاهین او هغه غرڅه په هیڅ ځای کې نه ترسترګو کیدل ، هلته لرې ددوو غونډیو ترمنځ ماروې په زوره غږوکړ: خینس ! غرڅه مرڅه پریږده اوبیرته راستون شه •

په همدې وخت کې خینس خپل شاهین وکتلو ، هغه د یوه کوچنۍ غونډۍ د شانه را پیدا شو ، خینس ورمنډه کړه او هلته یې ځان ور ورساوه وېې کتل چې شاهین د هغه غرڅه سترګې راویستلي دي او هغه د غونډۍ په لمن کې ولاړ دې او سورې وهي ، د خینس د پښو د اواز د اوریدو سره سم یې په ړندو سترګو منډه کړه خو د یوې تیږې سره و جنګید اوهملته را پریوت • خینس ور توپ کړ ، راپورته یې کړ او په خپلو اوږو یې را واړوو او بیرته راستون شو •

غرڅه یې راواخیست او پورته راغې ، بیا یې دخپل پوستین څخه یوه ځلیدونکې خنجر را وویست اوهغه یې په واوره ځملاوه او هم هلته یې حلال کړ •

طوانه او هغه دواړو یو ځای دهغه نه پوستکې وویست او ماروه دهغه دا پوستکې او غوښه په یوه دستمال کې را تاو کړل • بیا یې دبکۍ اسونه د بکۍ نه جدا کړل اوبسترې یې پرانستې او پر هغوې یې وغوړولې •څه سامان خینس په خپل اس باندې ور بار کړ بیا یې په خپل اس باندې ماوره او قراطیس سپرې کړې ، دبکۍ په یوه اس باندې طوانه سپور شو او د لرګیو بنډل یې په خپله مخه کې کیښود ، په بل اس باندې خینس سپور شو او د هغه غرڅه غوښه ، پوستکې او نور ضروري شیان یې په خپله مخه کې کیښودل •

هغوې به لا لږ مخته تللي وچې واوره یو ځل بیا شروع شوه ، خو هغوې خپل سفر ته دوام ورکړ ، د ماښام نه لږڅه مخته دښاهراه څخه ښيې

لورې ته ستانه شول او د يوه پناهځاى د پيدا کولو په لټه کې شول ځکه د شپې له اړخه په واوره کې سفر کول ورته ممکن نه وو.

کله چې تياره ښه خپره شوه نو هغه د يوه غار په پيدا کيدو بريالي شو، د غار خوله ډيره لويه وه او هغوې پرې د اسونو سره يو ځاى ور ننوتل. ټول د اسونو څخه راښکته شول، سامانونه يې په يوه ځاى کې ټول را يوځاى او کيښوول.

ماروې او قراطيس په ځمکه څلور بسترې خپرې کړې، خينس دريواړه اسونه د غار په يوه کنج کې و درول او دانه يې ور واچوله، تر دې وخته پورې طوانه هم اور لګولې و او بيا ماروه او قراطيس د طوانه په ملګرتوب د غوښې په وريتولو پيل کړې و، خينس هم ددوې خوا ته راغې او کيناست، کله کله به يې خپل لاس د اور په لور و رغځوو تر څو ګرم يې کړي، کله چې د اور لمبې ښې زياتې شوې نو خينس يوې لورې ته وکتل او تکان يې وخوړ، ځکه هلته په غار کې ځاې ځاې هډوکې پراته وو. تر څنګ يې هلته د انسانانو کوپړۍ او هډوکې هم تر سترګو کيدل.

د هغه ذهن په ډيره چټکتيا سره کار وکړ، پورته شو او د هډوکو په لور ورغې، هلته په ورتلو يې يو ځل بيا تکان وخوړ، ځکه هلته په فرش باندې ځاې ځاى د يوه شيرونکې حيوان د پښې د پنجو نښې جوړې شوې وې.

خينس انديښمن شو او بيرته د اور د ځاې په لور راغې، يو اور اخيتسې لرګي يې راواخيست او د غار بيلې بيلې برخې يې وکتلې، خو په غار کې دهمدې لوې دروازې نه پرته بل هيڅ ځاې لاره نه تر سترګو کيده.

ماروه د خينس په دې حرکت باندې حيرانه وه او ترې و يې پوښتل: د څه پسې ګرځې؟

هغه بيرته د اور د نغري په لور راغې، لرګي يې بيرته په نغري کې کيښود او خپله توره يې راوويستله.

مونږ په يوه بل مصيبت کې راښکيل شوي يو.

قراطیس په ویریدونکې توګه وپوښتل : هغه څه دي ؟
دا غار دکوم ځیرونکې حیوان د اوسیدو ځای دی .
د طوانه ، قراطیس او ماروې دریواړو رنګونه واوختل .
طوانه ترې و پوښتل : ته څنګه پوه شوی ؟
هغه لورې ته وګوره ... هر ځای د انسانې کوپړیو پنجرې او هډوکې پراتــه دي ، د دې نــه پرتـه په غار کې د هغه حیوان د پښو نښــې هم لیدل کیږي .
ماروه نوره هم وویریدله اوپه لړزونکې اواز یې وویل : اوس به څه کیږي ؟
تاسو اندیښنه مـه کوئ ، که ورسره مخ شوم نو زه به یې حساب کتاب ورجوړ کړم .
خینس د تولو ویره راکمه کړه .
دا ځل ترې قراطیس وپوښتل : پنجې دکوم حیوان دي ؟
زما په اند چې د زمري دي .
ماروه په ناهیلۍ سره وویل : څه خبر یو که چیرې د چیتا یا بل کوم حیوان وي .
نه ، نه ، دا دکوم کوچنې سپې په څیر پنجه ده ... د زمري پنجې خو سترې وي .
ماروه په ژړا شوه .
اوس به څه کیږي ؟
خینس په خندا شو ...
ته نو ژاړې ولې ؟ تاسو دواړه غوښه وریته کړئ ، طوانه ته راپورته شه او توره دې را واخله او ددوې تر مخ کینه ... هو ماروه ! ته او مور دې دواړه خپلې تورې له ځانه سره نژدې و ساتئ ، ددې خبرې سره سم هغه د غار په یوه کونج کې پرته یوه تیږه را پورته کړه او هغه یې دغار په خوله کې کینښوده ، بیا یې خپل ډال را واخیست اوهملته په هغه تیږه کیناست .
دهغه شاهین هم دهغه په اوږه ناست و .

خینس یو ځل بیا د غار نه بیرون وکتل او د ماروه په لور یې مخ کړ او ورته یې وویل : زما د شاهین له پاره لږ څه غوښه پرې کړئ او ورته یې جدا کیږدئ او بیا زما خبرې ته ښه غوږ و نیسئ •

په دې وخت کې ماروه لږ څه غوښه پرې کړه او هغه یې یوې لورې ته کیښوده بیا راپورته شوه او د هغه خواته راغله او و دریده •

څه خبره ده ؟

واوره ! ستا مور او طوانه دواړه ډیر بې زړه خلک دي •ته یوه باهمته او زړه وره پیغله یې ، زه تاته دا ویل غواړم چې دا غار دکوم لیوه نه دې ، بلکه د زمري میشت ځاې دې ځکه هغه پنجې چې ما وکتلې هغه تازه او پوره ستری دي •

ماروه د ویرې نه ولړزیده •

په ترتړې ژبه یې وویل : نو بیا ؟

زما په اند چې مونږ باید سمدلاسه دا غار پریږدو •

ته خو تولو لړزیږې ••••• په دې وخت کې ددې غار پریښوول هم ډیر خطرناک دي • زمري به همدلته چیرې لند وي ، که چیرې په لاره کې یې پر مونږ حمله وکړه نو مونږ ته به ډیر زیان را ورسوي •

ماروې همت وکړ او ځواب یې ورکړ : زه خو همدومره پوهیږم چې ستا په شتون کې به مونږ ته هیڅ ډول خطره نه وي •

ډیره ښه ، ته اوس ورځه او د اور تر څنګ کینه •••• هلته که چیرې ډیره خطره احساس کړې نو بیا دتورې په ځاې د سوزیدونکو لرګیو څخه کار واخله •

کله چې ماروه بیرته دخپلې مور خواته راستنه شوه اوکیناسته نو هغې ترې په اندیښمنه لهجه وپوښتل خینس څه وایې ؟

ماروې خبره ټال کړه •

هیڅ هم نه ، مور جانې !

قراطیس ورته په ناهیلۍ سره وویل: زه پوه شوې یم ۰۰۰ چې هغه به تاته څه ویلي وي ، دا غـار د کوم لیوه نه دې بلکه د یوه ستر حیوان ، زمري دی ۰

طوانه هم دا خبره اورېدلې وه او د وېرې یوه تیزه څپه دهغه په وجود کې تله راغله ۰

په دې وخت کې خینس یو ځل بیا غږ کړ: طوانـه ! د اور یو نغرې دلته د غار په خوله کې هم روښانه کړه ، ددې په واسطه به د یوه اړخه دغار تموله لاره رڼا شي او د بله اړخه به دغار حیوان دومره ژر غار ته دننوتلو له پاره زړه ښه نه کړي ، ځکه د اور د لمبوپه کتلو سره به هغه پښه نیولې شي او په دې توګه به ماته موقع تر لاسه شي چې دهغه څخه ځان خلاص کړای شم ۰

خو طوانه عذر وړاندې کړ ۰

که چیرې زما داور د بلولو په وخت کې څه شي د بیرون څه راشي نو بیا ؟

ماروه ورته په قهر شوه وویل: بي غیرته ! ته دغار په خوله کې لرګي کیږده ، زه به پخپله ورشم او اور به یې روښانه کړم ۰

طوانه پورته شو او څه لرګي یې دغار په خوله کې کیښودل ۰

ماروه دهغه ځایه څو اور اخیستې لرګي راپورته کړل او بیرون یې اور بل کړ ، طوانه یې تر څنګ ولاړ و ۰

ماوره ورته په خفګان سره وویل: ته ورشه او دمور سره د غوښې په وریتولو کې مرسته وکړه ۰

طوانه بیرته ورغې او د قراطیس تر څنګ کیناست ، ماروه اور په ښه توګه روښانه کړ ، اوس نو د غار په لور راتلونکې لاره په ښه توګه روښانه شوې وه ۰ نرۍ نرۍ واوره اوس هم اورېده ، د اور د بلیدو سره سم ماروه را وګرزیده او دخینس خواته راغله او هملته و درېده ۰

ته د دروازې په یوې خواکې کینه او زه به د دروازې په دې بله خوا کې کینم ۰ په دې توګه به د راتلونکې مصیبت سره ښه مقابله وکړای شو ۰

نه ، ته ورشه ، ته هم هلته ورشه او ناسته اوسه ، که ما درته اړتیا پیدا کړه نو غږ درکوم ...

ماروه بیرته د قراطیس خواته ورغله او هم هلته کیناسته او د هغوی سره یې دغوښې په وریتولو کې مرسته پیل کړه .

ډیر وخت تیر شو ، غوښه یې وریته کړه او هملته د اور تر څنګ یې کیښوده ، د غار نه بیرون نغري کې لګیدلې اور اوس مړاوی شوی و خودوې نور لرګي ور واچول اوهغه یې ښه تازه او روښانه کړ .

په دې وخت کې په ناڅاپي توګه بیرون د پښو اواز واوریدل شو ، خینس ځان تیار کړ ، داسې ورته و بریښیده چې د غار په لور ځلیدونکې ستوري را روان دي ، هغه ددې د کتلو سره سم وویل : تیار اوسئ چې کوم څه را روان دي .

ماروې ، قراطیس او طوانه هر یوه خپله خپله توره په لاسوکې واخیسته ټولو خپلې ساګانې بندې کړې او په دې توګه په غار کې چپه چوپتیا خپره شوه ، هر یوه د خپل زړه درزار اوریدلې شو ، په دې وخت کې د ماروه ویریدونکې اواز تر غوږو شو .

خینس څه شې دې ؟

خینس په ټیټ اواز سره وویل : تر اوسه لا پوره څرګنده نه ده ...په هر صورت د لرې نه یې سترګې د ستورو په څیر ځلیږي ، کله چې دې رڼا ته را نژدې شي نو بیا به یې درک معلوم شي چې څه شې دې .

لږه شیبه وروسته د رڼا په لمن کې دوه ځوان زمریان را څرګند شول ، دواړه ښځه او نر وو . دغار په لور د راتلو په وخت کې دهغوې رفتار دپخوانه ډیر زیات شوې و . شاید چې هغوې به د انسان د موجودیت بوې احساس کړې و .

***

خینس خپل شاهین ته دهغوې په لور دحملې کولو اشاره وکړه . شاهین هم په هوا کې شو .

په همدې وخت کې خینس هم غږ وکړ وویل : دوه زمریان دي .

د تولو وینه نژدې وچه شوې وه او خینس راپورته شو ددروازې په منځ کې ودرید او ښارنه یې پیل کړه ، د هغه دکتلو سره سم شاهین په هغه نر زمري ور توپ کړ او د هغه یوه سترګه یې را ویستله ، په دې وخت کې زمري په ډیره بده توګه چغې جوړې کړې ، د غار دننه قراطیس ، ماروه او طوانه هم وچ کلک ولاړ وو او د ویرې نه یې وجودونه لړزیدل ٠

د نر د چغو په واسطه یې ښځه هم وویریده او دغار په لور یې را منډه کړه ، که څه هم د غار په خوله کې اور بل و خو هغې د اور پروا هم ونه کړه او توپ یې کړ ترڅو غار ته ور ننوځي ٠ په همدې وخت کې خینس د وخت د ضایع کولو پرته هغه په توره ووهله او سر یې ترې پرې کړ ، هغه هم هلته د غار په خوله کې په ځمکې راپرېوتلو ٠

شاهین هم د نر زمري یوه سترګه را ویستلې وه خو کله یې چې ښځې د غار په لور رامنډې کړې نو هغه هم د خپلې ښځې پسې دغار په لور رامنډه کړه او هغه وخت چې خینس د زمري ښځه سر پرې کړ نو په همدې وخت کې نر زمري هم دهغې تر شا را ورسید او غار ته ور ننوت ، غار ته د ورننوتلو سره سم د یوې تیږې سره ولګید او هملته راپریوت ٠

شاهین بیرته دخینس اوږې ته ځان را رسولې و ، داسې معلومیده چې هغه د زمري دواړه سترګې ویستلې وي٠

اسونه هم په ډیره بده توګه تریدلي و، هغوې د زمري بوې لا دپخوا نه احساس کړې و ٠ خو کله چې زمري غار ته راننوت نو هغوې ډیر سخت و تریدل او د غار نه بیرون ووتل او تښتیدل ، زمري راپورته شو او خپله خوله یې دغار په دیوال مښوده او غریده ٠

خینس په ډیره پټه توګه راغې او ددریوارو سره یې په پټه خبره وکړه ٠
تاسو دریواړه بیرون ووځئ ، زمری خو ما ختم کړې ده ،.دا بل هم شاهین ړوند کړې دې ، اوس دا زمونږ له پاره زیان رسونکې دې ، زه به یې د له منځه وړلو هڅه وکړم خو ستاسو په موجودیت کې زه سم کار نه شم کولې ، که چیرې هغه زما د قدمونو اواز واوري نو سمدلاسه به دغار په منځ

کې اخوا دیخوا منډې ترړې پیل کړي ، نو په دې صورت کې هغه تاسو ته زیان در رسولي شي ، ژر کوئ اودډې ځایه بیرون ووځئ •

ماروه غوښتل څه ووایې خو خینس ورته په خوله لاس کیښود او ورته یې وویل : ضد به نه کوی •

ددوې د خبرو په اوریدو سره زمرې خپل غرار نور هم زیات کړ ، کله چې هغوې دریواړه بیرون ووتل نو خینس کرار کرار د زمري خواته ور نژدې شو ، په یوه لاس کې یې ډال او په بل کې یې توره نیولې وه خو نه یې شو کولې د زمري په څټ ګذار وکړي ، ځکه هغه خپل څټ او سر د غار دديوال په لور نیولې و •

خینس زمري ته ور نژدې شو او په پوره توان سره یې دهغه په ملا د تورې ګذار وکړ، داسې ګذار چې د هغه مخکینۍ برخه لاندې په ځمکه پریوته • او په دومره ستر غږ وغریده چې ټول غار یې ولړځاوو •

خینس منډه کړه او یوې لورې ته و درید ، لړه شیبه وروسته یې د هغه اخري ساه واوریده او ویې کتل چې هغه نور له منځه تللې دې •

خینس دهغه د وجود دواړه برخې راښکودې او دغار نه بیرون یې وغورځولې ، ښځینه زمری یې هم دغار د خولې نه لرې ګذار کړه •

بیا بیرون راووت ، ماروه او قراطیس د غار نه لرې د واورې د یوې غونډۍ تر څنګ ولاړې وې ، تر څنګ یې طوانه هم ویریدونکې ولاړ و او دیخنۍ نه لړزیدل ، د خینس په کتلو سره ماروې په لړزیدونکې اواز وپوښتل : خینس ! زمري مو ووژلو •

خینس ورته مسکې شو او ویې ویل : هو!

طوانه ورته په ویره وویل : ښه یې وو ینه ، هسې نه چې ژوندې پاته شوې وي •

خینس ورته وخندل : ته خو د سیورې څخه هم ویریږې •

هغوې دریواړه د خینس خواته راغلل او همتله و دریدل ، قراطیس ورڅخه په پوره اندیښنه کې وپوښتل : اسونه خو تښتیدلې دي ، اوس به څه کوو ؟

خینس د یوې غونډۍ په سر و درید ، اخوا دیخوا یې وکتل خو اسونه یې تر سترګو نه شول ، په خوله کې یې ګوتې کیښودې او په زوره یې شپیلې ووا هه ، هلته چیرې لرې د غرونو تر منځ یې د اس شنهار تر غوږ شو ، لږه شیبه کې یې اس د هغه ځایه راووت او د خینس خواته راغې • دهغې تر شا نور اسونه هر راغلل او هملته ودریدل •

خینس د خپل اس غاړه و ټپوله ، خوله یې ورته و منبله ، بیا یې ورته په سر لاس راښکود او دننه غار ته یې روان کړو، نور اسونه یې هم له ځانه سره ننویستل او بیا یې ورتــه د توبرو څخه دانه را وویستله او ورتــه یې واچوله ، له هغه وروسته یې یې د اس د زین څخه تبر را پرانست او بیرون ووت •

ماروه ترې وپوښتل : چیرې ځې ؟

خینس ما بیرون دوه ونې کتلي دي ، هغه پرې کوم او بیرته راستنیږم • څکه دا لرګي تر لږه وخته پــورې خلاصیږي او مونږ باید تر سهاره پورې اور ولرو •

طوانه ، ته هم زما سره یو ځاي راځه ، زه به لرګي پرې کوم او ته یې دننه را وړه ، دواړه بیرون وتل چې ماروه ور غږ کړاو ورته یې وویل : زه هم له تاسو سره یو ځاي ځم •

د غار نه د وتلو په وخت کې ورته خینس وویل : مونږ ته ستا د مرستی ضرورت نه شته •

خینس دواړه وني را پرې کړې او طوانه د هغې لرګي دننه غار ته راوړل • اوس نو د هغوې سره د لرګیو پوره ډیر لګیدلې و• تر هغې چې هغوې لرګي را پرې کول ماروه او قراطیس دواړو غوښه پرې کوله او مالکه او مساله یې پرې اچوله •

خینس دماروه څخه غوښه را واخیسته او هغه یې نوره هم کوچنۍ کوچنۍ توټې کړه بیا یې د شاهین تر مخ کیښوده ، دوې څلور واره هم په

دايروي شکله توګه د نغرۍ خواتــه کيناستل او خپله ډوډی او غوښــه يې وخوړه ۰

د خوراک خوړلو وروسته ماروۍ ټولې بسترې خپرې کړې ۰

په دې وخت کې خينس طوانه ته وويل : دشپې دې را ويخ کړم ، پهره کولې شې او که څنګه ؟ اوس خو شپه هم ډيره تيره شوې ده ۰

د طوانـــه څخه مخته ماروه وويل : ولې به يې نه کوي ۰۰۰۰ته ارام وکړه ، خينس ! دشپې به طوانه پهره کوي ۰

طوانه خپل عذر وړاندې کړ ۰

که چيرې د شپې بل کوم حيوان را شي نو بيا خينس يې په اوږې لاس کيښود او ورته يې وويل : ته خو ډير بې زړه يې ، لومړۍ خو به هيڅ حيوان دې لورې ته رانه شي ځکه دا د هغو دواړو زمريانو د اوسيدو ځاې و ۰ بل ځناور دې لورې ته د راتلو جرئت نه شي کولې ، په ځانګړې توګه هغه وخت چې ددواړو زمريانو لاشونه د غار په خوله کې پراته دي ۰ خو که چيرې تا کومه خطره احساس کړه نو سمدلاسه ما راويدار کړه ۰

ژر به را بيداريږې که نه ؟

هو! ولې نه ، ژر را بيداريـــږم ۰

سهي ده تاسو بيا ټول ويده شئ ، زه به بيدار يم ۰

خينس ، ماروه ، قراطيس ټول په خپلو بسترو باندې پريوتل ، ويده شول اوطوانه په خپله بستره کيناست او پهره يې پيل کړه ۰

***

د واورې اوربښت تم شوې و ، لمر خپلې وړانګې غوړولې وې ، ماروه د خوبه راپورته شوه ، ويې کتل چې قراطيس د اور د نغرۍ تر څنګ ناسته ده او اور يې ګرم کړې‌دې ، طوانه هم د خينس په بستره غځيدلې اوبه کلک خوب ويده دې ۰

ماروې د قراطيس نه وپوښتل خنيس چيرې دې ؟

قراطيس يو بل لرګې د اور په لمبو کې ور زيات کړ او ورته يې وويل لږه شيبه مخته راپيداره شو اوبيرون ولاړ ۰

او دا طوانه دڅه وخته راهیسې دلته ویده شوی دی ؟

د شپې نیمایي برخه خینس ویده شوې و ، دهغې وروسته هغه پخپله پهرې ته را بیداره شوې و او طوانه یې خوب ته پرې ایښې و .

ماروه راپورته شوه او د غار نه بیرون راووتله ، هلته یې دغار په خوله کې د وژل شوو زمریانو لاشونه پراته وکتل ، هغه وکتل چې لمر په ښه پوره قوت سره را ګرم شوې دې او د همدې ګرمی له مخې الوتونکې مرغان شاوخوا د غزلو په ویلو یوې لورې اوبلې ته الوت کوي .

بیا دهغې په غوږونو کې هم دیوې غزلې زمزمه واوریدل شوه ، په یقین سره چې دا به د خینس جادوکونکې اواز وو . هغې منډه کړه او په یوې غونډۍ وختله ، لرې یې د جیحون د سیند د غاړې څخه خینس د راتلو په حال کې و کتلو د هغه په لاسو کې څو ښکار کړل شوي مرغان هم وو . هغه غزلې زمزمه کولې او د غار په لور را روان وو .

د خینس دغه د جادو نه ډک اواز یو ځل بیا د ماروې د غوږونو سره ټکر وکړ . هغه سندرې ویلې

و حلیل نمانیة ترکت مجدلا ( ما د ډیرو نازنینو ښځو میړونه په ځمکه و غځول او په خپل حال مې پریښول ) .

تمکو فریصته لشدق الاعلم ( چې دهغوې د اوږو غوښې دپریکړل شوو شونډو د شخص په څیر اوازونه کوي ) .

بنحبوک من شهدالو قائع انني ( هغه خلک چې په جنګونو کې موجود وو هغوې به تاته ووایې .

اعشې الوعې و اعف عندالمغنم ( چې زه په جنګونو خپریږم ، خو دغنیمت د ویشلو په وخت کې خپله لمن راټولوم ) .

اذا بلغ العظام لنا حبسي ( کله چې زمونږ کوم کوچنې د شیدو دپریښودو وخت ته رسیږي ) .

تحز له الحیابر ساجدینا ( نو د نورو قومونو کبرجن (سرداران ) د هغه تر مخه سجده کونکې لاندې راپریوځي ) .

کله چې هغه د غونډۍ څنګ ته راورسید او سترګې یې په مارۍ باندې و نښتې نو چوپ شو ، ماروه هم ډیره ژر را ښکته شوه او د خینس ترمخه ودریده .

ماروه وویل : چیرې تللې وې ؟

هغه ورته مسکې شو او ویې ویل : لږ څه دسیند د غاړې په لور ولاړم

ماوره وویل : دا مرغان دې څه ډول ښکار کړي ؟

خنیس وویل : دخپل شاهین په واسطه .

ماروه وویل : بیا خو دا شاهین ستا له پاره ډیر ګټندویه دې .

ولې نه ... دا زما ډیر ښه دوست دې . زما په دښمن سخته حمله کوي ، ښکار راته کوي او د دې نه پرته د پیغام رسولو کار هم ترسره کوي ، دا چې زه هر چیرې پریږدم نو زما کور ته ځان رسوي .

ماروه وویل : دڅومره وخته راهیسې ورته روزنه ورکوې ؟

شاوخوا پنځه کاله کیږي .

دواړه غار ته را ننوتل ، خینس طوانه راپورته کړ او بیا یې دکوچ کولو له پاره ځانونه تیار کړل ، قراطیس او ماروه ښکار کړي مرغان وریته کړل ، تر دې وخته پورې طوانه او خینس د سفر له پاره ځانونه تیار کړي وو . لږه شیبه کې د غار څخه ووتل او د غرونو ترمنځ د ژورې لارې څخه تیر شول او یو ځل بیا یې د جیحون دسیند په غاړه سفر پیل کړ .

***

ماښام شوې لا نه وچې خینس د ماروه ، قراطیس او طوانه سره یو ځای خپل کلي ته ورننوت . د بالاخانو او د چتونو د پاسه ناستو ښځو او نجونو ورته په خپل خوږ اواز کې ښه راغلاست وایه .

اهلا و سهلا و مرحبا

ماروه او قراطیس یو بل ته په اندیښمنه توګه کتل . په دې وخت کې [illegible] کور ته ورننوتل [illegible]

احمد طوانه له ځانه سره روان کړو او دمنه د تولو اسونه و نیول او اخور ته یې روان کړو ، سلامه او مراجل له ځانه سره قراطیس او ماروه کوټې ته ننویستل ٠

خینس د اسونو څخه د سامانو د راښکته کولو سره سم د دمنه څخه وپوښتل : حرب ورور راغلې دې ؟

دمنه اس تړو خو ځواب یې ورکړوویل : تر اوسه هیڅوک نه دي راغلي دهغوې کوم ملګری راغلی دی ؟

دمنه وویل : نــه !

خینس د اسونو څخه سامان را واخیست ، دمنه د اسونو توبرې د دانو نه ډکې کړې او هغوې ته یې ور واچولې بیا یې دخینس کالي را وویستل او هغه ته یې ورکړل تر څو کالي تبدیل کړي ، کله چې د ماروه اوقراطیس په لور راغې نو ویې کتل چې ماروه د هغه د مور او ترور سره ناست دي او خپله کیسه ورته کوي ، د هغه د راتلو سره سم یې مور سلامه ورته په ډیره مینه وویل : زویــه ! زه په دی ډیــره خو ښــه یم چې تاسو ددوې مرسته کړې ده ٠

مورې ! دا یو انساني فرض و چې ما ادا کړې دې ٠

خینس دننه را ننوت ، تر دې وخته پورې دمنه هم دهغه ځایه راغله او دماروه تر څنګ کیناسته ٠ سلامه خپلې لور دمنه ته مخ کړ او ورته یې وویل : پورته شه او د میلمنو له پاره څه تیاره کړه ٠

کله چې دمنه را پورته شوه نو ماروه هم خپلې مور ته وویل : زه به هم ددې سره یو ځاي ولاړه شم ٠

په ځواب کې یې قراطیس د سلامه په لور وکتل اوبه خندا یې دقراطیس څخه وپوښتل : څه وایې ؟

وایې چې ددمنه سره به زه هم ولاړه شم ٠

ولاړه دي شي ٠

ماروه او دمنه دواړه په خندا دهغه ځایه پورته شوې اوییرون ولاړې ، خینس هم پورته شو اویوې بلې کوټې ته ولاړ او هلته د خپل ورور احمد او طوانه سره کیناست او په پیښو یې خبرې پیل کړې ·

***

قراطیس ، ماروه او طوانه دوه ورځې د خینس په کور کې پاته شول · په دې دوران کې د کور خلکو د هغوې دومره میلمه پالنه وکړه چې دهغوې د سفر ټوله ستومانتیا له منځه ولاړه ، سلامه او دمنه غوښتل هغوې څو ورځې نورهم هلته تم شي ، خو قراطیس ورته عذر کاوه تر څو دهغه ځایه رخصت واخلي ·

دوې ټول یوه ورځ ماسپښین ناوخته د ترمز ښار ته ور ننوتل ، د قراطیس او ماروه اسونه تر ټولو مخته وو ، خینس او طوانه دواړه دهغوې په لار ښوونه یوې ستري اوښایسته جوړې شوې حویلۍ ته ورننوتل · دحویلۍ دننه د انځرو ، منو ، انګورو ، بادامو الوچو ونې او د انګور تاکونه ښاخونه هم ولاړې وې ترڅنګ یې هرې لورې ته ډیر ښکلي ګلان تر سترګو کیدل ·

ددې حویلۍ تعمیر درې پوړه درلودل · چې ښي لورې ته یې باغ و او بیا تر مخه یې دحویلۍ په چاپیریال کې څو نور کورونه هم اباد شوي وو · خو د ټولې حویلۍ شاوخوا ته ستره کلا را چاپیره شوې وه ·

کله چې دوې ټول حویلۍ ته ورننوتل نو دوه کسه غلامان راغلل اودهغوې اسونه یې و نیول ، هغوې د ماروه ، قراطیس او طوانه سره بې تکلفه خبرې کولې ، کیدای شي چې هغوې به یو بل له پخوانه پیژندل · خینس د اسه راښکته شو اویوې لورې ته ودرید · د هغوې څخه یوه یې اسونه د اخور په لور بوتلل ، هغه بل خینس او طوانه یوې کوټې ته ور ننویستل اوماروه او قراطیس یې د حویلۍ هغه بلې برخې ته بوتلل ·

هغه غلام هغوې هملته په کوټه کې پریښول اوبیرون راووت · تر ډیره پورې خینس او طوانه چوپ ناست وو ، اخر تنګ شول او دوخت د تیریدو په خاطر خینس د طوانه څخه وپوښتل : دا دهغې د ماما کور دی ·

طوانه ورته سر وخوځوو او ځواب یې ورکړ: هو!

نوم یې څه دې ؟

دهغه نوم توفیل دی ٠

خینس تکان وخوړ ٠

توفیل ؟

ته یې پیژنې که څنګه ؟

نـه !

بیا یې تا نوم ولې تکرار کړ ٠

بس هسې زما عادت دې ، ددې توفیل اولاده څه کوي ؟

بس یو زوې یې دې چې وصیف نومیږي ٠

د خینس په ذهن کې د شاهک الفاظ را وګرزیدل : د ترمز یو ستر امیر شخصیت دې چې توفیل نومیږي ، دا ټول د هغه او د هغه د زوې کار دې ٠ همغه د مسلمانانو ددې قافلې په نقل وحرکت باندې کلکه څارنه کوله او د قافلې د لوټولو څخه چې څومره جواهر او طلا تر لاسه شوي په هغوې کې دوې ته درنه برخه ورکړل شوې ده ٠

د خینس لاس پخپله د تورې لاستې ته ورغې ، تر دې وخته پورې بیرون د چا د پښو اواز هم پیدا شو ، خینس سمدلاسه متوجه شو ، په همدې وخت کې د پوخ عمر یو کس دننه را ننوت ، لومړی یې د طوانه سره روغبړ وکړاو بیا یې خینس ته وکتل او ورته یې وویل :

قراطیس او ماروه ماته ستا په اړه ډیر څه ویلي دي ، مونږ ټول ستا ډیر ممنون یو ٠

په همدې وخت کې دوه کسه ځوانان دننه را ننوتل ٠ یو یې ډیر تندرسته او ځواکمن معلومیده او هغه بل لږ څه نرې وچ کلک و ٠

هغه پوخ عمره سړي یو ځل بیا وویل : زما نوم توفیل دې ، بیا یې دهغه تندرسته او ځواکمن ځوان په لور اشاره وکړه او ویې ویل : دا زما زوې توصیف دی او هغه بل ته یې د باغر نوم واخیست ٠

مادوې دواړه د قراطیس او مازوه د راوستلو په خاطر خوارزم ته استولي وو ، خو دوې دهغوې په پیدا کیدو باندې نه و بریالي شوي • هغه کیسه چې قراطیس او ماروه ماته ستا په اړه بیا ن کړې ده دهغې له مخې زه ستا د میړانې او بهادرۍ ستاینه کوم •

دا ځل توفیل لږ څه په عیارۍ سره وویل : ماروه ماته ستا نوم ووایه • خو اوس زما له یاده وتلې دې ، ډیر ښه نوم وو ، ستا نوم څه دی ؟

خو د هغه دخبرو څخه بلکل څرګندیده چې هغه دا هر څه په مصنوعي توګه کوي •

خینس ورته پرته له ویرې وویل : زما نوم خینس بن یوسف دی •

باغر او وصیف دهغه د نوم په اوریدو داسې ځانونه حیران کړل لکه دمخه یې چې نه وي اوریدلې ، توفیل د توصیف او باغر سره یو ځای بیرون راووت •

زه لږه شیبه کې بیرته راستنیږم •

خینس متوجه شوې و ، هغه ته د خطر احساس کیده ، ځکه هغه ددښمنانو تر منځ رابنکیل شوې و ، خو بیا یې هم اوسان په خپل ځاې وو، توفیل دخپله ځانه سره باغر او وصیف یوې کوټې ته روان کړو اوپه ډیره پټه توګه یې ورته وویل : د هغه لیوه د پیداکولو پسې چې مونږ ګرزیدو ، دادې پخپله زمونږ په جال کې را ښکیل شوې دی •

وصیف خپله اندیښنه وړاندې کړه •

دا خو ډیر تندرسته ، ستر او ځواکمن ځوان دې ، په سهي توګه ورته چا د لیوه نوم ورکړې دې

توفیل د هغه د حوصلې په خاطر وویل : زمونږ باغر خو دهغه نه کم نه دې ، اوس تاسو دواړه زما خبره واورئ ، هغه مونږ پیژندلي یو ، د هغه دلته له منځه وړل به سهي خبره نه وي •

قراطیس او ماروه به مونږ ته دداسې کار کولو اجازه را نه کړي • هغه ته د سزا ورکولو له پاره بل کوم پلان جوړ کړئ او که نه هغه به پخپله

همدا نن شپه داسې کوم پلان ولري چې مونږ دلته په خپل کور کې له منځه یوسي او ددې ځایه به پښې سپکې کړي ، تاسو و نه کتل چې دهغه سترګې څومره خونړۍ دي ۰

باغر په خبرو راغې وویل : ته څنګه پوه شوې چې هغه مونږه پیژندلي یو ۰

ماروه وایې چې هغه دخپل کوم دښمن د لټون په خاطر خوارزم ته راغلې و ، په دادمنه توګه چې هغه به هم ستاسو د لټون په خاطر هلته راغلې و ۰ څکه ته ځانته تللې و ، شکر چې ته په خیر سره را ستون شوې یې او د هغه مخې ته نه یې ورغلی ۰

باغر غاښونه و چیچل او ویې ویل : که چیرې مخې ته مې راغلې و نو تر اوسه په ژوندې نه و پاته ، زه خو وایم چې بیرون یې را وکاږئ او زه به ورته د مقابلې کولو بلنه ورکړم ، که چیرې هغه زما تر مخه څو شیبې هم پاته شو نو بیا راته باغر مه وایاست ۰

توفیل یې ملا و ټپوله ۰

داسې کار کول خو بې عقلی ده ، بله کومه لاره پیدا کړئ ۰

بیا یو بل کار ولې نه کوو ؟

هغه څــه ؟

تاسو په یوه دول دهغه په غوږو کې دا خبره کینوئ چې زه نن په ځانته ځان کور ته ځم ۰ په یقیني توګه به هغه هم په کومه بهانه ددې ځایه ووځي او زما پسې به را روان شي ، زه به هغه دخپل ځان تر شا د زینم دسیند پورې بوځم ۰ زه به هملته دغره په سر خپل یو کس و تاکم ، داسې کوم کس چې په غشي ویشتلو او جال خپرولو کې تجربه ولري ، مونږ به یې په جال کې را ښکیل کړو او هملته به یې له منځه یوسو ، راته ووایاست چې دا پلان څه دول دې ؟

توفیل خوشحاله شو بس بلکل سهي دی ۰

***

خینس همغسې د طوانه سره په خپله کوټی کې ناست و ، په دې وخت کې ماروه را ننوتله ۰ خینس ته یې اواز کړ او ورته یې وویل : خینس ! راځــه ۰

خینس راپورته شو ٠

چیرې ؟

ته خو لې راشه که نه ؟

خینس د ماروه سره یو ځاي روان شو ٠ ماروه هغه یوې کوټې ته روان کړو ، په دې کوټې کې د ارایش هر ډول سامانونه ایښوول شوي وو ٠ دکوټې دننه یوه بله دروازه وه چې کیداې شي بلې کومې کوټې ته به ور خلاصیده ٠

ماروې خینس ته وویل : ته به دلته په دې کوټې کې اوسیږې او دغه څنګ ته کوټې کې زه او مور مې دواړه اوسیږو ، تر منځ دروازه هم شته ، اوس ته کولې شې چې دهمدې منځنۍ دروازې څخه دمور خواته ورشې ، زه طوانه بازار ته لیږم اوبیرته راستنیږم ٠

دڅه له پاره ؟

تر څو ستا له پاره کالي راوړي ٠

دهغې له پاره ضرورت څه دې ؟

بس ته چوپ اوسه ، زه چې څه کوم هغه زما غوښتنه او هیله ده ٠

کله چې ماروه بیرون وتله نو خینس ورته وویل : زما خبره واوره ٠

ماروه یې مخې ته راغله او ودریده ٠

زما مور خو تاته ویلي وچې څه ډول زمونږ یوه تجارتي قافله لوټ کړل شوې وه اوزما تر شا یو چا د کرایې قاتلان لګولي دي ؟

هو راته یې ویلي وو٠

هغه کس ستا ماما توفیل دې او ماتاته ویلي وو چې زه په خوارزم کې د یوه داسې دښمن تر شا ګرځم چې هغه زما د وژلو له پاره مامور کړل شوي دي ٠ هغه کس هم همغه څوک دي چې ستا ماما ستاسو د راوستلو په خاطر خوارزم ته لیږلې و ، هغه باغر نومیږي او اوس هم دلته په همدې حویلۍ کې اوسیږي ما پخپله وکتل ٠

ماروه ډيره انديښمنه شوه او په ډيره عجيبه توګه يې د خينس په لور وکتل وويل : بده دې وګڼله •

ماروه تکان وخوړ •

نه ، هيڅکله هم نه ، هغه څه چې زه يې درته وايم ، که درته يې ووايم نو بده خو به يې نه ګڼې •

بيشکه ، ويې وايه ، زه دهر ډول خبرې د اوريدلو عادي يم •

نو بيا واوره ! ته ماته د نړۍ د هر څه څخه عزيز او محترم يې ، ستا دښمن زما دښمن دې ، که څه هم هغه زما ماما هم وي •

زه به په هر حال ستا ترخوا يم ، ستا سلامتيا او خوشحالي زما له پاره د هر څه نه محترمه ده ، په دې خبره باور کوې او که نور څه هم ووايم •

خينس ورمخته شو او د ماروه دواړه لاسونه يې و نيول ، زه ستا ددې الفاظو قدر کوم ، زه هم ستا له پاره همداسې جذبه او احساس لرم ، ته زما عزت يې او ستا خوندي ساتل او حفاظت پر ما فرض دي •

ماروه بې اختياره خپل سر د خينس په سينې باندې کيښود او د خوشحالۍ نه په ډکو احساساتو يې وويل : ستا دا الفاظ ماته تر ټولو ستر انعام دې خينسه ! زه اوس پوه شوم چې ماته د نړۍ تر ټولو ستره او قيمتي ملغلره تر لاسه شوې ده ، اوس چې ته هر چيرې وې نو زه به ډاډمنه اوسم چې ته هم زما يې •

بيرون د قدمونو اواز ترغوږ شو ، هغوې دواړه سمدلاسه يو د بل څخه جدا شول •

ماروه را ووتله او د خينس سره يوځاې د قراطيس تر څنګ کيناستله •

لږه شيبه وروسته ډوډۍ او غذا راغله ، قراطيس ، ماره او خينس درې واړه يو ځاې کيناستل او په خوراک څښاک خوړلو يې پيل وکړ ، کله چې دوې خوراک خلاص کړ نو توفيل يې کوټې ته را ننوت او خينس ته يې وويل : زمونږ يو دوست چې باغر نوميږې دلته زمونږ سره ميشت دی ، هغه

بیرته خپل کور ته ځي ، زه به هغه ته خداي پاماني ووایم او بیرته به ستاسو خوا ته را ستون شم • ترڅو خبرې اترې وکړو •

کله چې توفیل ولاړ نو خینس هم سمدلاسه دهغه ځایه راپورته شو • خپلې کوټې ته راغې ، ماروه یې هم تر شاه راغله او په اندیښمنه توګه یې ترې وپوښتل : څه خبره ده ؟

زه لږ څه بیرون وځم •

زه پوهیږم چې ته به دهغه په تعقیب پسې ورځې •

هو ! زه به هرو مرو دهغه په تعقیب پسې ورځم ، زه به د هغه سره همدا نن خپل حساب کتاب خلاص کړم ، طوانه ته ووایه چې زما اس تیار کړي •

ماروه غوښتل څه ووایې چې خینس ورته وویل : ضد بـه نـه کوی ! دا زما فرض دي ، دا چې ته ما ته څومره ګرانه یې په دې زه ښه پوهیږم او زه هغلته یې چې ته به هم زما خوښې خپله خوښې وګڼې •

ماروه سر ښکته کړ او په چوپتیا سـره بیرون ووتله •

***

باغر په یوه تور رنګي اس د حویلۍ نه بیرون راووت • توفیل او وصیف د لرې نه دهغه ننداره کوله ، د هغه تر شا شا خینس هم دحویلۍ ته ووت • ماروه هلته په کړکۍ کې ولاړه وه او د هغه د تللو ننداره یې کوله او هغه ته یې دهغه د سلامتیا دعاوې کولې •

توفیل خوشحاله و او خپل زوي وصیف ته یې ویل : ما درته ویلي وکه نه ، چې دا به هرو مرو د باغر تر شا ورځي •

ورځه ددې بلانه خو پخپله خلاص شو ••• باغر او ملګري به یې پخپله دهغه معامله ور خلاصه کړي •

دښار دننه دواړه یو دبل تر شا ددوو فرلانګو په واټن سره روان وو • خینس په دیره پټه توګه دهغه تعاقب کاوه ، د ښار نه د وتلو سره سم باغر خپل اس ګرندي کړ او په پوره قوت سره یې ځغلاوه ، خینس یې هم تر شا و او خپل اس یې دهغه تر شا ځغلاوه • هغه دکش او بیا دهغه ځاي د سمرقند په لور په تلونکې لارې خپل اس ځغلاوه•

کله چې دواړه د نیل دسیند د پله څخه تیر شول نو د غرونو لړۍ پیل شوه ، د باغر اس په ډیره ګړندۍ توګه مخته روان و خو دخینس اس هم دهغه په قدم قدم ایښوده او ورپسې ځغلیده ۰

غرنۍ لړیو ته په را رسیدو سره خینس دخپل اس واګې راښکودې وویل افسوس چې که هغه سپین ټټو دې لاندې نه کړ ۰

اس یې و شنړیده اودپخوا نه یې خپل رفتار نور هم زیات ګړندې کړ ۰ دهغه د سمونو څخه کوچنې کوچني کنکر اخوا دیخوا الوتل ۰

خینس یو ځل بیا خپل اس ته وویل : زه پوهیږم چې ته به ستومانه یې خو که نن دا دښمن له لاسه ووت نو بیا به ته او زه دواړه بې عزته شو ۰

اس په خپل ټول توان سره مخته روان و ، کرار کرار ددواړو تر منځ واټن کمیده ۰ دهغه تر شا ناست شاهین هم خپل وزرونه خوځول ۰

څه وخت چې دواړه اسونه یو بل ته ورنژدې شول نو د یوه تیږې د سر نه د باغر یوه کس جال را وغورځوو۰ جال د خینس په غاړه کې ونښت او د اس نه لاندې په تیږلوړه ځمکه راپریوت ، خو څرنګه چې دهغه تر شا د غشو کڅورې وې په دې خاطر د زخمي کیدو نه خوندي پاته شو ۰

دخینس ذهن په ډیره ښه توګه کار کاوه ، د وخت د ضایع کیدو نه پرته یې په غاړه کې پروت کمند و نیوه اوپه زوره یې د ځان په لور راښکود ۰ په دې وخت کې په هغه تیږو ولاړ ځوان دتیږو څخه را ولوید او د یو څو چیغو وروسته روح د بدن څخه ووتلو ، تر دې وخته پورې باغر هم دهغه خواته را رسیدلی و ، هغه تر هر څه دمخه خپل نیزه نیغه کړه اوپه زوره یې وخندل بیا یې په غصې وویل : واخله ۰۰۰ زه ګورم چې ته به زما ددې ګذار څخه څه ډول خوندي پاته شې ۰

هغه خپل اس را وځغلاوه او بیا یې په پوره قوت سره په نیزه باندې پرې ګذار وکړ ، خینس ټوپ کړ او بلې خواته یې ځان وا چوو ۰ سمدلاسه را پورته شو اوپه خپل اس باندې سپور شو ، توره او ډال یې را واخیستل او په باغر یې حمله وکړه ۰

خینس خپل اس ته هسې اشاره وکړه ، اس يې سمدلاسه په ګونډو شو او د باغر دغه بل ګذار هم هسې ولاړ •

بیا يې د خپل اس واګې راښکودې ، دا ځل يې اس په دواړو پښو د الف په څير ودريد او په زوره و شنهيده • کيدې شي چې هغه به د فتحې زيرې ورکاوه •

خینس په شا و ټپاوو •

شاباس ، ورځه چې اوس ستا نوبت دی •

ددې سره سم يې په زور چغه کړه : سپيه ځان سنبال کړه •

اس په تيزۍ سره ور وګرزيد ،خينس خپل اس هغوې ته ور ورساوه ، اس يو ځل بيا خپلې پښې پورته کړې او و شنهيد ، په همدې وخت کې خينس خپل ګذار وکړ ،باغر غوښتل خپل ځان په څنګ کړي خو ناکامه شو •

خینس د تکبير اواز پورته کړ : الله اکبر •••• او د هغه سر يې د هغه د تن څخه جدا کړ •

هغه د اس نه لاندې را پريوت ، بيا يې دهغه ځوان سر هم پرې کړ ، چا چې پرې د کمند را غورځولو هڅه کړې وه •

دواړه سرونه يې ښه و زيبښل اوبيا يې په خپله خورجين کې کيښودل اوبيرته دښار په لور ور روان شو •

***

خینس ښار ته ور ننوت ، هلته يې يو سبزي پلورنکې و کتلو او د هغې ددکان تر مخه ودريد ، دا يو عمر خوړلې اوسپين ږيرې سړې و •

خینس ورته په غور سره وکتل او ورته يې په پټه توګه وويل : ايا د شاهک دکور درک را ښوولې شې ؟

هغه بوډا خینس ته په دقت سره وکتل او بيا يې ورته وويل : ايا ته خينس بن يوسف يې ؟

هو! مګر تا څنګه وپيژندم •

شاهک ماته ستا په اړه ويلي و ، چې ته به راځې اودهغه دکور په اړه به زما څخه پوښتنه کوې •

بوډا راپورته شو او ورته يې وويل: را ځه زما پسې شاته راځه •

خينس دهغه ترشا شا روان شو ، په يوه کوڅه کې ورننوت اوبيا يې لږ څه مخته ولاړ اوبيا د يوه کور ددروازې تر مخه تم شو ، هغه يې و ټکوله ، لږه شيبه وروسته دروازه پرانستل شوه ، دشاهک سترګې په خينس و لګيدې ، ورمنډه يې کړه او ورغاړيوت •

هغه بوډا بيرته خپل دوکان ته ولاړ او شاهک خينس له لاسه ونيوه اوله ځانه سره يې دننه روان کړو، هلته يې په ميلمستون کې کيناوه ، هغه ډير خوشحاله شو وويل : ما هيله درلوده چې ته به هرو مرو دلته راځې ، ما هغه سبزې پلورونکې ته د مخکې نه ويلي وو اوستا نوم مې هم ورته ښوولې و ، ته دلته اوسه ، زه ورځم تر څو د خوراک څښاک ورته ووايم ،بيرته راستنيږم ، بيا به سره خبرې کوو•

خينس يې لاس و نيوه او بيرته يې کيناوه •

ته کينه ، ما خوراک څښاک کړی دی •

شاهک وويل : چيرې ؟

دهغه فارسي توفيل په کور کې •

شاهک ټکان وخوړ •

خينس وويل : دتوفيل په کور کې ؟

هو !

واوره ! زه به درته ټوله کيسه وکړم ، د توفيل د ښځې يوه خور هلته په خوارزم کې اوسيده • هلته دخوارزم شاه ګوښه کړل شو او په ځای يې ورور خرزاد په تخت کيناست • هغه د پادشاه ټول جنرالان له يوه سره ووژل او د هغوې کورونه يې و سوځول ، د توفيل دښځې خور هم دهمدې دول ظلم ښکار ګرزيدلي وه، دهغې خاوند هم سالار و په دې خاطر ووژل شو • هغه دخپلې ځوانې لور اويوه غلام سره يو ځاي په يوې تاخانې کې پټ شوي وو• توفيل باغر د همدوې د راوستلو په خاطر هغه لورې ته استولې و خو هغه ناکامه راستون شوي و •

په اتفاقي توګه زما دهغوې د وینځې سره ، چې بازار ته د هغوې د سواد د اخیستو په خاطر راغلې وه ، لیدنه وشوه ، همغې ماته ددوې په اړه معلومات راکړل او دهغې تاخانې درک یې را وښود ، ما هغوې په پوره خوندي توګه تر دې ځایه را ورسول • اوس زه هملته اوسیږم ، ما باغر هم هلته وکتلو ، خو کله چې هغه خپل کور ته روان شو نو ما هلته د نیل دسیند په غاړه د تیغه تیر کړ ، زما په اند چې دا د هغه یو پلان کړل شوې کار و چې کور ته یې مخه کړې وه • ځکه هغه په لاره کې د غره په سر یو ځوان کینولې و • هغه ځوان پرما باندې کمند را ګذار کړ ، غوښتل یې ما په کې راښکیل کړي • خو هغه ناکامه شو ، ما هغوې دواړه ووژل •

شاهک یو ځل بیا ور پورته شو او په غیږه کې یې و نیوه •

اوس تا په غاړه یو کار پروت دی •

شاهک یو ځل بیا دهغه خواته کیناست •

ووایه ! هرو خت یې کولو ته تیاریم •

ما د باغر او د هغه د ملګرې دواړو سرونه راوړي ، نن شپه به ته داسې کوې چې دهغوې دواړو سرونه به د توفیل په کوټه کې را غورځوې او دا کار به په داسې وخت کې کوې چې هغه لا پوره ویده شوې نه وي ، هڅه به وکړي چې سرونه دهغه په بسترې باندې را و غورزیږي •

شاهک ورته په اندیښنې سره وویل : زه به څه ډول وپوهیږم چې هغه ویده شوې دی •

په دې اړه به زه درته معلومات درکړم • کله چې تیاره ښه خپره شي نو ته به دهغه دحویلۍ نه لږ څه لرې پټ کینې • خو ته به دحویلۍ دشمال په لور ځای په ځای کیږې • دهغه لورې د بیرونې دیوال تر څنګ د چنار یوه ونه ولاړه ده ، زه به دهغه ونې سره یوه رسۍ و تړم او بیرون به یې در و غورځوم بیا به ته دهمغې رسۍ له لارې راپورته شې • زه به درته د توفیل دکوټې شاتنۍ کړکۍ پرانیزم ، ته به دهغې کړکۍ له لارې دا دواړه سرونه دهغه

بسترې ته را واچوي او بیا به دهغه ځایه ځان وکاږي • رسۍ به بیرته پاس د ونې سرته وغورځوي تر څو بل څوک یې و نه ویني •

ماته به دهغه وخت په اړه معلومات څنګه تر لاسه شي او څنګه به وپوهیږم چې په دغه وخت کې دا سرونه دننه ورګذار کړم •

خینس ورته وخندل : ته ولې اندیښمن کیږې ، ته د شمال په لور راشه او هملته کینه ، د فضا په لور ګوره ، زه به دهغه ځایه د سوزیدونکو موادو غشې ګذار کړم ، بس کله دې چې دا غشې وکوت نو سمدلاسه د خپل پروګرام په عملې کولو پیل وکړه •

بس اوس زه په هر څه وپوهیدم •

خینس راپورته شو او د نقدي پیسو ډکه کڅوړه یې دشاهک په لاسو کې کیښوده او بیرون را ووت •

زه اوس ورځم ، ته راشه او هغه دواړه سرونه له ماڅخه تسلیم کړه •

شاهک دهغه سره یو ځای روان شو ، خینس دخپل اس نه هغه خورجین را واخیسته او شاهک ته یې ورکړه •

دا د هغو دواړو سرونه دي ، د خرجین سره یې واخله ، خرجین به بیا . درڅخه بیرته واخلم ، او هو ! هغه په ښه توګه پریمنځه •

شاهک ترې خورجین واخیسته او خینس یې رخصت کړ •

***

خینس بیرته د توفیل حویلۍ ته ورننوت ، ماروه هملته په کړکۍ کې ولاړه وه او په ډیره ناکرارۍ سره یې دهغه د بیرته ورتلو انتظار کاوه • حویلۍ ته دخینس دورننوتلو سره سم پرې خوشحالي راغله ، توفیل او وصیف هم وکتل چې خینس بیا راغلې او خپل اس د اخور په لور د تړلو له پاره بوځي ، هغوې دواړه ډیر غمژن شول ، ځکه د خینس ژوندې راتلل ددې معنا درلوده چې د هغوې ټول پلان دناکامۍ سره مخ شوې دې • هغوې دواړو د خینس سره خبره و نه کړه ، خو په خپلو منځو کې یې په کراره خبرې کولې او یوې کوټې ته ورننوتل •

خینس چې کوټې ته ننوت ، نو دهغه تر شا دروازه بنده کړل شوه • هغه سمدستې خپله توره را وویستله خو کله یې چې شاته وکتل نو ماروه وه چې دروازه یې بنده کړې وه • داسې معلومیده چې هغه همدلته ددروازې تر شا پټه ولاړه وه •

خینس ورته په خندا شو •

ماروه یې څنګ ته راغله او ورسره و دریده وویل: ما خو په ډیره ناکراری سره ستا د راتلو انتظار کاوه ، مور مې راته بیا بیا ویل تر څو دهغې کمرې ته ورشم ، خو زه همدلته په ولاړه ولاړه ستا د راتلو منتظره وم • شکر دې چې تـه پـه خیریت سره بیرته را ستون شوې ، د باغ سره دې څه وکړل ؟

هغه زما په خلاف یو سازش جوړ کړې و ، خو ما هغه او د هغه ملګرې دواړه د تیغه تیر کړل •

ماروه اندیښمنه شوه •

څه ډول سازش ؟

هغوې د لارې په یوې خوا کې د یوې غونډۍ په سر زما له پاره یو کمند جوړ کړې و او یو ځوان یې هلته کینولې و ، ما باغ تعقیبوو چې کله هغه ځاې ته ورسیدم نو هغه ځوان پر ما کمند را ګذار کړ •

ماروه ترې په ناکرارۍ سره وپوښتل : بیا څه وشول ؟

کمند زما په غاړه کې و نښت او زه پر ځمکه راپریوتم ، خو ما وخت ضایع نه کړ ، کمند مې دخپل ځان په لور په زوره راښکود ، د راښکودو سره سم هغه ځوان لاندې راپریوت او له منځه ولاړ او بیا مې د باغ سره مقابله وکړه ، هغه مې له منځه یوړ ، اوس ته یو کار وکړه ، د خپل ماما کوټې ته دې ورشه اودهغه دکوټې د کړکۍ پانه لرې کړه •

ماروه وویریدله •

ایا تـه هغه هم ؟

ته مه ويرېږه ••• زه هغه نه وژنم ، کله چې هغه ويده شي نو دهغه کوټې ته د باغ او د ملګري سرونه يې را غورځوم ، په دې توګه به هغه ته د عبرت درس ترلاسه شي او وبه پوهيږي چې دبدو ګرزيدو انجام څه ډول وي ؟

سرونه چيرې دي او څوک يې را غورځوي ؟

ما دهغوې دواړو سرونه راپرې کړي اوخپل يوه دوست ته مې ورکړي دي ، هغه به زما له اړخه د اشارې سره سم دهغوې دواړو سرونه د توفيل کوټې ته را غورځوي •

اشاره به څه ډول ورکوې ؟

زه به دهغې د کوټې د کړکۍ شمالې لورې ته يو رڼا کونکې غشې الوزوم •

ماروه دهغې لاس و نيوه او تر بسترې يې و رسوو •

ګوره چې مادرته څه راوړي دي ؟

څه دي راوړي دي ؟

بسترې ته خو لړ وګوره

ما ستا له پاره يو پوستين او ستا د خور دمنه او مور سلامه له پاره مې کالي راوړي دي

خينس و کتل چې هغې ډير قيمتي پوستين اخيستې دې • ددې نه پرته هغه نور کالي هم ډير قيمتي اوښايسته و •

دا دې ولې راوړي دي ؟

خينس ورته په غور سره وکتل •

بس دا زما خوښه وه ••••• کله چې ته ددې ځايه ستنيږې نو دا به هم له ځانه سره يوسې •

زه نو څه ددې ځايه نيغ کور ته ځم ؟!

نو بيا چيرې ځې ؟

زه خو د حرب وروړه پيدا کولو په خاطر ترشومان پورې ځم •

نو دا خو نوره هم ښه شوه ، دهغه ځایه د راستنیدو وروسته بیرته همداسې راشه او زما سره ووینه او هو! مور ته هم معلومه شوې ده چې مونږ دواړه یو دبل سره ...

بیا خو تول کار اسانه شو .

هو ! همداسې ده ، راځه هغه د څنګ کوټه کې مور او ترور مې دواړه ناستې دي ، دهغوې سره به کینو ، زه به دهمغه ځایه ورشم او د کړکۍ پانه به لرې کړم ، ته داډمن اوسه .

دواړه د څنګ کوټې ته ور ننوتل ، هلته قراطیس او د هغې مشره خور نتیان دواړه ناستې وې او خوږې خوږې خبرې یې کولې ، دوې هم ورغلل او د هغوې تر څنګ کیناستل .

***

شپه ښه خوږه شوې وه ، توفیل هم دخپلې خوب کوټې ته ورغلې و ، دهغه ښځه نتیانه هم دخپل خوب ځاې ته ورغلې وه . ماروه او خینس ناست و اوپه خپلو منځو کې یې خبرې کولې . دهغوې دخبرو په خاطر قراطیس هم ویده کیداې نه شوه .

ماروه دلږې شیبې له پاره بیرون ووتله اوبیا د بیرته راننوتلو سره سم یې خینس ته اشاره وکړه او هغه یې له ځانه سره بیرون وویست.

خینس راووت او دکوټې نه بیرون یې یو رڼاکونکې غشې والوزوو . غشې والوت ، یو پړک رڼا یې وکړه او بیایې سمدلاسه رڼا بنده کړه .

خینس بیرته د ماروه څنګ ته راغې او هملته کیناست او دپخوا په څیر یې په خبرو پیل وکړ ، شاهک همهلته د ونو تر منځ ناست و ، کله یې چې د غشې رڼا وکتله نو سمدلاسه یې را منډه کړه ، او هغه خورجین چې دوه پرې کړل شوې سرونه په کې پراته وو په خپله اوږه را واوړوله ،رامنډه یې کړه اودحویلۍ ددیوال څنګ ته راغې ، هلته یې وکتل چې ددیوال تر منځ د چنارونو دنګې ونې ولاړې دي .

تر لږې شیبې یې د رسۍ لټون وکړ ، رسۍ یې راپیدا کړه ، بیا کش کړه ، ښه مضبوطه وه ، د همغې په مرسته په دیوال وخوت او بیا د توفیل

دکوټې تر کړکۍ يې ځان را ورساوو، کړکۍ يې لږه زور کړه ، دروازه يې پرانستل شوه ، بيا يې د خورجين نه دواړه سرونه را وويستل او دتوفيل په بستره يې ور واچول ، بيا يې دپروګرام سره سم ځان دهغه ځايه غيب کړ ، توفيل په خواږه خوب ويده شوی و .

د سرونو د ورغورځولو سره سم د توفيل سترګې و غوړيدلې ، سمدلاسه يې را ټوپ کړ او د باغر او د هغه د ملګري د سرونو په کتلو سره يې چيغې کړې ، هغه په سختۍ سره چيغې وهلې ، بيرون برنډې ته راووت او دمرستې له پاره يې غږ وکړ .

د توفيل ښځه هم راپورته شوه او په چغو او واويلاو يې پيل و کړ ، وصيف ، طوانه ، او نور غلامان هم هلته را ورسيدل ، خينس ماروه او قراطيس هم په منډه هلته ورغلل . توفيل د ټولو سره يو ځای کوټې ته راغې او ټولو ته يې دهغوې دواړو پريکړې سرونه وښوول .

خينس په ډيره همدردۍ ترې وپوښتل : دا په دوی څه شوي دي ؟

ژبه نښتې توفيل وويل : دا وګورئ ، چا د باغر او د هغه ددوست سرونه پرې کړي او زما کوټې ته يې را غورځولي دي .

هغه يو ځل بيا د خينس په لور وکتل او ويې پوښتل : ته چيرې وې ؟

دخينس نه مخته ماروه ځواب ورکړ وويل : دا خو زما او دمور سره مې ناست و او خبرې مو کولې .

توفيل په زوره چغې کړې نو بيا ذا پريکړل شوې او په وينو ککړ سرونه دلته چا را وغورځول ...هغه ... هغه .... وګورۍ چې زما د کوټې کړکۍ هم پرانستې ده ، په يقيني توګه زما کوم دښمن زما کور ته را ننوتې دې ، دا خو يې لومړې قدم دې ،شپه خو لا اوس پيل شوې ده ، معلوم نه ده چې ددې نه وروسته به څه کوي ؟

خينس ور نژدې شو اوپه ډيره همدردۍ سره يې ورته وويل : زه به دشپې ستا دخوب دکوټې مخې ته پهره وکړم ....ته هيڅ انديښنه مه کوه او ويده شه .

توفيل په لړزه شو او بيا يې د ويرې اود دهشت نه په ډکو احساساتو سره وويل : ته ۰۰۰ته زما دخوب دکوټې تر مخه پهرې ته درېږې ؟ ۰۰۰۰نه ۰۰۰۰نه ، هيڅکله نه ، زما خپل ملازمين به زما ساتنه کوي ۰

هغه چغې کړې او خپلو ملازمينو ته يې ورغږ کړ ، هغوې ټول راغلل او هملته و دريدل ، توفيل د وصيف په مشرۍ هغوې د خپلې خوب دکوټې تر مخه په پهره کولو مامور کړل او په خپله دننه ولاړ او ويده شو ۰

خينس هم دماروه سره يو ځاي خپلې کوټې ته ولاړ ۰ دکور چاپيريال بلکل چوپ و ، د مارو ې اوقراطيس نه پرته نورو ټولو خينس ته د شک په سترګو کتل ۰

خينس د شپې يوه برخه رڼا تيره کړه ۰ ماروه هم ورسره ويښه پاته شوه ۰ دشپې په اخري برخه کې يې توفيل ته د څه ويلو پرته د قراطيس او مارو ې څخه رخصت واخيست او دکوره ووت او د زنيل د سيند په غاړه غاړه يې دخپل اس په ځغلولو پيل وکړ ۰ په دغه يخه او واوره وهلې شپه دهغه دسفر مخ د شومان په لورو۰

***

د واورو په يخښنه هوا او يخ وهلې شپه کې درې مسافرد شومان دښار څخه يو ميل لرې د زنيل د سيند په غاړه د خپلو اسونو څخه راښکته شول ، د هغوې په مخونو باندې د ستومانتيا د نښوسره سره د عملي قدم د اخيستلو او پلټنې عزم را څرګنديده ، په دوې کې يو د خينس مشر ورور حرب بن يوسف او نور د هغه ملګري وو۰

اسونو ته د اوبو د ورکولو نه وروسته ، هغوې شاته شول ، په خپلو تورو او خنجرونو يې وچه ګياه او شنې واښه را پرې کړل ، د ونو څخه يې لرګي هم راپرې کړل او د يخنۍ څخه د خوندي کيدو په خاطر يې اور بل کړ ، اسونو ته يې دګياه او دانې د ورکولو تر څنګ په خپله هم خپل ډوډۍ او غوښه راوويستله او د هغې په خوراک يې پيل وکړ ۰

د شپې تياره په ټول ځواک سره خپره شوې وه ، د واورې په څير يخښنه او لړزونکې هوا په ښه زور سره چليده ، د زنيل دسيند موجونه د سکون

څخه وتلي وو ، د شپې د سختو بادونو په واسطه شګې له يوه ځايه را الوتې او نورو ځايو ته ورتللې . هلته دسيند په غاړه ولاړه وچې ونې داسې ښکاريدې لکه وچ کړل شوې لاشونه .

هغوې خوراک څښاک خلاصه کړه اور هم نور په مړ کيدو وو ، حرب خپلو دواړو ملګرو ته وکتل او ورڅخه يې وپوښتل : اوس به څه کوو ؟ دلته په دې يخنۍ کې خو شپه تيريدل شوني نه دي .

يوه ملګري يې مخته اشاره وکړه وويل : دسيند هغه غاړې ته څه رڼا تر سترګو کيږي ، کيداى شي چې کوم کلي وي ، په دې يخنۍ کې به هم هلته پناه واخلو ، هرو مرو به دسيند په سر کوم پل موجود وي ، راځئ لومړې لاندې خوا ولاړ شو .

درې واړه راپورته شول د هغوې کينڼ لورې ته د شومان د ښار د کلا ستر ستر برجونه چې دپاسه پرې لوې لوې مشالونه روښانه وو ، د ورايه تر سترګو کيدل .

هغوې دسيند په غاړه لږ څه مخته ولاړل ، تر مخه يې د لرګي څخه جوړکړل شوې پل راغې ، دوې دريواړه په هغې ور تير شول اوپه ډيره چټکۍ سره د هغه کلي په لور ور روان شول .

کلې ته د ور ننوتلو څو کسو وسلوالو ځوانانو را ګير کړل او ورته يې وويل تر څو د اسونو څخه راښکته شي .

دريواړه په پوره چوپتيا سره د اسونو څخه راښکته شول ، دکلي يو ځوان يې څنګ ته راغې اوپه لږ څه نرم اواز سره يې ترې وپوښتل : تاسو څوک ياست ؟

حرب ځواب ورکړووېل : اجنبي يو او غواړو دلته ديخنۍ نه پناه واخلو او شپه تيره کړو .

هغه ځوان دخپل يوه بل ملګري په غوږ کې څه وويل او هغه ولاړ ، دا ځوان بيرته دحرب خواته راغې او ورته يې وويل : ما خپل سردار ته خبر ورکړ . داسې پريکړې همغه کولې شي .

چاپيريال تر يوه وخته پورې خاموشه و ، حرب اخوا ديخوا و کتل او جايزه يې واخيسته ، ويې کتل چې هغه کوم کلي نه دې بلکه د ترکي کوچيانو يوه قبيله وه چې د شپې په دې تياره کې تر کومه چې سترګې غوړيدې د دوې خيمې تر سترګو کيدې ، د دوی خيمې هم د اوښانو او نورو حيواناتو د پوستکو څخه جوړې کړل شوې وې. ځاې ځاې د لرګيو ستنې ولاړې وې او د هغوې په سر مشالونه روښانه کړل شوي وو.

لږه شيبه وروسته يو عمر خوړلې انسان را ووت او د حرب سره يې، چې د ټولو نه مخته ولاړ وو ، روغبړ وکړ او ورڅخه يې وپوښتل : تاسې څوک ياست او د کومه ځايه راغلي ياست ؟

حرب ورته د سر نه تر پښو پورې په غور سره وکتل او ورته يې وويل : ايا زه داسې و ګنم چې زه د دې قبيلي د سردار سره خبرې کوم ؟

هو!

د هغه په ځواب کې ډير شفقت او محبت وو.

سرداره ! مونږ اجنبيان يو ، د تميم د عربو د قبيلي اړوند خلک يو ، مونږ د فرهار د کلي څخه چې د جيحون د سيند هغه غاړه د بخار په سرک پروت دې راغلي يو .

منزل مو چيرې دې ؟

لا تر اوسه مو په دې اړه پريکنده پريکړه نه ده کړې ، خو بيا هم اوس غواړو د شومان په لور ولاړ شو.

څه مقصد خو به لرئ ؟

هو ! زمونږ تجارتي قافله د بطان د غرونو له لورې د تجارت کولو نه وروسته بيرته راستنيده چې د شومان څخه يو فرسنګ لرې د صفانيانو په سيمه کې د شومان د ښار څو کسنو بدمعاشانو پرې بريد کړې اولوټ کړې يې ده ، د قافلې د کومو خلکو سره چې وسله وه هغوې يې ټول وژلي دي او کوم چې پاته شوي هغوې يې ټول بنديان کړي دي مونږ د خپلو همغو ملګرو او دوستانو د لټون او ازادی په خاطر را وتلي يو.

سردار دخوشحالۍ څرګندونه وکړه : زه ستاسو په خير ځوانانو ته ښه راغلاست وايم چې دخپلو ملګرو د انتقام په خاطر ددومره لرې ځايه يې سفر کړي ، را ځئ زما سره ، تاسو اوس زما ميلمانه ياست ، ترڅو پورې مو چې زړه وي دلته پاته کيدې شئ ، زه ارطبون نوميږم او ترک يم •

ارطبون دحرب او د هغه دملګرو سره يو ځاي خيمې ته راغې ، دا خيمه دومره ستره وه چې دننه په کې درې نورې خيمې هم جوړې کړل شوې وې • مخامخ خيمې چيرې چې دوی ور ننوتل ډيره ساده او معمولې شانته جوړه شوې وه ، ځمکه يې هواره کړې وه او په هغې يې درې اوپوزکې خپاره کړې وو ، په منځ کې يې يوه کنده ويستلې وه او په هغې کې يې اور روښانه کړې و ، هغه داور ځاي و او شاوخوا يې د اور لرګي پراته و او داسې معلوميده لکه ميلمستون چې وي •

ارطبون د خپلو ميلمنو سره همدلته کيناست او يو لرګي يې را واخيست او اور يې پرې تازه کړ او غږ يې وکړ : قطونه ، قطونه

تر څنګ خيمې څخه دپښو اواز را پيدا شو ، بيا يوه نوې پيغله شوې نجلې د هغوې کوټې ته راغله ، کله چې را نژدې شوه نو د ارطبون څخه يې وپوښتل : ماته دې غږ کاوه ، بابا جانه !

ارطبون ورته په ډيره مينه وويل : لور جانې ! ګوره ميلمانه راغلي دي ، ددوې له پاره د خوراک څښاک څه تيار کړه •

کله چې قطونه بيرته ستنه شوه ، نو ارطبون خپلو ميلمنو ته په خندا وويل : دا مې لور ده ••• ښځه مې مړه شوې ده ، زما اولاد يوازې همدا يوه لور ده •

تر لږې شيبې پورې په خيمې کې پوره چوپتيا خپره وه ، اخر ارطبون په هغه کوچنې لرګي باندې ، چې په لاس کې يې نيولې و ، د نغري اور را تازه کړ او ويې ويل :

ستاسو په قبیله کې نور داسې جنګجویه او تکړه ځوانان نه وچې په دې مهم کې یې له تاسو سره یو ځاي ګډون کړې و ، تاسو دریواړه خو ددې کار له پاره کمزوري او لږ یاست •

حرب ځواب ورکړ : زمونږ درې کسه ملګري بخارا ته تللي دي ، هغوې هم په همدې لړ کې پلټنه کوي • هغوې به هم ډیر ژر زمونږ سره را یوځاي شي ددې نه اخوا ددې مهم سردار چې اوس د ترمز په لور تللې دې ، منتظر یو چې هغه هم ډیر ژر زمونږ سره را یو ځاې شي •

ارطبون د مخکې څخه د زیات شوق له مخې وپوښتل : هغه څه نومیږي ؟

هغه خینس بن یوسف نومیږي او زما کوچني ورور دی •

ارطبون ترې په حیرانتیا سره وپوښتل : ستا کوچني ورور او ددې مهم سـردار ؟

هو ! په دې کې هیڅ شک و شبه نه شته • ځکه چې هغه د زمري په څیر غښتلې او د توپان په څیر حمله کوي او د بیا دسراب په څیر خپل ځان خوندي ساتي ، تر ننه پورې هیچا ورته ماتې نه ده ورکړې ، هغه داسې یو غر دې چې هر څوک ورسره ټکر وکړي نو نامراده پاته کیږي ، هغه د خپل ځان سره یو شاهین هم روزلې دې چې دهغه په اشاره باندې ددښمن سترګې باسي ، دهمغه شاهین په واسطه د پیغام رسولو کار هم تر سره کوي او دهمغې په واسطه د مرغانو ښکار هم کوي •

ارطبون ترې په ډیره تاکراری سره وپوښتل : کومه نقشه چې تا دهغه په اړه وښکله نو که چیرې ریښتیا هم همداسې وي نو زه غواړم چې د هغه سره یو ځل ووینم ، زه د زړه ورو او میړنو خلکو ډیر قدر کوم •

په دې وخت کې د حرب یوه بل ملګري ځواب ورکړ : هغه څه چې د هغه په اړه دلته وویل شول ، هغه ددې نه هم زیات دعظمت خاوند دې ، تو له قبیله ورسره ډیره زیاته مینه لري ، زمونږ د قبیلي ښځې دهغه د میړانې سندري وایې ، زمونږ له پاره هغه د شرق نه د راختلي سپوږمی په څیر دې چې دشپې په تیارو کې لارورکو مسافرو ته دلارښود په څیر کار کوي •

ارطبون یو ځل بیا هغه کوچنۍ لښته په اور کې وهله او اور یې راتازه کړ. الله دی وکړی چې هغه هم دې لورې ته راشي او زه یې ووینم ، ایا تاسو دهغه تر راتلو پورې همدلته انتظار کولې شئ ؟

حرب ځواب ورکړ : که چیرې ته مونږ په خپل ځان بار و نه ګڼې نو په یقیني توګه به مونږ همدلته دهغه تر راتلو پورې منتظر پاته شو ۰ خومونږ به دلته بیکاره نه کینو ۰ بلکه شومان ته ورځو تر څو دخپلو دښمنانو ځاې ځیږې پیدا کړو ۰

نه ، هیڅکله هم نه ، تاسو پر ما بار نه یاست ۰

ایا تاسو په مستقله توګه دلته اباد شوي یاست ؟

نه ، مونږ کوچیان یو ، په زرګونو اولکونو میږې ، وزې ، اسونه او اوښان پالو او دهغوې له پاره د نوو نوو څرنځایونو په لټه کې د شمال نه تر لویدیځ پورې او د جنوب نه تر ختیځ پورې په ټولو سیموکې خپاره پراته یو ، د همدې حیواناتو پوستکي ، شیده ، وړی ۰۰۰ زمونږ محصولات دی ۰

حرب غوښتل څه ووایې چې په دې وخت کې قطونې ستراخوان خور او بیا وریاندې د خوراک څښاک لوښی خپاره کړو او ټول په خوراک څښاک پیل کړو ۰

***

تر څو ورځو پورې دریواړو همدلته د ارطبون په خیمه کې قیام وکړ ، بیا یوه ورځ هغوې دماښام نه مخته د ترکیې تجارانو په کالیو کې شومان ته ور ننوتل ۰ هغوې وکتل چې د ښار شاوخوا مضبوط اومستحکم دیوالونه جوړ کړل شوي دي ددې نه پرته د زنیل سیند ددغه ښارله منځه تیرېږي اوښار یې په دوو برخو ویشلې دی ۰

تر یوه وخته پورې همدلته په ښار کې ګرزیدل را ګرزیدل او نه پوهیدل چې د چا نه په دې اړه پوښتنه وکړي ، په دې وخت کې هغوې ته یو عمر خوړلې شخص تر سترګو شو ۰ دهغه په غاړه کې دلرګي یو کچول را ځوړند و او امصایې په لاس کې وه اود بازار په لور ور روان و ۰

حرب د خپل اس نه راښکته شو او د هغه بوډا په لور ورغی او ورڅخه یې وپوښتل که زه غلطي ونه کړم نو ویلي شم چې ته ددې ښار د ډیرو عمر خوړلو او تجربه لورنکو خلکو څخه یې ، زه غواړم دهغو خلکو درک پیدا کړم چې څه موده مخته یې دعربو یوه تجارتي قافله لوټلې اوبیا یې دهغوې څخه کسان دلته د ځانو سره بندیان کړي دي • په ډاډمنه توګه به ته زما لارښوونه وکولې شې • ما دهغې خلکو له پاره له ځانه سره یو پیغام راوړې دې چې په کې دهغوې ټولو بهتري او ښیګڼه پټه ده •

هغه بوډا داسې معلومیده چې سوالګر دې •

لومړی یې دخپل ځان د اطمینان په خاطر اخوا دیخوا وکتل ، بیا مسکې شو اوپه ډیره پټه توګه یې حرب ته وویل دخبرې بدلول او بیا هغه کول اسانه دي خو هغه احساسات چې دخبرې سره سم په مخ را څرګندیږي دهغې بدلول اوپټول اسانه کار نه دې ••••

واوره ! ته دهغوې له پاره په هیڅ توګه دخوشحالی پیغام نه یې •

زما زړه وایې چې ته د هغه توپان لومړنې باد یې چې د عربو له اړخه به را پورته کیږي اوپه ټول حراسان کې به خپریږي ، ته دهغې تباهي لومړی قدم یې چې په ډیر نژدې وخت کې به په دې ښار را پریوځي اوهمداسې باید وکړل شي ، هغوې چې دبې ضرره او کمزور خلکو په اړه ظلم کړې وي هغوې ته باید دهغوې دکړنو سزا ورکړل شي •

دحرب سترګي وځلیدې •

ایا زه داسې و انګیرم چې دکوم کس تر مخه چې زه ولاړ یم هغه په دې ښار کې زما تر ټولو ښه دوست او لارښوود دې ؟

په یقیني توګه ، هغوې زما نه ښه بل څوک نه پیژني ، زه یو سوالګر یم • کوڅه کوڅه او محلې محلې ته ورځم اودهغې ځایو په اړه ځان خبروم • که چیرې ته دخپل انتقام د اخیستلو پیلامه کول غواړې نو هغه مخامخ چوک ته ورشه • هلته په ښي لاس کې د جواهراتو یوستر دکان دې، دمالک نوم یې اشناس دې ،همغه ددې بدمعاشانو سردار دې او هغه څوک چې ته یې

لټون کوې د هغه کور هم دهمدې دکان تر شا دې ، که چیرې هغه په دکان کې نه وي نو کور ته به تللې وي ، دهمغې نه به معلومات تر لاسه کړې چې ستاسو خلک چیرې دي ؟

کله چې حرب بیرته راستون شو نو هغه بوډا سړې پسې اواز وکړ صبر وکړه ، هغه یو ډیر قوي او ځواکمن انسان دې ، ته ورته په ځانته ځان دهغه مقابله نه شې کولې ، هغه مخته ځوانان که ستا ملګري وي نو بیا کولې شئ چې په یوه وخت کې خپل قسمت ازمیښت کړئ ، خو احتیاط به کوئ ځکه دهغه ملګري هم هر وخت دهغه شاوخوا ګرځي •

ورشئ ! که چیرې ددې ښار د خاورې څخه ستاسو وجود نه وي جوړ کړل شوې او مرګ تاسو ته همدلته چیرې نه وي پټ شوې نو هرو مرو به بریالي شئ ؟

حرب دخپلو ملګرو سره همغه چوک ته راغې ، اسونه یې په یو ځاې کې وتړل ، دهمغه جوهري دکان ته ور ننوتل ، هلته څلور وسلوال ځوانان هم ناست و ، د هغوې څخه یې یوه په قدو قامت او قوت کې ځانګړې بڼه درلوده ، حرب داسې وانګیرله چې همدا به اشناس وي ، په دې خاطر یې هغه ته وویل : زه نه پوهیږم چې ته به څوک یې ؟ خو که چیرې دلته چیرې اشناس وي نو زه دهغه له پاره یو ځانګړې پیغام لرم •

همغه دقدو قامت شخص راپورته شو وویل : ووایه ! زما نوم اشناس دی •

زه غواړم په ځانته توګه له تاسره خبره وکړم •

اشناس خپلو ملګرو ته اشاره وکړه اوهغوې د شاتنې دروازې څخه بیرون ووتل •

حرب ورته وویل : زه دصفانیان څخه راغلې یم ، زمونږ پلرنې کسب لوټمار او وژل سوځول دي ، که چیرې ته په دې لړ کې زمونږ سره مرسته او تعاون وکړې •

څه دول تعاون ؟

واوره ! د عربو یوه تجارتي قافله دتجارت له پاره دمروې څخه دبدخشان په لور تللې ده او د هغه ځایه د ډیرو جواهراتو داخیستلو وروسته بیرته راستنیږي ، مونږ غواړو چې هغه قافله لوټ کړو خو په هغه قافله کې دومره وسلوال ځوانان دي چې مونږ یې په ځانته ځان نه شو لوټولې ، په دې خاطر ستاسو مرستې ته اړتیا لرو ، مونږ خو ستا ډیره ستاینه اوریدلې ده او دا هم چې ته په دې اړه ډیره تجربه لرې •

قافله به دکومه ځایه تیریږي ؟

د جیحون دسیند په غاړه او په همغه لاره بیرته راستنیږي ، زمونږ خبرلوڅي د قافلي تر شاشا روان دي همغه مونږ ته نن خبر راکړې چې قافله به یوه میاشت وروسته د سیند په غاړه د ترمز څخه تیریږي ، لوټل شوې سامان به ستا په خوښه ددواړو ډلو ترمنځ برابر ویشل کیږي •

تاسو چیرې اوسیږئ ؟

دښار نه بیرون ترک کوچیان اوسیږي ، دهغې سردار زمونږ پخوانې دوست دې ، مونږ هملته د همغه سره پاته کیږو ، زمونږ خپل سردار هم هملته اوسیږي ، نو که چیرې تاسو زمونږ سره مرستې ته حاضر یاست او یا په دې اړه بل کوم وړاندیز ولرئ نو زه حاضر یم چې دخپل سردار سره پرې خبره وکړم •

ماته دمنلو وړ ده ، خو د لوټل شوې مال دوه برخې به زه اخلم او یوه برخه به یې تاسو ته پریږدم •

زه په دې اړه له تاسره کومه ژمنه نه شم کولې ، زه یوازې د یوه قاصد په څیر ستا ځای ته راغلې یم ، زه به ورشم او دخپل سردار سره به په دې اړه خبره وکړم بیا به تا هم له ځانـــه سره هغه ته بوځم ترڅو تاسـو دواړه مخ په مخ کینئ او پخپلو منځو کې کوم تړون وکړئ ، ایا دا وړاندیز درته منظور دي ؟

ماته منظور دي •

حرب ورته په نرمۍ سره وويل : زه ستا مشکور يم حرب دخپلو ملګرو سره يو ځاي ددکان نه بيرون ووت ، کله چې د هغه بازار څخه تيريده نو هغه سوالګر زوړ سړي ور ته يو ځل بيا تر سترګو شو ، هغه دحرب نه وپوښتل : په يقيني توګه چې ته ناکامه او ناهيلې را ستون شوې يې، هر څوک د اشناس سره ټکر نه شي کولې ۰

حرب ورته مسکې شو : زه ناکام نه ستنيږم ، ما يو پلان جوړ کړې او راستون شوې يم ، دهمغه پلان له مخې به دهغه سره مقابله کوم ، زمونږ يو سردار دې چې زمونږ د قبيلي شاهين دې ، همغه کولې شي چې ددې ګيدړانو سره حساب کتاب وکړي ، هغه به ډير ژر دلته را رسيږي ، بيا به ته وويني چې ددې بازو څومره ځواکمن دې او هغه څه ډول کولې شي په خپل ښکار باندې ور پريوځي ، هغه داسې يو توپـان دې چې تر مخه يې بند نه شي تړل کيدی ۰

هغه زوړ ترې په پوره شوق سره وپوښتل : زه دهغه نوم اوريدلې شم ؟
نوم يې خينس بن يوسف دې او زما کشر ورور دی ۰
زوړ په خندا شو اومخته ولاړ ۰
دوې دريواړه هم دښار ددروازې په لور ولاړل ۰

***

کله چې حرب بيرته د ترکي کوچيانو خيمو ته را غې نو ارطبون يې بيرون دخپلې خيمې تر مخ دريدلې وموند ۰ هغه دحرب دکتلو سره سم په خوشالۍ سره وويل : ستاسو درې ملګري چې د بخارا څخه را غلي وو، دسيند نه د تيريدو وروسته د ښار په لور روان وو، خو زما خلکو هغوې تم کړل او دې لورې ته يې له ځانه سره راوستل ۰

حرب په خندا شو ۰ کله چې دننه ننوت نو ويې کتل چې د اور څنګ ته يې ملګري ناست دي ،تول پورته شول او يو دبل سره يې روغبړ وکړ ، ارطبون هم دهغوې تر څنګ کيناست او په يوې لښتې يې اور تازه کړ او بيا يې دحرب څخه وپوښتل ددښمنانو څه درک درته معلوم شو ؟

ما دهغوې دمشر درک معلوم کړ، هغه ځانته نه دې بلکه یوه منظمه ډله ده ، مونږ تر هغو پورې د هغوې سره مقابله نه شو کولې تر څو چې خینس دلته نه وي را رسیدلې • مونږ به همدلته دهغه د راتلو انتظار کوو او د هغه د رارسیدو وروسته به قدم اخلو •

د ارطبون د غږ سره سم قطونه راغله او ټولو ته یې خوراک ښکاک تر مخ کیښوده ، بیا ټولو په ګډه په خوړلو پیل وکړ•

***

یوه ورځ سهار ، خینس د زنیل دسیند په غاړه د شومان د ښا رڅخه دوه میله واټن ته رسیدلې و ، دهغه اس په منځني رفتار سره روان و او په ټیټ غږ سره یې دا شعارونه له ځانه سره بدرګه کول :

یخبرک من شهد الوقائع انني اغشي الوعې و اعف عند المغنم

کله چې د زنیل د سیند د پل څخه تیر شو او د شومان دښار په لور یې مخه کوله چې دپل څخه پرې اواز وشو •

اجنبي هم هلته تم شه !

خینس و درید او تورې ته یې لاس کړ ، کله چې هغه غږ کونکې ورته را نژدې شو نو خینس خپله توره د ګذار له پاره تیاره کړه •

هغه راتلونکې ورته په ډیره نرمۍ سره وویل : ایا ستا نوم خینس بن یوسف دی ؟

خینس د اس نه راښکته شو •

ته څنګه پوه شوې ؟

ستا مشر ورور حرب بن یوسف اودهغه نور شپږ کسه ملګري همدلته زمونږ سره اوسیږي ، هغوې ستا انتظار کوي ، مونږ ترکي کوچیان یو ، مخامخ وګوره زمونږ خیمي ښځې شوې دي ، خیمې دې تر سترګو کیږي ، زمونږ سردار هم ستا دکتلو له پاره ناکراره دې ، ستا ملګرو دهغه تر مخه ستا د شجاعت کیسې کړې دي ، هغه اوس ستا عقیدتمند دې ، زمونږ د قبیلې ځوانان په نوبت سره په دې پل باندې پهره کوي تر څو ته راشی او زمونږ ځاي ته ولاړ شی •

هغه دخینس داس واکې و نیولې •

راځه ، زما سره یوځای راځه •

هغه هم په چوپتیا سره دهغه تر شا روان شو •

د ارطبون دخیمې خواته د رارسیدو سره سم هغه ترک په زوره غږ کړ:

خینس بن یوسف راغلی دی •

حرب او ملګري یې په یوه منډه بیرون را ووتل او د خینس سره یې روغبړ وکړ ، وروسته بیا ارطبون اودهغه لور هم دخیمې څخه را ووتل ، دخینس د نوم د اوریدو سره سم نور خلک هم دخیمو څخه را ووتل•

ارطبون خینس ته د سرنه تر پښو پورې و کتل خوبیا یې سترګې دهغه په اوږه ناست شاهین باندې و نښتې •

ددواړو سترګې یو شان وی •

بلکل داسې سرې لکه اور چې ترې بادیږي اوبه خپله مخه کې هر شې ایرې کوي ، ارطبون په ډیره ښه توګه مخته راغې او د هغه سره یې روغبړ وکړ •

زما نوم ارطبون دې ، زه د دې کوچیانی قبیلې سردار یم ، ستا مشر ورور او ستا دې ملګرو چې ستا کوم صفت کړې و نو ستا په کتلو راته هغه ډیر کم اولږ احساسیږي •

حرب مخته راغې او خینس یې له لاسه و نیوه ورته وویل : ښایی چې ستومانه به یې ، راځه دننه را ننوځه •

خینس خپله توره په نیام کې کیښوده وویل : نه وروره ! زه تازه دم یم ، دومره راته ووایه چې ددښمن کوم درک دی معلوم کړې او که نه ؟

هو! ما د هغوې مشر را پیدا کړې دې ، زه هغه ته ورغلې وم او هغه ته مې ویلي دي چې مونږ غله او داړه ماران یو ، دعربو یوه تجارتي قافله چې هلته بدخشان ته د هیرو اوجواهراتو داخیستلو له پاره تللې ده بیرته د مروې په لور راستنیږي ، ته به له مونږ سره دهغې په لوټولو کې مرسته وکړې ،ځکه زمونږ د ملګرو شمیره د قافلې د وسلوالو ځوانانو په نسبت کمه ده ،

هغه په دې شرط د مرستې له پاره زړه ښه کړ چې دلوټول شوي مال دوه برخې به هغه اخلي او يوه برخه به يې مونږ ته راکوي خو ما په دې خبره راضي کړ چې دا معامله به زمونږ د سردار او ستاسی ترمنځ ديوه تړون وروسته تر سره کيږي •

خينس توري ته لاس کړ •

همدا اوس ورشه او هغه له ځانه سره راوله •

نن نه ، ته هم ستومانه يې ، سبا به يې له ځانه سره راولم ، راځه اوس خوراک او څښاک وکړه •

زه تر هغې څه نه خورم تر څو مې چې دهغه سره خبرې نه وي کړې •

که چيرې ستا خوښه همداسې وي نو زه به همدا اوس ورشم

حرب خپل دوه کسه ملګري له ځانه سره واخيستل او د ښار په لور ولاړ ارطبون خينس له لاسه و نيوه او له ځانه سره يې دننه يوړ ، قطونه يې هم تر شاشا روان شوه •

***

حرب د اشناس او د هغه د څلورو ملګرو سره يو ځاي د ارطبون خيمې ته رانتوت او هلته د خپلو ملګرو سره يوځاې کيناست •

اشناس دحرب په لور وکتل او ورته يې وويل : زما سره دومره وخت نه شته او غواړم ډير ژر بيرته ستون شم ، ستاسو سردار څوک اوچيرې دې ؟

حرب دخينس په لور اشاره وکړه دا ځل اشناس د خينس نه وپوښتل : ته ددې ډلې سردار يې ؟

خينس ورته په ډيره بې توجهې سره وويل : هو

نوم دې څه دې ؟

دا ځل خينس لږ په سخته توګه ورته وويل : په نومونوکې څه دې ، هسې خو ما ته خلک ليوه وايې •

اشناس خپل اړخ بدل کړ او ورته يې وويل : ته چې هر څه يې ، زه ورسره کار نه لرم ، خو ما ته دمطلب خبره وکړه ، دهغه څه په اړه چې زه مو ورته راغوښتې يم •

تا څنګه د لوټ کړل شوي مال دوه برخې غوښتي دي ، په داسې حال کې چې دواړه ډلې یو شان کار کوي •

زما او ستا د ډلې تر منځ توپیر شتون لري •

څه ډول توپیر ؟

دا چې ما همدا نن ستا نوم واورید ،خو مونږ د بلخ نه نیولې د بطام دغرونو پورې ټول خلک پیژني •

خینس ورته په قهر وویل ته درواغ وایې ، ما تر ننه پورې ستا په څیر څو کسه ځوانان د ګیډې لاندې کړي او خپله فتحه مې پرې اعلان کړې ده •

اشناس راپورته شو ته هسې چټیات وایې •

خینس هم راپورته شواو د اشناس یې د ملا دکمربند نه ونیوه ، اشناس هم خینس د کمربند نه و نیوه او غوښتل یې چې په ځمکه یې را وولي خو و نه توانید •

ټول خلک راپورته شول او شاته ولاړل ، قطونه و تښتیدله او په یوه کونج کې و دریدله ، د اشناس خلکو توري را وویستلې ،خو په دې وخت کې دحرب غږ را غبرګ شو •

که چا هم خپله توره د نیام څخه را وویستله نو همدلته مو وژنم ، ددې خبرې سره سم د اشناس د ملګرو شاته د خینس کسان و دریدل ترڅو په خپل وخت ورسره معامله تمامه کړي •

اشناس ته د یوې زوروري ټیلې ورکولو سره سم خینس وویل زما د پورته کولو په خاطر پوره زور وازمایه ، اوکه نه زه دې پورته کوم •

اشناس پوره قوت استعمال کړ خو خینس یې پورته نه شو کړای ، خو کله چې هغه خپله ملاسموله نو خینس یوه قوي ضربه ورکړه اوهغه یې د ځمکې نه پورته کړ •

خینس هغه راپورته کړ او بیرون یې را وویست •د اشناس سره دهغه ملګري اوتر شا یې نور خلک هم وو• ټول دهغه سره بیرون راووتل •

قطونه او ارطبون هم دخیمې څخه را بیرون شول ٠ ددې نه پرته دترکانو یوه ستره ټوله هم هلته را ټوله شوې وه ٠

خینس هغه پورته کړې و او بیا یې په ځمکه را وویشت او په لغتو لغتو یې واهه ٠

اشناس فریاد پیل کړ ٠

خینس خپله ګونډه دهغه په سینه باندې کیښوده اود ګریوان نه یې و نیوه او ورته یې وویل : ما وپیژنه ! ٠٠٠٠ زه تمیم د قبیلې خینس بن یوسف یم ٠ زمونږ د قافلې کوم خلک چې تا لوټلې او بندیان کړي دې دي راته وښایه چې هغوې چیرې دي ؟ یادساته که چیرې لږ څه اخوا دیخوا دې وکړل نو زه به دې همدلته په ملاسته ملاسته ستوني پرې کړم ٠

اشناس ژیړ و تښتید ، په همدې وخت کې دهغه یو ملګرې د تښتیدو هڅه وکړه ، هغه یو دم ټوپ کړ او په اس سپور شو او د ښار په لور یې اس په ځغاسته کړ ٠حرب یې هم تر شا په اس سپور شو اوور هځ یې کړل ٠ خو تر دې وخته پورې خینس خپل شاهین ته هدف ورکړې و ، لږه شیبه کې شاهین په فضا کې پرکیده او د هغه تښتیدونکې او د هغه د اس دواړو سترګې یې راویستلې وې ٠

خینس یو ځل بیا په خپله ګونډه د هغه سینه په پوره قوت سره ووهله ،

ووایه ! زمونږ خلک چیرې دي ؟

اشناس ځواب ور نه کړ ٠

هغه په ډیره حیرانتیا سره خینس ته کتل او خینس هغه د ماشومانو په څیر تر پښو لاندې کړې و ٠

خینس یې ګریوان پریښود ٠

زه پوهیږم چې ته په دې توګه حال نه وایې ٠

خپل خنجر یې راوویست او د هغه نیمایې د اشناس په ګیده کې ور ښکته کړ ، دویني دارې ترې راووتلې ٠

خینس ورته په قهریدلې توګه وویل: اوس به وګورم چې څنګه راته حال نه وایې، هرهغه څه چې زه یې درنه پوښتنه کوم په سهي توګه ووایه او که نه په ډیر بد مرګ به دې ووژنم.

په دې وخت کې د اشناس خلکو غوښتل رامخته شي خو دحرب کسانو هغوې په خپله کلابندۍ کې ساتلي و.

اشناس ورته په خبرو پیل وکړ.

د ښار تر منځ دسیند په غاړه، یو سپین رنګې دوه منزله عمارت دې چې بیروني دروازه یې دعامو دروازو څخه کوچنۍ ده، هسې خو د اوسیدو کور ښکاریږي، خوپه حقیقت کې هغه زمونږ مرکز دې، زما ټول ملګري هملته اوسیږي، ستاسو دقبیلي خلک هم هملته بندیان دي، خو هلته ټول نه شته، د هغوې زیاته برخه په بادغیس کې ده او د بادغیس دحکمران د سختې څارنې لاندې بندیان دي.

خینس هغه نورو خبرو ته پرې نه ښوده. توره یې راوویستله او دهغه څټ یې پرې ور پرې کړ. بیا یې خپلو ملګرو ته اشاره وکړه او اشناس ټول ملګري یې هملته د تیغه تیر کړل او د ټولو لاشونه واخیستل او د زنیل په سیند کې ور لاهو کړل.

خینس راپورته شو او شاته ولاړ او د ارطبون په اوږه یې لاس کیښود او ورته یې وویل: سرداره! تا خو مونږ سره په یوه کار کې مرسته وکړه؟

ارطبون له لاسه و نیوه او ورته یې وویل: رائحه زویه! دننه راشه، کینه، دمه وکړه او هم هلته به په ارام سره خبره وکړو.

ټول ولاړل او هلته په خیمه کې کیناستل، قطونه د خپل پلار په اوږه لاس ایښې وه او دهغه تر شا ولاړه وه.

هغه باندې دخینس دغې میړانې ډیر زیات اغیز کړې و.

ارطبون ترې بیا وپوښتل: اوس راته ووایه، چې زه څه وکړم.

ماته د لرګي اته داسې صندقونه جوړ کړه چې د بیرون نه بلکل بند تر سترګو کیږي او د هغې کولپکونه د دننه نه پرانستل کیږي، څلور کچرې

هم راته تیارې کړه ، په دې صندوقونو کې د څلورو خواو څخه کوچني کوچني سوري هم باید وکړل شي •

په صندوقونو څه کوې ؟

زه غواړم په هر صندوق کې خپل یو یو ملګرې بندکړم او د تجار په بڼه همدا نن ماښام د اشناس هغه مرکز ته ورشم او د خپلې قبیلي خلک دهغوې د زندان نه ازاد کړم ، که چیرې شوني وي نو درسیو څخه جوړه شوي یو پاتخه هم راته تیاره کړه ، دومره چې دسیند دغاړې څخه تر دویم منزل پورې ورسیږي ، زه به د کشتۍ د کوم مالک سره خبره وکړم ، زمونږ ټول خلک به د راخلاصیدو نه وروسته دکشتۍ په واسطه همدلته را شي او زه به دخپلو ملګرو سره یو ځاي دهمدې کچرو په مرسته دښارنه را ووځم •

ارطبون ورته په خندا شو •

ډیر ښه پلان دې ، ته په ریښتیا هم د خطرناک نه دخطرناک مهم د تر سره کولو وړتیا لرې ، ته باید دیوې قبیلي سردار ، د یوه فوځ سپه سالار وټاکل شې ، که چیرې زما په قبیله کې پیدا شوې وې نو ترکانو به پر تا د تل له پاره فخر کوو ، اوس هم زه تاته دلته په خپلې قبیلي کې د ابادیدو له پاره بلنه درکوم •

خینس ورته وخندل او پــه ملا یې و ټپوو اوورته یې وویل : زه ستا ممنون یم • خو ستاسو ژوند ډیر منجمد اوساکت ژوند دې • زه داسې یو ژوند ته خوشحالیږم چې په هغې کې کشمکش ، جدوجهد او بدلون رابدلون موجود وي ، په داسې ژوند کې زما د وینې دوران ډیر ښه صورت نیسي او په همداسې ژوند کې ماته سکون تر لاسه کیږي •

ارطبون ورته وخندل •

اوس خو به څه خورې که نه ؟

هو ! اوس به هرو مرو خوراک څښاک کوم •

ارطبون قطونه ته مخ کړاو ورته یې د ډوډۍ او غذا دخپرولو وویل •

***

دماښام په تیاره غوني پیل شوې وه ، خینس د سوداګرو په لباس کې ښار ته ور ننوت ، د هغه تر شا څلور کچرې هم روانې وې او په هره کچر دوه صندقونه بار و ، هغه د ټولو کچرو نه مخته د یوې واګې نیولې وې او نورې وربسې ور روانې وې • ځکه کچرې ټولې یو دبل سره تړل شوې وې •

دخولې څخه یې عجیب اواز راویست اود تللو په وخت کې د هغه عمارت مخې ته ودرید دکوم په اړه چې ورته اشناس ویلي و •

دهمدې تعمیر دروازه یې ور وټکوله ،لږه شیبه وروسته دروازه پرانستل شوه ،او یو تور نګې بدشکله انسان ترې راووت او په سخته لهجه یې وویل: څوک یې او د چا سره لیدل غواړې ؟

خینس په درنه توګه ورته ټیټ شو اوورته یې وویل : زه د ترمز نه راغلی یم ، ایا ته توفیل نومې کس پیژنې •

بلکل یې پیژنم •

همغه تاسو ته څه سامانونه را لیږلي دي •

هغه کچرو ته وکتل او ویې ویل : نوبیا بیرون ولې ولاړ یې ، دننه راځه

خینس دخپلو کچرو سره دننه ور ننوت او دروازه یې دپخوا په څیر دځان پسې و تړله •

ستانوم څه دی ؟

اغوس

دلته له تاسو سره څومره کسان اوسیږي ؟

اتــه •

ټول اته کسان ، ما خو فکر کاوه چې ډیر به وي ، خیر هغوې را وبوله تر څو د کچرو څخه دا صندوقونه را ښکته کړي ، دا پوره درانه دي ، دوه دوه ځوانان به یې هم په مشکله توګه ښکته کړاې شي •

اغوس دننه ولاړ ، کله چې بیرته راستون شو نو اته کسه ځوانان یې ترڅنګ وو ،ټولو یوځاي دغه صندقونه د کچرو څخه را ښکته کړل•

اغوس ترې په ناکرارۍ سره وپوښتل : په دې صندقونو کې دي څه ؟

په دې اړه خو ماته هم معلومات نه شته ، لکه څنګه چې ماته بند راسپارل شوي وو په همغې توګه بند مې تاسو ته راورسول خو توفیل راته په خوله ویلي وو چې درته ووایم چې دهغو عربو سره به خاص پام کوئ کوم چې له تاسو سره بندیان دي ۰ ځکه دهغوې عرب ملګري دهغوې د ازادولو له پاره هرې لورې ته ګرځي راګرځي ۰

اغوس ورته په پوره باور سره وویل : ددې ځایه به هغوې دهغوې خداې هم خلاص نه شي کړاې ۰

خنیس وویل : که چیرې دهغوې ملګرې د هغوې د خلاصون په خاطر په کومه طریقه تر دې ځایه هم را ورسیږي نو دا خبره پریږده ، راځه په بله کومه مسئله باندې خبره وکړو۰

نوبیا راځه چې دا صندقونه پرانیزو۰

هو ! ضرور ! خو دا به څنګه پرانستل کیږي ، دا خو په ډیره کلکه توګه بند کړل شوي دي ۰

ماته خو توفیل ویلي وو چې هر څوک چې ددې صندقونو ترڅنګ ولاړ وي اودرې ځله ووایې چې پرانستل شه نو هغه پخپله به پرانستل شي ۰

اغوس ورته په حقارت سره وویل : دا څه د جاهلیت او کمزورې عقیدې خبرې کوې ۰

هغه خو ماته همداسې ویلي وو ، ته یې وګوره ، اخر په دې کې به څه حرج وي ۰

لږه شیبه اغوس دخینس په لور وکتل اوبیا یې درې ځلې صندقونو ته د پرانستو وویل ، د دریم ځل سره سم ټول صندقونه په یوه ځل پرانستل شول او حرب دخپلو نورو پنځو ملګرو سره یو ځاي د هغوې تر مخه ولاړ و۰ هغوې د خپلو تورو اوډالونو سره یو ځاي د هغو صندقونو څخه بیرون را وتلي و، ټولو یو پر بل باندې حمله وکړه ، عربو ډیر ځنډ ونه کړ او خپل ټول دښمنان یې هم هلته ځاې په ځاې له منځه یوړل ،خینس په ځانته ځان د اغوس په ګډون درې کسان له منځه وړي وو۰

خینس او حرب د خپلو ملګرو سره یو ځاي د دې تعمیر د نورو کوټو د کتلو له پاره ورمخته شول ، ویې کتل چې په یوې ډېره تیاره کوټه کې د هغه د قبیلي خلک بندیان دي ، دوې د اوسپنې د سیخانو په منځ کې لاسونه ور ننویستل او یو دبل سره یې روغبړ وکړ ، په دې وخت کې یوه بندي غږ کړ چې کونجې د اغوس دملا سره تړلې ده •

حرب ورمنډه کړه اوبیرون راووت او د اغوس د ملا څخه یې کونجې را واخیسته اوبیرته راستون شو ، ټول بندیان یې راپرانستل او بام ته یې وخیژول ، د بام څخه یې د رسیو پاتخه را ښکته کړې وه ، تر ټولو لومړی پرې حرب را ښکته شو اوبیا یې نور بندیان راښکته کړل ، هلته یې یوه کشتۍ لا دمخه درولې وه ، حرب ټول له ځانه سره هغه لورې ته روان کړو • خینس هغه پاتخه را پرانستله او د خپلو پنځو ملګرو سره لاندې راغې او ټول په خپلو کچرو سپاره شول او دښار نه بیرون را ووتل •

کله چې دوې ټول بیرته راستانه شول نوویې کتل چې دارطبون دخیمې مخې ته میدان کې شپږ مشالونه لګیدلي او د هغه د قبیلي خلک د حرب تر څنګ ناست دي ، تر څنګ یې بې شمیره ترک ښځې او نر هلته راټول شوي وو، کله چې خینس د اس څخه راښکته شو نو ارطبون ورغاړیوت او مبارکي یې ورکړه ، قطونه هم ښه نیولې د خینس خواته راغله او مبارکي یې ورکړه ، ارطبون د ټولو له پاره د خوراک څښاک انتظام کړې و ، ټولو هملته ډوډۍ وخوړه ، بیا یې څه خیمي خالي کړې اوهغه ازاد کړل شوي عرب یې په کې ځاې په ځاې کړل •

***

شپه یخښنه شوې وه ، د یخښنو هواګانو سیلۍ په پوره ځواک سره لګیدې ، خیمو پړ پړاو کاوه ، ارطبون ،خینس ، حرب او قطونه ټول د یوه نغري ترڅنګ راټول شوي او ناست وو ، د همدې یخښنو هواګانو او بادوهلو ته د خپلو ملګرو سره یو ځـای یو څو ورځې نورهم همدلته له مونږ سره تم شی •

زه به هرو مرو دلته تم شوی وم ، خو زه غواړم د خپلې قبیلي خلکو ته دا خبره ډېره ژر ورسوم چې مونږ د هغوې څه کسان د بنده را ازاد کړي دی او هغوې به سبا سهار وختې زما د یوه ملګري په لارښوونه د خپل کلي په لور روانیږي ، زه او حرب ورور مي د نورو ملګرو سره یو ځای د ترمز له لارې کور ته ځو ، هلته زما څو نور دوستان هم دی ، د هغوې سره به هم خبره کوم •••

ارطبون ورته وویل : یوه خبره درته کوم که بده یې و نه ګڼې •

وواېه ! زه د ترخو خبرو داوریدولو عادي یم •

هغه وخت چې ستاسو تجارتي قافله لوټ کړل شوه نو تاسو ولي دخراسان والي یزید بن مهلب ته چې یو مسلمان سړی دی ، شکایت و نه کړ •

هغه کار چې مونږ یې پخپله کولې شو نو دهغه له پاره ولي والي ته شکایت وکړو •

ما د یزید بن مهلب په اړه ډېر څه اوریدلي دي •

تا څه اوریدلي دی ؟

ویل کیږي چې هغه هر وخت د شرابو په نیشه کې ډوب وي او ددې پایلې دا شوې چې په ټول خراسان کې صلیبیان د مسلمانانو په خلاف نفرت او کرکه خپروي او ځاې ځاې سرکشي او بغاوتونه روان دي ، د بخارا او سمرقند په ځینو برخو کې د بغاوتونو سکروټو اور اخیستې دې ، نو که چیرې حالات همداسې وي نو هغه ورځ لرې نه ده چې په خراسان کې به دمسلمانانو د واکمنۍ تغر ور ټول کړل شي •

خینس نا هیلې شانته شو •

ارطبون ورته په ډېره مینه وویل : خفه شوې پرې ؟

نه داسې څه خبره نه شته ، ماته پخوا هم یو چا همداسې خبره کړې وه • خو ما پرې باور نه کاوه ، مګر نن چې تا راتـــه هم دا خبره وکړه نو بـــاور مې راغې •

زه هیڅکله هم داسې خبره نه کوم چې بنسټ اواساس و نه لري •

زه ستا په خبره باور کوم ، دې لورې ته د راستنیدو سره سم به نیغ د بصرې په لور ورځم او حجاج ته به د یزید بن مهلب په اړه شکایت کوم .

که چیرې یزید اویا د هغه بل کوم ملګرې ته ستا د ارادو په اړه څرګنده شوه نو بیا ؟

زه به د هغه د دښمنی هیڅ پروا ونه کړم ، زه به هرو مرو حجاج ته ووایم چې په خراسان کې حالات څومره بې خونده شوي دي . هغه به هرو مرو د هغه په خلاف قدم واخلي ، خو که چیرې هغه هم زما په خبرو غوږ و نه ګروو ، نو بیا به زه خلیفه عبدالمالک ته ځان ور ورسوم ...

ارطبون څه فکر وکړ او بیا یې وویل : ایا مونږ یو ځل بیا یو د بل سره کتلې شو ، تا ته د خداې پاماني د ویلو سره سم زما په زړه کې یو هیله پاته کیږي او هغه داچې کله به مونږ یو د بل سره یو ځل بیا ووینو .

که چیرې تاسو کله هم زمونږ د کلي په لور راغلی نو زه به یې د خپل ځان له پاره نیکبختي وګنم .

زه به هرو مرو راځم .

ددې ځایه د کوچ کولو په وخت کې به تاسو کومې لورې ته ورځئ .

په یخنیو کې ، هغه وخت چې غرونه په واورو وپوښل شي نو مونږ په عامه توګه د بدخشان او پامیر په لور ورځو بیا چې کله موسم خوږیږي نو د شمال په لور روانیږو ، د سمرقند نه نیولې تر تاشقند اوبیا اثبیجان پورې ورځو ، دا د سیحون دسیند په غاړه ډیره ښایسته ښار دې ، مونږ د دې ښار نه مخته نه ځو ، خو دا ځل مونږ د سمرقند نه تر بخارا اوبیا د هغه ځایه ستاسو د کلې په لور هم درځو ، هملته به د یو څو ورځو له پاره تم کیږو او بیا به د هغه ځایه د اثبیجان په لور ورځو .

زه به په ډیره ناکرارۍ سره ستاسو منتظر اوسم .

هسې نه چې مونږ هلته درشو او ته بصرې ته ورغلې یې ؟

که چیرې داسې وشول نو بیا زما د بیرته راستنیدو پورې به انتظار کوئ .

ارطبون غوښتل څه ووايي خو قطونه يې غوږو ته ور نژدې شوه او په ډېره پټه توګه يې ورته څه وويل •

ارطبون ورته وخندل او بيا يې د خينس نه وپوښتل قطونه پوښتنه کوي او وايي چې دوې په کور کې څو کسان دي •

ددې پوښتنې اړتيا څنګه راپيدا شوه •

شايد چې قطونه دهغوې له پاره څو تحفې تياري کړي •

دهغې له پاره هيڅ اړتيا نه شته •

دا ځل قطونه د لومړي ځل له پاره خينس ته مخاطب شوه او ورته يې وويل اخر په ويلو کې يې څه ستونزه ده ؟

مونږ درې ورونه يو ، د مشر نوم احمد بن يوسف او د هغه نه د کوچني نوم حرب بن يوسف او تر ټولو کوچنې يې زه يم ، پلار مې وژل شوې دې ، مور مې سلامه نوميږي اوژوندی ده ، ددې نه اخوا زمونږ په کور کې زما ترور چې مراجل نوميږي او د هغې لور چې دمنه نوميږي هم اوسيږي ، زما مشر ورور احمد هم نکاح شوي دي او ډېر ژر به يې د واده پروګرام جوړ کړل شي ، همدومره تفصيل به کافي وي اوکه لږ څه نور هم ووايم •

قطونه چې هملته د خينس سره په خلکو کې ناسته وه ، د لومړي ځل له پاره په څرګنده توګه و خندل اوبيا يې وويل بس ، ددې نه زيات به نور څه ووايې ، زمونږ په قبيله کې رواج دې چې څوک يو ځاي ته ورځي نو خالي لاس نه ورځي ، هغه وخت چې زمونږ قبيله ستاسو د کلي په لور درځي نو زه به ټولو ته پخپلو لاسو جوړې کړل شوې تحفې له ځانه سره ور وړم•

خينس راپورته شو وويل شپه پوره تيره شوې ده . راځئ چې ويده شو • سهار وختې مونږ ددې ځـــايه کوچ کوو ، ټول راپورته شول او بلې کوټې ته ولاړل •

بله ورځ سهار وختې هغوې د خپل کوچ له پاره ځانونه تيار کړل ، خينس خپل يو ملګرى د هغو ازادو شوو خلکو دلارښوونې له پاره د هغوى سره يو

ځاي وليږه او پخپله دخپلو نورو پنځو ملګرو سره يو ځاي د زنيل دسيند په غاړه غاړه د ترمز په لور روان شو .

قطونه د خپلې خيمې نه بيرون دکوم مزار د ماتو کړل شوو ستنو په څير ولاړه او د خينس په لور يې کتل ، د هغې حالت داسې شوې و لکه د وجود نه چې روح صلب کړل شوی وی ، دا چې علت به يې څه و ، کيدای شي کوم حکيم يې و ښوولې شي .

***

په يوه سراې کې دخپلو ملګرو د ځاې په ځاي کولو وروسته خينس د توفيل کور ته ورننوت ، اس يې په اخور و تاړه ،طوانې هم هغه کتلې و. هغې منډه کړه او په حويلۍ کې يې اواز وکړ چې خينس راغلې دې ، تر دې وخته پورې خينس هم خپل اس په اخور تړلې و او بيا دهغې تر شا ور غې ، ماروه ورته په خندا ورغږ کړ : خينسه ، راغلې !

خينس دهغې تر مخه ودريد او ورته يې وويل : ما خو د تللو په وخت کې ژمنه کړې وه چې بيرته به هرو مرو راستنيږم .

ماروه ډيره زياته احساساتي شوه وويل : ما خو هره ورځ ستا انتظار کاوه ، زما زړه ويل چې ته به هرو مرو را ستنيږې .

قراطيس هم رامخته شوه اوپه ډيره خوشحالۍ سره يې د خينس ښه راغلاست وکړ ، ددواړو مور او لور حالت داسې شوې و ، لکه يوه ورکه قيمتي متاع چې بيرته په لاس ورغلې وي .

ماروه د مور دپرواه کولو پرته خينس له لاسه و نيوه اوله ځانه سره يې کوټې ته ور ننويست .

په خپلې کوټې کي د خينس کينولو وروسته ماروه بيرته دکوټې څخه راووتله .

زه به خوراک څښاک تياري وکړم .

خينس وويل : خوراک څښاک مې هلته په سرای کې کړی او راغلې يم .

ماروه ورته په تيزو سترګو وکتل او ورته يې وويل : په کوم سراې کې ؟

د همدې ښار په يوه سراې کې .

ماروی ورته وویل : ولی دی خوراک څښاک هلته کړی دی ایا ته دا خپل کور نه ګڼې ؟

دا ځل زما سره زما څو کسه ملګري هم دي ،د هغوې سره مې د مجبوریت له مخې خوراک څښاک وکړو .

ماروه بیرته راغله او د هغه تر څنګ کیناسته .

شومان ته تللې وی ؟

هو !

د دښمنانو څه درک دې معلوم کړ .

ما هغوې ټول ووژل .

ماروه د خوشحالۍ نه و غوړیده .

ډیره ښه ، زما زړه لا د پخوا نه ویل چې ته د هغوې ټولو سره د مقابلې پوره توان لرې ، د حرب ورور سره دې هم لیدنه وشوه .

هو! شوی وه ، هغه هم زما سره راغلې دې او هلته په سراې کې پاته شوې دی .

ولې دې له ځانه سره دلته را نه وست ؟

ما هغه ته ستاسو په اړه پوره معلومات ورکړې دې ، همغه راته وویل چې ته یوازې هلته ورشه ، په دی خاطر زه ځانته راغلم .

دلته به څو ورځې پاته کیږی ؟

د ماروه د خبرې سره سم طوانه هم کوټې ته راننوت ، د هغه رنګ الوتې و او غوښتل یې څه ووایې ، خو نه یې شو ویلې ، ماروه ترې په ډیرې اندیښنې سره وپوښتل : طوانه ! څه خبره ده .

هغه په کرار کرار ځان ډاډه کړ او ویې ویل : زه غواړم د خینس سره ځانته څه ووایم .

د ماروه رنګ و تښتید .

ولې یې زما تر مخه نه وایې ؟

د توفیل د وینا سره سم وصیف څو کسو بدمعاشانو ته د خبر ورکولو په خاطر ورغلې دې تر څو هغوې د خینس په راتلو خبر کړي ، په دې خاطر کله

چې هغه د ښار نــه د خپل کور پــه لور د تللو له پاره ووځي نو هغوې به يې د وژلو هڅه وکړي ، لږ تر لږه لس دولس کسه بدمعاشان به د هغه تر شا ولګوي ۰

ماروه راپورته شوه او د قراطیس په لور يې وکتل ۰

موري ! ما خو هیڅ هیله نه درلوده ، چې ماما به مې په داسې پست کار باندې لاس پورې کوي ، زه همدا اوس ورځم او د ترور سره مې په دې اړه خبره کوم ۰

خینس له لاسه و نیوله اوبیرته يې دخپل ځان تر څنګ کینوله ۰

ته بلکل چوپ اوسه ، زه دداسې خلکو په مزاج ښه پوهیږم ، تر هغې چې زما په متو کې زور وي ، تر هغې چې زما د تورې څنډې تیرې وې او تر هغې چې زما ددې شاهین الوت لامتناهي وي ، تر هغې چې زما مرګ زما په سر د سیورې په څیر نه وي ولاړ او تر هغې چې زما رب زما سره وي زه به داسې په سلګونو بدمعاشان هم مات او له منځه یوسم ۰ زه به هغوې ته ووایم چې خینس بن یوسف دومره کمزورې نه دې چې په پراخه میدان کې ورته ماتې ورکړل شي ۰

ماروې د خینس لاس و نیوه ۰

نه خینسه ! ته حرب ورور هم را وغواړه ، ته تر هغې پورې خپل کور ته نشې ستنیدې تر څو چې ما د ترور او ماما سره خبره نه وي کړي ۰

ته هسې پریشانه يې ، ما پخپله غوښتل چې ماته په یوه ډول ستا د ماما د هغو ملګرو په اړه معلومات تر لاسه شي او زه هغوې له منځه یوسم ، او اوس چې هغه پخپله خپل ملګرې زما تر شا را لیږي نو دا خو زما خوش قسمتې ده ۰

د ماروه اواز ډوب شو ۰

خو تاسو یوازې دوه کسه ورونه یاست ، خینس ! هغه غواړي ستاسو تر شا لس دولس کسه بدمعاشان در ولیږي ۰

مونږ دوه کسان نه یو ، بلکه زمونږ سره څلور کسه نور ملګري هم شته ۰

ستاسو دقبیلي کوم خلک چې بندیان شوي وو ،دهغوی په اړه دې څه معلومات وکړل •

هو! دهغوی نیمایې مې را ازاد کړي دي او پاته نور یې د بادغیس دحکمران نیزک په بندیخانه کې دي •

زه به ډیر ژر د شرقي ولایاتو د والي حجاج بن یوسف دربار ته ورځم او هلته ورته دخراسان د والي په اړه شکایت کوم او ورته وایم چې په خراسان کې په مونږ عربو باندې څه نه تیریږي او زمونږ د خراسان والي یې په چوپتیاسره ننداره کوي ، هغه یو ښه سالار او ډېر والي دي ، هغه به هرو مرو زمونږ سره مرسته وکړي ، هغه به یې گوښه کړي او یا به ورته سمې سختې ووایې ، ترڅو هغه د خپل غفلت نه راییداره شي •

تاسو بیرته کله ستنیږئ •

همدا نن ماښام ۰۰۰۰زه به دلته هرو مرو یو څو ورځې ځنډ شوې وم • خو زما یو ملګرې د شومان ښخه نیغ دکلي په لور ورځي ، دهغه سره هغه بندیان هم ملګري دي چې د شــومان ښخه مو را ازاد کړي دي ، هغوی بـــه هلته په قبیله کې خوشحالي کوي او پـــه ډیـــره ناکراری سره به زما انتظار کوي •

ماروه یې لاس و نیو او راپورته یې کړ ورته وویل : پورته شه او دغه د ځنګ کوټې کې د څه وخت له پاره ارا م وکړه ، تر هغې وخته پورې به زه هغه سامان راوکاږم او ترتیب به یې کړم چې ته یې له ځانه سره وړل غواړې • ماروې خینس له لاسه و نیوه او هغه بلې کوټې ته یې روان کړو •

***

کله چې هغه په خپل اسپ سپور د ترمز ښخه ووت ، نو ویې کتل چې لس دولس کسان یې په تعقیب پسې روان دي ، هغه بیا بیا شاته کتل، خپو شاهین یې ترشا په زین باندې منتظر کینولې و•

د اسونو د سمونو د قوت ښخه داسې ښرګندیده لکه تو له ځمکه چې خوزیږي •

د ښار نه نيژدې پنځه مايله واټن کې ، يې کله چې ترشا و کتل نو په فضا کې يې د سوزيدونکو پرو غشي و کتل اس يې تم کړ او بيرته وګرزيد او په تعقيبونکو باندې يې حمله وکړه •

کله چې هغه په خپلو تعقيبونکو حمله وکړه نو په همدې وخت کې حرب دخپلو پنځو کسو ملګرو سره هم را ښکاره شو او ددواړو ډلو ترمنځ خونړې جنګ و نښت •

د ژوند او مرګ دا لوبه تر ډيره پورې دوام و نه کړ ، عربو خپل دښمنان داسې پرې کړي وو لکه ګازرې اوملې چې څوک پرې کوي او يا بيکاره شاخونه د ونې څخه لرې کوي ، دهغوې يو کس يې ژوندې نيولې و او هغه يې په رسيو کې کلک تړلې و ، په دې جنګ کې چې څومره بدمعاشان وژل شوې و و دهغوې ټولو سرونه يې پرې کړل او د خينس په خورجين کې يې واچول• هغه هم بيرته د ترمز په لور رهي شو •

ټول د توفيل کور ته ور ننوتل ، خينس د خپل اس سره يو ځاي په پاټخو ور وښوت ، نورو ملګرو يې حويلۍ کلابند کړه ، خينس خپل اس د واګو څخه و نيوه او د توفيل د خوب کوټې ته ور ننوت •

دروازه ددننه نه بنده وه ••• هغه و ټکوله خو چا يې ځوا ب و رنه کړ • شاته شو او دروازه يې په اوږه ووهله ، ددروازې دواړه پټې ماتې شوې او هلته پراته خلک را ويښ شول نو توفيل او ښځې يې د راپورته کيدو وروسته و بړل او کيناستل •

د بله اړخه وصيف ، طوانه ، ماروه او قراطيس او نور خدمتګاران هم هملته را ورسيدل ، تر دې وخته پورې خينس دهغوې کوټې ته ور ننوتې و اوتوفيل په داسې حال کې چې سترګې يې مښلې ، په ويره ويره وپوښتل :

ته ••••• ته دلته •

هو! زه تر اوسه ژوندې يم •

دشپې په دې ناوخته وخت کې خلک د خينس په کتلو انديښمن شوې و• وصيف خو داسې شوې و لکه د چا سترګې چې د ويرې نه نورې پرکې

شکیږي ، خینس دخپلې خورجین څخه بیا بیا دهغو دولسو کسانو سرونه یو په بل پسې د توفیل مخې ته را واچول او بیا یې په ترخې لهجې سره وویل : ایا دا همغه خلک و چې تا زما د وژلو له پاره زما تر شا را لیږلې و• یاد ساته ! دا دویم ځل دې چې ته له ماسره دوکه کوې ، لومړی دې باغر زما په خلاف را ولیږه خو ما د هغه او د هغه دملګري سرونه پرې او ستا کوټې ته راورسول خو ستا سترګې بیا هم پرانستل نه شوې او دادې یو ځل بیا دې حماقت وکړ چې پایلې یې ستا تر مخه دي •

توفیل ! یاد ساته ، زما نوم خینس بن یوسف دې او زما په ختهٔ کې تسلمیدل نه شته ، تا زما په اړه غلط ګمان کړې دې ، زه ددې وړتیا لرم چې شر په خپل ځای کینوم او دهغې پوره پوره بدله هم ورکړم •

ته زمونږ د تجارتي قافلي د لوټولو مسئول یې ، داسې ګمان و نه کړې چې ماته په دې اړه معلومات نه شته ، زه په هر څه ښه پوهیږم، ما په شومان کې اشناس او د هغه ملګري له منځه بوتلل او خپل ملګرې مې د هغوې د بندیخانې څخه را ازاد کړل ، ته هسې په هسې زما په لاره کې د شګو دیوالونوه دروې ، د راپورته شوي توپان تر مخه دغه ډول دیوالونه تر ډیره پورې نه شي دریدلې ، زه تاته یو بل فرصت هم درکوم ، خو که بیا دې هم زما سره دوکه وکړ نو بیا یاد ساته چې د نړۍ په هیڅ کونج کې به له ماڅخه پټ او خوندي پاته نه شې •

که چیرې ••• که چیرې ته دماروه د ترور میره نه واې نو یاد ساته چې ما به تر اوسه پورې ستا سر له تنې جدا کړې و ، په دې وپوهیږه چې د تمیم قبیلې زه د یوه سخت او کلک ویشتونکې غشي په څیر پر تا راپریښې یم نو یاد ساته چې دغه زهرجن غشي هر وخت خپل هدف ویشتلې شي •

خینس خپل لاسونه و پړکول ، حرب د خپلو ملګرو سره هغه ژوندې نیولې کس را ننویست •

د حرب د کتلو سره سم ماروې د خینس نه وپوښتل : دا حرب ورور دی ؟

هو !

ماروه ورمخته شوه او سلام یې ورته وکړ ۰

خینس هم په خندا وویل ورورهٔ دا ماروه ده ۰

حرب د ماروي په لور په کتلو سره ونښندل او په رسیو کې تړلې هغه کس یې د تر مخه دیوال سره و دروو، پخپله هم دهغه ترڅنګ و درید ، په دې وخت کې د خینس سخت اواز یو ځل بیا واوریدل شو ۰

هغه توفیل ته وویل ایا دا شخص دهغوې ټولو مشر و چې تا نن زما د مرګ له پاره زما تر شا را استولي وو۰ خو دهغه تر څنګ چې هغه بل ځوان ولاړ دي هغه زما ورور حرب دې ، زه غواړم تاته یې وښایم چې مونږ دخپلو دښمنانو سره څه ډول معامله کوو۰

خینس په خپلې مخ کې ولاړ دښمن په لور اشاره وکړه ، شاهین ور والوت اود هغه د ورور تر څنګ ولاړ دښمن څخه یې سترګې په ولاړه ولاړه را وویستلې اوبیرته راستون شو ، خو حرب ته یې هیڅ ډول زیان و نه رساوه ۰

خینس ورته یو ځل بیا وویل ودې کتل ، لکه څنګه چې دغه شاهین خپل دښمن ښه پیژني ، په دې ډول زه هم دواړه په جدا جدا ځاې کې ساتم ۰ خو کله چې له دوست څخه د لستوني مار جوړ شي نو دهغې حشر او انجام هم همدغه ډول ګرځي لکه څنګه چې ستا ددغه ځوان وګرزید ، ما یو ځل بیا ته وبښلې ، خوکه هره داسې غلطي چې زما د ذات له پاره زیانمنه وي ، له تا څخه ددریم ځل له پاره تر سترګو شوه نو یاد ساته چې بیا به زما د توري ګذار او ستا څټ وي ۰

حرب بیرون راووت ۰

خینس په ټولو سترګې را واړولې خوبلاخره یې نظر په ماروه باندې تم شو بیا دکتلو څخه راووت ، ماروه یې هم تر شا راغله او په انګړ کې یې خینس له لاسه و نیوه او پیه ډیره اندیښمنه توګه یې ورته وویل خینس ! بیا به کله راځی ۰

خینس یې لاس و مښوده وویل دبصرې څخه دراستنیدو وروسته نیغ همدلته راځم او تا به له ځانه سره دتل له پاره خپل کور ته بوځم ۰

ماروې ورته وخندل •

زه به شپه او ورځ په ناکرارۍ سره ستا انتظار کوم •

ماروې دخينس لاس پريښود او هغه هم دخپلو ټولو ملګرو سره د شپې په تياروکې دهغه توفيل دکور څخه بيرون ووت •

***

هغه وخت چې خينس دخپلو ملګرو سره يو ځاى دخپل کلي څرځايو ته را ورسيد نو د بنو تميم دقبيلي کومو کوچنيانو چې هلته لوبې کولې دهغه دکتلو سره سم دکلي په لور منډې کړې ، کيداى شي چې هغوې به کلي خلکو د خينس د راتلو په اړه زيرى ورکاوه ، خو دتميم دقبيلي شپونکيو به هغوې درولو او ډول ډول پوښتنې به يې ترى کولى •

کله چې هغوې خپل کلي ته را نژدې شول نو د قبيلي سردار وکيع بن لاسور تميمي يې ښه راغلاست وکړ ، دوې چې کله د خپل سردار خوا ته را ورسيدل نو د هغوې ددرنښت په خاطر د خپلو اسونو څخه را ښکته شول • وکيع ورمخته شو او د ټولو سره ورغاړيوت او بيا يې د خينس تندې هم ښکل کړ •

وکيع خينس له لاسه و نيوه او ورته يې وويل : زه پوره ډاډمن وم چې زمونږ شاهين به ناکام نه را ستنيږي ، تا د خپلې قبيلي د خلکو داسې بدله اخيستې ده چې له مخې يې ټوله قبيله پر تا وياړ کوي او ټول ستا د ښه راغلاست له پاره ناکراره دي •

خينس سردار ته وکتل او ورته يې وويل :سرداره ! زه د يوڅو ورځو له پاره دبصرې په لور ورځم •

وکيع لږ څه په انديښنې سره ترې وپوښتل : هلته څه کوى ؟

هلته د شومان په ښار کې څو کسانو ماته وويل چې په سمرقند اوبخارا کې زمونږ دمسلمانانو په خلاف د بغاوتونو اور ته پوکې ورکول کيږي ، هغوې دخراسان حاکم يزيد بن مهلب يو شرابي او مدهوشه وګڼې ګڼي، په دې اساس د مسلمانانو په خلاف پروپاګندکوي او غواړي ټول خراسان زمونږ د واکه و کاږي •

زه بصرې ته ورځم تر څو د یزیدبن مهلب څخه حجاج بن یوسف ته شکایت وکړم او د هغه نه وغواړم تر څو دخراسان په لور توجه وکړي ، ددی نه پرته زه غواړم دهغه نه غوښتنه وکړم چې زمونږ د قبیلي کوم خلک چې هلته په بادغیس کې بندیان دي هغوې د بادغیس د حاکم د لاسو څخه ازاد کړي •

وکیع په اوږو و ټپاوو •

بیشکه ولاړه شه ، زه ستا په تلو کوم اعتراض نه لرم •

کله چې هغه کلي ته ورننوت نو سمدلاسه د هرې لورې څخه دیلارونه ، ربابونه ، ډولونه په اوازنو راغلل او د هرې لورې څخه سندرغاړو خپلې دخوشحالۍ او استقبال سندرې ویلې •

دکورونو په کړکیو او د برنډو څخه پرې ښځو دګلونو پاڼې راشیندلې ، تر څنګ یې د سندرو اوازونه هم راتلل ، داسې سندرې لکه دسهارې ښاپیرۍ یې چې په ښکلي غږونو زمزمه کوي •

کله چې هغه بلې محلې ته ورننوت نو دهغه ځایه هم د کړکیو او برنډو څخه ولاړو ښځو پرې ګلونه را شیندل او دهغه د استقبال اوښه راغلاست له پاره یې داسې سندرې ویلې :

د تیارو او د تیاره شپې تیاره سفر نور پای ته ورسید •

د اسمان لاندې څخه د نور چینې را وخوټیدې •

استبداد او امریت په تورو تیارو کې ډوب شو •

او دسهار رڼا دیوه افق نه تر بله افقه پورې خپره شوه •

کله چې هغه لږ څه نور هم مخته ولاړ نو د سندرو غږ څه داسې واوریدل شو :

اې خینس! ••• اې زمونږ بدله اخیستونکیه ! اې زمونږ د زړونو وکیله ! اې زمونږ محافظه ، مونږ له تاسره مینه کوو •

ددوی تر شا د بنې تمیمو یو ستر لښکر را روان وو ، کوڅې او محلې د خلکو نه ډکې وې په دوې کې هغه بندیان هم و چې د شومان څخه را ازاد کړل شوي وو ، کله چې خینس او حرب خپل کورته ننوتل ، نو ویې کتل چې

هلته ورته په انګړ کې دهغه دترور لور دمنه دیلار په لاس ولاړه وه او دهغوې دخوشحالۍ له پاره یې دیلار وهلو ۰

ورور یې احمد رامنډه کړه ، ددواړو سره ور غاړیوت ، بیا دهغوې د اسونو واګې و نیولې او داخور په لور یې روان کړو ، سلامه او مراجل دواړه هم رامخته شوې او ددواړو سره یې روغبړ وکړ او دهغوې تندي یې ښکل کړل ۰ دمنه تر اوسه پورې خپل دیلار واهه او خینس او حرب ورته خندل ۰ بیرون په کوڅه کې سردار ووکیع خلکو ته ویل چې : تاسو اوس خپلو خپلو کورو ته ولاړشئ ، هغوې اوس ستومانه دي ، سبا چې لږ څه دمه وکړي نو بیا به تاسو ټولو ته خپلې کیسې بیان کړي ۰

خینس او حرب دخپلې مور او ترور سره یو ځای تر څنګ کوټې ته ولاړل ، دمنه هم دخپل دیلار سره یو ځای دهغوې تر شا ولاړه ، احمد هم د اسونو د تړلو څخه رافارغه شوې و او دهغوې څخه یې زینونه راښکته کول ۰

***

د فریار نه تر مروې او بیا دهغه ځایه د طوس او مخاوند په لاره خینس منزل منزل تر پښو لاندې کاوه او بالاخره یوه ورځ بصرې ته ورسید ، د طوسې په سیمه کې یې د خلیفه عبدالمالک بن مروان د مړینې او د هغه په ځای یې د هغه د زوی ولید بن عبدالمالک د ځای ناستې خبر واورید ۰

د بازار تر منځ د تیریدو په وخت کې یې د یو چا څخه د حجاج بن یوسف د دربار پوښتنه وکړه ، کله یې چې ځواب ورکړ او مخته روان شو نو خینس هغه را تم کړ او ور څخه یې وپوښتل : ورور ه ! ایا ماته د حجاج بن یوسف په اړه څه ویلې شې ۰

هغه را وګرزید او دخینس په لور یې مخ کړ او ورته یې وویل : هرومرو! هغه یو ډیر میړنې او زړه ور سالار دې خو د اوښ په څیر کینه ناک او دلیوه په څیر وینه تویونکې دې ۰ خو ترڅنګ یې هغه یوه ډیر ښه سپه سالار او نومیالی خطیب هم دې ۰

خینس لږ څه فکر وکړ او مخته ولاړ ۰

لړه شیبه وروسته هغه د حجاج بن یوسف په دربار کې ولاړو، د هغه سترګې داسې سرې وې لکه د وینو دوه چینې چې را خوټیږي ، د هغه په مخ کې داسې رعب او هیبت و چې فشار یې هر چا نه شو محسوسولای ، دخپلې پګړۍ د سهي کولو په وخت کې حجاج په لوړ اواز وویل : کومې خبرې ته دخراسان څخه تر دې ځایه زما دربار ته په راتلو مجبور کړې یې ؟

ما د هغه ځای د والي څخه تاته شکایت راوړې دی •

حجاج تر ډیره پورې وخندل •

ته به راته همدا وای چې هغه خازن شراب څښونکې دی •

هو! ما همدا ویل غوښتل •

واوره ! زما نوم حجاج دی او زه دخپلې دندې څخه غافله نه یم ، عراق او خراسان دواړه زما تر مخه داسې دي لکه د یوه شپونکې تر مخه چې د هغه رمه څریږي ، ته لا بصرې ته نه وې را داخل شوې چې زما جاسوسانو ستا دراتلو په اړه ماته خبر راکړ•

واوره چې ستا نوم خینس بن یوسف دی او د تمیم دقبیلې څخه یې ، اوستاسو څه خلک د بادغیس د حکمران نیزک په بندیخانه کې بندیان پراته دي •

خینس دهغه په دې خبرو باندې حیران پاته شو •

خو په جرئت سره یې وویل : هو ما په همدې اړه هم شکایت کاوه •

والي د یوه شپونکې په څیر وي اوهغه ته دخپلې رمې د سلامتۍ په اړه پوره پوره احساس وي •

حجاج ورته لږ په سخته لهجه وویل : ما ستا دراتلو څخه یوه ورځ مخته یزید بن مهلب ګوښه کړې دی ، اوس مې دهغه په ځای قتیبه بن مسلم دهغه ځای د والي په څیر ټاکلې دی ، هغه یو ډیر ښه سالار او زړه ور سپاهي هم دی ، د هغه د توري څنډه تیزه او د لوړ عزم اوحوصلې خاوند دی بې شکه چې هغه به دخپل ځان له پاره یو درمنده حاکم او بې بدیله سالار ومومې• هغه زما د غشو د خلطې تر ټولو سخت او زهري غشې دی •

ما غوښتل ددې نه پرته لږ نور څه هم ووایم ٠

ووایـه ٠

دسمرقند اوبخارا له اړخه زمونږ پـه خلاف د بغاوت دوړې را پورته شوي دي ٠

په دې اړه اندیښنه مه کوه ، قتیبه بن مسلم د ټولو له پاره ډیر ښه علاج دې ، نور هم څه ویل غواړې ؟

نه ، نور هیڅ ٠

ایا دلته د اوسیدو له پاره کوم ځاې لرې ؟

نه ، زه په دې ښار کې اجنبي یم ٠

نو بیا به ستا قیام دلته په سرکاري میلمستون کې کیږي ٠

قتیبه بن مسلم هم دا وخت همدلته په میلمستون کې دې ، ایا دهغه سره خبرې کول غواړې ؟

خینس ورته په خندا شو ٠

زه خو دداسې سالار سره کتل دخپل ځان له پاره ویاړ ګڼم چې د حجاج بن یوسف په څیر یو زړه سپه سالار یې د خپلې غشو دکڅوړې اخري غشې ګڼي ٠

د حجاج دحکم سره سم یو غلام راغې او خینس یې دمیلمستون په لور بوت ٠

***

دې غلام خینس دداسې یو ځوان تر مخه ودراوو چې د ستر قامت ، قوي جسم ، او ښایسته څهرې خاوند و ، د هغه دسترګو څخه را خپریدونکې شعاع ددې خبرې ګواهې ورکوله چې هغه یې دکوم ستر مقصد له پاره پیدا کړی دی٠

غلام دهغه په غوږو کې څه ویل او هغه ورته چوپ لکه د سمندر په څیر ولاړ او غوږ نیولې و ٠ که څه هم هغه په څرګنده توګه پرسکون او ارام وو خو په پټه لکه د توپان په څیر را خوټیده ٠ کله چې غلام شاته ولاړ نو دغه

ببا یې دهغه په اوږه لاس کیښود او د هغه په شاهین یې سترګې ور ښخې کړې اوویې ویل :
ستاسو د دواړو سترګې یو شان دي ، داسې بریښي چې تاسو د خراسان شاهین یاست .
ځوان دخینس په لور په غور اودقت سره وکتل ، ببا یې دهغه په اوږه لاس
خینس ورته په ډیره پلټونکې توګه وویل : زه نه پوهیږم چې تاسو به څوک یاست ... خو که چیرې قتیبه بن مسلم یاست نو ببا زه ستاسو په څیر سالار ته سلام کوم .
هغه ځوان ورته وخندل .
هو! زما نوم قتیبه بن مسلم دی ، ببا یې په خپل ښې اړخ کې په خالي ځاي باندې لاس وواهه او ویې ویل : دلته زما خواته راشه او کینه ، زه له تاڅخه ډیر څه پوښتل غواړم ؟
خینس یې تر څنګ کیناست .
قتیبه ورته وویل : ته د بني تمیم نه یې ؟
خنیس وویل : هو!
تاسو چیرې اباد شوي یاست ؟
د جیحون دسیند په هغه خوا د بخارا په لور د تلونکې شاهرا په غاړه په فریار نومې کلې کې .
دځومره مودې راهیسې ؟
زه هلته پیدا شوی یم .
زه تر یو څو ورځو پورې ددې ځایه هغه لورې ته روانیږم ، ایا ته هم زما سره یو ځاي هغه لورې ته تلل غواړې ؟ زه به سبا سهار له دې ځایه روانیږم او خلکو ته به زیرې ورکوم چې د یزید بن مهلب لمنه ټوله شوې ده اوهغه په ځاې به قتیبه بن مسلم راځي . له تاسره یو ځاي په سفر کولو کې به ماته په یقیني توګه ویاړ را په برخه کیږي خو زه د څو نورو کارونو په خاطر بیرته ژر ستنیدل غواړم .
زه چې کله خراسان ته دررسیږم نو تا به هرو مرو هلته راغواړم .

دخينس اواز ډډ شو .

محترما ! دژوند په هر ډګر کې چې راته غږ وکړې زه به درته لبيک ووايم ، زه به تر هغې ستا په حق کې خپله سينه سپر کړم تر څو چې زما په وجود کې د ويني اخري څاڅکې شتون ولري ، زه دهغو خلکو څخه نه يم چې د سختيوپه وخت کې شا واړوي او وتښتي ، خينس بن يوسف بې زړه اوييغرته نه دې ، ته به زما کمان يې او زه به ستا غشې .هر چيرې چې مې خوشې کوې زه به خپل هدف ته ځان رسوم او ستا دغوښتنې سره سم به ګذار کوم ، زه به دهرې هغې ډلې سره مخامخ شم چې د بغاوت اوسرکشي بوې ترې راځي .

قتيبه ورته وخندل .

ماته هم ستا په څير د ځوان ارتيا ده ، زه تاته ډير څه ويل غواړم ، ته يوځل پورته شه ، و لامبه ، ارام وکړه او بيا خوراک څښاک وکړې ، دشپې به درسره په تفصيل سره خبره وکړم .

خينس پورته شو او د هغه غلام ترشا شا د عمارت بلې برخې ته ولاړ .

***

يوه ورځ خينس د ماښام نه لږ څه مخته بيرته خپل کور ته وورننوت . احمد اوحرب دواړه په کور کې نه و موجود ، دمنى ورمنډه کړه او د هغه داس واکې يې و نيولې اوپه خندا يې ترې وپوښتل : وروږجانه ! راغلى .

هغه لا ځواب نه و ورکړي چې سلامه او مراجل دواړو بيا بيا ور سره روغبړ وکړ ، خينس په خپل سر باندې خپله لونګې سمه کړه او بيا يې وپوښتل : احمد اوحرب دواړه چيرې دي ؟

سلامه يې د اس په غاړه لاس راښکوده او ورته يې وويل : بازار ته تللي ده زويه ! د ترک دقبيلي کوم مشر ، چې ستا پيژندونکې دې ، د څو ورځو راهيسې دلته راغلې دې ، هغوې دهغه له پاره د څه سامانو د اخيستو له پاره ورغلي دي .

دخينس سترګې دخوشحالى نه و ځليدې .

هغه ترک سردار چې ارطبون نوميږي .

هو زويه ! همغه راغلې دې ، هغه زمونږ کور ته راغلې و ، دهغه سره يې لور هم وه چې قطونه نوميږي ، هغوې زمونږ د ټولو له پاره کالي او نور ډير قيمتي شيان له ځانه سره راوړي دي ، دهغوې سره ستا له پاره هم ډيرې قيمتي او ارزښتناکې تحفې هم شته ، خو هغه يې له ځانه سره بيرته يوړې ، ويل يې چې خينس راشي نودا به بيا پخپله ورکړم •

هغوې اوس چيرې دي ؟

دهغوې قبيلې د غرونو په شمالې برخه کې پړاو کړې دې ، دکلې نه بيرون چې ووينې نو هرې لورې ته دهغوې کيږدۍ تر سترګو کيږي • هغوې دخيمو يو ستر کلي اباد کړې دې •

خينس ددمنې ځخه داس واکې بيرته واخيستې او ويې ويل : زه همدا اوس دهغوې خواته ورځم •

بيا پخوا تر دې چې سلامه ، مراجل او ياد منه دهغه د تللو مخه و نيسي په اس سپور شو او په چټکه توګه دهغه ځايه ووت •

خپل اس يې په پوره قوت سره ځغلاوه او تر کانو دخيمو کلي ته ورننوت هلته ښځو ، نرو او کوچنيانو ټول شور جوړکړ چې خينس راغې •

کله چې د ارطبون خيمې ته ورننوت نو ويې کتل چې قطونه دخيمې تر منځ ولاړه ده ، هغې ته هم دخينس د راتلو په اړه معلومات تر لاسه شوې و ،هغه ډيره شرميدله ، دهغي دمخ غومبري داسې سره شوي و لکه د سرو ګلونو رنګ يې چې پرې مبتلې وي ، هغې دخپلو احساساتو د پټولو هڅې کولې ، خو په زړه کې لړيدلې د محبت او مينې شمع دهغې دمخ په غومبرو کې را څرګند يده •

هغه خبره نه وه چې په خپلو احساساتو کې چيرى ورکه شوې وه چې خينس يې تر مخه و دريداو ترې ويې پوښتل : سردار چيرى دى ؟

هغې ټوپ کړ او په بدحواسۍ کې يې وويل : ... هغه ...هغه خو ستاسو دکلي په لور درغلې دى •

خينس بيرته راستون شو : زه به بيا دهغه سره همدلته ووينم •

قطونه وچه په ځاې پاته شوه ، په لړزیدلي اواز یې وویل کینه ، زه به یو کس ورولیږم او را وبه یې غواړم •

ددې خبرې سره سم یې یوه چوکۍ د هغه تر مخ کیښوده •

خینس په غور سره ورته وکتل اوبیا په هغې چوکۍ کیناست چې قطونه یې تر مخه ایښودې وه ، قطونه چې څو لحظې مخته دهغه د راتلو په خوشحالیو کې محوه شوې وه .اوس لکه د وچ لرګي په څیر دهغه تر مخه ولاړه وه • هغې غوښتل ډیر څه ووایې ډیر څه •••خو هغه دخپل ځان او خینس په اړه په زړه کې بیا بیا څه نوي احساسول ••• او له ځانه سره یې ویل

ددومره وخته وروسته هغه زما سره مخ شوې دې خو هغه له ما څخه دومره هم و نه پوښتل چې قطونه ته څنګه یې ؟ دا چې ما په زړه کې دهغه دمینې شمع روښانه کړې دا د څه له پاره ؟

دهغې غوږونو د خینس له لوري دځه اوریدلو تمنا درلوده ،دهغې ذهن دخینس د چوپتیا او سکوت ترمخه په اندیښنه کې پروت و، تر لږه وخته پورې هغه په پوره چوپتیا کې ولاړه وه او خینس ته یې داسې په حسرت کې کتل لکه یو تږې چې د سراب په لور ویني ، خو چې ددې هر څه وروسته بیا هم خینس څه و نه ویل نو هغې بیچاره پخپله په خبرو پیل وکړ کله راغلې یې ؟

د هغې اواز داسې و لکه د یوه زخمي زړه اواز چې د ژورو کندو څخه راپورته کیږي •

خینس ورته یو ځل نري شانته وکتل همدا لږه شیبه مخته را رسیدلی یم ، خو کله مې چې ستاسو د راتلو خبر واورید نو سمدلاسه ستاسو په لور را رهي شوم ••••ته کینه کنه . ولې ولاړه یې ؟

هغه دخینس سره نژدې په یوې بلې چوکۍ کیناستله ، خینس محسوس کړه چې دهغې د ګل رنګ جسم څخه د خوشبوی یې څپې راځي •

قطونې د کیناستو سره سم په قهر سره وویل: زما پلار تل وایې چې عرب ډیر میلمه پاله دي مګر.... مګر ته خو ....

خینس اندیښمن شو او د هغې خبره یې پرې کړه: څه شوې دي، ایا دلته ستاسو په کلي کې پر تاسو چا تیرې کړی دی؟

قطونه ورته په سوزیدلي اواز سره وویل: هو!

خینس ترې په ډیره ناکراری سره وپوښتل: تیرې کونکې څوک دې، نارینه که ښځینه.

د قطوني اواز د هغې سره ملګرتیا نه کوله بیا یې په ډیره ستونزمنه توګه وویل: نارینه.

خینس خپلې تورې ته لاس کړ او سمدلاسه راپورته شو او په قهر سره یې وویل: هغه بدبخته څوک دې، زه به یې همدا اوس لاس ور پرې کړم.

قطونې ورته په خندا وویل: دومره قهر مه کوه، ته کینه، زه یې درته وایم.

خینس کیناست.

ژر یې راته ووایه، هغه چې هر چیرې وي، زما د انتقام نه به خوندي پاته نه شي.

قطونه غوښتل چې ښه په زوره وخاندې خو خپل ځان یې کنترول کړ وویل: ژمنه کوې چې دهغه شخه به هرو مرو بدله اخلې.

ستا په معصومیت مې سوګند چې زه به ترې هرو مرو بدله اخلم.

نوبیا هغه هم ته یې!

خینس پریشانه شو.

زه!

هو، ته:

ما له تاسره څه تیرې کړی دی؟

مونږ دواړه د څومره وخت وروسته یو له بله سره وینو له څو میاشتې وروسته.

ایا ستاسو په ځای کې دا رواج نه شته چې کله چې د یو چا سره ددومره موده وروسته وینې نود هغه یا هغې شخه دحال احوال پوښتنه وکړې ؟

ولې نه ، ٠٠٠٠مونږ چې کله یو د بل ځخه جدا شو او بیا بیرته یو ځای شو نودزړه د عمق نه یو دبل د روغتیا اوسلامتیا په اړه پوښتنه کوو ٠

نو تا خو ماته نه مرحبا وویل او نه بل څه ؟

مطلب دې څه دی ؟

زما مطلب دادې چې زه ددومره وخته وروسته له تاسره ملاقي شوم نو تا که دزړه نه نواې نو هسې خو به دې زما څخه پوښتلي وو چې قطونه څنګه یې ، کله راغلې یاست ؟

خینس شرمنده شانتهٔ شو ٠

هو داخو رېښتیا هم غلطي وشوه ٠

خو هره غلطي خپل ځانته سزا لري ٠

بلکل شته ، څنګه دې چې زړه غواړي هم هغسی سزا راکړه ، ددې نه پرته زه له تانه په دې اړه ښښنه هم غواړم ٠ په راتلونکې کې به داسې نه کیږي ٠

بس اوس تاته همدومره سزا کافي ده چې خوراک او څښاک وکړی ٠

وږې خو یم که څه راکړې نو دا به دې مهرباني وي ٠

قطونه پورته شوه او د ترڅنګ کوټې څخه یې یو مشکیزه شیدې او یو جام هم راوړو ، هغه جام یې خینس ته ورکړ او ورته یې وویل : واخله و وڅښه یې ، ګورم چې ته به نن څومره شیدی څښی ٠

شرط دې که څنګه ؟

هو!

خینس جام را واخیست او وېې څښه او خالي جام یې بیرته قطونې ته ورکړ ٠

نو نور هم را وچوه ٠

قطونې به جام دکوله او خینس به سر را اړوله و ، اخر مشکیزه خالي شوه ، د خپلې لونګۍ په لمنه یې خپله خوله و چه کړه اوبیا یې وویل : نور هم راوړه .

قطونه لږ څه شرمنده شوه .

نور خو نشته .

زه خو اوس دلوږې احساس کوم .

لږ صبر وکړه ، زه به څوک ولیږم تر څو تازه شیدې راوړي .

نه ، اوس یې پرېږده ، زه کور ته ورځم ، خوراک څښاک به هم هلته وکړم .

زه به دې وږې پرې نږدم ، غوښته خو به خورې کنه .

ولی نه !

قطونه یو ځل بیا بلې کوټې ته ولاړه او په منګوټو کې پټه کړل شوې وریته کړې غوښې ټوټې یې را ټولې کړې او د دوډۍ سره د خینس مخې ته یې کښېنودې .

اوس یې نو وخوره ، ته چې څومره خوړلې شې نودهغې شرط هم ایښودلې شو .

خینس ورته وخندل .

هو! دا خو ستاسو په کورونو کې په منونو منونو موجوده وي .

کله چې خینس دوډۍ او غوښه وخوړله نو قطونه یې تر مخه ناسته وه او ورته یې وویل : ما خو ستا له پاره ډیر شیان راوړي دي .

څه دې ر اوړي دي ؟

قطونه منډه کړه او د څنګ کوټې ته ورغله او دهغه ځایه یې د وریښمینو ټوټو دوه کڅوړې راپورته کړې او له ځانه سره یې راوړې ، د یوې کڅوړې خوله یې خلاصه کړه اودهغه څخه یې ټول هر څه را بیرون کړل او د خینس تر مخه یې کیښودل .

خینس هر یو شې راپورته کاوه او وکتل یې .

په سر د ټرلو دوه سپین رنګه وریښمین دستمالونه چې شاوخوا یې طلایې ریښې ورکړل شوې وې او څلورو خواو ته یې سپین رنګه ټوټه اي

ګلونه ، دوه سپين رنګه قيمتي لونګۍ ،او يوه تور رنګه څرمنيزه چوغه چې دننه خوا يې په وړيو پوښل شوې وه اود اغوستن درې جوړه کالي چې دمختلفو رنګونو څخه جوړ کړل شوي وو .

قطونه ترې په ډيرې هيلې سره وپوښتل : څنګه دي ؟

ډير زيات ښه دي ، زه څه ويل غواړم خو دا نه وايم چې تا ولې دومره تکليف ويستلې دې ،ځکه چې بيا به ته زما پخلاف خپله پريکړه صادره کړې او وايې به چې مونږ خلک دميلمنو درنه ميلمستيا نه شو کولې ، په هر صورت زه ستا ممنون يم .

قطونې دويمه کڅوړه پرانسته او ورته يې وويل په دې کې ستا د اس او شاهين سامانونه دي .

هغې هغه کڅوړه دهغه ترمخه را تشه کړه .

د شاهين له پاره دوه طلايې او ښکلي دپښو ګينګرې و، چې هغه په همغه وخت کې خپل شاهين ته په پښو کې واچول . د اس له پاره يې يو سپک ګلابي رنګه څادر جوړ کړې و چې څلورو خواو ته يې سپين رنګه ګلونه پرې اېښوول شوې و. تر څنګ يې سور رنګه څرمنيزه واکې وې ، د څرمنې يو خرجين هم ور سره و چې ګلونه پرې جوړل کړل شوي و .

قطونه ټول سامان راپورته کړاو خينس ته يې وويل : راځه را پورتـــه شه... زه پخپله پــه خپل لاس دا ټول شيان ستا په اس باندې ور اچول غواړم .

دواړه راپورته شول او بيرون راووتل .

خينس زين راښکته کړ ، قطونې په اس باندې څادر خپور کړ ، لومړى يې واکې ترې لرې کړې او نوې واکې يې ور واچولې ، کله چې خينس دوباره زين په اس کيښود نو هغه خرجين هم د زين سره يو ځاي وتړله . دوې لا همدتله ولاړ وو چې ارطبون هم بيرته راستون شو او خينس ته ور غاړيوت اوبه خندا يې ورته وويل : په يقيني توګه به قطونه تاته ټول هغه شيان

دربنودلي وي چې هغې په خپل لاس ستا له پاره جوړ کړي و • دې بيچاره خو په ډيره ناکرارۍ سره ستا د راتلو انتظار کاوه •

قطونه ډيره زياته شرميدله او حيايې کوله •

دربواړه دننه راغلل او کيناستل •

ارطبون ترې په ډير شوق سره وپوښتل : د حجاج بن يوسف سره دې ليدنه وشوه

هو ! وشوه ؟

څه يې ويل •

هغه يزيد بن مهلب گوښه کړ او په ځاي يې قتيبه بن مسلم د خراسان نوې والي و ټاکه • ماته خو د هغه د نسل او وطن په اړه پوره معلومات نه شته خو بيا هم که هغه ددې سيمې په کنترولو باندې بريالي شي نو د نړۍ نوميالې سالار به وي •

هغه باهلي دي ، د حجاج په بارگاه کې دهغه عزت په عروج کې دې ، هغه د يزيدبن مهلب په څير عياش ، ظالم او تيرې کونکې نه دې ، هغه عاقل او پوه سالار دې ، هغه د اسلامي امت داسې يو غر دې چې د نړۍ حوادث او توپانونه پرې اغيز نه شي کولې ، هغه د حجاج د جهاد د کمان کلک غشې دې او د ډيرې مودې راهيسې د هغه تر څنګ کار کوي ، هغه به يو زيرکه ، پوه او تجربه لرونکې حاکم ثابت شي ••••

ايا تا د قتيبه بن مسلم سره هم وکتل ؟

هو ! هغه زما سره لکه د يوه ورور په څير معامله وکړه ، هغه به ډير ژر دې لورې ته راشي او له ماسره يې ژمنه وکړه چې خراسان ته د رسيدو سره سم به ما خپل ځان ته وروبولي •

هغه سهي خبره کړې ده ، هغه ته ستا په څير شاهين هر وخت گټندوې ثابتيداې شي •

خينس راپورته شو •

تاسو دواړه تيار شئ او زما سره راځئ •

ارطبون ترې په حیرانتیا سره وپوښتل: چیرې ؟

تر څو چې تاسو دلته یاست ، نو ستاسو ددواړو قیام به هلته زما په کور کې وي •

دې ته هیڅ اړتیا نـه شته •

دا زما غوښتنه او هیله ده •

زه ستا دهیلې اوغوښتنې درنښت کوم ، خو زه دقبیلې سردار یم او دلته هره لمحه زما شتون اړین وي ، خو هسې درسره ژمنه کوم چې دلته به زما د قیام په وخت کې زما زیات وخت له تاسره تیریږي • که چیرې بیا هم ډیر ضد کوې نو قطونه له ځانه سره بوځه ، دا به هلته ستا دمور ، خور او ترور سره دا څو ورځې په خوشحالۍ کې تیرې کړي •••دې ماته پخوا هم څو ځلي ویلي و چې هلته دخینس په کور کې څو ورځې پاته کیږم • خو ماورته ویل چې کله چې خینس د بصرې نه بیرته راستون شي نو بیا چې دې څومره ورځې خوښه وي هلته پاته شه •

خینس دقطونې نه وپوښتل: را سره ځې قطونې !

هغه په خندا شوه او په مثبته توګه یې سر وخوځوو•

دریواړه بیرون راووتل ، خینس قطونه په خپل اس سپره کړه اوبیا یې دهغې واګې و نیولې او د خپل کلي په لور روان شو •

ارطبون د خپلې خیمې بیرون ولاړ او دوې ته یې خواږه کتل • تر دې وخته پورې تیاره پوره خپره شوې وه او ځاې ځاې مشالونه روښانه کړل شوي و ، کله چې قطونه او خینس د خیمو په کلي کې د سترګو څخه پناه شول نو ارطبون بیرته خپلې خیمې ته راستون شو •

***

د خینس سره یوځاي دهغه کور ته په ننوتلو قطونه شرمګیره وه ، دکور د انګړ تر منځ یې اس تم کړ او قطونه یې ترې راښکته کړه ، دهغې په راښکته کیدو کې ورسره خینس مرسته وکړه •

ولې شرمیږې ، دې کور ته خو ددې نه مخته هم څو ځله راغلې یې

د قطونې رنګ نور هم سور وګرزید وویل: زه به ولې شرمیږم •

تر دې وخته پورې دمنې هم رامنډې کړې او دقطونې څخه یې غیږه چاپیره کړه ، سلامه او مراجل هم راغلې او قطونه یې لاس په لاس کړه •

خینس خپل اس په اخور و تړه ، زین یې ترې رابښکته کړ او تر ډیره پورې یې دهغې شا و مښله ، بیا یې ورته دانه واچوله ، کله چې دننه راغې نو ویې کتل چې قطونه ، دمنه ، سلامه او مراجل ټول ناست و او پخپلو کې یې سره خبرې کولې • خینس هم دهغوې تر څنګ کیناست ، په دې وخت کې قطونه بیا لږ څه شرمګیره شوه ، دهغې په زړه کې دمحبت روښانه شوې شمع اودهغې رڼا د ورایه څرګندیده •

د قطونه په لور د کتلو په وخت کې خینس خپلې مور سلامه ته وویل: مورې ! ددوې کره شیدې خلاصې شوې وې ، دا بیچاره لوږې راخیستې ده ، ددې له پاره شیدې را وغواړه •

قطونه په برګو سترګو خینس ته وکتل ، سلامې سمدلاسه دمنې ته د شیدو د راوړو حکم وکړ ، هغه پورته شوه او د اوسی په څیر یې ټوپونه شروع کړل اوبیرون ووتله •

په منډه منډه بیرته راستنه شوه ، د هغې په لاسو کې د شیدو منګوټې او جام و•

خینس یې د لاسه جام واخیست او په خندا یې دمنی ته وویل: ته دا د شیدو منګوټې همدې ته ورکړه ، ترڅو خولې ته یې ونیسي او ټول وڅښي •

قطونه د منت په توګه دمنې ته وویل: دا هسې وایې دمنې ، زه دا وخت شیدې نه څښم •

خینس ددمنې څخه د شیدو هغه منګوټې را واخیست او دقطونې په لور یې ور وړاندې کړ دا وڅښه او کنه ټول شوده دې په سر را اړوم ، تا هم پر ما دشیدو پوره مشکیزه څښلې ده •

هغه خو تا پخپله وڅښله •

په هر صورت ، دا به هرو مرو څښې •

قطونې د منګوټې تر څنګ دواړه لاسونه جوړه کړل او منت يې وکړ، بيا خينس دهغې مخې ته جام ورو وړاندې کړه •

ډير ښه، په دې کې يې واچوه او دخپلې خوښې په اندازه ترې و څښه، قطونې لږ څه شيدې په پياله کې واچولې او هغه يې و څښلې او بيا يې دواړه شيان بيرته دمنې ته ور کړل •

خينس ورته وويل: مورې! اوس به دا يو څو ورځې همدلته اوسيږې • سردار ارطبون ترې ډير شکايت کوي •

سلامه ترې په حيرانتيا سره وپوښتل: ولې؟

هغه تنګوې کنه •

هغه ته څه وايې؟

قطونې په قهر سره يو ځل بيا دخينس په لور وکتل نو هغه سمدلاسه خپله خبره بدله کړه: سردار وايې چې ټوله ورځ انديښمنه او خفه ناسته وې اوزه يې هم پريشانه کړې يم •

سلامه د قطونه په سر لاس کيښود •

تر هغو چې ددې دقبيلې خلک دلته اوسيږي نو قطونه به همدلته زمونږ په کور کې وي • دلته به يې ددمنې سره ساعت تير او زړه خوشحاله وي •

دمنه بيرته راغله اوقطونه يې له لاسه و نيوله اوراپورته يې کړه •

راځه چې ولاړ شو او ډوډۍ او غذا تياره کړو •

قطونه په چوپتيا سره پورته شوه او د هغې سره يو ځاي ولاړه، خينس تر لږې شيبې پورې د مور او ترور تر څنګ ناست و اوخبرې يې کولې بيا هغه هم دهغه ځايه پورته شو •

وروو مې لا تر اوسه هم نه دې راغلې، ورځم چې پوښتنه يې وکړم •

مراجل ځواب ورکړ •

ستا نه وروسته يو ځل راغلې و بيا سردار هريم ورو غوښت اوهلته ولاړ خينس بيرون راووت •

زه به همدلته ورسره ووينم •

کله چې انګړ ته راغې نو د شمعې په رڼا کې يې وکتل چې قطونه اوږه لمدوي او د انګړ په بل اړخ کې دمنه نغرې بل کړی •

خينس د قطونه تر مخ و درید ، هغې د خينس د کتلو سره سم مخ بلې لورې ته کړ •

خينس د هغې په سر لاس را ښکود وويل : ته به ناراضه شوې يې •

قطونه په ډير ناز ځواب ورکړ : زه دلته نه اوسيږم ، ته مې تنګوی •

خينس خپل دواړه غوږونه و نيول •

بيا به دې نه تنګوم او نه به دې زوروم ، زما دی توبه وي او خپله خبره بيرته واخله •

قطونه ورته وخندل ، خينس هم په خندا شو •

ورځه د الله تعالي شکر دې چې ته خو په خندا شوی •

کله چې هغه بيرون ولاړ نو دمنه په پټه د قطونې خواته راغله او هغه يې دغوږو څخه و نيوله او ورڅخه يې وپوښتل : يوه پوښتنه درڅخه کوم خو ريښتيا به وايې •

قطونه وويريدله وويل : وپوښته

دخينس سره مينه کوی کنه ؟

قطونه د سور انا ر په څير سره وګرزيده وويل : زه څه پوهيږم •

دمنی يې غوږ په زور سره کش کړ •

زما نه يې پټوی ، زه په هر څه پوه شوې يم ، ته خوش قسمته يې ، په دې خو د قبيلي ټولې نجونې ځانونه قربانوي ، خو هغه هيڅکله هيچا ته هم مخ نه دې ورکړې ، هغه زما ډير ګران درور دې ، تاته په خپل ځان باندې ناز کول په کار دې چې هغه له تاسره مينه کوي او که نه د قبيلي داسې کومه پيغله نه شته چې دهغه سره دميني اومحبت سوال نه کوي •

قطونه په زړه کې ډيره خوشحاله وه ، خندل يې ، خپل غوږ يې ددمنی څخه را خلاص کړ او سر يې نور هم ټيټ کړ او ژر ژر يې اوږه لامده کړل •

دمنه هم د هغه ځايه ولاړه او پخپل کار کې بوخته شوه •

***

رطبون د خپلې قبیلې د خلکو سره یو ځای هلته تر څو ورځو پورې پاته شو • تر دې وخته پورې قتیبه بن مسلم خراسان ته راغلې و او خینس یې ځانته وربللې و خو خینس د ارطبون تر پیرته تللو پورې په خپل کلې کې تم شوې و •

په کومه ورځ چې هغوی تلل نو په همغه ورځ سهار قطونه دخینس دکوره دخپلې قبیلې په لور ور رهي شوه ، خینس یې هم تر هغه ځایه ملګر تیا وکړه •

هغه ډیر غمژن و ، دونې و د وچې پاڼې په څیر او یا دغره دپاسه د ولاړ وچ او بې پاڼو بوټي په څیر ،چې وچ شوې جسم یې د هوا دهرې څپې سره په هوا کې الوځي •

قطونه هم دهغه څخه کمه نه وه • هغه په خپل جسم کې د خینس نه د بیلیدو تصور هم نه شو کولې ، خو پوره زغم یې کاوه او که نه ، زړه یې غوښتل چې په خپله بدبختۍ ښه ډیره و ژاړي ،د هغې زړه غوښتل چې خینس د ګریوانه و نیسي او په زوره یې و خوځوي او ورڅخه وپوښتي چې ولې مې د بیرته تللو څخه نه راستنوي اویا راته ولې د تم کیدو حکم نه کوې خو ناپوهه وه ، دومره ستره پریکړه اوپه دومره لږ وخت کې پخپله کول •

حقیقت په خپل ځای روښانه دې ، دهغې په ښایسته سترګو کې اوښکې راتللې اوپه ډیره ناخوالۍ سره یې خپل سامانونه راټولول ، خینس دخیمې تر منځ ولاړ و او هغې ته یې کتل ، په همدې وخت کې ارطبون خیمې ته رانوت او د قطونې څخه یې وپوښتل : لورې ! تیاره یې •

دقطونې په سترګو کې د اوښکو سیلاب نور هم زیات شو ، مخ یې بلې لورې ته کړ او هو یې وکړه •

ارطبون بیرته بیرون ووت •

خینس رامخته شو او قطونه یې د اوږو څخه و نیوله او مخ یې دهغې خپل ځان ته کړ او ورڅخه یې وپوښتل : ژاړې ؟

قطونې سر ښکته کړاو د سترګو د اوښکو دسیلاب ځاځکي د خینس په لاسو پریوتل ، خینس ورته په ژړغوني او دخفګان نه په ډک اواز سره وویل : قطونې ! ستا دا اوښکې زما له پاره ډیره ستره پانګه ده ، مونږ یو د بل سره دیبا کتلو په خاطر جداکیږو ، په انسانانو باندې داسې لمحات هرو مرو راځي ، چې په ځینو وختو کې به د خپلې خوښې په خلاف هم یو کار کولو ته اړ کیږي که چیرې په ژوندانه کې هر کار د انسان دخوښې سره سم وکړل شي نو بیا به د ژوندانه دغه خوند او رنګ په خپل ځاې پاته نه وي د خلکو همت او پلټنه به له منځه ځي او انساني ذهن به منجمد پاته وي .

بیرون د قدمونو اواز راغې ، دوې دواړه هم یو له بله جدا شول ، ترکانو ددوی د خیمې ستنې را پورته کړې او خیمې یې را ټولې اوپه کچرو بار کړې ، هغوې سره یې ښځې هم په دې کار کې شریکې وې ، هغوې ټولو د خپلو خپلو کورنو سامانونه را ټول او په کچرو یې بارول ، لږه شیبه کې ، هغه ځاې چې ټول په خیمو پوښل شوې و اوس دبار کړل شوو کچرو او اسونو څخه ډک ښکاریده ، د سردار خیمه هم را وویستل شوه او د قطونه دسپرلۍ اس بیرون تیار و درول شو .

ارطبون او قطونه دواړه خینس ته خداې پاماني وویله او د هغوې کاروان دهغه ځایه روان شو ، مخکې مخکې په اسونو سپاره په زرګونو ځوانان ، د هغوې تر مخه د قبیلې رمې اوبیا د هغې وروسته بار کړل شوې کچرې اواسونه یو په بل پسې په ترتیب سره روان شول .

خینس خپل اس و ځغلاوه اوپه یوې غونډۍ و درید او د هغوې دتللو منظر یې کوت ، قطونه به بیا بیا مخ را ګرځاوه تر څو خینس ووینې ، څو راتاو کړاو دخپل کلي په لور روان شو ، د هغه سر دغم او خفګان نه ټیټ و ، او د مخ د رنګ نه یې ډیر څه لوستل کیداې شول .

***

قتیبه بن مسلم په خپله خیمه کې ناست و ، دهغه تر مخه ښي لورې ته یې ورونه صالح عبدالرحمن اوعبیدالله ناست واو کیڼې لورې ته یې خینس

او نصير بن سيار ناست وو ، دا هغه نصير بن سيار و چې دبنو اميه په اخري وختو کې د خراسان عامل ټاکل شوې و او د يوه نوموړې سالار په څير را څرګند شوې و •

قتيبه خينس ته وويل : دا څه ډول سيمه ده ؟

ټولو د خينس په لور وکتل هغه هم په ډير تحمل او زغم سره ځواب ورکړ:

ډيره يې غرنۍ سيمه ده او سيندونه په کې هم شته ؟

درې ستر سيندونه په کې بهيږي ، چې څو مرستيالان هم له ځانه سره لري •

نوم يې راته ووايه •

تر ټولو لومړی د جيحون سيند دې ، دا سيند د تبت د جهيل څخه راوځي او د ارال په بحيرې کې لويږي ، مرستيالان هم لري چې د زنيل او قبادیان په نومونو ياديږي ، دا دواړه سيندونه د بطان دغرونو څخه سرچينه اخلي ، د وحشب سيند د کاشغر له لورې راځي ، د ورغم او خطالب سيندونه دبدخشان له لورې راځي ، د دې نه پرته د فرغار او اندجراغ سيندونه دواړه دکاشغر څخه را وځي او د دی سيندونو اوبه بيا په جيحون سيند کې لويږي •

بل ستر سيند ياسفد نوميږي چې کوم مرستيال نه لري ، دا هم د بطام د غرونو څخه سرچينه اخلي اود شمال پـه لور بهيږي بيا وروسته يې مخ بدليږي او د سمرقند ، کرمينيا او طواس نه تيريږي او په بخارا کې پای ته رسيږي •

دريم ستر سيند د سيهون په نامه ياديږي ، که څه هم دا سيند د جيحون دسيند څخه ډير لرى دى خودهغې سره موازي بهيږي ، دوه مرستيال هم لري چې د الاق او جدغسيل په نومونو ياديږي ، الاق د کردان دسيمي څخه را وځي او جدغسيل د چين له لورې را وځي •

قتيبه بن مسلم ورته په خندا شو •

ستا د خبرو څخه داسې څرګنديږي چې ته پـه دی سيمه کې پوره اشنايې لرى •

هو ! زه په ټولو ځايو ګرځم •

بيا خو ته زمونږ له پاره يو ارزښتناکه وسله يې ، هر ځاي کې زمونږ له پاره دغشي په څير په کار راځې ، ايا ته ددې ټولې سيمې يوه نقشه تيارولې شې ؟

ولې نه •

تر څومره وخته پورې ؟

زه همدلته ستا تر مخ کينم او نقشه کاږم قتيبه رحمه الله خپل ورور صالح ته دکاغذ ، قلم او مشوانۍ د راوړو وويل ، هغه هم ټول شيان راوړل او د خينس تر مخه يې کيښودل •

خينس سمدلاسه دنقشې په جوړولو پيل وکړ •

خينس نقشه وويستله او قتيبه رحمه الله تر مخه يې کيښوده ، قتيبه رحمه الله تر ډيره پورې هغې ته په ډير غور سره کتل ، بيا په ژورو فکرونو کې دوب شو او ويې پوښتل : مونږ بايد دکومې لارې نه حمله وکړو •

خينس په نقشې باندې ګوته کيښوده او ورته يې وويل : د جيحون دسيند څنډه د تيريدو دوه لارې دي ، يوه هغه ده چې دمروې څخه تيريږي او زمونږ تر کلي پورې رسيږي او د هغه ځايه نيغه د بخارا په لور ورځي او بله شاهراه ددې ځايه نيغه دبلخ په لور ورځي اودهغه ځايه د ترمذ له لارې د جيحون څنډه تيريږي •

ستا په اند چې مونږ دکومې لارې بايد ور تير شو تر څو حمله وکړو ••

خينس خپل سر ټيټ کړ ، تر يوه وخته يې فکر وکړ او بيا يې سر راپورته کړ او ويې ويل : د ترمذ له لارې •

په کوم دليل ؟

ضرور ده ، که چيرې مونږ د ترمز له لارې دسيند څنډه ور تير شو او حمله وکړو نو په لاره کې کوچنې کوچني حکمرانان را ځي ، په دوې کې دوه کسه زيات ځواکمن دي ، لومړى يې د شومان او بل دصفايان ، دا دواړه يو دبل سره حريفان دي ، او تل يو د بل سره په جنګ اخته وي ، مونږ په

ډیره اسانۍ سره دوې له منځه وړلې شو ، ددوې دماتې په واسطه په دغه ټوله سیمه کې زمونږ حکمراني ثابتیږي ، ترڅنګ یې نور حکمرانان هم جرئت نه شي کولې چې زمونږ مقابلې ته را ودانګي • هغوې به دا هڅې کوي چې په څه ډول زمونږ سره سوله وکړاې شي •

قتیبه بن مسلم یې ملا ور وټپوله بیا یې وویل : ته ریښتیا هم یو زیرکه او دښه لرلید خاوند یې ، ایا دعربي نه پرته په بله کومه ژبه هم پوهیږې ؟

په ترکي پوهیږم ، ددې نه پرتـــه ددې سیمې پـه ځو نورو سیمه ایزو ژبو هم عبور لرم ، بیا خو زه درتـــه داسې یـــوکار سپارم چې تل بـیې هم ته کوی •

ایا زه پوهیدې شم چې څه ډول کار به ماته راسپارل کیږي ؟

هر چیرې چې دسفارت له پاره اړتیا وي نو ته به تل زما له اړخه سفیر او قاصد اوسې ، ځکه ته داسې یو انسان یې چې هیڅکله دې څوک لاندې کولې نه شي •

دا خو به زما خوش قسمتي وي •

دا ځل قتیبه رحمه الله ټولو ته مخ کړ او ورته یې وویل : تاسو پنځه واړه زما دکمان ډیر قیمتې او ارزښتناکه غشي یاست ، تاسو ټولو ته به دخپل هنر د ښوولو فرصت درکول کیږي او بیا بیا به مو ددښمن په مقابل کې ازمیښتوم ، صالح بن مسلم ، خینس بن یوسف اونصربن سیار دریواړه د لومړی لیکې وګړي دي ، عبدالرحمن او عبیدالله به زما سره وي ، دا چې تر ټولو لومړی سالار به څوک وي ، ددې پریکړه پر تاسو دریواړو پریږدم •

خینس سمدلاسه وویل : زه د صالح په حق کې یم ، نصر بن سیار هم دصالح په حق کې پریکړه وکړه •

قتیبه بن مسلم رحمه الله راپورته شو وویل : تاسو پنځه واړه دجنګ له پاره ځانونه تیار کړئ •

زه وینم چې تر څو ورځو پورې به تاسو د جنګ له پاره ځانونه تیار کړاې شئ •

دوی پنځه واړه راپورته شول او [illegible] نه بیرون راووتل •

د جنګ په تياری کې بنو تميم تر ټولو مخته وو . خينس د قتيبه رحمه الله سره دکتلو وروسته د يو څو ورځو له پاره کور ته راغې ، دې درېواړو ورونو يو ځاي پريکړه وکړه چې احمد به د معمول په مطابق په کور کې اوسيږي ، اوحرب او خينس به په جنګونو کې برخه اخلي .

هغه يو ټکنده غرمه وه ، خينس په کور کې ارام کاوه ، ويې کتل چې حرب په پټه توګه دکوره د وتلو هڅه کوي ، حرب د اس په لوڅه شا کيناست او په کومه لور ووت .

خينس هم راپورته شو او خپل اس يې را وويست اوپه پټه توګه يې دحرب پسې په ځغاسته کړ ، هغه وکتل چې حرب د سردار هريم باغ ته ور ننوت . خينس خپل اس يوې لورې ته وتړه او په پټه د انګورو په دوچو کې د حرب تر شا مخته ورغې .

هغه د باغ منځته په ور رسيدو سره تم شو ، ويې کتل چې تر مخه يې د لرګيو په يوه تخت دسردار هريم لور عتيقه ناسته ده ، هغه ځوانه او ښايسته پيغله وه ، د حرب په کتلوسره په خندا شوه .

حرب ورغې اوتر څنګ يې کيناست او دواړو يو دبل لاسونه ونيول .
حرب عتيقې ته وويل زه تر يو څو ورځو پورې له دې ځايه ځم .
عتيقه د پريشانۍ په ځاې په خندا شوه .

ماته معلومه ده چې قتيبه بن مسلم حمله کونکې دې او ته دهغې د فوځ يو عسکر يې ، دا زما له پاره وياړ دې چې زما محبوب يو بهادر او ميړني عسکر دې ، زه به هيڅکله هم ستا د پښو زنځير و نه ګرځم ، په داسې وختو کې به زه تل تا په خندا او خوشحالۍ رخصتوم .

حرب يې لاس ته زور ورکړ وويل : ته يوه بهادره او باعزمه پيغله يې ، ستا محبت به تل زما سره زما په هره ساه کې اوسي ...
عتيقه ودريده .

صبر وکړه چې زه د انګورو رس درته درکړم . ماته ډاګيزه وه چې ته به هرو مرو راځي نو ما ستا د راتګ نه مخته تاته هغه تيار ايښودی دی .

د شاه نشین په ښي اړخ کې تر سپین رومال لاندې عتیقې د انګورو د رس نه ډک ګیلاس را وویست او په خپلو لاسو یې حرب ته ورکړ ٠

خینس هغو کتل او خندل یې ، تر یوه وخته یې هغوی ته په غور سره وکتل ، بیا بیرته راستون شو، په خپل اس سپور شو او د کلي په لور راغې ٠

بله ورځ ، کله چې لمر په ډوبیدو و نو عتیقه د چینې په لور د اوبو د راوړو په خاطر روانه وه چې یو ناڅاپه یې خینس مخې ته راغې او د هغې لاره یې و نیوله ٠

عتیقه وویریده ٠ رنګ یې والوت او په ویره یې دخینس څخه وپوښتل:

خینس ورورره ! خیریت خو دی ؟

خینس ورته په خندا شو او د اس نه راښکته شو وویل ته ولې وویریدی ، زه له تانه د یوې خبرې تائیدول غواړم ٠

عتیقه اندیښمنه وه ٠

ورورره ! څه ډول تائید ؟

ایا ته دحرب ورور سره مینه کوې ؟

د عیتقې سر ښکته شو او رنګ یې تک سور وګرزید ، د هغې حالت داسې وه لکه کوم غل چې د غلا په وخت کې و نیول شي ٠

زما دپوښتنې ځواب ستا چوپتیا نه ده ، زه ستا دخولې نه ددې خبرې تائید غواړم ٠

عتیقې په ژورو سترګو خینس ته وکتل او ورته یې وویل ته څه پوه شوې یې چې دا پوښتنه کوی ؟

ما تاسو دواړه هلته ستاسو دانګور باغ دننه کتلي واست

ایا ستا په اند دا قدم غلط دی ؟

نه ، هیڅکله هم نه !

نو بیا زه دحرب سره دخپلې مینې په اړه اقرار کوم ٠

بس ، ما له تاڅخه همدغومره اوریدل غوښتل ، تر هغو چې زه ژوندې یم تاسو به دمرګ نه پرته بل هیڅ شې یو دبل نه جدا نه کړای شي ٠

عتيقه ورته په خندا وه •

خينس څه نور هم غوښتل چې ويې كتل حرب د كلي له لورې اس را ځغلوي او را روان دې ، په دې خاطر هغه په خپل اس سپور شو او بلې لورې ته يې ځان وويست •

عتيقې هم حرب كتلې و ،په دې خاطر هم هلته ولاړه پاته شوه او د حرب د راتلو انتظار يې وكړ، حرب دهغې خواته راغې او د اس نه راښكته شو او بيا يې د لرې تلونكې خينس په لور اشاره وكړه او ويې پوښتل لږه شيبه مخته خينس دلته له تاسره ولاړ و او خبرې يې كولې •

عتيقې ورته په خوږو خوږو سترګو وكتل او ويې ويل هو

څه يې ويل ؟

هغه ته ډاګيزه شوې ده چې مونږدواړه يو دبل سره مينه كوو • هغه مونږ دواړه هلته په باغ كې يو ځاى ناست كتلي و•

حرب ورته په خندا شو •

هغه خو ډير شرير دې ، نور يې څه وويل ؟

ويل يې چې تر هغې چې زه ژوندې يم نو دمرګ نه پرته به نور څه تاسو يو دبل نه جدا نه كړاې شي •

حرب په فكر كې شو •

هغه سهې وايې ، هغه يو همدرده ورور دې او راز لرونكې دوست هم • چې په هر حالت كې دخپلې ژمنې په پوره كولو پوهيږي ، اوس چې هغه ته معلومات تر لاسه شوي دي نو زه به يې داسې و ګنم چې زمونږ ټول كار اسانه شوې دى •

دواړو په ډير ممنونيت سره د خينس په لور وكتل ، هغه خپل اس لرې ځغلاوه او په يوې غونډۍ باند خوت ، د ماښام تياره لږ څه راخپره شوې وه ، خو هغه دهغو چينو په لور روان و چې شپونكيو يې ميږو په كې څروبولې •

***

خينس چې کله کور ته ننوت نو ويې کتل چې حرب هم دکور د انګړ ترمنځ ناست دې او احمد د اسونو تر مخ واښه خپروي ، بلې لورې ته سلامه ،مراجل او دمنه ناست دي اوپخپلو منځو کې خبرې کوي ، دمنې د خينس د راتلو سره سم ورمنډه کړه او د هغه اس يې د واګو و نيوه او دنورو اسونو سره يې و تړو، احمد ورمخته شو او دهغې نه يې زين راښکته کړ او دهغې تر مخه يې هم واښه خپاره کړل بيا يې ورته په غاړه لاس وواهه • دمنه بيرته ولاړه اوپه خپل ځاې کې کيناستله •

خينس په خندا خندا راغې او دحرب په غوږ کې يې وويل : وروره ! عتيقه ډيره ښه نجلۍ ده ۰۰۰۰۰زه ستا د انتخاب ستاينه کوم •

حرب هم ورته وخندل اوبيا يې هغه د غوږ نه و نيوه او زور يې ورکړ : شريره ۰۰۰

خينس د سلامه تر مخه کيناست او بلکل د کوچنيانو په څير يې ضد وکړ او ويې پوښتل : مورې ! يوه خبره کوم ،منې به يې •

سلامه ورته په ډيره مينه په سر لاس راښکود : په شوق سره يې ووايه زويه ، ايا زه هم ستا خبره رد کولې شم •

زه او حرب ورور مې څو ورځې وروسته د ګڼ شمير نورو ځوانانو سره يو ځاې د قتيبه په لښکرو کې شامليدو به خاطر هغه لورې ته ورځو ، زما هيله داده چې زمونږ ددواړو ورونو د روانيدونه مخته د احمد ورور او دمنه تر منځه واده وکړل شي•

دمنه سمدلاسه دخپله ځايه پورته شوه اوپه سر يې پړونې سم کړ او دکوټې په لور يې منډه کړه •

سلامه هم متوجه شوه اوخپله پريکړه يې اعلان کړه •

ددرېواړو واده به په يوه ورځ تر سره کيږي ، په دې لړ کې ما پخپله له تا او ستا د نورو دواړو ورونو سره خبره کوله ، که چيرې تاسو دواړو ورونو چيرې خوښه کړې وي راته يې ووايا ست او که نه زه پخپله ستاسو د دواړو له پاره هم چيرې درک لګوم ، ستا په اړه خو راته يوه ورځ دمنه ويلي و چې

ته د ارطبون د لور قطونه سره مينه کوې او ددې تر څنګ زه په دې هم پوهيږم او حرب هم پرې پوه دې چې ماروه هم له تاسره محبت کوي او ته هم هغه د ځان له پاره خوښوې ، اوس دا پريکړه پر تا پورې اړونده ده چې ته په دې دوارو کې له کومې يود خپل ژوند ملګرى جوړوى او يا يې ددوارو سره کوې • خو زه دحرب په اړه هم څه اوريدل غواړم •

دحرب په اړه به يې زه درته ووايم •

زمونږ دسردار هريم لور عتيقه د ورور سره مينه کوي •

سلامه ورته په تيزو سترګو وکتل وويل : ته وکې کوی ؟

خينس دمور سره ورغاړيوت •

والله زه دروغ نه وايم ، ما پخپله هغوې يو ځاې کتلي دي ، دا خو وروستۍ خبره ده مورې ! مونږ دواړه ورونه چې د جنګ نه فارغ شو نو بيا به ودونه کوو ، که چيرې حرب ورور واده کول غواړي نوييشکه چې و دي يې کړي• خو زه اوس واده نه کوم •

احمد او حرب ددوې خبرې اوريدلي او خندل يې •

سلامه يوځل بيا په فکر کې شوه •

که ته واده نه کوې نو دهغوې دواړو ودونه به هم اوس نه کيږي •

خينس سخت په فکر کې شو ، سمدلاسه ولاړ شو او خپل لاس يې تورې ته کړ اوپه درونده اواز يې وويل :

ما په ژوند کې داسې کوم کار نه دې کړې ، چې زما ضمير پرې مطمئن شوې وي ، اوس چې د قتيبه بن مسلم په مشرى دکوم جنګ پيلامه کيدونکې ده همدا زما د ضمير اواز دې ، زه به په دې جنګونو کې دبرخې اخيستو وروسته واده کوم ، که چيرې شهيد شوم نو داسې کومه ګناه چې زما په ژوند کې ما کړې وي دهغې په اړه به ببښنه غواړم او که ژوندې را ستون شوم نوبيا ستا دخوشحاليو په مقابل کې ديوالونه و نه دروم•

دا زما خواهش او هيله وه چې زمونږ ددوارو ورونو د تللو نه مخته د احمد ورور او دمنه ترمنځ واده وکړل شي ، که ته زما دا غوښتنه پوره کولې شې

نو سهي او که نه خینس دخپلې مور په مقابل کې د سر پورته کولو جرئت نه شي کولې ...

خینس خپل سر را ټیټ کړ او شاته شو .

سلامه دهغې ددې حالت په کتلو سره غمګینه شوه اوبیا یې په محبت سره وویل : زویه ! واوره !

خینس یو ځل بیا دهغې تر مخه ودرید .

ته زما داسې زوې یې چې ما یې تر ننه پورې خبره نه ده ځنډولې ، ستا دغوښتنې او هیلې سره سم به سبا د احمد او دمنې تر منځ واده تر سره کړل شي ... ته او حرب دواړه یو ځاي ددې کار انتظام وکړئ .

خینس په خوښی کوټې ته ولاړ نور دیلار نه راواخیست او هغه سره دا شعر یې وایه :

والقي بصحراء بغیطه بکاعه نزول ایماني ذالعیاب المحمل

احمد ، حـرب ، سلامه او مراجل او په کوټی کې دننه دمنې ورته کتل او ور پوری یې خندل .

***

په شپږ اتیاوم هجری سپوږمیز کال قتیبه بن مسلم د خپلو لښکرو سره یو ځاي په ترکستان باندې دتوپان په څیر حمله وکړه .

دهغه مخ د مروې ښخه د بلخ په لور و ، ددې لښکرو مشرې د قتیبه د ورور صالح بن مسلم په غاړه وه او د ډیرو معززو سردارانو په څیر ورسره نصر بن سیار اوخینس بن یوسف هم ملګري و .

کله چې ددوې د لښکرو لومړی ډله بلخ ته ورسیده اوهلته یې دښار نه بیرون پړاو وکړ نو دښار خلکو دهغوې د ځلیدونکو وسلو ښخه په ښه توګه ډاګیزه کړه چې ددې توپان زور به څومره زیات وي ځکه ددوې لومړی کوچنی ډله د ښار د خلکو تر مخ و دریدله او د هغوې په سترګو کې یې سترګې ور دننه کړی .

د بلخ والي هم په تذبذب کې و اولا تر اوسه يې خپله اخري پريکړه نه وه کړې چې قتيبه رحمه الله هم دخپلو توپاني لښکرو سره يو ځاې هلته را ورسيد ۰

داسې ښرګنديده لکه په وينو کې لمبيدلې کوم توپان په افق کې را پورته شوي وي او د خپله ځانه سره د هرشې د پورته کولو اراده لري ۰

د ښار په خلکو دې کار ډير اغيز وکړاو هغوې د جنګ په ځاې د سولې غوښتنه وکړه ، د ښار نومورې خلک د قتيبه رحمه الله دربار ته راغلل او خپل خدمات يې وړاندې کړل ، بلخ لومړی ښارو چې د قتيبه رحمه الله او د هغه د لښکرو په ولکه کې راغې ۰

قتيبه رحمه الله لا په بلخ کې و چې د لښکرو لومړی ډله يې د جيحون د سيند څخه تيره شوه اوپه ترمز کې ور ننوتله ۰

خينس د ماښام نه لږ څه مخته ترمز ته ور ننوت او د شاهک کور دروازه وټکوله ، لږه شيبه وروسته هغه پخپله دروازه پرانستله او د خينس دکتلو سره سم يې ورمنډه کړه او ورغاړيوت او بيا يې هغه د لاسه ونيوه او دکور لورې ته يې کش کړ او ورته يې وويل: راځه ۰۰۰ دننه راځه تر څو هملته کينو او خبرې وکړو ۰

خوخينس هملته ولاړپاته شو ۰

زه په بيړه کې يم ، همدلته په ولاړه ولاړه زما خبره واوره ، زه غواړم ډير ژر بيرته راستون شم

نور ملګرې دې چيرې دي ؟

زه دقتيبه بن مسلم رحمه الله دلښکرو سره يو ځای يم ۰

بيا خو ته په ډيره اسانۍ سره د توفيل څخه بدله اخيستلې شې ، هغه به څه ډول جرئت وکړي چې دداسې يو سالار د لښکرو ترمخ و دريږي ۰

نه ، زه دا فرصت دخپلو شخصې اهدافو له پاره استعمالول نه غواړم ۰ زه به هرو مرو دهغه څخه بدله اخلم ، خو يوازې د خپلو ملګرو په مرسته ۰

۰۰۰۰ که چيرې له تاسره دهغه په اړه کوم خبر وي نو راته يېووايه ۰

هغه اوس له تانه ډیره خطره احساسوي ، په دې خاطر هغه په خپلو بدمعاشانو کې زیادت راوستې دي تر څو هروخت دهغه په خوندي ساتنې کې رول ولوبوي ، اوس به دهغه له منځه وړل تاته ډیر ستونزمن کار وي •

ایا هغه اوس هم زما تر شا دکرایې قاتلان اچولې دي ؟

اوس هغه داسې نه شې کولې څکه هیڅ ځوان دداسې یو مرګونې کار له پاره زړه نه ښه کوي ، ددې ځاې ټول بدمعاشان له تا څخه ویره محسوسوي • هغه یوازې همدومره کړي دي چې دخپلې ساتنې له پاره یې کسان ګڼ کړي دي •

خینس په قهر وویل: د دوی ټولو دغه ډول کړچار به زما تر مخ خنډ واقع نه کړاې شي تر هغو چې زما خداې زما سره وي ، زما په متو کې قوت او زما په توره کې د پري کولو زور او ځواک وي نو زه به هر هغه زنځیر پرې کړم چې زما په پښو کې یې د را اچولو هڅه وکړل شي •

شاهک ورته یو ځل بیا اصرار وکړ او ورته یې وویل: راځه کینه او خوراک څښاک وکړو بیا به ګورو!

خینس دنقدو پیسو یو کڅوړه را وویستله او هغه ته یې ورکړه ، دا له ځانه سره واخله ، زر دیناره په کې دي ، زه اوس ورځم ، زه به هرو مرو له تاسره ناست وم که چیرې هغه لورې ته مې عجله نه درلوداې •

خینس دخپل اس واګې را تاوې کړې او بیرته را ستون شو •

کله چې هغه د توفیل دکور تر مخه تیریده نو شپږ سپرو هغه دمختلفو خواو څخه را ښکیل کړ • دهغوې په لاسو کې ځلیدونکې تورې او ډالونه وو اوکرار کرار په ډیر احتیاط سره دهغه خواته را نژدې کیدل او د هغه شاوخوا دایره یې را تنګوله •

خینس وکتل چې لږ اخوا توفیل ، وصیف او نتیان هم د ننداره چیانو په څیر ولاړ دي •

توفیل د خپل قهر نه ډک اواز کې وویل: نن باید درڅخه ژوندې ولاړ نه شي ••• هغه د مرګ دایره را تنګه کړئ او همدا څمکه ورته قبر وګرځوئ •

وصیف هم و غرید نن دا وحشي داسې ووژنی چې ټول پخواني او وروستني یې یاد ساتي ۰

نتیان په تریخ غږ سره وویل هغه ژوندي و نیسئ ، وژنی یې مه ، دا سزا ورته ورکړئ چې دمرګ مرګ هیله وکړي ۰

د هغه ذهن په ډیره ښه توګه کار کاوه لومړی یې خپل ډال سنبال کړ ، بیا یې دتورې په ځای د زین سره تړلې زنځیر راپرانیست ، چې نژدې دوه ګزه اوږدوالي یې درلود . دروند او سختو اوسپنو څخه جوړ شوې و ، هغه یې په لاس کې و نیو اوبیا یې دګول په څیر را وڅرخاوو ، داسې بریښیده لکه په هوا کې چې یوه دایره چورلیږي ۰

د خینس دمخ رنګ هره شیبه بدلیده ، دهغه په وجود کې وحشت په مکمله توګه راپیداره شوې و ، زنځیر یې خوځوو او یو ځل یې خپلو څلورو خواو ته په ژوره توګه وکتل ،بیا یې سترګې په خپلې مخه کې د یوه په وجود ور ونښتې ، کیدې شي چې په دې وخت کې هغه کومه اخري پریکړه کړي وه ۰۰۰

په همدې وخت کې یې اس ته یو سخت ټکان ورکړ او اس هم ټوپ کړ اوپه ډیره چټکته توګه مخته ورغې اودهغوې څخه یې په یوه حمله وکړه هغوې ټولو غوښتل چې په یوه وار په خینس باندې حمله وکړي خو هغه هم د شاهین سترګې درلودې ۰ هغه په خپل مخکې ولاړ په یوه د زنځیر ګذار وکړ اود هغه سر یې له تن څخه جلا کړو بیا یې په ډیر چټکتیا سره اس را وڅرخاو اوپه عجیبه توګه یې د وحشیانو په څیر شور او زوګ کاوه او زنځیر یې په لاسو کې ګرځاوه او په دې ټولو داسې راپریوت لکه لیوه چې په میږو راپریوځي ۰

هغوې خپله ټوله هڅه وکړه تر څو خینس په یوه ډول نه یوه ډول راګیر او له منځه یوسي خوپه خپلو هڅو کې نه بریالي کیدل ۰ هغه په ډیره ماهرانه توګه په خپل ډال دخپل ځان نه دفاع کوله او په همغه اوسپنیز زنځیر چې

دهغه په لاسو کې و ، په ټولو ګذارونه کول او د ټولو له پاره یې د مرګ پیغام ورکاوه .

داسې احساسیدله لکه یو توپان چې سر راپورته کړې وي اویا د ځمکې سینه شکیدلې وي او د هغې څخه داسې یو مخلوق راوتلې او حمله یې کړې وي چې د حملې کولو انداز یې د ټولو له پاره بیګانه وي .

هغه په دې جنګ کې ډیر وخت مصرف نه کړاو د زنځیر د پرلپسې حملاتو په واسطه یې هغوې ټول په تلپاتې خوب ویده کړل ، د مرګ د ددې ډګر څخه د وتلو وروسته یې کله چې په توفیل ، وصیف و نتیان باندې سترګې ولګیدې نو هغوې درېواړو خپل اسونه دهغه ځایه ګرځولي و او دحویلۍ په ځای د ښار په لور په تیښته روان وو ، تر ټولو دمخه یې توفیل ، وربسې نیتان اوددې ټولو پسې اخر کې وصیف خپل اس ځغلاوو. خینس هم دهغوې په تعقیب پسې روان شو .

وصیف چې د ټولو اخر کې و ، تر ټولو لومړی دخینس د زنځیر دګذار لاندې راغې او دیوه ګذار سره سم دخپل اس نه را ولوید او له منځه ولاړ . خینس دا ځل د نتیان او توفیل په تعقیب پسې ګرندې شو ، هغه د نتیان د اس وروستۍ پښې په زنځیر ووهلې او اس یې په ځمکه راپریوست . هغه یو ځل بیا د اس مخکې پښې هم په زنځیر ووهلې او دواړه یې ورماتې کړې د هغې اس په ځمکه پاته شو ، نتیان هم لکه د توپ په څیر په ځمکه رغړیدله ، لږه شیبه وروسته راپورته شوه او ګوډه ګوډه کیده اویوې لورې ته و درېده .

خینس ورته په زوره زوره وخندل او ورته یې وویل : تا خو ویل چې هغه ژوندې ونیسئ ، چیرې دې هغه ستا نیونکي ... ایا ستاسو مقدس زردشت تاسو ته همدا درس درکړې دې چې دخپلو محسنانو سره غداري وکړئ .

د نتیان سر ښکته شو .

بیا یې په ډیره کرکه اونفرت سره وویل : تا د یوه معمولي بدو په څیر د ټولو تر مخه ماروه له لاسه و نیوله ، تا خپل ځان اودهغې مقام له یاده ویستلې و اوهر هغه انسان چې په دغه ډول حدود اوپولې ماتې کړې دهغه سره دهمدې ډول سلوک نه پرته نور څه کیدای شي •

خینس ورته په غور سره وکتل : په دې وخت کې نتیان یو ځل بیا په نفرت اوکرکې سره وویل : زه تر ډیره پورې د مرګ انتظار نه شم کولې ، خپل زنځیر دې راواخله او زما په سر یې ووهه ، ته به ووینې چې نتیان څه ډول په میړانې او استقامت سره مرګ ته ښه راغلاست وایي •

خینس زنځیر پورته کړ او په هوا کې یې وچورلوو او بیا یې هغه د خپل مټ څخه را تاو کړ او ورته یې وویل : زه په ښځو باندې لاس نه پورته کوم • ورځه ته مې ښښلې یې ، ما وصیف ختم کړې دې ، د هغې لاش هم له ځانه سره وړلې شې ، ما غوښتل چې توفیل هم له منځه یوسم خو افسوس چې هغه و تښتید او اوس به لکه دمږې په څیر په کوم ځای کې پټ شوې وي خو تر څو پورې اخر یوه ورځ به ورسره زه خپل حساب کتاب پاک کړم •

خینس اس راتاو کړ او بیرته راستون شو •

کله چې خینس خپل لښکر ته ورننوت نو دهغه دشکیدلو کالیو په کتلو سره ترې نصر بن سیار وپوښتل ؟

ایا د چا سره دې جنګ جګړه کړې ده ؟

خینس د اس نه زین ښکته کړ او ځواب یې ورکړ : هو ! زما څو پخواني دښمنان وو ، د هغوې سره مې لاندې باندې راغې ، هغوې په ناڅاپي توګه پرما حمله وکړه ، شمیره یې پنځه کسان وو •

صالح توره را وویستله : راځه ، په الله سوګند چې د ټولو څټونه به پرې کړم •

نصر بن سیار هم توره را وویستله •

زه لښکر ته د تیاریدو حکم کوم ، ته فقط مونږ ته لارښوونه وکړه ، مونږ به دا ټول ښار تر پښو لاندې کړو •

خینس زین یوې خواته کیښود اوبیا یې دواړه د لاسو و نیول اوورته یې وویل : تاسو دواړه دومره احساساتي کیږئ مه ، ما په ځانته ځان دهغوې معامله ورختمه کړې او دې لورې ته راغلې یم چې ثبوت یې د زین سره دهغوې په وینو لړلې زنځیر دې ، ما هغوی ټول د مرګ په تلپاتې سزا محکوم کړي دي •

صالح ورته وخندل : بیشکه ! ته هغه شاهین یې چې هروخت دخپل ښکار چاره کولې شې •

درېواړه په خندا شول او بیا خپلې خیمې ته ولاړل •

***

تر څو ورځو پورې قتیبه بن مسلم رحمه الله هم د خپلو لښکرو سره هغه ځاې ته ورسید او بیا ټول لښکر د ترمز څخه ووت اوپه صفانیان یې یرغل وکړ ، د ښار حاکم د جنګ کولو په ځاې د سولې وړاندیز وکړ او د اطاعت له پاره یې سرښکته کړ او د ډېرو زیاتو تحفو اوهدیو سره یو ځاې یې د قتیبه بن مسلم رحمه الله او د هغه د لښکرو ښه راغلاست وکړ او تر څو ورځو پورې یې د خپل ځان سره میلمانه وساتل •

بیا قتیبه بن مسلم رحمه الله ددې ځایه حرکت وکړ او په شومان یې حمله وکړه ، د هغه ځاې حاکم هم د صفانیان د حاکم په څیر اطاعت وکړ •

هلته په شومان کې یوه ورځ په داسې حال کې چې قتیبه په خپله خیمه کې ناست و ، خینس یې خیمې ته راننوت•

قتیبه بن مسلم رحمه الله یې په خندا استقبال وکړ : خینس ! راځه ••••

خینس یې تر څنګ کیناست ، په دې وخت کې ورته قتیبه بن مسلم رحمه الله وویل : زه په یو څو ورځو کې بیرته مروې ته ستنیږم ، هلته خو د چا له پاره کوم پیغام نه لرې ؟

خینس دیر مړژواندې ښکاریده ، سر یې ښکته نیولې او په ډیره اندیښمنه توګه یې وویل : نه •••

قتیبه بن مسلم رحمه الله یې دحالت په کتلو سره وویل : په څه فکر کې دوب شوی یې ؟

خینس سر راپورته کړ اوورته یې وویل : ما څه ویل غوښتل ، محترما!
ایا زما نه کومه شکوه لرې ؟
نه ، هیڅکله هم نه ، نو بیا ووایه •
زما د قبیلي څه خلک د بادغیس د حکمران نیزک په بندیخانه کې دي ،
ماغوښتل دهغوې په اړه درته عرض وکړم •
قتیبه ورته په خندا شو •
لړه شیبه مخته ستاسو د قبیلي مشران سردار هریم او سردار وکیع هم دلته راغلي وو اوهمدا خبره یې کوله ما دهغوې په شتون کې یو لیک خپل قاصد ته د بادغیس دحکمران په نامه ورکړ او و مې لیږه • ما هغه ته ګواښ کړې چې یا خو ټول مسلمان بندیان ازاد کړه او که نه ټول ښار به یې تاراج کړم •
خینس هم وخندل •
هغوې دواړو خو ماته په دې اړه هیڅ هم و نه ویل •
هغوې همدا لړه شیبه مخته ددې ځایه ووتل ، کیدې شي له تاسره یې لا نه وي کتلي
خینس راپورته شوه وویل : زه ورځم •
قتیبه بن مسلم رحمه الله هم و درید •
دپرون په څیر به نن هم ته ، صالح او نصیر خوراک او څښاک به زما سره کوی •
خینس ورته په دیر ممنونیت سره وکتل او په خندا دخیمې څخه ووت •
قتیبه بن مسلم رحمه الله ټولې مفتوحه سیمې دخپل ورور صالح تر کنټرول لاندې پریښودې او پخپله بیرته د مروې په لور ستون شو ، صالح د هغه په نه موجودیت کې د خینس بن یوسف او نصر بن سیار سره یو ځاي د فرغانې ، مشت ، بي غز او خشک ښارونه فتح کړل ، تر دې وخته پورې د بادغیس حاکم هم د مسلمانانو ټول بندیان را ازاد کړي و او د قتیبه بن مسلم د اطاعت له پاره یې سر ټیټ کړ او سوله یې وکړه •

***

په شپږ اویاوم هجری سپوږمیز کال قتیبه بن مسلم رحمه الله د بخارا د ښار بیکند باندې حمله وکړه ، د ښار خلکو د شاوخوا سیمو څخه د مسلمانانو په خلاف دمرستې غوښتنه وکړه ، د څلورو خواو څخه دومره خلک د اسلامي لښکرو په مقابل کې را ټول شول چې ټولې لارې یې وتړلې .

په دې وخت کې د قتیبه بن مسلم رحمه الله قاصدان هیڅ لورې ته نه شو تللې ، دې مسئلې نژدې دوه میاشتې وخت واخیست او سخت جنګونه پیل شوي وو.

حجاج بن یوسف ددې حالت د خبریدو څخه سخت خواشیني شوې و او په دې ویریده چې هسې نه ټول لشکر له منځه ولاړ نه شي ، په دې خاطر یې د خپلو لښکرو د بري او فتحې له پاره په ټولو جوماتونو کې دعاګانې پیل کړې ، د بله اړخه قتیبه رحمه الله د خپلو میړنیو سالارانو سره هره ورځ د دښمن سره په ټکر کې و.

دښار خلک هم د پرلپسې جنګ او جګړو څخه نور په تنګ راغلي وو او ترڅنګ یې د مسلمانانو جوش او ولولې هم هغوې ته دا ښوولې وه چې ژر یا وروسته به داښار د مسلمانانو په لاسو کې لویږي . په دې خاطر یې د اسلامي لښکرو څخه د خلاصون په خاطر د چال نــه کار واخیست چې د قتیبه بن مسلم رحمه الله یو عجمي جاسوس سره یې سازش وکړ ، هغه ته یې ډیر زیات رشــوت ورکړ او ورته یې وویل چې که چیرې د قتیبه بن مسلم رحمه الله پــه بیرته ستنیدو کې ورسره مــرسته وکړي نو مالا مال بــه یې کړي ...

دغه فرد چې تندر نومیده د قتیبه بن مسلم رحمه الله خوا ته راغې اوورته یې وویل : ماته په پټه خبر راغلې چې حجاج بن یوسف وژل شوی دی .

قتیبه بن مسلم رحمه الله په دې فکر چې هسې نه چې دا افواه د لښکرو تر منځ زړه بدوالې را پیدا نه کړي ، دتندر سر ور پرې کړ ، تر څنګ یې قتیبه بن مسلم رحمه الله یو احساساتي وینا هم وکړه او تر ډیره پورې یې په

لښکرو کې د الله اکبر غږ پورته کړل بیا قتیبه بن مسلم رحمه الله د ښار د سترو دروازو د له منځه وړلو حکم وکړ ، د ښار خلک مجبور شول چې د قتیبه رحمه الله سره سوله وکړي •

قتیبه بن مسلم رحمه الله هم هلته خپل یو کس حاکم و ټاکه او د هغه ځایه بیرته راستون شو •

قتیبه بن مسلم رحمه الله به لږ څه مخته تللې و چې دبیکند خلکو یو ځل بیا بغاوت وکړ او د قتیبه له اړخه ټاکل شوې حاکم او دهغه سره ملګري یې ټول ووژل ، پـه دی وخت کې قتیبه رحمه الله د بیکند څخه لرې په یو ځاې کې پړاو کړی و•

***

ماروه د نارینو لباس په ځان کړې و او په یوه ترکي اس سپره د یوه غرنۍ ویالي تر غاړې غاړې په پوره چټکتیا سره د بیکند دښار په لور روانه وه •

د غرنیو لړیو څخه دتیریدو وروسته په ناڅاپي توګه و دریده ، د هغې غوږونه را نیغ شول او دڅه د اوریدو هڅه یې کوله •

دلرې څخه ډیر مړژواندې شانته اواز راته ، کوم عرب سُندرې ویلې ، هغې وپیژنده چې دا دخینس اواز دی •

هو ! د هغې خپل خینس •

همغه زړه راښکونکې او خوشحالونکې اواز•

د ماروه په شونډو هم وژونکې خندا راپیدا شوه •

خپل اس یې را تاو کړ او داواز په لور یې رهي کړ اواز یو ځل بیا دغرونو په انګازو کې دهغې تر غوږو راورسید •

اوس نودهغه عربي الفاظ په ښه توګه اوریدل کیدل •

د هغې مفهوم او معنې څه داسې وه •

مونږ د جنګ د قـربان ځاې په غاړه غاړه تر لرې لرې پـورې خپاره شوي یو •

واوره ! ددښمن د هر زخم څخه د وینو دارې را وځي •

په سینو کې د انتقام اوبدلې سکروټې لمبې وهي •
دشپې په تیارو کې د پوره ثابت قدمۍ سره ، ثنا ویونکې یم
د ښه او غوره راتلونکې لپاره •
د ژوند سندرې وایم •
اواز یو ځل کیناست او بیا دویم ځل راپورتـــه شو او د ماروه دغوږو سـره ولګید •
مونږ، مونږ دالله شکر ادا کوو •
مونږ د هغه وفاداره بندګان یو •
مونږ د هغه سره ریښتونې ژمنه کړې ده •
مونږ د نړیوالې ورورګلوۍ او محبت توغ پورته کونکې یو •
مونږ پـــه خپل سفر مقصد کې پاک او مخلص یو •
واوره ! زما اواز د سیلاب په څیر تندو تیز روان دې •
زما د جذبـاتو توپان زما د وجود درګ رګ څخه سرچینه اخلي •
زمونـــږ منزل روښـــانه او رون دی ، د تاریخ پریکنده ساعت را رسیدلې دی •
زمونږ اواز ځواکمن ••••• لوړ او غضبناکه دی •
ماروه په خپلو رخسارونو باندې روانې اوښکې وچولې او ټول وجود یې لړزې ا خیستې و، د خینس اواز هغه لړزولې وه ، هغې وکتل چې خینس په یوې تنګ ناو کې مخته روان دې •
ماروه په زوره ورغږ کړ: خینس !
خینس شاته وکتل ، او ماروه یې تر سترګو شوه ، تر دې وخته پورې ماروې هم خپل اس ور ګړندې کړ او د هغه خواته ور ورسیده •
خینس ترې په ډیرې حیرانتیا سره و پوښتل: ته دلته ••••خیریت خو دی ؟
هغې د ځواب ورکولو په ځاې په زوره زوره و ژړل •

خینس یې په اوږې باندې لاس کیښود او تسلي یې ورکوله ، ماروی ډیر ژړغان سنبال کړ ، اوښکې یې وچې کړې او ویې ویل د ترور په کور کې اوس مونږ ته د اوسیدو ځای نه شته ٠

خینس په پریشانۍ سره ځواب ورکړ وویل هغوی تاسو د خپل کور څخه وویستلئ ٠

نه ٠٠٠ زه ، مور مې او طوانه دریواړه دشپې په تیاره کې دهغه ځایه په پټه را تښتیدلي یو ٠

ولی ٠

ترور او ماما مې دواړو غوښتل ما د باغر د کشري ورور سره واده کړي ٠ خو ما ترې انکار وکړ ، مور مې ترور ته دا خبره ډاګیزه کړه چې ماروه د خینس سره مینه کوي او د هغه نه پرته د بل چا سره واده کولو ته تیاره نه ده ٠ خو هغې و نه منل ، هغوی بهر ته زما په تګ راتګ هم بندیز ولګوو او د باغر دکوچني ورور سره یې زما دواده وخت هم و ټاکه ، خو طوانه دې خوشحاله وي چې هغه زه او مور دواړه دهغه ځایه په پټه توګه را وویستلو ٠

اوس دې مور او طوانه چیرې دي ؟

مور ته مې موسمي بخار پیداشوی دی ، هغوی مې ددې ځایه لږ څه لرې د یوه کلي په سرای کې پرې ایښې دي او پخپله ستا د لټون پسې دې لورې ته راغلې یم ٠

د باغر ورور کله ستا دماما خواته را غلې ؟

ماما می ٠٠٠ یو ځل بیا بې شمیره بدمعاشان په حویلی کې سره راټول کړي دي ، اوس هغه له تا ډیره ویره احساسوي ، کیدای شي چې هغه یو ځل بیا د انتقام د اخیستلو هڅه وکړي ٠

خینس ورته په بې پرواهي سره ځواب ورکړ٠

دا څه فرق نه کوي ، زه د داسې بدمعاشانو سره دحساب کولو په چل پوهیږم ٠ ته څنګه وپوهیدې چې زه دې لوری ته راغلې یم ٠٠

زه خبره شوې وم چې قتیبه په بیکند باندې حمله کړې ده ، په دې خاطر زه هغه لورې ته روانه وم ..

ته ولې نیغه زمونږ کور ته ور نه غلې ؟

زه ویریدم چې ته به په کور نه کې نه یې ... او په دې هم نه پوهیدم چې هغوې به مونږ و ساتي او که انکار به وکړي ، په دې خاطر ستا د لټون پسې دې لورې ته را ووتلم .

ایا تا زما دکور دا خلکو څخه همداسې هیله درلوده ؟

نه ، هیڅکله هم نه .

نو بیا ...

ما غوښتل له تاسره ووینم کنه

هو ! داسې ووایه .

ماروه ورته وخندل او ترې ویې پوښتل ستا مور ، ترور او دمنه څنګه دي ؟

ټول ښه دي ، دمند د احمد ورور سره واده شوه ، مور مې غوښتل زما اود حرب ورور د ودونو غم هم وکړي ، خو ما د جنګ نه مخته د واده کولو له پاره زړه تیار نه کړ . په دې خاطر زما او د حرب ورور ودونه پاته شول .

ماروه ترې په پریشانۍ سره وپوښتل ستا واده چیرې او د چا سره کیدونکې و؟

خینس ورته وخندل وویل هم ستا سره کیده . نو دبل چا سره .

دماروه په شونډو کې خندا راپیدا شوه .

هغوې ته څرګنده شوې ده چې مونږ داوره ....

خینس یې خبره پرې کړه او ورته یې وویل حرب ورور ورته هر څه ویلي دي .

خینس لږ څه فکرمند شانته شو .

ښه شوه چې ته دې لورې ته راغلې . زه له تاسره یوه مهمه خبره شریکول غواړم .

ووایـه .

خنیس وویل زما یو محسن دې چې ارطبون نومیږي ، همغه هلته په شومان کې له مونږ سره زمونږ د دښمنانو په له منځه وړلو کې ډیره مرسته کړې وه ۰ هغه یوه ډیره ښایسته لور هم لري چې قطونه نومیږي ۰

دواړه پلار اولور زمونږ کور ته هم راغلي و او کله چې یې دڅو ورځو د قیام وروسته بیرته تلل غوښتل نوهغه وخت یې راز راڅرګند کړ چې هغه له ماسره مینه کوي ، خو ما هغه ته هغه وخت څه و نه ویلې ، ځکه ما نه غوښتل د هغې زړه مات کړم ، ما دهغې حالت په ښه توګه احساسوو، که چیرې ما هغه وخت هغه ستا په خاطر رد کړې وې نو هغې به هرو مرو ځان وژلې واو ما نه غوښتل چې داسې کومه پیښه زما په خاطر رامنځته شي ۰ اوس راته ته مشوره راکړه چې په دې اړه ستا اند څه ډول دی ؟

د ماروه په زړه کې لږ څه خیرې هم راپیدا نه شو ۰

په خندا شوه وویل : زه په دې اړه هیڅ هم نه وایم ، ستا پریکړه زما له پاره اخري او دمنلو وړ ده ۰ که زما او د قطونه نه پرته د بل کوم چا سره هم واده کول غواړې نو زه به پرې هیڅکله هم اعتراض و نه کړم او نه به کله هم ستا سره زما په محبت کې کوم کمښت راشي ۰

خینس یې په خبرو خوشحاله شو وویل : ما له تاڅخه همداسې هیله درلوده ۰۰۰ را ځه چې ځو ۰۰۰۰ نن شپه ارام وکړه ۰۰۰سبا به زه د قتیبه بن مسلم رحمه الله نه اجازه واخلم اوله تاسره به ولاړ شم ۰

دواړو خپل اسونه څنګ په څنګ د وادي تر منځ هئ کړل ۰

خینس د ماروه لاس نیولې و ۰

اوماروې په خوږو خوږو سترګو هغه ته کتل او په اس سپره روانه وه ۰

***

قتیبه بن مسلم رحمه الله په خپله خیمه کې په یوه پورته ځای کې ناست و او تر مخ یې نقشې راخپرې کړې وې ۰هغه یې اړولې را اړولې او ترمخه یې ورور صالح بن مسلم ، خینس بن یوسف او نصر بن سیار هم ناست وو۰ تولو په کومه موضوع باندې خبرې کولې چې یو ناڅاپه دخیمي نه بیرون ګډوډي پیدا شوه ۰

خلکو شور او زوګ جوړکړ ۰
ټولو توري را وویستلې او د خیمې نه رابیرون شول ۰
د قتیبه بن مسلم رحمه الله د خیمې نه بیرون یو عرب ځوان په خپلو وینو کې لت پت پروت وو او د لښکرو څو کسو ځوانانو هڅه کوله هغه راپورته کړي ، قتیبه بن مسلم رحمه الله دبیرون راوتلو سره سم ډیر اندیښمن شو ، اوویې پوښتل : دا څه شوي دي ؟
دا زخمي عرب په ډیره سختۍ سره راپورته شو او کیناست ، څو هره لمحه پرې بې هوشي راتله ، په ډیره ستونزمنه توګه یې قتیبه بن مسلم رحمه الله ته وویل : محترما ! د بیکند خلکو بغاوت کړې دې ، هغوې زمونږ حاکم او دهغه ټول ملګري له تیغه تیر کړي دي ، ما په ډیره ستونزمنه توګه ځان تر تاسو رارسولی دی ۰۰۰ ددې نه پرته هغوې ۰۰۰
هغه ځوان ددې نه نور زیات څه و نه شو ویلې اوهم هلته په ځمکه را پریوت او روح یې والوت ۰
قتیبه رحمه الله د غصې اوقهر نه د اور د لاوا په څیر را خوټیده ۰ دهغه د توري لاستې د هغه په لاس کې و ۰
بیا یې په درond اواز سره وویل : د الله اکبر غږونه پورته کړی ۰
د هغه د حکم سره سم په لښکرو کې داسی د الله اکبر غږونه پورته شول چې د غوږونو پردې یې شکولی ۰

***

ماروه او حرب دیوې خیمې مخې ته ولاړ وو او هغه لورې ته یې کتلې چیرې چې قتیبه د صالح ، خینس او نصر سره یو ځای ولاړ و ۰
ماروه ترې په ویریدونکې اواز سره وپوښتل : وروره ! څه شوي دي ؟
حرب ورته په اندیښنې سره وویل : هرو مرو کومه غیرمعمولې پیښه رامنځته شوې ده ۰
ګوره قتیبه دخپلو نورو سالارانو سره په ډیر قهر اوغضب ولاړ دی ۰ ته همدلته اوسه ، زه ورځم تر څو ځان پوه کړم ۰

تر اوسه به لا هغه څو قدمه نه و اخيستي چې د الله اکبر اواز يې واوريد •

په دې اساس هغه په منډه بيرته راستون شو •

ماروه ترې يو ځل بيا په انديښنې سره وپوښتل: دا څه شوي دي وررور جانه!

حرب په بيړه بيړه خيمه را وويسته او ورته يې وويل: د الله اکبر .... غږونه پورته کيږي لښکر به هم کوچ کوي او په کوم ځاى به حمله کوي •••

ماروه په هر څه پوه شوې وه •

هغې په پوره چوپتيا سره د حرب په کار کې مرسته پيل کړه •

کله چې لښکرو کوچ وکړ نو ماروې په شکايت کونکې توګه وويل: وروره لښکر خو کوچ کوي او خينس لا تر اوسه زمونږ لورې ته رانه غې •••!

حرب ورته په خندا وويل: خورې! هغه به دلته نه راځي • ځکه هغه د لومړۍ دستې مرستيال سالار دى او لومړۍ ډله د خپل هدف په لور مخته تللې ده ، خينس اوس په لښکرو کې نه شته هغوې به اوس د خپلو لښکرو سره پوره واټن وهلي وي •

کله چې ماروه د لښکرو سره يو ځاى د بيکند ښار ته ورسيده نو ويې کتل چې د مسلمانانو لومړۍ عسکري ډلګۍ د ټولو تر مخه هلته ور رسيدلې ده ، خينس هم هلته موجود وا او په ډيره ناکرارۍ سره يې خپل اس يوې لورې او بلې لورې ته ځغلاوه •

اسلامي لښکرو د سترګو په رپ کې د ښځو له پاره يوې لورې ته خيمې ښخې کړې او ټولې ښځې يې په هغو خيمو کې ځاى په ځاى کړې • د دې وروسته يو ځل بيا په لښکرو کې د الله اکبر غږونه پورته شول •

کله چې قتيبه بن مسلم رحمه الله د خپلو لښکرو سره يو ځاى لکه د وږې ليوه په څير را ورسيد نو په هغه وخت کې د ښار دروازه پرانستل شوه او دوو کسانو د سولې سپين بيرغ پورته کړ او د قتيبه بن مسلم رحمه الله په لور راغلل ، هغوې د ښار د حاکم له اړخه د سولې پيغام راوړى و •

قتيبه بن مسلم رحمه الله په خپل لاس کې نيولې توره دهغوې په لور وخوځوله اوبيا يې دزخمي زمري په څير ووېل : که چيرې تاسو دواړه د سفيرانو په څير دلته نه واست راغلي ، که چيرې تاسو د سولي بيرغ نه و راپورته کړې نو ما به ستاسو ددواړو څټونه همدلته پرې کړي وو.

ورشئ ښار ته او خپل حاکم ته ووایاست چې قتيبه دسولې دکولو څخه انکار کړې دې ، تاسو خلکو دچل نه کار اخيستې او زمونږ تاکل شوې حاکم مو دهغه دملګرو سره يوځاي وژلې دې ، زه به ښار د تورې په زور نيسم او دخپلو شهيدانو بدله به اخلم ، زما نوم قتيبه بن مسلم دې او قتيبه هيڅکله هم باغيان نه بښي .

کله چې دواړه سفيران هملته تم پاته شو نو قتيبه بن مسلم رحمه الله ورته نور هم په زور سره ووېل :

ورشئ ، بيرته ستانه شئ ، زما دې د کعبې په رب سوګند وي چې زه به دخپلو شهيدانو انتقام هرو مرو اخلم ، دا زما وعده ده او زه په خپله وعده باندې کلک ولاړ يم .

کله چې سفيران بيرته ناهيلي ستانه شول ،نو قتيبه بن مسلم رحمه الله په ښار باندې حمله وکړه ، دښار شاوخوا يوه کلکه کلا وه خو هغه تر ډيره پورې دهغوې دحملې ترمخه خنډ نه شوه ، اسلامي لښکرو د ښار کلا ماته کړه اوپه ښار يې حمله وکړه .

ټول وسلوال ځوانان يې چې د اسلامي لښکرو په مقابل کې جنګيدل ، د تيغه تير کړل، دلته قتيبه ته د سرو زورو اوجواهراتو ډيره ستره شتمني په لاس ورغله ، د ښار د فتحې کولو نه وروسته قتيبه بن مسلم رحمه الله څو ورځې نور هم هلته په ښار کې پاته شو، دښار انتظام يې جوړ اوخپلو مهمو خلکو ته وسپاره او بيا د ترمز په لور بيرته را رهي شو.

***

خينس او ماروه دواړه په خپلو خپلو اسونو سپاره وو او په ګړندۍ توګه دهغو واديو او نالو څخه تيريدل چې د بطان د غرونو دلړۍ څخه راوتل او د بخارا په لور د بهيدو په وخت کې په لاره کې وچيدل .

دا سیمه ټوله غرنۍ وه ، په دې خاطر هغوې دواړو یو دبل تر څنګ دسفر کولو په ځای یو دبل ترشا سفر کاوه ، دیوې ویالې څخه د تیریدو وروسته ، کله چې هغوې ددې تنګې درې څخه تیریدل نود غره دبل اړخ څخه یې د بې شمیره اسونو د شنړیدو اوازونه واوریدل •

خینس تم شو او څه فکر یې وکړ •

ماروه هم اندیښمنه شوه •

څه وشول ؟

خینس په غور سره د اواز داوریدو هڅه وکړه او بیا یې وویل : دا د اسونو اوازونه اوری •

هو اوریدلي مې دي ••• مونږ ته یې څه ••• ورځه چې مخته ځو

نه کیدای شي چې دلته همغه سردار ارطبون دخپلې قافلې سره یو ځای میشت وي ، ایا ته د هغې دلور قطونه سره کتل غواړې ؟

ماروې خپل اس تم کړ •

بیا یې په خندا وویل : که چیرې په ریښتیا هم دا د سردار ارطبون کاروان وي نو زه هرو مرو د قطونه سره کتل غواړم •

خینس خپل اس را وګرځوو•

نو بیا راځه ، د دې ویالی په غاړه غاړه به هغه لورې ته ورشو او وبه وینو •

لږه شیبه د ویالی په غاړه غاړه د تللو وروسته هغوې یوې ډیرې سترې درې ته ورننوتل •

هغوې به لا یو څه قدمه مخته تللي وچې تر سترګو یې د کتلو تر ځایه خیمي ولاړې وی •

کله چې دوې دواړه هغو خیمو ته ور غلل نو خینس هلته دخیمو تر منځ دښځو او نرو ټګ راټګ کوت او حیران ورته پاته و •

هغوې ترک نه و بلکه سغدي و ، هغه لومړی کس چې ددوې مخې ته راغې نو خینس ترې وپوښتل : وروره ! دا د چا قافله ده •

هغه کس په حيرانتيا اوشک سره خينس ته وکتل اوورته يې وويل : مونږ سغدي يو او زمونږ د سالار نوم بتريس دې ايا ته هغه پيژنې ؟

نه ، نه ، زه يې نه پيژنم ۰۰۰ خو ستاسو قافله دلته ددې وچو غرونو په لمنو کې ولې تم شوې ده ، حال داچې دلته لرې يا نژدې هيڅ څړ ځاې هم نه تر سترګو کيږي اونه د اوبو کومه چينه به نظر راځي ۰

هغه سړې خپلې اوږې وښنډلې او ويې ويل : ته سهي خبره کوې ، زمونږ د ترکانو د يوې قبيلي سره پخوانۍ دښمنانۍ وه او نن دواړه قبيلې په تصادفي توګه په دې درې کې يو بل ته مخ شويدي ، اوس د جنګ له پاره هم تياري کيږي ۰

خينس ترې په پريشانۍ سره وپوښتل : ترک قبيله اوس چيرې ده ؟

زمونږ د قبيلي څخه يوازې يو فرلانګ لرې ۰

خينس ترې وپوښتل : دهغې قبيلي سردار څه نوميږي ۰

دهغه نوم ارطبون دی ۰

هغه سړي ځواب ورکړ : ايا زه ددواړو قبيلو تر منځ د رقابت علت پوښتلی شم ۰

د ترک قبيلي ځوانانو زمونږ د قبيلي څو نجوني په زور بوتللې دي اودهغوې سره يې ودونه کړي دي ، خو کله چې مونږ د هغوې دبيرته راوستلو غوښتنه وکړه نو هغوې انکار وکړ، بس دهمغې ورځي راهيسې زمونږ ددواړو قبيلو ترمنځ دا دښمنۍ را روانه ده ۰ څو ځله ددواړو قبيلو تر منځ جنګ هم شوې دې خو د پايلو پرته سر ته رسيدلې دې ، نن يو ځل بيا دواړه قبيلي په ناڅاپي توګه يو د بل سره مخ شوي دي او دواړه خواوې دجنګ له پاره ځانونه تياروي ۰۰۰۰ اوس به ووينوچې څه کيږي ؟

خينس ورته په مصنوعې توګه وويل : وروره! زه عرب يم او تجارت کوم ماته کومه داسې لاره و ښايه چې ددې دواړو قبيلو دجنګ نه مخته ددې ځايه ووتلې شم ۰

هغه سفدي ورته په زوره وخندل اوبه لاس یې دهغو لوړو ژورو په لورد تللو اشاره وکړه •

خینس اوماروه تر ډیره پوري په هغو لوړو ژورو کې روان وو، بیا یې مخ ښي لوري ته را وګرځاوود ترکانو د قبیلي تر مخه را څرګند شول • په قبیلي کې خلکو شور اوزوګ جوړکړ •

خینس راغی ... خینس بن یوسف راغی •

نارینه خو پریږده چې ښځې او کوچنیان هم دهغوې مخې ته په منډو منډو ور غلل او د هغه لارې په دواړو خواو کي ودریدل چې خینس او ماروه پرې را روان وو•

سردار ارطبون او دهغه لور قطونه هم راووتل اوبه لاره کې دهغوې د استقبال له پاره ودریدل •

خینس دټولو خلکو سلام ته ځواب وایه او بالاخره دارطبون مخې ته درا رسیدو سره سم د اس نه راښکته شو ، ماروه هم د اس نه راښکته شوه ، قطونې چې د خینس سره ماروه وکتله نو په څو شیبو کې دمخ رنګ والوت •

خو ډیر ژر یې ځان کنترول کړ اوبه خپل خواږه اواز سره یې د خپل پلار ارطبون نه مخته دخینس څخه وپوښتل . څنګه یې ؟

خینس یې په لور وکتل او ورته په خندا شو •

ښه یم ، ته راته خپل حال ووایه •

قطونه په خندا شوه اوبه خپلو پښو باندې تاوه راتاوه شوه •

ګوره دغسې یم چې یم •••

تر دې وخته پورې ارطبون هم رامخته شوې و • خینس ته یې غاړه ورکړه اودهغه سره یې داسې مینه وکړه لکه د مودو وروسته یې چې خپل زوې مخې ته راغلې وي •

کله چې ارطبون خینس له ځانه سره مخته روان کړو نو ماروه یې هم تر شا شا روانه وه دهغې ترشا قطونه را روانه وه چې کله به یې د شک او کله به یې په حیرانتیا سره ورته کتل •

خینس اوماروه د ارطبون خیمې ته ورننوتل اوپه هغو چوکیو کیناستل چې په دې خیمه کې ایښودل شوې وې ، کیدای شي چې دا به یې دمیلمستون په څیر استعمالوله •

ارطبون کله کله په ډیر غور سره ماروې ته کتل ،خو قطونې نه غوښتل تر ډیره پورې په اندیښنه کې پاته شي ، هغې د خینس تر څنګ ناستې ماروې ته په اشارې کولو سره وپوښتل : خینس ! دا پیغله څوک ده ؟

خینس یو ځل په پوره غور سره د قطونې په لور وکتل ، کیدای شي چې هغه دهغې په مخ باندې داحساساتو د اندازه کولو هڅه کوله•

بیا یې په دیر اطمینان سره ځواب ورکړ •

ددې نوم ماروه دې ، دا د خوارزم د یوه سالار لور ده اوددې کیسه ډیره اوږده او دغمونو نه ډکه ده •

که زه یې اوریدل وغواړم ؟

نو بیا واوره ! دا دخوارزم د یوه سالار لور ده ، د خوارزم پادشاه د خپل ورور خرزاد په واسطه ګوښه کړل شو اوپه ځای یې هغه پخپله په تخت کیناست ، هغه تر هرڅه لومړی د خپل ورور ټول سالاران یو په بل پسې ووژل ، په سالارانو کې د ماروه پلار هم ووژل شو •

خرزاد غوښتل ماروه ، د ماروې مور اود دوې یو غلام طوانه هم ووژني • خو دوې د خپل کور په تاخانې کې پټ شوي وو، په دې ورځو کې زه هم دخپل یوه دښمن په لټون پسې خوارزم ته تللې وم ، اتفاقا چې یوه ورځ ددوې یوه خادمه چې ددوې له پاره د بازار څخه د سواد اخیستو له پاره راغلې وه د عسکرو له خوا ونیول شوه ، سپاهیانو هغه په وهلو وهلو اوددوې په اړه یې ترې د پوښتنې کولو په خاطر د مرګ تر بریده ورسوله • خو هغې خادمې ددوې په اړه هغوې ته هیڅ معلومات ور نه کړ• خو دمرګ نه مخته یې ماته ټول حال ووایه او ددوې سره یې دمرستې له پاره رانه غوښتنه وکړه ، په دې توګه ما دوې د خوارزم څخه وویستل او تر ترمذه مې ورسول• هلته په ترمز کې ددې یوه ترور اوسیدله • خو کله یې چې ماما

غوښتل ددې د رضا پر خلاف دده واده د یوه بدمعاش سره په خپل سر وکړي نو دا هم دخپلې مور اوغلام سره یو ځاي دهغه دکوره راتښتیدلې • مور اوغلام یې د نسف د ښار په یوه سراې کې پرې ایښي دي او پخپله یې ځان زما پورې را رسولې دې ، اوس زه دییکند نه راستون شوې یم او ددې سره یوځاي دخپل کور په لور روان یم • په لاره کې به یې مور او غلام هم له ځانه سره واخلم •

کله چې خینس دا ټوله کیسه کوله نو ماروه په ژړا وه ، کله چې خینس چوپ شو نو ماروې هم خپلې اوښکې وچې کړې •

قطونې بیا وویل : ایا ته ورسره مینه هم کوې ؟

خینس ورته په ډیر زغم سره ځواب ورکړ : په دې کې هیڅ شک نه شته او دا ؟

قطونې د مارويې په لور اشاره وکړه •

د خینس دځواب نه مخته مارويې د سر په خوځولو ځواب ورکړ•

اوس نو د قطونه په ځاې ارطبون په خبرو پیل وکړ •

زویه ! ما خو فکر کاوه چې زه به ستا واده د قطونې سره کوم خو اوس•••

قطونې دارطبون خبره پرې کړه •

بابا ته چپ اوسه • ••••دا زما خبره ده او زه به پخپله خبره کوم ••

اوس نو هغې نیغ په نیغه دمارويې سره خبرې پیل کړې •

که چیرې زه دخینس سره واده کول غوارم نو ایا ته به پرې اعتراض وکړې ؟

ماروی په پټه توګه دخینس په لور وکتل بیا یې په ډیر ټیټ اواز سره وویل : که چیرې ته هم دخینس سره واده وکړې نو ماته به دخوشحالی سبب وګرځې او که چیری ته دا محسوسوی چې زه به ستاسو تر منځ دیوال وګرځم نو بیا به شاته ولاړه شم •

قطونه ډیر مطمئنه ښکاریده •

ته زما په لاره کې خنډ او دیوال نه یې ، زما څخه خو مخته په خینس ستا حق دې او که چیرې ته بل څوک په دې حق کې له ځانه سره نه شریکوې نو بیا به زه د تل له پاره ستاسو د دواړو د نړۍ څخه بیرون شم •
هیڅکله به تاسو دواړه غمژن نه کړم •
ماروه ورمخته شوه او د قطونه سره ورغاړې وتله •
اوس نو زما اوستا منزل یو دې او تر هغې چې زه ژوندۍ یم له تاڅخه به ستا منزل څوک وا نه شي خیستلې •
اوس نو ته خوشحاله او مطمئنه اوسه •
قطونه هم په خندا شوه اوپه ډیر زور سره ماروې ته ور غاړېوتله • چاپیریال بیا د خوشحالیو نه ډک شو ، قطونه د ماروې څخه جدا شوه او خپلې خیمی ته ولاړه او بیا لږه شیبه وروسته یې ددواړو تر مخه خوراک څښاک کیښودله •
***
لا تر اوسه قطونه د خوراک څښاک د لوښو په ایښوولو کې بوخته وه چې یو ترک خیمې ته راننوت او دارطبون تر مخه یې درنښت وړاندې کړ اوبیا یې ورته وویل :
سرداره ! هغه هیئت چې د سولې کولوله پاره ورغلې و هغه بیرته راستون شوې دی •
ارطبون دخپله ځایه راپورته شو •
هغوې سمدلاسه دننه را ولیږه
د څلوروکسانو نه جوړ شوې هیئت دننه خیمی ته راننوت ، ارطبون په ډیره ناکرارۍ سره د هیئت دغړو څخه وپوښتل : خبرې اترې څه ډول پای ته ورسیدی •
د هیئت یو غړي په ډیره درنه توګه وویل : هغوې د سولې وړاندیز مسترد کړ •
ارطبون چوپ شو اوپه څه فکر کې ډوب شو •

تر دې وخته پورې قطونې د ماروی او خينس تر منځه خوراک څښاک خپره کړې وه ، بيا پخپله هم دهغوی تر منځه کيناستله او په ډيره مينه يې په خندا کې وويل : خورئ •

دهيئت هغه غړي يو ځل بيا وويل : کيداې شي چې هغوی سولې ته تيار شي ، خو په هغوی کې څلور داسې ځوانان دي چې د سولې د خبرې د اوريدو زغم هم نه لري ، هغوی ددوارو قبيلو تر منځ ميدان ته راغلي او دريدلي دي ، هغوی وايي چې دا ځل به ددوارو قبيلو تر منځ جنګ هرو مرو کيږي او پريکړه به کيږي ، مونږ به د ترکانو د قبيلي څخه د څلورو پيغلو نجونو له ځان سره روانو او دا معامله پاې ته رسوو او له دوی سره به په دې اره خپل حساب پاکوو •

ارطبون په قهر سره راپورته شو •

دا هيڅکله هم شوني نه ده ••• که زما دقبيلي د کومې پيغلې په لور سترګې هم راپورته کړي نو زه به د سفديو جالې تباه کړم ••

خينس خولې ته لومړی کپ ور وړې و• خو هغه دا کپ لری و غورځوو او راپورته شو ، مخ يې د قهر نه سور شين کيده ، ماروه اوقطونه دوارو دهغه په لور په ډيرې وار خطايې سره کتل ، ارطبون هم انديښمن شوې و•

خينس د خيمې نه بيرون راووت •

او ددوارو قبيلو ترمنځ د خالي ميدان جايزه يې واخيسته ، هلته د سفدي د قبيلي څلور کسه ځوانان تيار ولاړ وو اوپه ډيره ناکرارۍ سره يې دترکانو د خيمو په لور کتل •

ارطبون ، ماروه او قطونه هم دخيمې څخه رابيرون شول اودهغه تر شا و دريدل ، خو هغه ته ددوی شتون احساس هم نه شو•

اخر ارطبون دهغه خيالات خپاره کړل او ترې ويې وپوښتل : څه ګورې ؟

خينس دهغه په لور دکتلو پر ځاې دميدان په لور وکتل اوبيا يې غږ پورته شو ، داسې لکه د ډير لرې څخه چې خبرې کوي •

مرګ •

ارطبون ورته په غمژنه توګه وویل: د چا مرګ

د هغو څلورو سپرو مرګ چې په میدان کې ولاړ دي او ستاسو دقبیلي په لور ګوري •

هغه یو ناڅاپه دخیمې څخه دخپل اس په لور ورمنډه کړه او په اس دکیناستو سره سم یې هغه اوسپنیز زنځیر د زین څخه را خلاص کړ او په خپل لاس کې یې خوځوو او اس یې دهغوې په لور ور هئ کړ•

هغه په میدان کې یو اوږد چکر وواهه ، ټول سغدي او ترکان د خپلو خیمو څخه راووتل او دمیدان په شاوخوا کې سره راټول شول •

د هغوې په لور د اس د ورځغلولو او هغوې ته د ورسیدو سره سم یې دخپل اس واګې دهغوې تر مخه کش کړي ، اس په دواړو پښو لکه د الف په څیر و درید او و شنهید او بیایې خپلې دواړه مخکنۍ پښې په هغه تیږ لوړه ځمکه را خلاصې کړې چې اور بڅرکې یې د تیږو څخه والوزول •

ددی سره سم خینس په لوړ اواز سره وویل : ایا تاسو هغه څلور کسان یاست چې ددواړو قبیلو ترمنځ د سولي دکولو له پاره دیوال ګرزیدلي یاست ؟

دهغوې څخه یو تنومند رامخته شو •

هغه هم دخپل اس واګې راښکودې او په قهر سره یې وویل : یقینا چې مونږ همغه څلور کسان یو، ایا د ترکانو تر منځ بل کوم ځوان نه و چې هغوې یوازې له تا څخه د قربانۍ وزه جوړه کړې او را لیږلې یې او یا داچې ته پخپله د خپل ژوند نه بیزاره شوي یې ، بیرته ستون شه او ترک سردار ته ووایه چې زمونږ د څلورو په مقابلې کې خپل څلور کسه تکړه ځوانان را ولیږي ، دا چې ته یې ځانته دلته رالیږلې یې ، دا یې زمونږ بې عزتي کړې ده •

خینس په قهر سره زنځیر خوځوو او ځواب یې ورکړ : که چیرې تاسو څلور کسان ستاسو په مقابل کې زما ځانته راتګ د خپل ځان بې عزتي ګڼئ نو واورئ ! زه هم د یوازې ځان د خلکو سره د مقابلې کولو عادي نه یم •

زما دې د کعبې په رب سوګند وي ، تاسو څلور واړه زما مقابلې ته راشئ ، که زه تاسو د لوبو د سامانو په څير ونه مرورم نو زه به انسان نه يم او که چيرې تاسو څلور واړه زما مقابلې ته نه شئ راتلاې نو بيا د ماتې خوړلو سپيو په څير لکۍ ښکته کړئ اوبيرته ستانه شئ اوخپلې قبيلې ته ورشئ ، خو که چيرې په تاسو څلورو واړو کې دومره همت وي نو رامخته شئ ، زه تاسو ټولو ته د يوه په مقابله کې د مقابلې کولو بلنه درکوم •

د هغو څلورو واړو مخونه دغصې او قهر نه تک سره شول •

د هغوې نه هيڅ يو دده دخبرې ځواب ور نه کړ ، خو په سترګو سترګو کې يې پريکړه وکړه اولړه شيبه کې يې په پوره قهر اوغضب سره خينس په خپله ګيره کې راوخيست •

خينس هم دخپل اس څټ و مښوده او اس ته يې لغته ورکړه ، اس هم دميدان اوږود چکر ته ځان تيار کړې و ، په دې اساس يې په پوره قوت سره منډه کړه ، اس دخپلې شا دواړه پښې يې په زوره په ځمکه وهلې تر څو د ځمکې څخه ګرد او دوړه راپورته شي او کيداى شي دا يې د خپل مالک له پار د فضا د برابرولو په خاطر کړې وي •

په داسې حال کې چې ځمکه تيږلوړه وه خو د خينس داس دپښو اوځه د هغو نورو د اسونو د پښو څخه دومره دوړه راپيدا شوه چې دا پنځه کسان په کې په اسانۍ سره نه تر سترګو کيدل او نه دا پريکړه شوني چې وکتل شي چې چا پر چا حمله وکړه •••

په دې وخت کې د خينس تر شا ناست شاهين هم والوت او د هغه تر مخه داس په څټ باندې کيناست او د خپل مالک خينس سترګو تـه يې سترګې و نيولې •

شايد چې د اس دغه دول ځغاسته به دهغې له پاره دا نښه وه چې په دښمن دحملې کولو وخت را رسيدلې دې •

کله چې څلورو واړو سفدي ځوانانو د هغه دايره را تنګه کړه نو په همدې وخت کې هغه خپل شاهين ته اشاره وکړه •

د اس په څټ باندې ناست شاهين والوت او دسفدي په اس باندې يې خوله ورښخه کړه • په همدې وخت کې خينس هم په يوه سفدې باندې دخپل دروند اوسپنيز زنځير په واسطه حمله وکړه •

هغه خپل زنځير و څرخوو او په سر يې هغه پرې وواهه • دهغه سر د پښخې هندوانې په څير ټوټه ټوټه شو ،په ځمکه راپريوت او له منځه ولاړ •

خينس سمدلاسه په يوه بل سفدي باندې ورتاو شو ، هغه په خپله توره په خينس باندې حمله کول غوښتل خو خينس دهغه وار په ډال واخيست او هغه يې هم په زنځير په سر وواهه ، هغه هڅه وکړه چې دخينس د زنځير ګذار په ډال واخلي خو ناکامه شوه او مرګ کومې ته ورښکته شو •

تر دې وخته پورې شاهين هم خپل کار کړې و او ددوو سفديانو سترګې يې ويستلې وې ، هغوې پخپلو اسونو باندې ناست او فريادونه کولو خينس بيا بيا هغوې په سرونو په زنځير ووهل او له منځه يې يوړل •

اوس نو ګرد وغبار له منځه تللې و ، بيا سفديانو او ترکانو وکتل ،چې په ميدان کې يوازې خينس ولاړ دې ، څلور واړه سفديان په ځمکه مړه پراته دي او د هغوې اسونه په تيښته تر خيمو رسيدلي دي •

خينس دخپل اس مخه را وګرځوله او د سفديانو د خيمو په لور يې په ځغاسته کړ •

شاهين يې هم په هوا کې پريښود ، هغه اوس د هغه سره يو ځاي په هوا کې الوت •

سفديان دخپلو خيمو تر مخه وسله په لاس ولاړ وو، د هغوې ترڅنګ دهغوې ښځې او نارينه هم ولاړ وو•

خينس دهغوې ترڅنګ اس ځغلاوه او ورته يې وويل : سفديانو! زه ترک نه يم ، عرب يم او ستاسو له پاره مې د سولې پيغام راوړې دی •

تر هغې چې دسفديانو خيمې نورې پاې ته رسيدلې خينس و لاړ او د هغه ځايه بيرته را ستون شو او دا ځل دهغوې دخيمو کين لورې ته ولاړ ، شاهين يې هم په سر ګرځيدلو •

کله چې هغه بیرته د ارطبون دخیمې مخې ته راغې او د اس نه راښکته شو، نو ارطبون ورمخته شو اوهغه یې د خپلې سینې سره یو ځای کړ او په خندا یې ورته وویل: ته یو زړه سپاهې او نیک زړې زوې یې

خینس دهغه څخه جدا شواو نیغ خیمې ته ورننوت ، ماروه او قطونه هم دهغه تر شاشا روان وو ، خیمې ته د راننوتلو وروسته ماروه دخینس تر مخه و دریدله او د بُت په څیر یې په ډیر حسرت سره ورته کتل • ځکه دهغه کالي په وینو ککړ وو •

قطونې صبر ونه کړ وویل: خینس یې له لاسه و نیوه اوبه ډیره مینه یې ورته وویل: زخمې شوې خو به نه یې ؟

نـه !

قطونه خوشحاله شوه ، ماروه هم مسکۍ شوه •

قطونې دخینس څخه چپنه را وویستله او د پریمنځلو له پاره یې بلې خیمې ته یوړه ، ماروې هم یو لوښې کې اوبه راوړې او دخینس مخ او لاسونه یې پرې پریمنځل ، د مخ او لاس پریمنځلو وروسته خینس بیرته ولاړ او د ارطبون تر څنګ په یوې چوکۍ کیناست •

ارطبون ترې په ډیره مینه و پوښتل: اوس خو راغلې یې ، یو څو ورځې خو به دلته اوسې •

خینس خپله خوله په دستمال وچه کړه او ځواب یې ورکړ: سرداره ! زه افسوس کوم ، چې زه به ډیره موده دلته پاته نه شم ، زه سبا سهار له دې ځایه روانیږم ، دنسف ښار نه د ماروې مور او غلام هم له ځانه سره اخلم هغوې دواړو هلته په یو سراې کې اړولې دي او په ډیره ناکرارۍ سره زمونږ انتظار کوي ، دوې دربواره بیایم خپل کور ته او بیا بیرته دلښکرو په لور را ستنیږم •

کیدای شي ارطبون به لږ نورڅه هم ویل غوښتل خو قطونې خوراک څښاک لوښې راوړه •

هغه ډیره خوشحاله او مطمئنه وه •

خينس او ماروه هم په چوپتيا سره ناست و او خوراک ئښناک يې وکړو •

***

بله ورځ لا تياره وه چې ارطبون دخپلې قبيلې سره يو ځاې دهغه ځايه کوچ وکړ ، د شپې په تيارو کې د اسونو شنړهار او د ميږو دګينګړيو شرنګهار تر ډيرلرې پورې اوريدل کيده •

ماروه او خينس هم د کاروان سره يو ځاي څو فرلانګه يو ځاي سفر وکړ • خو بيا د غرونو په لمن کې په يوې څلور لارې کې سره جدا شول •

د خينس او ماروې په جدا کيدو سره قطونه په ژړا وه ، کله چې ماروې ته ور غاړې وتله نو په زوره زوره يې وژړل ، ماروي په ډيره مينه دهغې په غوږ کې وويل کله چې خينس د جنګ نه را فارغه شي نو زه به يې ستا د راوستلو په خاطر را وليږم ، بيا به ته دتل له پاره زمونږ سره يو ځاي يې • دخينس دښځې او زما دخور په څير •

قطونه لږ څه کنترول شوه •

سردار ارطبون هم دخينس سره ورغاړيوت بيا وروسته هغه دماروې سره يو ځاې په يوې لاره باندې سر شو ، دا لاره د جنوب غرب په لور تلله •

دکاروان مخ د بدخشان په لور وو ، د خينس او ماروه مخ د سترې لارې يا شاهراه په لور و ، دا شاهــراه د نسف د ښار څخه تيريدله او د بخارا په لور ورتلله •

يوه ورځ په داسې حال کې چې لمر ناست و او د ماښام تيارې په خپريدو وې خينس او ماروه د نسف ښار ته ورننوتل •

د بازار څخه دتيريدو وروسته ماروې د يوه سراې په لور اشاره وکړه ، بيا دواړه منځکې وروسته هغه سراې ته ور ننوتل •

دسراې په لاندې برخه کې ماروه د خينس سره يو ځاي يوې لورې ته ولاړه ، هلته دهغې مور او غلام دواړه تم شوي و• خو ويې کتل چې کوټه خالي ده •

ماروې په پوره حيرانتيا سره دخينس په لور وکتل •

خينس ترې وپوښتل څه شوي دي ؟

ماروې په ژرغوني اواز ورته وويل : مور او طوانه خو دلته نه شته ٠

ايا ته ډاډمنه يې چې هغوې همدلته ميشت شوي و٠

زه بلکل ډاډمنه يم چې هغوې همدلته وو ٠

خينس ورته وويل : همت له لاسه مه ورکوه ، ٠٠٠٠راځه چې د سراې دمالک نه يې پوښتنه وکړو ، کيداې شي چې د احتياط په توګه يې کوټه بدله کړي وي ٠

دواړه دسراې د مالک خواته ورغلل او ورځخه يې وپوښتل : دلته ستاسو په سراې کې يوه ښځه ميشت شوې وه ، چې قراطيس نوميده او د هغې سره يې غلام هم و ، دهغې دغلام نوم طوانه دې ٠

ايامونږ ته ويلې شې چې هغوې په کومې کوټې کې دي ؟

د سراې دمالک مخ ژيړ شو او په ډير افسوس سره يې ځواب ورکړ :

زه افسوس کوم چې ما دهغې ښځې ساتنه و نه شوه کړاې ، يوه اونۍ وشوه چې څو وسلوالو کسانو ناځاپي حمله وکړه٠

هغوې هغه ښځه په ډيره بې دردۍ سره ووژله ، خو غلام يې چيرې وتښتيد ٠ زه افسوس کوم چې دا پيښه زما په سراې کې رامنځته شوې ده ٠ دغه نجلۍ چې ستا تر خوا ده ( ماروه ته يې اشاره کوله ) هم دلته په سراى کې تر څو ورځو پورې ميشت وه ، کيداې شي چې دا به د هغې ښځې لور وي ، حمله کونکو دهمدې په اړه پوښتنې کولې ، کيداى شي چې هغوې به ددې دتښتولو اراده درلوده ، ما د هغې ښځې لاش د ښار په هديره کې خاورو ته سپارلې دى ٠

خينس غوښتل څه ووايې چې په دې وخت کې لس کسه تر خولو پورې په وسلو سنبال ځوانان په ناځاپي توګه را ننوتل ٠

خينس د سراې د مالک سره په خبرو کې بوخت و په دې خاطر د هغوې د راتلو څخه بې خبره پاته شوې و، دې وسلوالو ځوانانو په ډيره بيړه د خينس او ماروې لاسونه ترشا و تړل او بيا يې په څپلو اسونو کينول او دشپې په تيارو کې د نسف د ښار کوټې څخه بيرون شول ٠

د ښار نږدې ددرې فرلانګه واټن وهلو وروسته دغو وسلوالو ځوانانو خپله مخه د ترمز د ښار په لورې وګرځوله ، چې ددې نه دا ډاګیزه کیده چې دوې د توفیل اړوند خلک دي ، خو دوې د ماروه او خینس دواړو له پاره بیګانه وو .

د شپې په تیارو کې ددوې څخه درې کسان مخته روان وو او نور کسان یې په پوره چوپتیا سره تر شا شا تلل .

ماروی د خینس په لور وکتل ، دهغه لاسونه دهغه تر شا ډیر کلک تړل شوي وو او سر یې ټیټ کړې و .

ماروې دهغه په دغه حال باندې ژړا کوله .

په دی وخت کې په ناڅاپي توګه د خینس اواز راپورته شو ، هغه دغو وسلوالو کسانو ته ور غبرګ کړ او ورته یې وویل : که چیرې کومه کمبله لرئ نو هیله ده چې را باندې به یې واچوئ ، زه به ستاسو ممنون اوسم ، ځکه پر ما بتکۍ راغلې او یخني مې کیږي ، په دې وخت کې ماروې نور هم په زور زور ژړا پیل کړه . ځکه هغې ته دخینس دغه حال د زغم وړ نه وو .

د وسلوالو له ډلې څخه یې یوه دخپل اس د زین لاندې یوه وړینه توره کمبله را وویسته او په خینس یې ور واچوله .

په دې وخت کې دخینس کمزورې او مظلومانـــسه اواز یو ځل بیا واوریدل شو .

که تاسو اجازه راکوئ نو زه به ددې اس په ملا څملم او ارام به وکړم ځکه په دغه دول کیناستو سره به زه دسفر په جریان کې ومرم ...

په دې وخت کې دماروې سلګۍ هم بندې شوې وې .

هغه کس چې ده ته یې کمبله ورکړې وه یو ځل بیا پـــه خبرو پیل وکړ وویل : ایا ته د اس په ملا څملاستلې شې ؟

خنیس وویل : هو .

ستا خو لاسونه اوپښې دواړه تړلي دي ، د اس نه به لاندې پریوځې نه زه ددې شیانو سره عادي یم .

نو که چیرې ته پخپله دخپل ځان له پاره دمرګ غوښتونکې یې ، نو سهي ده ځمله ، مونږ ته یې څه ، مونږ خو تا ژوندې یا مړ د توفیل مخې ته رسول غواړو •

خینس په ډیر احتیاط سره ځان متحرک کړ •

هغه لږ لږ رامخته شو او د اس د څټ په لور مخ په شا ځملاست • اس هم کوم اعتراض و نه کړ ، خو وبړید ، شاید چې غوښتل یې په خپله بنده ژبه دخپل مالک سره څه ژمنه وکړي •

خینس خپلې اوږې او لاســونه و خوځول او کمبله یې پــه خپل ځان جوړه کړه ، بیا په زین باندې سر کیښود او خپل ټول ځــان یې په کمبله کې را و نغښت •

شاهین لا تر اوسه په زین باندې ناست و او د هغه هر حرکت یې په ډیر غور سره کتلو •

څه پیښیدونکي وو؟

هیڅا ته یې په اړه معلومات نه و •

په هر حال د خینس اس او د هغه شاهین دواړو د خینس ټول حرکات په پوره غور سره کتل ، ماروی هم خپل اس د خینس د اس څنګ ته راوړې و •

نژدې یو میل سفر جریان درلود •

خینس د کمبلې څخه خپله یوه سترګه را ویستلې وه اوپه پټه یې دحالاتو څارنه کوله ، شاهین یې هم تر څنګ ناست و •

تیاره پوره خپره شوې وه او سفر په پوره چټکتیا سره جریان درلود •

د ونو بوټو د یوه ځنګل څخه د تیریدو په وخت کې تیاره نوره هم ژوره شوې وه • خینس د تیارې نه په ګټې اخیستو سره خپله ښۍ پښه لاندې کړه او د اس پښه یې پرې درې ځلې ووهله •

اس په زوره زوره و شنړید •

بیا د تلو تلو په وخت کې یې اس خپله خوله را وګرځوله ، په دې وخت کې خینس خپل ترلي لاسونه د اس خولې ته ور نژدې کړل •

اس رسی په خوله کې و نیوله او ویې ژووله ، لږه شیبه کې اس رسی و ژووله او پرې یې کړله او بیرتـه یې خپل مخ مخې ته کړ او په تیښته یې پیل وکړ ۰

خینس کرار کرار د ناروغانو په څیر راپورته شو اوپه زین باندې نیغ کیناست ۰ خو کمبله یې همغسې په خپل ځان را خپره کړې وه ، شاهین یې هم والوت او د هغه تر مخه د اس په څټ کیناست ۰

د اوسپنې زنځیر یې چې د اس د زین سره تړل شوې راپرانیست اوپه لاسو کې یې و نیوه ، په دې وخت کې یې سترګو په تیارو کې خپل کار اوفعالیت پیل کړې و ۰

کله یې چې په خپل ښي لاس د هغو مخکې تلونکو درې کسانو په لور اشاره وکړه نو شاهین یې ور والوت اوپر هغوې ور ونښت ۰

په دې وخت کې خینس کمبله لرې و غورځوله ،په کیڼ لاس کې یې ډال و نیوه او په ښي لاس کې یې زنځیر واخیست او هغه یې بیا بیا ګرځاوو اوپه وسلوالو ځوانانو یې را غورځاوه ، د سترګو په رپ کې دهغوې د پنځو کسانو سرونه شکولي و، مخته شاهین هم د هغو مخکې تلونکو دریواړو کسانو کار سر ته رسولې و، هغوې یې د اسونو څخه راپرېوستلي اوپه ځمکې غورځولي وو۰

اوس نو یوازې دوه کسه ځوانان پاته شوي وو۰ هغوې هم په دې تیاره کې یو بل ته کتل تر څو پریکړه وکړي چې څه ډول په خینس باندې حمله وکړي ۰

ماروه چې یوی خواته ولاړه وه په دې نا څاپې انقلاب راتلو باندې حیرانه پاته وه ۰

دخینس خواته راغله ۰

خینس یې د لاسو څخه رسۍ پرانستله ، ماروې هم دهغه دملا څخه توره را واخیسته او د مقابلې له پاره تیاره و دریده۰

اوس نو شاهین دخینس دپاسه داسې گرځیده چې په دې تیاره شپه کې یې د وزرونو پرپړار په زړونو کې ویره اوهیبت راپیدا کاوو بیا په دې خطرناکه او ویره وهونکې حالاتو کې نور هم بدلون رامنځته شو ٠

کله چې خینس خپله نا اشنا او زړه لړزونکې قهقه خندا وکړه او خپل هغه زنځیر یې و خوځوو چې دوینو څاڅکې ترې لاندې څڅیدل او یو ځل بیا دهغوې دوه پاته وسلوالو کسانو په لور وړاندې شو ٠

هغوې دواړو هم په خینس باندې حمله وکړه خو زور یې و نه رسید ، خینس هغوې دواړه لاندې کړل او په ډیر کم وخت کې یې له منځه یوړل ٠ ماروې هم د جنګ له پاره خپله ملاتړله خو خینس تړوله لوبه په ځانته ځان په یو ځل پاې ته ورسوله ٠

ماروه یو ځل بیا دخینس لورې ته راغله او خپله را ویستلې توره یې بیرته په تیکې کې کیښوله او په خندا یې وویل:

د چا چې ته محافظ واوسې نو هغه به د نړۍ د هرې ویرې څخه بې پرواه اوسي ، په دادمنه توګه ویلي شم چې ته د معمولې انسانانو څخه نه یې ، که چیرې ته دکوم فوځ سپه سالار واې نو هغه فوځ به د نـړۍ کامیابه فوځ وو٠

خینس ورته وخندل: ښه شوه چې تا ته هم ډاګیزه شوه چې تا هم دخپل ځان له پاره غلط محافظ نه دې ټاکلې ٠

ماروه نوره هم خوشحاله شو وویل : یقین او داد خو ماته د همغې لومړۍ ورځې څخه تر لاسه شوې و ، خو اوس په کې نور هم پوخوالي او قوت راغې ٠

خینس د ماروې خواته ور نژدې شو او په ډیره خواخوږۍ سره یې ورته وویل: زه ستا دمور په مرینه ډیر غمژن شوې یم ٠

دماروې رنګ تک ژیر شو٠

تر لږې شیبې پورې یې خپلې شونډې چیچلې اوبیا یې د سترګو نه د اوښکو باران په وریدو شو، خو د ډیر ضبط سره یې وویل:

د زرتشت خدای ته به همداسې منظور وو، زه يې پريکړه په ډير صبر سره قبلوم •

خينس ترې بيا وپوښتل اوس چيرې تلل غواړې ؟

ماروې خپلې اوښکې پاکې کړې •

نيغ کورته ځو ، اوس خو زمونږ له پاره هر قدم کې خطره ترمخه ده •

د طوانې سره څه وکړو ؟

هغه په دې نړۍ کې هيڅوک هم نه لري ، زما په اند چې هغه به تښتيدلې وي او نيغه به ستاسو کور ته ورغلې وي، مونږ هم بايد ددې ځايه ولاړ شو ، هسې نه چې بل کوم خطر مو را ګير کړي •

خينس خپل اس بيرته را وګرځاوو•

بيا نو را ځه •

اوس نو يو ځل بيا خپل اسونه د نسف دښارګوټي په لور په پوره ځواک سره ځغلول ، د نسف ښارګوټي ته د رارسيدو سره سم يې ، د تم کيدونه د بزده د لارې نه دبخارا په لور روان شول • بخارا ته د ور رسيدو سره سم يې هلته په يوه سراې کې د يوې شپې له پاره قيام وکړ او بله ورځ بيا دخپل منزل په لور په چټکۍ سره روان شول •

***

يوه ورځ په داسې حال کې چې هغوې د کلي د څرځاې ترڅنګ تيريدل نو دکلي خلکو يې په کتلو سره په زوره زوره چغې کړې خينس راغې ... خينس راغې !

دهرې لورې نه همدا غږ را پورته کيده •

کله چې خينس دماروه سره يوځاې د خپل باغ څخه تيريدل نو ويې کتل چې د باغ له منځه احمد او طوانه هم را ووتل او په هغه لاره کې و دريدل په کومې چې خينس او ماروه تيريدونکې وو ، د هغوې دواړه په اوږو باندې کُدالونه وو•

ددوي خوا ته په را رسيدو سره خينس دخپل اس نه راښکته شو او ددواړو سره يې په غيږ ستړي مشي وکړل ، ماروه هم دخپل اس نه راښکته شوه او احمد ته يې سلام وکړ •

کله چې د طوانې سترګې په ماروه و لګيدې نو د سترګو نه يې اوښکې روانې شوې ، سمدلاسه يې سترګې ښکته کړې او په ټيټ سره يې وويل افسوس چې ما ستا دمور ساتنه و نه شوه کړای •

ماروې ورته په ژړيدونکې اواز وويل طوانه اوس خو ته غلام نه يې د نن ورځې وروسته ته ازاد يې او زما ورور يې •

طوانه خپلې سترګې پاکې کړې اوپه خندا شو زه به ستا په څير خور باندې د تل له پاره وياړ کوم •

په دې وخت کې خينس وويل طوانه دا دې ډير ښه کړې چې دلته راغلې يې د طوانه اواز يو ځل بيا ډوب شو •

ددې نه پرته زما بل ځاې هم نه و •

خينس احمد ته په خبرو کې وويل وروره دا دې ولې کار کولو ته ګمارلې ؟

احمد ورته خپله پاکې بيان کړه ما خو دا ډير منعه کړ ، خو ويل يې چې که ما کوم کار کولو ته پرې نږدئ نو بيا زه دلته نه اوسيږم بيا به دخپل سر د پټولو له پاره دبل کوم لټه کوم •

خينس يې په لور وکتل •

په دې وخت کې طوانه پخپله په خبرو پيل وکړ وويل ګوره زه اوس غلام نه يم بلکه يو ازاد وګړې يم او ددې کور يو غړې يم • ددې نه پرته ته زما ښخه کشر يې ، په دې خاطر به زما په کار کې مداخلت نه کوې ، د کور کارونه تر سره کول زما دنده ده •

خينس په دغه خبرې باندې په خندا شو •

احمد او طوانه د هغوې نه مخته مخته روان شول اوپه همدې توګه کلې ته ور ننوتل •

د کلې دښځو همغه خواږه اوازونه یو ځل بیا په اوریدو شول : اهلا و سهلا ومرحبا ۰

کله چې دوې خپل کور ته ورننوتل ، نو سلامه ورمنډه کړه او خینس یې په خپله غیږ کې را ونغاړه ، مراجل او دمنه بیا بیا د ماروه سره روغبړ وکړ ۰

بیا د خینس سره د روغبړ وروسته سلامه د ماروه په لور ورغله او هغې ته یې تسلي ورکړه ۰

لورې ! زه افسوس کوم چې ستا مور وژل شویده، اوس نو دا غم له یاده وکاږه او ما د خپلې مور په ځای وګڼه ، زه په دې کور کې ستا خوشحالي غواړم ، ته به د نن ورځې وروسته ددې کور مالکه اوسې ۰۰

ماروې د سلامې په سینې باندې سر کیښود او په لوړ غږ یې وژړل ۰ سلامي ، مراجلې او دمنې دریواړو ماروې ته لاس ورکړ او هغه یې له ځانو سره یو ځای د ښځو ناستځای ته روانه کړه ۰

***

په ۸۸ هجري کال قتیبه رحمه الله یو ځل بیا دخپله ځایه را ووت او د ترمز له لارې یې د جیحون سیند ترشا پریښود ، د هغه لومړنی عسکري دله د هغوې څخه څو مایله واټن کې مخته د شمال په لور پرمخ روانه وه ۰

قتیبه رحمه الله دشمال په یوه مهم ښار نومشکت باندې دخپلو وینه زیبښونکو ځواکونو سره یو ځای یرغل ور وست ، خو دا ښار یې د کوم خنډ پرته په خپلو لاسو کې واخیست ، ددې ځایه د فراغت وروسته یې په یوه بل ښار مثنه باندې د یرغل نیت وکړ اود څو ورځو منډو ترړو وروسته یې هغه هم دخپلو پښو لاندې کړ ۰

ددې ځایو څخه د راستنیدو په وخت کې د چین د پادشاه وراره دترکانو د سغدیانو سره یو ځای ددوو لکو وسلوالو ځواکونو په مرسته پرې ترشا حمله وکړه ۰

قتیبه رحمه الله ته یې یو شمیر پوځي سالارانو مشوره ورکړه چې د وخت د نزاکت له مخې باید ددې ځایه خپلې پښې سپکې کړي ، خو قتیبه رحمه الله د خپلو لښکرو دکمښت سره سره بیا هم دهغوې د ځواکونو دډیرښت

پرواه و نــه کړه او بیرتــه ورستون شو او د یوه وینه تویونکې شاهین او یا زخمي وحشي ځناور په څیر یې پــه هغو دوو لکو ځواکونو بانـدې حمله وکړه •

د هغه سره په دې جنګ کې د بادغیس حکمران نیزک چې د بني تمیم د قبیلي یو شمیر کسان یې له ځانه سره بندیان کړي وو او بیا یې د همدې قتیبه رحمه الله په حکم پریښوول هم ملګرې و، نومورې په شمالي سیمو کې د قتیبه رحمه الله ډیره ښه ملګرې ثابت شو •

د چین د پادشاه وراره دخپلو دوو لکو ځواکونو د موجودیت سره سره بیا هم د قتیبه رحمه الله په مقابل کې تر ډیره تم نه شو، ځکه قتیبه رحمه الله د خپل یو موټې لښکرو سره د هغوې دوه لکه ځواکونه داسې را ګیر کړي و چې هغوې ته د شاتلو نه اخوا بله لاره نه وه ، په دې اساس چینایې لښکرو په ډیره لږه شیبه کې د قتیبه رحمه الله په لاسو ماتې وخوړه او دمیدانه و تښتیدل •

ددې ځایه د فراغت وروسته قتیبه رحمه الله په ۸۹ هجري کال په بخارا باندې حمله وکړه ، د بخارا پادشاه په ډیره میړانه د هغه مقابله وکړه او قتیبه رحمه الله یې مجبور کړ چې د بخارا کلابندي ختمه کړي او بیرته مروې ته وګرځي ، کله چې حجاج بن یوسف دهغه ددې نیت څخه خبر شو نو د جنګ نوي نقشه یې ورته جوړه کړه او د نوو تفصیلاتو سره یې یو ځاي ورولیږله او حکم یې ورته وکړ چې په بخارا باندې یو ځل بیا حمله وکړي •

په ۹۰ هجري کال قتیبه رحمه الله یو ځل بیا په بخارا باندې حمله وکړه ، د بخارا پادشاه د ترکانو او سغدانو څخه مرسته وغوښته خود بخارا پادشاه ته دهغوې د مرستې د را رسیدو نه مخته قتیبه رحمه الله د بخارا ښارګوټې په خپله کلابندۍ کې اخیستې و ، هغه په دې پوهیده چې دبخارا پادشاه ته د ترکانو او سغدانو د مرستې د رارسیدو نه وروسته ده ته ستونزې زیاتیږي په دې خاطر یې په ډیره بیړه په ښار باندې خپله حمله پیل کړه •

د ترکانو اوسفدانو د مرستې په هیله د بخارا د خلکو حوصلې پوره لوړې شوې وې ، هغوې د ښار نه بیرون راووتل او د ښار شاوخوا کانال ځخه را تیر شول اوپه مسلمانانو باندې یې حملې پیل کړې ، هغوې په خپله همغه لومړنی حمله کې اسلامي لښکرې شاته و تمبولې ۰

د اســلامي لښکرو دغه شاتــه تمبول ، په مسلمانو عسکرو کې غیرت را وپاروو ، هغوې د تکبیرونو غږ پورته کړ اوپه لړه شیبه کې یې لومړیو جنګیالیو د مرګ اوژوند د لوبې په لوبولو سره دبخارا په لښکرو په نوي جوش او نوي بڼه حمله پیل کړې وه ، هغوې ددښمن زره په لړزه راوست ۰ ددوې سالارانو صالح بن مسلم ، خیتس بن یوسف او نصربن سیار په ډیره ښکلې او سرشاره جذبه د خپلو عسکرو نه مخته د دښمن لیکي پریکولې او مخته روان وو ۰

ددوې کالې ددښمن په وینو لړلې او رنګین شوې وو او د تورو ځخه یې د وینو ځاځکي را توییدل ، ددوې دغه لومړی دله ددښمن د لښکرو تر منځ داسې ور ننوتې وه لکه د چا په ګیډه کې چې خنجر ور ننوتې وي ۰

په همدې وخت کې بنې تمیم سردارانو وکیع او هریم هم د تکبیر اوازونه پورته کړل ، ددې سره سم د اسلامي لښکرو په څلورو وارو ځواو کې د تکبیر اسمان څیرونکې اوازونه پورته شول ، داسې ځرګندیده لکه اسمان چې وچوي اویا ځمکه د خپله ځایه متحرکه شي ۰

یو ناځاپه د اسلامي لښکرو له اړخه داسې حمله پیل شوه چې دښمن یې تیښتې ته اړ کړ، دښمن هم د تیښتې په وخت کې د نهر ځخه د تیریدو وروسته یوه جګ ځای ته وخوت ۰

د قتیبه بن مسلم رحمه الله په اشارې سره د بني تمیمو سردارانو هر یو وکیع او هریم دخپلو میرنو ځواکونو سره یو ځای نهر تر پښو لاندې کړ اوپه دښمن باندې یې حمله ور وړه ، دښمن د هغوې د حملې مقابله و نه شوه کړای او له سختې ماتې سره مخ شو ، د بخار پادشاه هم و تښتید او په دې توګه د بخارا په ښار د اسلام بیرغ په رپیدو شو ۰

***

د بادغیس حکمران چې یو وخت یې د بني تمیمو مسلمانانو له خپله ځانه سره بندیان کړي وو ، د قتیبه رحمه الله ملګري او ملاتړي وو ، تر څنګ یې دمسلمانانو د پرلپسې فتوحاتو له مخې یې هم په زړه کې ویره او رعب پیدا شوي و په دې خاطر د قتیبه رحمه الله له اړخه په ویره کې و ، بیا داګیزه نه شوه چې په زړه کې یې څه تیر شول چې د قتیبه نه یې اجازه واخیسته او دتخارستان په لور ولاړ ، هلته یې د هغه ځایه د بلخ ، مروې ، روز ، تالقان ، فاریاب ، جوزجان او ۰۰۰ درئیسانو سره سازش جوړ کړ او د بغاوت بیرغ یې پورته کړ او د تخارستان څخه یې دمسلمانانو حاکم په تیښته کړ ۰

کله چې قتیبه رحمه الله ته ددې بغاوت په اړه معلومات تر لاسه شو نو دخپل ورور عبدالرحمن تر قومندانی لاندې یې دولس زره لښکرې د بروقان په لور و استولې خو پخپله یې خپل ځان پوره تیار کړ او ددې بغاوت د ځپلو له پاره راووت ، لومړی تالقان ته راغې او دغه ښار یې د یوې سختې وینه تویونکې جګړې وروسته بیرته ولکه کړ ۰

د تالقان د سوبې وروسته یې د فاریاب په لور مخه کړه ، خو دهغه ځاې حاکم د اطاعت له پاره سر ټیټ کړ ، قتیبه رحمه الله بیا د هغه ځایه د جوزجان په لور مخه کړه ، دهغه ځاې حاکم ترې و تښتید او رعیت یې اطاعت قبول کړ ۰ بیا د بلخ په لور ولاړ او د دې ولایت حالات یې منظم کړل او د یوې شپې د تیریدو وروسته د نیزک په لټون پسې بیرون ووت او د همدې لټې په جریان کې ان د خلم دغرونو لمنو ته ورسید ۰

د غرونو دا لړۍ ډیره پیچلې او ستونزمنه وه ، نیزک په همدې غرونو کې چیرې پټ شوې و ، دلته په را رسیدو سره قتیبه رحمه الله د خپل ورورعبدالرحمن سره ، چې لا دمخه د نیزک د تعقیبولو په خاطر راوتلې وو ، یو ځاې شو ۰

د قتیبه رحمه الله د راتګ دخبر سره سم نیزک هلته دغرونو په نالو کې یوه دله عسکر پریښودل او پخپله د بغلان په لور و تښتید ۰

قتيبه رحمه الله ته د غرونو تر منځ دغه ځاې ته د ور رسيدو له پاره هيڅ لاره او ګودر معلوم نه و ، په دې خاطر په سخت کشمکش ګې را ښښتې و . په همدې وخت کې يو غرنې کس د قتيبه خواته راغې او هغه ته يې ددغې غره ټولې لارې چارې ور وښوولې .

د مسلمانانو يوه ډله د همدې غره دننه ولاړه اوپه يوه ناڅاپي توګه يې په دښمن يرغل ور وړ . دښمن ددې حملې د مقابلې توان نه درلود په دې خاطر يې ډير مړه او پاته د هغه ځايه وتښتيدل .

نيزک پخپله د فرغانې د ددرې څخه تير شوې و او د کرز په سيمه کې يې په يوې کلا کې ځان کلابند کړې و . خو قتيبه يې تر هغه ځايه په تعقيب پسې ور ورسيد .

ددې درې لارې ډيرې سختې او ستونزمنې وې ، خو قتيبه رحمه الله دا دره ټوله کلابنده کړه او تر دوو مياشتو پورې همله پاته شو ، په دې وخت کې نيزک د چيچک په ناروغتيا اخته شو ، تر څنګ يې دغذايې موادو ذخيرې هم پاې ته ورسيدې . خو د يخنۍ د موسم په را رسيدو سره قتيبه اولښکرې يې هم په ستونزو کې را ښکيل شوې وې .

اخر قتيبه رحمه الله يوه بله پريکړه وکړه او هغه دا چې د نيزک يو ډير باورې کس سليم يې ور وليږه ترڅو هغه په يوه چل ول سره بيرون راوکاږي .

سليم هم هغه په چل بيرون راوويست ، قتيبه رحمه الله نيزک او د هغه ټول ملګرې په بنديخانه کې واچول او د حجاج بن يوسف څخه يې نظر وغوښتل ترڅو همغه د نيزک دجرم په اره پريکړه وکړي ، ځکه د نيزک جرم ډير ستر او ډير سخت و . هغه د مسلمانانو سره خپله ژمنه ماته کړې وه او ټول تخارستان يې د بغاوت او سرکشۍ په لور را بللې و .

حجاج بن يوسف قتيبه رحمه الله ته د هغه د وژلو حکم را وليږه .

اوس نو يوازې د شومان حاکم پاته شوې و . ځکه ددې تګلاره لا تراوسه پورې د بغاوت نه ډکه وه .

قتیبه رحمه الله دخپله اړخه هغه ته یو لیک ولیکه او خپله دوه کسه سفیران یې دهغې لیک سره یو ځای دهغه لورې ته ور واستول ، تر څو د باغیانه لاروڅخه لاس واخلي او اطاعت ته تیار شي ۰

***

دشپې په تیاروکې ، په داسې حال کې چې دغه برینډه شپه په واوروکې د ککړو یخو توپاني بادونو په واسطه لړزې اخیستې وه او تر څنګ یې همدغو توپاني سیلیو په پوره ځواک سره د دښتو شګې له یوه ځایه بل ته په پوره بیرحمی الوزولې ، دوو اس سپرو د تیارو په دغو نغښتو کې د زنیل دسیند پــه غاړه غاړه خپل اسونه ځغلول ، دا دواړه د قتیبه بن مسلم سفیران و او د شومان دحاکم پــه لور یې دهغه لیکل شوې لیک او پیغام وروور ۰

په دوې کې یو کس خینس بن یوسف او بل یې نوفل بن مرجان و ، دوی دواړه د شومان د ښار په لور روان وو۰

دشپې دتیارو ۰۰۰۰۰د یخنۍ دبې رحمی او د یخو توپاني هواګانو د پروا کولو پرته هغوې دخپل منزل په لور په پوره چټکتیا سره تګ کاوه ۰

یوه ورځ په داسې حال کې چې لمر د پرېوتلو په حال کې و ، خینس او نوفل د شومان ښار ته ورننوتل ۰ کله چې دوې ښار ته ور ننوتل نو همغه بوډا یې وکتلو چې پخوا یې هم کتلې و،د هغه بوډا په غاړه کې همغه د لرګي کچکول را ځوړند و او دلرګي امصا یې په لاسو کې وه او د همدې امصا په مرسته یې حرکت کاوه ۰

هغه سړې دهمدوې لورې ته را روان و۰

کله چې هغه دخینس او نوفل خوا ته را ورسید ۰۰۰ نو تر لږې شیبې پورې یې خینس ته په غور سره وکتل او ځان یې نور هم ور نژدې کړ اوبیا یې دهغه په غوږ کې وویل : داسې معلومیږي چې په دې ښار یو ستر توپان را روان دی ۰

خینس ترې په پوره اندیښنې سره وپوښتل : ته څه ویل غواړې ؟

هغه بوډا چې نوطس نومیده مسکې شو او ویې ویل : ته خو ما پیژنې ؟

نه ٠

یو ځل ته دخپل مشر ورور سره یو ځاي ددې ښاره د خپلو کچرو سره یو ځاي وتلې وې ، دا هغه وخت و چې ته د اشناس ځخه د بدلې اخیستو په خاطر راغلې وې ، زه دې دهمغه ورځې را هیسې پیژنم ٠ که چیرې غلط نه اوسم او زما یادداشت زما سره تکې و نه کړي نو ستا نوم خینس بن یوسف دې اوستا د مشر ورور نوم حرب بن یوسف ٠٠٠٠ ایا زما په دې معلوماتو کې غلطي شته ؟

خینس لا تر اوسه هغه ته په پوره حیرانتیا سره کتل بیا وویل : ستا معلومات بلکل سهي دي ٠

اوس په کومه اراده راغلي یاست ستا مشر ورور یو ځل زما تر مخه ستا ډیره ستاینه کړې وه ٠ بیشکه چې ته داسې یو ځوان یې چې دخپل مقصد په تر لاسه کولو کې ناکامي نه مني او دا چې ستا په اوږه چې کوم شاهین ناست دې دا هم زمادډې خبرې ګواهي ورکوي او وایې چې ددې الوتونکې مالک هم پخپله د شاهین په څیر عادت لري ، که چیرې ته یو ځل بیاغواړې په دې ښار کې کوم څوک ووژنې نو په ډاډمنه توګه به ته بریالې شې٠

خینس ورته په شکمنو سترګو وکتل ٠

نوطس ورته په خندا شو او ورته یې وویل : زه ستاسو دښمن نه یم ، بلکه دوست مو یم ، زه په دې هم پوهیږم چې تاسو اشناس او د هغه ملګرې دښار نه بیرون دکوچیانو یوې قبیلي ته ور وغوښتل او هم هلته مو ووژل ٠

په هغه ورځو کې تاسو ښار تــه د خپلو کچرو سره یو ځاي د سوداګرو په کالیو کې راغلي واست او پــه همدې توګه مو خپل بندیان ملګري هم ازاد کړل ٠

خینس ورته مسکې شو ٠

ستا معلومات ډیر پراخه او سهي دي زه ستا په دوستی ویاړم ٠

نوطس ترې یو ځل بیا وپوښتل : اوس په کومه اراده راغلي یاست ؟

زه د قتيبه بن مسلم دسفير په څير راغلې يم او له ځانه سره د شومان دحاکم له پاره د قتيبه له اړخه يو ليک هم لرم ...

نوطس ورته په انديښنې سره وويل : د شومان حاکم د قتيبه سخت مخالف دې ، کيدې شي چې هغه له تاسو دواړو سره ښه معامله و نه کړي ، په دې خاطر تاسو دواړه هلته محتاط اوسئ ، ورځئ ، زه هم له تاسو سره يو ځاي ځم ، تر څو واورم چې د شومان حاکم له تاسو سره څه ډول خبرې کوي .

په دې وخت کې دوه کسه عسکر له يوې لورې را څرګند شول .

نوطس سمدلاسه شاته ولاړ او خپل کچکول يې په لاسو کې و نيو او ويې خوځوو، بيا دخپلې امصا په مرسته مخته روان او يوې لورې ته شو او په زوړ زور سره يې د خلکو څخه د غوښتلو اوازونه وهل پيل کړل .

عسکر مخته ولاړل .

خينس او نوفل دواړه د ښار د حاکم د محل په لور ورمخته شول .

نوطس يې هم تر شا شا روان شو .

خينس او نوفل د ښار د حاکم د ساتونکې ډلې قومندان دخپل راتګ نه خبر کړ او بيا حاکم سره دکتلو له پاره هملته بيرون منتظر پاته شول .

نوطس په لږ څه واټن کې د ديوال تر څنګ و دريد او د قومندان د بيرته راستنيدو انتظار يې پيل کړ . بالاخره يې هغوې دننه دحاکم سره دکتلو له پاره ور وبلل .

هغوې دواړه د لږ څـه انتظار وروسته د شومان د حاکم پـه دربـار کې و دريدل ، خينس د خپلې چپنې څخه د شومان دحاکم په نامه د قتيبه ليک را وويست .

او په ډيره بې پرواهی سره يې ولوست .

پادشاه د قتيبه رحمه الله ليک يوی لوری ته ګذار کړ او بيا يې وويل : تاسو څه غواړئ ؟

خنيس وويل : تاسی خو زمونږ په خلاف بغاوت کړې دې، مونږ غواړو چې ته زمونږ څخه دخپلو تيرو غلطيو په اړه ښښنه وغواړې او په راتلونکې کې د اطاعت کولو ژمنه وکړې •

پادشاه د خپله ځايه په يوه خيز سره پورته شو •

تاسو دخبرو کولو په سليقه هم نه پوهيږئ • تاسو له ما سره دسفارت د حدودو نه وتلې خبرې وکړې •

دا ځل خينس د نوفل نه هم په سختې لهجې سره وويل : هر هغه څوک چې زمونږ څخه بغاوت وکړي نو مونږ دهغه سره ددې نه هم په سخته لهجه خبرې کوو •

دپادشاه دخولې نه زګونه را روان شو او ويې ويل : زه به له تاسو دواړو څخه ژبې پرې کړم •

خينس دا ځل دپخوا نه زيات سخت شو •

ته به زمونږ د ژبو په پرې کولو سره دخپل مرګ په لور بلنه ورکړې • زمونږ لښکرې به ستا په هيواد داسې يرغل راوړي لکه څنګه چې د افق نه اخوا سرې توپانې شعلې سر راپورته کوي • زما دې په ځغلنده اسونو سوګند وي اوزما دې د سهار په وخت په حمله کونکوسوګند وي چې ته به ددې توپان نه خوندي پاته نه شې او په هيواد کې به دې هم د وينې ويالې وبهيږي •

پادشاه لا تر اوسه هم په خپل خر سپور و •

پخوا له دې چې زه ستاسو د دواړو د سر دپرې کولو حکم ورکړم ، دواړه ددې ځايه ورک شئ اوخپل سردار ته چې تاسې يې قتيبه بن مسلم رحمه الله بولئ ، ووایاست چې مونږ به دې په تيل وهلو تيلوهلو دخپلو ځمکو څخه بيرون کړو • مونږ به دې تر مخه دومره ځواکونه را ټول کړو چې تاسو به يې په کتلو خپل ځانونه هم له ياده وکاږئ •

خينس بيا ځواب ورکړ : دا به د شومان دپادشاه وهم وي ، زمونږ تر شا د اسلامي ځواکونو يوه لړۍ را روانه ده ، زمونږ په يوه غږ به د عربو ، شام

، عراق ، ايران ، مصر ، شمالي افريقې او ان د سپين څخه زمونږ دوستان دمرستې په خاطر خپل لاسونه را وغځوي اولښكرې به يې په سرونو كفونونه وتړي او زمونږ تر څنګ به و دريږي .

اى پادشاه ! دا ستا غلط فهمي ده ، قتيبه بن مسلم يوازې يو سالار نه دى ، د اسلامي لښكرو په ليكو كې داسې په سلګونو بلكه په زرګونو سالاران شته چې دهغوى له اړخه زخم خوړل ډير تباه كونكې ثابتيږي ، نو كه چيرې ته خپل بغاوت ته دوام وركړې نو بيا ياد ساته چې د شمالي افريقې څخه به موسې بن نصير راپورته شي ، د سنده څخه به محمد بن قاسم لبيك ووايې او په اوسنې وخت كې په سپين كې زمونږ جنګيدونكې شاهين ، طارق بن زياد به د زخمي زمري په څير پر تا حمله وكړي .

اې پادشاه ! دا ټول داسې سالاران دي چې په بهادرى ، شجاعت اوميړانې يې مونږ سوګند خورو ، دهغوې تورې تل په وينو لمدى وي او د اسونو د نوكانو څخه يې شرارې را خوتيږي .

اى پادشاه ! ياد ساته چې ، هغه وخت چې دا ټول سالاران ستا په خاوره را ټول شي ، نو زما دې د هغه كور په رب سوګند وي چې مسلمانان ترې طواف كوي ،چې بيا به ستا دغه ځمكې فصل نه كوي بلكه د وينو فوارې به ترې را خوتيږي .

پادشاه په چغو پيل وكړ : زه تاسو ته حكم كوم چې ددې ځايه ورك شئ نوفل ورته په بي پرواهى سره وويل : لومړى زمونږ د سردار د ليک ځواب راكړه ، بيا به مونږ له دې ځايه روانيږو .

پادشاه د قتيبه رحمه الله ليک يو ځل را پورته كړ ، ټوټه ټوټه يې كړ اوبيا يې هغه ټوټې د خينس او نوفل په مخكې په هوا كې و شيندلې او ويې وويل : دا درواخلئ .

خينس په غصه شو .

تا زمونږ د قايد د ليک ښير کولو سره پخپله خپل مرګ ته بلنه ورکړه • اوس به د نړۍ هيڅ ګوټ ستا له پاره خوندي ځاې نه وي ، ته چې هرې لورې ته ورځې نو مونږ به دې د مرګ په ښير تعقيبوو •

پادشاه په خپل ځاې و دريد او خپلو ساتونکو ته يې حکم وکړ چې ددې دواړو ښځونه ور پرېکړئ •

ساتونکې هم د سترګو په رپ کې په خينس او نوفل باندې را پرېوتل • خو دوې دواړو هم خپلې تورې را وويستلې اودخپلې دفاع په خاطر يې په لاسو کې کلکې کړې خو د ساتونکو شميره ډيره زياته شوه او بيا يې ددوو ګروپونو په ښير په دوې ددو خوا ښځه حمله وکړه •

دوې دواړو هم تر يوه وخته پورې مقابله کوله •

خو د ساتونکو شميره اوفشار هره ګړۍ زياتيده او بيا په همدې وخت کې خينس د نوفل اه واوريد •

ساتونکو دهغه سر پرې کړې و او لاش يې په فرش باندې تړپيده •

د خينس ذهن په ډيرې چټکتيا سره کار کاوه ، د ساتونکو سره د جنګ په وخت کې يې دا احساس کړه چې مرګ يې ورته خوله پرانستې او را نژدې شوې دې • خو وخت يې ضايع نه کړ •

يو لوې توپ يې وواهه او د کوټې نه بيرون راووت • دبرق په ښير راپورته شو او دغشي په ښير يې منډه کړه • هغه د شپې د تيارې نه په ګټې اخيستو سره وتښتيد •

ساتونکې يې هم تر شا ښا روان و ، خو هغوې لږ څه شاته پاته شوي و • خينس چې يو موړ مخته ولاړ نو نوطس يې هلته ولاړ وکتلو •

هغه د خينس په تيښته باندې انديښمن شوې و •

خنيس وويل : يقنيا چې ته به دخپل ځان دخوندې ساتلو په خاطر په تيښته ئ •

خينس ورته په سوزيدلې ساه وويل : ستا خبره سهي ده

نوطس ورته په انديښنه وويل : نوبيا هغسې نه ، دغسې راځه •

نوطس له ځانه سره د اوبو يوې سترې ويالې ته روان کړو او په تړتړه ژبه يې ورته وويل •

ددې لاندې ځمله •

خينس و دريد او داوبو دلښتي اندازه يې اخيسته •

په دې وخت کې يخني په پوره زور سره موجوده وه او اوبه هم د واورې په څير يخې وې •

په دې خاطر ورته خينس زړه نه ښه کاوه او مخکې وروسته کيده •

خو په همدې وخت کې د ساتونکو دپښو اوازونه واوريدل شول ، د نوطس دروند اواز يې په غوږونو ولګيد •

ګوره : ساتونکوې را روان دي ، که ژوند غواړې نو په دې لښتي کې ورځمله او د ساه اخيستو له پاره پوزه بيرون ونيسه •

خينس سمدلاسه ور ټيټ شو •

او د اوبو ترمنځ د ځملاستو سره سم يې خپله پوزه بيرون را وويستله •

په دې وخت کې نوطس په زوره زوره د خلکو څخه دغوښتلو اوازونه کوله او شاهين يې په سر ګرځيدلو •

کله چې ساتونکې د نوطس تر څنګ تيريدل نو دهغوې د ډلې څخه يې يوه ورڅخه وپوښتل نوطسه : څوک خو دې دې لورې ته را تښتيدونکې نه دې کتلې ؟

نوطس ورته په ويره ويره ځواب ورکړ : هو کتلې مې دې •

هغه کومې لورې ته ولاړ ؟

نوطس ورته په غلطه لار اشاره وکړه : هغې لورې ته ولاړ •

ټول عسکر هغې لورې ته په منډو شول •

تر دې وخته پورې دخينس اس هم په ځغاسته ځغاسته را ورسيد • په هغه مور کې چې خينس پټ شوې و هلته د رارسيدو سره سم اس و شنړيد او خپله مخکې پښه يې په زوره زوره په ځمکه ووهله •

په دې وخت کې په ناڅاپي توګه ټول ښار روښانه شو •

د ښار هر عسکر د خينس په لټون پسې راووت ، د ښار ديوالونه دومره پراخه و چې غشي ويشتونکې او اس سپاره پرې پرته له کومو ستونزو تلل راتلل او پهره يې پرې کوله ، داسې څرګنديده لکه ټول ښار چې را پيدا شوي وي •

د بله اړخه خينس هم په يخو اوبو کې مخ په شا پروت و ، نوطس ورته ور نژدې شو او په غوږ کې يې ورته وويل : ته په همدې ويالى کې په پرتو پرتو باندې مخته ولاړ شه ، دا ويالى زما دکور خوا ته ورځي ، کله چې زما کور راشي نو زه به دې ددې ويالى څخه راييرون کړم •

کله چې خينس په ويالى کې کرار کرار مخته و ښوييد نو نوطس ورته يو ځل ورته اشاره وکړ : صبر وکړه يو سپاهى بيرته راستون شوې دې کيداې شي چې هغه ستا د لټون له پاره په ځاې ځاې کې سپاهيان دروي •

نوطس لږ څه شاته شو •

او د خينس د اس په ملا يې لاس راښکود •

ساتونکې چې په لاس کې يو بليدونکې مشال نيولې و د نوطس خواته را نژدې شو او په سخته ژبه يې ترې وپوښتل : نوطسه ! دلته په دې وخت کې څه کوې ؟

نوطس په همغه توګه د اس په ملا لاس راښکوده ويې ويل : معلوم نه ده چې د چا اس زما خواته راغلې اوولاړ دې • په دې فکر کې يم چې د چا ځاې ته يې بوځم • اوس چې ته راغلې يې ، نو پخپله يې له ځانه سره روان کړه وګوره ! څومره ښايسته اس دې ، دداسې ښايسته او ښکلي نسل اس به دې په ژوند کې هم نه وي کتلي • که چيرې ته يې دکوم سوداګر په لاسو و پلورې نو ټول عمر به د کار او روزګار په اړه بې فکره اوسې •

سپاهى ورته په غوږ کې وويل : په کرار خبره کوه ، څوک به يې واوري ، که چيرې ته يې چاته نه وايې نو زه به يې کور ته بوځم او بيرته به راستون شم ، بيا به يې وپلورم او قيمت به يې سره نيمايې کړو ، په دې توګه به ته د خيرات د غوښتل څخه هم د تل له پاره خلاصون و مومې •

نوطس ورته په کراره وويل: ځنګه چې ستا خوښه وي.
بيا نو ته همدلته اوسه، زه به اس کورته بوځم اوبيرته به ژر راستون شم، زه په همدې دوه لارې کې په دنده ګمارل شوي يم. که له تاڅخه څوک زما په اړه پوښتنه وکړي نو ورته ووايه چې په دغه بله کوڅه کې چا ټک ټکار کاوه نو دهغې په لټون پسې ولاړ.
نوطس خپل سر را ټيټ کړ وويل: ځنګه چې وايې نو همغسې به وکړم.
سپاهي داس واګې په خپلو لاسو کې واخيستې او لږ څه به مخکې تللې وچې خينس د برق په څير د يخو اوبو د وياله څخه را بيرون شو اوپه دې عسکر يې حمله وکړه او په ډيره چټکۍ سره يې خپل دروند لاس د عسکر د غاړې نه را چاپيره کړ.
سپاهي هم د بې وسه مرغه په څير پړکيده، خو خينس يې غاړه ورماته کړه او له منځه يې يوړ بيا يې د دې سپاهي لاش واخيست او د يوې بلې کوڅې په لور يې يوړ، هغه د سپاهي په لاسو کې روښانه مشال هم له ځانه سره اخيستې و.
په چټکتيا سره يې دهغه سپاهي کالي دهغه له ځانه وويستل اوپخپله يې واغوستل او خپل لامده کالي يې د اس په خورجين کې واچول، بيا يې د هغه سپاهي لاش راواخيست او د يخو اوبو په وياله کې يې واچوو.
پخپله په خپل اس باندې سپور شو او مشال يې په لاس کې ونيوه او بيرته راستون شو، خپل شاهين يې هم پټ کړ او پـــه خورجين کې يې ورتـه ځاې ورکړ.
د نوطس د ځنګ نه په تيريدو سره يې په ډير ممنونيت سره وويل: محترما! زه ستا ډيره مننه کوم، يوه ورځ به زه ستا ددې احسان بدله هرو مرو درکوم.
بيا هغه د لوې لارې څخه بازار ته ورننوت، په ښار کې بې شميره عسکر په خپلو اسونو سپاره وو او مشالونه يې په لاسو کې نيولي وو. په دې اساس هيچا هم په خينس باندې شک و نه کړاې شو.

هغه د ښار په ټولو ارخونو کې وګرزيد ، ويې کتل چې دښار په ټولو دروازو باندې سخته پهره کيږي او د بيرون وتلو مخې ټولې بندې دي ۰ هغه همداسې په ښارکې ګرزيده راګرزيده ، خو د بيرون وتلو له پاره يې هيڅ تدبير نه ترسترګو کيده ۰

هسې خو يې ذهن په ډير قوت سره کار کاوه ۰ هغه په دې هم پوهيده چې د سهار نه مخته مخته بايد د ښار ددروازو نه بيرون شي ځکه د سهار په رڼا کې به هغه هرو مرو پيژندل شي او بيا به هغه دهغې له پاره دژوند اخري ګړۍ ثابتيږي ۰

هغه ټوله شپه د نورو سپاهيانو سره يو ځاي يوې لورې اوبلې لورې ته ګرزيده ۰ خو هيڅ پريکړه يې ونـه شوه کړاې چې څه ډول د ښار نه بيرون ووځي ۰

کله چې چرګانو د سهار لومړۍ اذان وکړ نو ټکان يې وخوړ ، غوږونه يې ودريدل ، هغه ټوله شپه په همدې فکر کې تيره کړې وه اوپوره ستومانه شوې و۰

څه فکر يې وکړ او بيا د خپل اس سره يو ځاي په ديوال وروختوت ۰ يو دوه ځلې په ديوال وګرزيد بيا يې فکر وکړ چې د اس نه راښکته شي او لاندې ټوپ کړي ، خو دهغه له پاره داسې قدم اخيستل د ځان وژنې په څير وو ، ځکه چې دديوال لوړوالې ډير زيات واو بيا لاندې ټوله ټيګلوړه ځمکه وه چې په راپريوتو سره به يې وجود ټوټې ټوټې کيده ۰

لا تر اوسه هغه په ديوال باندې ګرزيده چې چرګانو د سهار دويم اذان هم وکړ ، اوس نو هغه نژدې وچې ليونې شي ۰

ناڅاپه يې په ذهن کې را غلل ، شوندې يې مسکۍ شوې ، هغه په ديوال باندې يو پياده سپاهی ته ښنک ورکړ ، هغه د ديوال څنګه لاندې په ټيګلوړه ځمکه راپريوت ۰

خينس شور اوغوغا جوړه کړه ۰

و تښتید ۰۰۰ و تښتید ۰۰۰ دمسلمانانو سفیر ددې ځایه توپ وواهه او وتښتید ۰

دا غږ هرې لورې ته خپور شو ۰

و یې نیسئ ، و یې نیسئ چې درنه و نه تښتیږي ۰

د ښار دروازې پرانستل شوې ، سپاهیان دښار نه بیرون را ووتل او هغې لورې ته یې منډې کړې کومې ته چې د سپاهیانو د تښتیدو په لور اشاره کیده ۰

خینس هم د نورو عسکرو سره یو ځاي د ښار نه بیرون را ووت ، تر لږې شیبې پورې د نورو سپاهیانو سره یو ځاي ولاړ اوبیا یې خپل تګلورې بدل کړ او اس یې په ځغاسته کړ ۰

***

تر څو چې سهار کیده نو هغه خپل اس د زنیل دسیند په غاړه ځغلاوه ۰ لمر د ختیځ له لورې دغرونو څخه نوې نوې خپل سر راپورته کاوه ، خو وړانګو یې د دنګو دنګو غرونو سره ټکر واهه ۰

لا تر اوسه د یخنۍ سختې هواوې په خپل قوت سره لګیدې ، خو خینس ددې هر څه څخه بې پــرواه دخپل منزل په لور په پوره چټکتیا سره ور روان و۰

کله چې دسیند په غاړه د یوه غره څوکې ته ورسید نو ویې کتل چې تر مخه یې لس کسه اسپ سواره دده په لور را روان دي ۰

هغه وپیژندل چې دوې د شومان سپاهیان دي ۰

شونې ده چې هغوې به دکومې لنډې لارې دې ځاې ته را رسیدلې وو۰ دهغه ذهن د مشین په څیر خپل کار پیل کړې و ، هغه خپل ښیې لورې ته وکتل ، هلته یې هم څو کسه عسکر ترسترګو شول ، بیا متوجه شو چې تر شا یې د اسونو د ځغاستې او قدمونو اوازونه راځي ۰

د شومان عسکرو په ډیره چټکتیا سره دهغه تعقیب کاوه او هغه یې په پوره توګه په خپله کلابندۍ کې اخیستې و ، د سپرو شمیره په هیڅ توګه د پنځه دیرش او څولیت نه لږه نه وه او هغوې هم په ډیره چټکتیا سره دهغه لورې ته را نژدې کیدل ۰

هغه ته يو ځل بيا مرګ خپله خوله پرانسته وه او ترمخه يې ولاړ وو. خو هغه خپله ناکامي نه منله ، خپل ښي لورې ته يې په سلګونه فوټه ژور ګرنګ ته وکتل چې د زنيل سيند يې ترڅنګ موجونه وهي ، بيا يې يوه پريکړه وکړه:

د اس واګې يې ښي لورې ته وګرځولې او د هغې په پښو يې سخت ګذار وکړاو په دې توګه اس په سلګونه فوټه لاندې دسيند څپو ته ور پريوت .

اس لا په هوا کې و چې سر يې دومره ټيټ شو چې خينس يې له ځانه جدا کړ او بيا دواړه يوه ځل دسيند څپو کې څنګ په څنګ ور پريوتل . خو څنګه چې خينس د اس نه د پريوتو په وخت کې خپل توازن سم نه وساتلې نو په دې اساس په اوبو کې مخ په شا ور پريوت او سخت زخمي شو .

هغه اوس په اوبو کې بې هوشه شانته پروت و .

خو لږ وروسته و خوزيد او په سيند کې يې په پوره زحمت لامبو وهل پيل کړل ، اس يې هم ترڅنګ څنګ لامبو وهله .

پر هغه حمله کونکې سپاهي هم تر يوه ځايه دهغې سره په ځغاسته وو خو بيا هغوې چيرې ورک شول .

دسيند په غاړه غرونه اوس دومره لوړ او تيکلوره شوي وچې هغوې ته پرې سفر کول ستونزمن شوي وو.

خينس نژدې تر يوه مايله پورې په سيند کې لامبو وهله ، خو د زخم له لاسه ډير نالانه وو.

خواوس يې دغه پرلپسې لمبا روغتيايي حالت نور هم خراب کړې و او هره لمحه يې په بيهوشي کې ډيرښت راته . شاهين يې هم په سر په فضا کې په پرواز کولو بوخت وو .

يو نيم مايل وروسته سيند په يوه ستر جهيل کې پريوت ، ددې جهيل نه يوه شراشره راوتله چې د ډيرې سترې سطحې نه لاندې راغورزيده . بيا اوبو د يوه ستر سيند بڼه خپلوله .

په جهیل کې دننه اوبو خینس په پوره قوت سره چورلوو • هغه ته داسې بریښیده لکه په تنور یا ګرداب کې چې را ګیر شوي وي •

اوس نو اوبو کرار کرار په سلګونو فوټه لاندې ابشار په لور بوت • خینس هم په ګرداب کې د ګرزیدو په وخت کې دغه ستر ګړنګې ابشار کتلې و • په دې خاطر یې په ډیره چټکتیا سره لاس وپښې وهلې تر څو ددې ګړنګ نه ځان خوندي ځاې ته وکاږي •

اوس یې نو ټوله ستومانتیا له یاده ویستلې وه ، یوازې هغه زخم یې چې په اوبو کې د راپریوتو په وخت کې ورته راپیدا شوې وو ، دردیده • خو ددې سره سره یې بیا هم هڅه کوله د اوبو دغه څپې پرې او خپل ځان ترې وکاږي •

ناڅاپه یې اس څنګ ته راغې ، یو ځل دوه و شنړیده ، بیا یې خپله خوله په اوبو کې ور ننویستله او خینس یې پرې راپورته کړ ، خو د اوبو تیز رفتار اس د ابشار په لور ټیله کاوه • خو اس بیا بیا خپل ځان بدلاوه او د اوبو د څپو د پرې کولو او د ځان د ویستلو هڅه یې کوله •

اخر اس په داسې حال کې چې خینس یې په خپل سر راپورته کړې و د جهیل یوې لورې ته په وتلو بریالي شو ، بیا په یوه غرنۍ څوکه وخوت او خینس یې هلته د یوې ونې د سیورې لاندې ور واچوو •

دخینس سترګې پرانستې وې او دخپل اس دغه کړچار یې کتل ، اس په ډیره اندیښمنه توګه دهغه تر څنګ ولاړ و ، د همدې اندیښنو په بهیر کې یې څټ را ښکته کړې و ، شاهین هم راغلې و او د اس په زین ناست و • خینس تر ډیره پورې همداسې پروت و ، د هغه کالي لامده و او تر څنګ یې یخې او واورینې هوا هغه نور هم په لړزه راوستې و • ټول وجود یې دیخنۍ له لاسه لړزیده •

همت یې وکړ او را پورته شو ، لومړی یې د اس مخ او سر ښکل کړ ، په ځواب کې یې اس هم دهغه په څټ خپله غاړه کیښوده او پخپله خوله یې دهغه څټ ومښود •

خینس دهر څه نه مخکې دخپل خرجین څخه لامده کالي راوویستل او د وچولو له پاره یې په ونه کې را وځړول ، دهغه بستره هم چې د زین سره یو ځای تړل شوې وه لمده وه ، هغه یې هم د وچولو په خاطر خپره کړه ٠

بیا یې دخپل تبر، خنجر او تورې په مرسته وچ لرګي را ټول او یو لوی ډیرې یې ترې جوړ کړ ٠

یوه ټوټه یې را واخیسته او د اس وجود یې پرې ومښود او وچ یې کړ او لږ څه وچ واښه یې دهغې مخې ته ور واچول ٠ اس هم د وچو وښو په خورا ک پیل وکړ٠

پخپله یې منډه کړه او د یوې کوچنۍ غونډۍ سر ته ور وخوت ، شاهین یې هم په خپل لاس کینولې له ځانه سره یوړ، لږ شیبه هلته ولاړ و چې د الوتونکو مرغانو یوه ډله یې له مخې په تیریدو شوه ، خینس خپل شاهین ته دهغوې په لور اشاره وکړه ٠

د فضا ځیرونکې شاهین د دې مرغانو د ډلې په لور ور والوت لومړۍ یې یو مرغه و نیوه او هغه یې په خپله ښۍ پنجه کې کلک کړ ، بیا یو بل و نیوه او هغه یې په چپه پنجه کې کلک کړ ، په دې یې هم صبر و نه شو او دریم یې په مخوکه کې و نیوه او دخینس په لور بیرته راستون شو٠

خینس دریواړه مرغان حلال کړل ، بیا د خپل اس څنګ ته راغې او دهغوې څخه یې ښکې لرې کړې ، اور یې روښانه کړ او بیا د وخو په مرسته لرګیو ته اور ورته کړ ٠

لومړی یې د مرغانو څخه لږ څه غوښه پرې کړه او هغه یې شاهین ته ورکړه تر څو دهغې ګیډه پرې ډکه کړي ، بیا یې هغه دریواړه مرغان وریته کړل اودهغوې دخوړلو وروسته یې د اس د زین سره نښتې مشکوله را پرانسته او د هغې څخه یې په ډکه ګیډه اوبه و څښلې او د الله تعالي شکر یې ادا کړ٠

لا تر اوسه داور سکروټې همغسې ګرمې وې ، خپل کالي یې را واخیستل او د اور ترڅنګ یې واچول تر څو همدلته وچ شي ، څرنګه چې د اور

سکروتې تر ډېره پورې روښانه وې په دې خاطر هغه و توانيد چې خپل ټول کالي پرې وچ کړي ٠

تر دې وخته يې اس هم د وچو وښو په خوړلو ځان موړ کړې و او ځواکمن شوې و، تر هر څه لومړی يې خپله بستره را تاوه کړه او هغه يې د اس د زين سره بيرته وتړله ، بيا يې خپل کالي بدل کړل او د سپاهې کالي چې پخوايې په ځان کړي و ، د ځانـه لرې کړل ، هغه يې پـه خورجين کې واچول ٠

هغه لا د خپل اس واګې نه وې نيولې چې له يوې خوا د اسونو د پښو ترپار را پيدا شو ، دهغه غوږونه و دريدل ، ځکه چې خطره يې په سر سپره شوې وه ٠ سمدلاسه په اس سپور شــو او اس يې د ځنګله نه ډکه يوه دره کې په ځغاسته کړ ٠

اوس نو دهغه په مخ کې يو قوي عزم را ښکاره کيده او شايد چې هغه عزم او هوډ د دښمن سره د ټکرکولو په اړه و ٠

د ونو ډکې ځنګلې ناوکې د راښکته کيدلو سره سم يې دخپل اس د زين څخه د غشو ګڅوړې راپرانستې اوپه خپله شا يې و تړلې ، بيا يې يو لوی اوقوي کمان را واخيست او هغه يې په غشي سنبال کړ ، په دې وخت کې لس دولس وسلوال کسان د يوې غونډې په سر را ښکاره شول ، لا تر اوسه د خينس د لګيدلې اور سکروټو خپل حرارت له لاسه نه و ورکړې او کرار کرار بليدی ٠

هغوې ددې اور تر څنګ و دريدل او په خپلو منځو کې يې څه خبرې وکړې ، بيا اخوا ديخوا داسې خپاره شول لکه دخينس په لټه کې چې وي ، هغوې په دړې برخو وويشل شول اوپه ډير احتياط سره يې مخکې تګ کاوه ٠

هغوې ټولو خپلې تورې د تيکو څخه را وويستلې ٠

خينس هم خپل شاهين ته د يوې دلې په لور اشاره وکړه اوپخپله يې په بله هغه دله چې هغه ته ورنژدې شوې وه د غشو باران پيل کړ ٠

په دوارو دلو کې چغې او سوري پيل شوې ، شاهين او خينس دواړو په دومره چټکتيا سره خپلې حملې ترسره کړې وې چې دسترګو په رپ کې يې دهغوې اوه کسان په ځمکه راځملول •

تر دې وخته پورې د کينې لورې څخه هم د اسونو د سومونو اوازونه راپيدا شول ، هغه وپوهيد چې د سپاهيانو بل کوم تولې يې هم په خلاف راورسيد •

د يوې لمحې •••• هغه يوازې د يوې لمحې له پاره فکر وکړ •

بيا يې په لاسو کې نيولې کمان د اس د زين سره وتړه او اوسپنيز زنځير يې ترې راپرانست او په لاسو کې يې ونيوه او د ونو د ځنګل څخه راپيرون شو او په هغو پنځو سپاهيانو يې ، چې لا تر اوسه ژوندي پاته و ، حمله وکړه ، تر څنګ يې خپل شاهين ته هم په هغوې د حملې کولو حکم کړې و يوازې په څو لمحو کې دوی دواړو د هغو پنځو کسو سپاهيانو کار پای ته ورسوو •

په دې وخت کې اته کسه نور سپاهيانو د خپلو اسونو په ځغلولو سره په دوې باندې دحملې کولو له پاره را ورسيدل •

دوې هم د شومان سپاهيان وو •

خينس خپل ښي او کين لورې ته وکتل ، بيا يې اس په ځغاسته کړ ، سپاهيان يې هم په تعقيب پسې په پوره چټکتيا سره ور روان وو •

تر يوه مايله يې په دغو تيکلوره غرونو کې خپل اسونه ځغلول ، په ناڅاپي توګه يوه لوريه غونډۍ مخته راغله چې دلارې په مخ کې پرته وه او هغې ته په تيريدو سره لاره تيتيدله •

خينس ددې غونډۍ شاته پټ شو ، کله چې د شومان عسکر د هغه ځايه تيريدل نو خينس پرې خپل شاهين ور پرېښود او بخپله يې د خپل زنځير سره يوځاي پر هغوې د شا له ارخه حمله وکړه ، دوه عسکر يې شاهين او دري يې ده پخپله له منځه يوړل •

د پاته درې کسو سپاهیانو نه د تیښتې په ځای د مقابلې له پاره و درید ٠ هغوی دریواړه په ډېر دقت سره دې ښاره او شاهین یې په سر الوت کاوه ٠ خینس دهغوی په لور وکتل په خندا شو او خپل اوسپنیز زنځیر یې، چې د وینو ښاڅکي ترې پرېوتل ٠٠٠ د هغوی په لور و خوځوو ، د زنځیر د خوځولو سره سم د وینو ښاڅکې د هغوی په مخونو ور پرېوتل٠

بیا یې خپل شاهین ته دهغوی په لور اشاره وکړه ، شاهین پرې حمله وکړه ، تر دې وخته پورې خینس هم خپل ځان دحملې کولو له پاره تیار کړی و ٠

په ډېر لږ وخت کې یې هغوی دریواړه له منځه یوړل ، بیا یې خپل اس په هغه لویه لاره باندې په ځغاسته کړ چې د هغه ځایه بخارا ته او بیا دبخارا څخه دمروې په لور ور تلله ٠

***

یوه ورځ په داسې حال کې چې سختې یخې هوا هر څه رامنجمد کړي و، قتیبه ین مسلم ، صالح ، عبدالرحمن ، عبیدالله او نصر په یوه خیمه کې سره راټول شوي وو او خوراک څښاک یې کولو چې خینس یې هم خیمې ته ورننوت خینس د خیمې په دروازه کې تم شم اوسر یې ښکته کړ ٠

قتیبه بن مسلم رحمه الله خوراک څښاک پرېښوده او راپورته شو او د هغه تر شا نورو سالارانو هم خوړل پرېښوول او راپورته شول ٠

قتیبه رحمه الله څو قدمه ورمخته شو اوپه خندا یې ورته وویل : خوش امدیـد ٠

خینس په لمدو سترګو د قتیبه رحمه الله په لور وکتل اوبیرته یې خپلې سترګې ټیټې کړې ٠

قتیبه رحمه الله څو قدمه نور هم ورمخته شو اوبیا یې د خینس په اوږو لاس کیښود او ورته یې وویل : کیدای شي چې ته ناکامه راستون شوې یې ، په دې خاطر خجالت یې ، ددې علت دادې چې تا په خپل ژوند کې ډیرې لږې ناکامۍ کتلې دي ٠

خینس ورته په مثبته توګه سر وخوځوو ٠

قتیبه رحمه الله ورته یو ځل بیا وویل : نوفل چیرې دی ؟

د خینس اواز ژرغوني و•

محترما ! زه افسوس کوم چې ماد هغه ساتنه و نه شوه کړای • هغه د شومان دحاکم په لاسو ووژل شو ، ما خپل ځان په ډیره ستونزمنه توګه دهغه ځایه راویستلی دی •

قتیبه رحمه الله د غصې او قهر څخه تک سور شو •

په یوه دم یې خپله درنه توره د تیکې څخه را وویستله ، دخیمې نه بیرون راووت او په چغو یې وویل : جنګ ته تیار شی •

د سترګو په رپ کې ټول لښکر د جنګ د ډول په وهلو را پورته شو• خپلې خیمې او سامانونه یې دومره ژر ژر را ټول کړل چې په ډیر لږ وخت کې یې خپل ځانونه د جنګ له پاره تیار کړل •

د لښکرو لومړی او سر اول ډله لا دمخه روانه شوې وه او وروسته ټول لښکر رون شو ، د لښکرو په سر کې پخپله قتیبه رحمه الله روان و•

کله چې قتیبه رحمه الله په شومان حمله وکړه نو د شومان حاکم ځان کلابند کړ ، خو د قتیبه رحمه الله تر مخه ، چې په دې وخت کې د قهر او غضب نه ډک و ، دهغه دا حربه بریالۍ نه شوه ، ځکه قتیبه د ښار چارچاپیر خپل غول پیکره منجنیقونه نصب کړل او په کلا یې د درنو تیږو باران پیل کړ ، په دې توګه دیوالونه ټینګ نه شول او ځای ځای په کې درزونه را پیدا شول •

د شومان حاکم مجبور شو ترڅو دکلا څخه را بیرون شي او د قتیبه سره مخ په مخ وجنګیږي • هغه په پوره جذبې او احساساتو سره په قتیبه حمله وکړه ، خو د قتیبه رحمه الله سره سر وهل لکه دديوال او يا غره سره ټکر کول ؤ •

قتیبه ډیر ژر دهغه لښکر ټوټې ټوټې کړ او د شومان حاکم ووژل •

اسلامي لښکرې په ډیر شان اوشوکت سره ښار ته ور ننوتلی او خینس اخوا دیخوا منډې وهلې او د بېدا نوطس په لټه کې و •

په بازار کې د تیریدو په وخت کې [illegible] په نوطس سترګې ونښتی •

هغه په یوه لور ځای ولاړ و ٠

په لاسو کې یې همغه اوږده امصاء او په غاړه کې یې تور کچکول ؤ٠ خینس خپل اس ور و ځغلاوه او د هغه خواته راغې ، هغه ته یې سلام وکړ او د خپل اس نه ورته را ښکته شو ٠

نوطس ورته په خندا و ورته یې وویل : ما هیله درلوده چې ته به هرو مرو راځې ٠

خینس ورته د خوښۍ نه په ډک اواز سره وویل : محترما ! ته به دنن نه وروسته سوال نه کوی ٠

نوطس ترې په ډیرې پلټونکې توګه و پوښتل : ولې ؟

زه به همدا نن قتیبه ته ووایم او د هغه څخه به درته لس زره سره دینارونه راوخلم ترڅو ستا پاته عمر په پوره ارام او اطمینان سره تیر شي ٠

د نوطس سر را ټیټ شو ٠

که چیرې داسې دې وکړل نو زه به دې په دې دنیا او په هغې دنیا ، دواړو کې احسان مند اوسم ٠

ستا د کورنۍ ټول غړي څومره دي ؟

زه ، زه یوازې یم ٠٠٠ را شه چې خپل کور در وښییم ٠

راځه !

خینس د هغه سره یو ځاي شو ، دواړه خوا په خوا په بازار کې یوې لورې ته روان شول ٠

***

په ۹۳ هجری سپوږمیز کال کې د خوارزم د سوبې وروسته قتیبه بن مسلم رحمه الله د سمر قند په لور متوجه شو، د سمرقند خلکو په ټولو جنګونو کې د مسلمانانو په خلاف دهغوې دډښمنانو سره مرسته کوله ، قتیبه رحمه الله اوس دهغوې ځپل ارین ګڼل ، په دې خاطر یې خپل ورور صالح دهغه ځاې په لور ور ولیږه او پنځېله یې د څو ورځو په تم کیدو سره د بخارا او خوارزم څخه یو لوی لښکر جوړ او د سمرقند په لور ور وخوځید٠

دسمرقند خلکو چې په اصل کې سفدیان و ، د قتیبه رحمه الله د حملې مقابله و نه شوه کړای او ځانونه یې په کلا کې کلابند کړل.

قتیبه رحمه الله هغوی د یوې میاشتې له پاره کلابند و ساتل ، سفدیان ددې کلابندۍ څخه په تنګ شول او د خپلو ګاونډیو سیمو شاش او فرغانې دحکمرانانو په لور پیغامونه ولیږل او د مسلمانانو په خلاف یې ترې مرسته وغوښتله . هغوی ته یې په خپلو پیغامونو کې ولیکل چې که چیرې نن مسلمانان پر مونږ حمله کوي نو سبا به تاسو هم همداسې پرې نه ږدي ، په دېخاطر زمونږ خونـدي ساتنه خپله وګڼئ او زمونږ سره د مرستې په خاطر را ودانګئ ..

د هغه ځایو حکمرانانو په خپلو کې سره سلا مشوره وکړه او اخر تول را یوځاي شول او یو ډیر ستر لښکر یې تیار کړ اوهغه یې د چین دخاقان د زوې تر قومندې لاندې په قتیبه رحمه الله د حملې په خاطر ور ولیږه . قتیبه رحمه الله هم دحالاتو څخه بیخبره نه و ، د هغه جاسوسانو هغه ته د هرقدم خبر ورکاوه .

د چین د خاقان د زوې تر مشرې لاندې دیوه ستر حمله کونکې لښکر په مقابل کې قتیبه د خپل فوځ میړنې سپه سالاران و تاکل ، په هغوی کې صالح بن مسلم ، خینس بن یوسف او نصر بن سیار وو . ددې ترڅنګ یې د غوره جنګجویانو یوه تکړه ډله ددښمن د لښکرو دمخنیو په خاطر د صالح تر مشرۍ لاندې مخکې ور ولیږله ، صالح هم دخینس او نصر تر مشرۍ لاندې دوه تکړه ډلې د لوې لارې په دواړو خواوو کې پټې کینولې اوبخپله دخپلې ډلې سره په لویه لارو درید او ددښمن دلښکرو د مخکې تګ نه یې دمخنیوي په خاطر ځان تیار کړ .

نیمایې شپه به تیره وه چې د دښمن لښکرې را ښکندې شوې ، هغوی د راتلو سره سم د صالح په ډلې سخته حمله وکړه ، خو صالح هم په پوره ځواک سره مقابله وکړه او د دښمن دلښکر دمخکې تلو لاره یې دپ کړه . تر دې وخته پورې خینس او نصر هم دخپلو پټنځایو

څخه را وتلي وو او ددښمن په لښکر باندې د یوه اسماني افت په څیر را نازل شوي و ۰

د چین دخاقان زوې که څه هم په پوره متانت او میړانې سره د صالح د لښکرو مقابله وکړه ، خو په خوله یې سخت ګذار وخوړ ، دهغه ستر ستر سپه سالاران او سلاکاران په وینو کې لت پت پراته و او ګڼ شمیر امران او شهزادګان یې بندیان کړل شوي و ۰

ډیرو یې د تیښتې لاره خپله کړه ، دهغوې دماتې نه وروسته دمسلمانانو په لاسو کې د وسلو او نورو مهماتو او غنیمتونو انبارونه پریوتل ۰

کله چې سغدیانو ته ددې ماتې خبر ور ورسید نو زړونه یې مات شول ۰

د بله اړخه قتیبه رحمه الله هم خپله کلابندي نوره هم سخته کړه او دمنجنیقونو په واسطه یې دکلا په دیوالونو بمباري پیل کړه او بیا چې کله صالح ، خینس او نصر ددښمن ته دماتې ورکولو وروسته بیرته راستانه شول نودجنګ د تنور اور نور هم په غړمبیدو شو ۰

د تیږو دپرلپسې باران په واسطه د کلا ددیوالونو یوه برخه راپریوتله ۰ مسلمانانو ځان ځارونکو ، په داسې حال کې چې خپل مخونه یې ددښمن د غشو دباران څخه خوندي کول خپل ځانونه دکلا دغې غورځیدلې برخې ته ور ورسول ۰

دسمرقند خلکو د غشو باران جوړ کړې و خو مسلمانانو دخپلو ډالونو په واسطه ددې غشو څخه ځانونه خوندي کول ۰

کله چې قتیبه رحمه الله د همدې پریوتې برخې څخه دخپلو ځان ځارونکو سره یوځاي په کلا حمله وکړه نو د کلا اوسیدونکو ته دا ډاډ کیزه شوه چې مرګ یې نور تر سترګو نښا کوي ، په دې خاطر یې سمدلاسه د سولې له پاره څه شرطونه وړاندې کړل چې په کې راغلي وو:

لومړی : د سمرقند خلک به هر کال مسلمانانو ته دولس زره نقدې دخراج په توګه ورکوي ۰

دویم: ښار ته به د وسلوالو مسلمانانو د فاتحانه را ننوتلو سره سم ددې ښار وسلوال خلک له ښاره بیرون وځي •

دریم: دښار خلک به تر دري ورځو پورې مسلمانانو ته میلمستیا ورکوي •

څلورم: بت خانې او اورځایونه به دمسلمانانو په واک او اختیار کې وي •

پنځم: مسلمانان دې دلته جوماتونه جوړ کړي ، خپل لمونځونه دې کوي او خطبې دې ورکوي •

ددې شرایطو د منلو وروسته قتیبه بن مسلم رحمه الله د خپل لښکر سره یو ځای په داسې حال کې چې بهترین لباس یې په ځان کړې و ، ښار ته ورونوت ، د ورننوتلو سره سم یې د بتانو د ماتولو حکم وکړ ، دسمرقند حاکم قتیبه وویروو او ګواښونه یې ورته وکړل چې زمونږ د بتانو د سوځولو څخه لاس واخله او که نه ، ته او لښکر به دې دواړه په یوه وخت دتباهۍ سره مخ شئ • خو قتیبه رحمه الله د هغه په دې خبره مسکی شو او ورته یې وویل:

ډیره ښه ، اوس به نو زه پخپله په خپل لاس ستاسو بتانو د ماتولو کوښښ کوم ••• په همدې اساس قتیبه رحمه الله پخپله هغو بتانو ته چې خلکو یې عبادت ورمات کړ او کله چې بتان مات شول نو پنځوس زره مثقاله طلا یې ترې ترلاسه کړه •

کله چې د سمرقند خلکو د خپلو بتانو دا بیچارګي وکتله نو ګڼ شمیر یې په اسلام مشرف شول ، قتیبه رحمه الله هملته په سمرقند کې مسلمانان اباد کړل ، هلته یې یو ستر جومات جوړ کړ او اذان یې په کې جاري کړ ، بیا یې د جمعې خطبه هم وویله ، ددې وروسته بیا قتیبه رحمه الله دبخارا او خوارزم د شل زره کسیز فوځ سره یو ځاي تاشقند فتح کړ او بیا یې د فرغانې په لور مخه کړه ، په لاره کې یې د خنجدیانو سره نښته وشوه ، خو ډیر ژر قتیبه هغوې دپښو لاندې کړل او مخکې ولاړ او دکاشان د سفر کولو نه وروسته بیرته مروې ته ور ستون شو •

***

ددې سوبې نه لږه موده  وروسته  قتیبه بن مسلم رحمه الله ته دحجاج  بن یوسف د مړینې خبر  ورسید  ، قتیبه بن مسلم رحمه الله ډیر اندیښمن  شو ځکه  حجاج د هغه ډیر کلک  ملاتړې او همدرده و او په هر سخت  وخت کې به د خپلو سالارانو په کار راته •

څو ورځې وروسته قتیبه  ته دخلیفه  ولید بن عبدالمالک لیک ور  ورسید  دی لیک دهغه زړه  ته لږ څه داډ ورکړ ، خلیفه ورته په خپل لیک کې لیکلی وو :

امیر المؤمنین  ، ستا د خدمت او د اسلام  د دښمنانو په  مقابل  کې ستا دجرئت  او هڅو څخه پوره  خبر  دی ، هغه به تا ته داسې  رتبه درکړي چې ستا ددې کړ چار سره مناسبه وي ، اوس ته خپل جنګې میشن   ته  دوام ورکړه  او د الله تعالي د رحمت  هیلمن اوسه   او د خپلو حالاتو څخه ما په جریان کې  ساته ،  ترڅو زه ستا دهڅو  اندازه  وکولاې شم • خو په خپل ذهن کې تل دا خبره په  یاد لره  چې  زه  په هغو ځایو کې  ستا  تر څنګ موجود یم •••

کله چې قتیبه دا لیک ولوست نو ټول سالاران یې  تر مخه ولاړ و ، د لیک د لوست نه وروسته  په خندا شو •

ټولو سالارانو دا لیک بیا بیا ولوست ، په اخر کې  قتیبه  دا لیک خینس ته ورکړ تر څو د ځانه سره یې وساتي • هغه هم دا امر دخپل ځان له پاره  عزت وګانه او لیک یې دخپل ځان  سره په جیب کې  واچوو •

د حجاج بن یوسف د مړینی نه وروسته چې څومره  قتیبه بن مسلم رحمه الله  زړه بدې شوې و ، هومره دې لیک  هم خپل اغیز کړې و •

د زخمې زمرې په څیر را پورته شو او یو ځل بیا یې په چین د حملې کولو له پاره لښکر راوویست •

د مروې څخه  د  سمرقند  په لور ولاړ  اوهلته یې  د  خپلو  مجاهدینو ښځې  او  کوچنیان  په  دې  خاطر  پریښوول  تر ځو  هلته  یو  اسلامي ښارکوټې   منځته راشي • پخپله یې دخپلو  شاهینانو سره یو ځاې د

فرغانې لاره واخیسته او د کاشغر د فتحه کولو وروسته د چین دننه ترلرې ځایو پورې ولاړ.

د چین خاقان د مسلمانانو په دغه جرئت او میړانه باندې حیران او اندیښمن شوې و ، قتیبه ته یې خبر را ولیږه چې خپل یو هیئت ور ولیږې تر څو دهغې لارې نه ستا دمقاصدو او تر څنګ یې ستاد دین په اړه معلومات ترلاسه کړم.

قتیبه بن مسلم رحمه الله ورته د هیره بن شرح سره یو ځای خوړ ژبي ، فصیح اللسانه او پوه خلک ولیږل ، کله چې دا ډله دپادشاه دربار ته ورسیده نو تولو سپین کالي واغوستل ، عطر یې په ځانونو ووهل ، په پښو یې څپلې او په اوږو یې څادرونه واچول.

دا خلک د پادشاه په دربار کې تر ډیره پورې کیناستل ، خو پادشاه نه ورسره خبرې وکړې او نه یې مخاطب کړل.

کله چې دا هیئت راپورته شو او بیرته ولاړ نو پادشاه د خپلو درباریانو څخه وپوښتل : تاسو دمسلمانانو دا ډله څه ډول وموندله؟

درباریانو ځواب ورکړ : په دوې کې ښځینه توب و.

پادشاه په دویمه ورځ بیا دا هیئت را وغوښت : په دې ورځ ددې هیئت تولو ځوانانو په سرونو وربښمیني لونګۍ تړلې وې او په وجودونو یې رنګ په رنګ کالي اغوستي وو.

په دې ورځ هم ورسره پادشاه خبرې و نه کړی.

کله چې دا هیئت بیرته ولاړ نو پادشاه دخپلو درباریانو څخه وپوښتل : دا خلک نن څه ډول معلومیدل؟

درباریانو ورته وویل : نن ددوې د کالیو څخه نارینتوب را څرګندیده.

دریمه ورځ بیا پادشاه دا هیئت خپل دربار ته را وباله ، کله چې په دې ورځ دوې دربار ته راغلل ، نو تول درباریان یې په کتلو حیران پاته شول.

هغوې له ځانو سره نوی وسلې راخیستې وې ، په سرونو یې اوسپنیزې خولۍ وې ، په وجودو یې زرې اغوستي وې ، تر څنګ یې نیزې ، غشي

اوکمانونه هم له ځانه سره درلودل او په اسونو سپاره و ، د هغوې اسونه ډیر خوښ معلومیدل او داسې احساسیدله لکه د زړونو د تسخیر له پاره چې پیدا شوي وي •

هغوئ د خپلو اسونو څخه راښکته شول ، دربار ته راغلل او د قیمتي قالینو د پروا کولو پرته یې خپلې نیزې په فرش کې ننویستلې ، درباریان ډیر اندیښمن شول ، هغوې ته داسې ډاګیزیده لکه چې دوی د خپلو نیزو په واسطه د ځمکې سینه څیري کوي •

اوس نو دهغوې په مخونو د وقار او جذبې څپې راڅرګندیدې •

پادشاه دا ځل هم کومه خبره و نه کړه او دوې ته یې د بیرته تللو حکم وکړ کله چې هغوې بیرون ووتل نو پادشاه د خپلو درباریانو څخه وپوښتل : دا څه ډول خلک دي ؟

درباریانو ورته په حیرانتیا سره وویل : دا عجیب قوم دې ، مونږ تر اوسه پورې داسې قوم په سترګو نه دې کتلی •

ماښام پادشاه ددې هیئت سالار راوغوښت ، کله چې هغه راغې نو پادشاه ترې وپوښتل : تاسو به زمونږ د جنګې ځواک په اړه معلومات تر لاسه کړې وي، تر هغې چې تاسو زمونږ په لاسو کې یاست نو د نړۍ هیڅ ځواک تاسو زمونږ څخه نه شي خلاصولی ، له تا څخه یوه خبره پوښتم ، که ریښتیا راته و نه وایې نو سر به دې قلم کړل شي •

هیره بن شرح ورته په ډیر ډاډ سره وویل : تاسو خلکو په لومړی ، دویمه او دریمه ورځ ولې خپل کالي بدلول او دلته راتلئ •

هیره ورته مسکې شو : هغه د لومړی ورځ کالي زمونږ د ورځني استعمال کالي و، ددویمې ورځې لباس مو د امراء و او رئساو مخې ته د ورتللو له پاره و او دغه ددریمې ورځې لباس مو د جنګ په دوران کې د اغوستن لباس و •

پادشاه ورته وویل : ما ستاسو د فوځ او قوت اندازه اخیستې ده ۰ خپل سپه سالار ته مو ووایاست چې بیرته ستون شي او که نه زما ځواکونه به تاسو ټول په ځمکه باندې په پښو و مبښي ۰

هیر بن شرح ورته قهریدلې شو وویل : واوره ! تا به دهغو لښکرو اندازه څه ډول اخیستې وي چې یو سر یې ستا په هیواد کې او بل یې په شام کې وي ، د خپل زړه نه دا خبره وکاږه چې ته به مونږ وویروې ، په الله سوګند چې که زه دمرستې له پاره ورغږ کړم نو دنیل د ساحل نه تر کاشغره پورې به دا خپاره مجاهدین ټول زما غږ ته لبیک ووایې او په سر به کفنونه وتړی او تر دې ځایه به ځانونه را ورسوي ۰

پادشاه ! دا داسې مجاهدین دي چې تر مخه یې ځمکه را ټولیږي ، وخت دریږي او د اسمان لوړوالې یې ترمخه دسلام کولو په خاطر را ټیټیږي ۰ نو که چیرې تاته په دې اړه کومه غلط فهمي راپیدا شوي وي نو هغه د زړه څخه و کاږه ، ځکه مونږ د مرګ نه نه ویریږو ، مرګ او وژل زمونږ د تورو اونیزو یوه لوبه ده چې مونږ یې هره ورځ لوبوو ، مونږ پـه دې باور لرو چې د مرګ له پاره یوه ورځ ټاکل شوی ده خو که چیری دا ورځ د جهاد په میدان کې مونږ تـــه راشي نو مونـږ یې د خپلو ځانو له پاره خوش قسمتي ګڼو ۰

د هیره بن شرح ددغو جرئتمندو خبرو په واسطه د چین خاقان تر هیبت لاندې راغې ، نرم شو اوبیا یې په نرمه لهجه وویل : ستاسو سردار به په کومو شرایطو سوله وکړي ؟

هیره ورته وویل : هغه سوګند کړې چې تر هغو چې ستاسو ځمکه تر پښو لاندې و نه مروړي او د شاهي ارکانو مهرونه و نه لګوي او جزیه وانخلي نو بیرته به نه ستنیږي ۰

خاقان ورته په ځواب کې وویل : ډیره ښه ، ستاسو د سردار دا سوګند به پوره کړل شي ، هغه د طلاو په کڅوړو کې لږ څه خاوره ، جزیه او ډیرې قیمتي تحفې او ترځنګ یې څلور شهزادګان د قتیبه رحمه الله خواته ور

ولیږل • قتیبه هم د سولې دا نذارنه ومنله ، خاوره یې تر خپلو پښو لاندې او مروړله ، شهزادګانو ته یې مهرونه ولګول او جزیه یې واخیسته او بیرته مروې ته راستون شو •

***

د شپږ نویوم هجرې سپوږمیز کال د جمادي الاول په ۱۷مه ولید بن عبدالمالک وفات شو او په ځای یې سلیمان بن عبدالمالک ، چې د هغه کشر ورور و، په تخت کیناست ، یو ځل ولید بن عبدالملک دخپل ورور په ځای خپل زوی عبدالعزیز د ولیعهد په څیر ټاکلی و، له هغه سره په دې معامله کې حجاج بن یوسف او قتیبه بن مسلم هم خوښ و• په دې خاطر سلیمان ددې دواړو سخت مخالف شوی و•

حجاج خو د ولید په ژوند کې مړ شوی و خو قتیبه بن مسلم ته دسلیمان له اړخه اندیښنه پیدا شوې وه ، هغه د خپلو لیکنو په واسطه دسلیمان سره خپله وفاداری څرګنده کړه ، په دې وختو کې داسې افواهات هم خپریدل چې دهغې له مخې قتیبه رحمه الله دسلیمان له اړخه بد زړی شوی و ، تر ټولو ستره افواه دا وه چې د قتیبه بن مسلم رحمه الله په ځای یزید بن مهلب به د خراسان والي ټاکل کیږي •

ددې نه پرته یوه ډیره بده خبره داوه چې سلیمان ددې سره سره چې نیک خویه انسان و خو د انتقام اوبدلې په اخیستو کې د حد نه ډیر مخته ته •

په تخت د کیناستو سره سم یې د سپین او افریقې ستر فاتح موسې بن نضیر د خپل قهر لاندې راوست •هغه یې په ساعتو ساعتو په سوزونکې لمر کې و دروو او په لکونو روپۍ تاوان یې پرې عاید کړ ، دهغه ګناه دا وه چې هغه د سلیمان دحکم پرخلاف دغنیمت دمالونو ډیره برخه د ولید په ژوند کې دارالحکومت ته را لیږلې وه ، حال داچې سلیمان ورته حکم کړې و چې خپل سفر لږ څه ځنډن کړي تر څو ولید ومري او بیا دا دارالحکومت ته را ورسیږي او بیا دا د غنیمت دا مالونه په خپل حکومت کې په مصرف و رسوي • خو موسی د خپل اقا سره وفاداره و او دسلیما ن د حکم د په نظر کې نیولو پرته د ولید کې په ژوند دارالحکومت ته را ورسید ، که څه هم

هغه وخت ولید د مرګ په بستره پروت و خو بیا یې هم د موسی د میړانې او دیانت ستاینه وکړه ۰

تر څنګ یې د سنده فاتح محمد بن قاسم هم چې یو ډیر تکړه ، میړنی او شجاع سپه سالار او نیک خویه ځوان و او دسلیمان په خلاف یې هم کوم حرکت نه و کړی خو په دې خاطر چې د حجاج وراره و، هم دسلیمان د قهر لاندې راغی ۰

سلیمان هغه د خپلې دندې څخه فارغه کړ او د هغه په ځای یې یزید بن کثیر د سنده د عامل په توګه وټاکه ، یزید محمد بن قاسم ته ځولنې او بیړی ور واچولې او د عراق د والي صالح بن عبدالرحمن په لور یې ور ولیږه ۰

نوموړی د حجاج بن یوسف ډیر سخت دښمن و او غوښتل یې چې د حجاج بدله د محمد بن قاسم څخه واخلي لکه څنګه یې چې ورروسته ثابته کړه او په زندان کې یې دغه ستر او د ویاړونو ډک سپه سالار محمد بن قاسم ته سخت اذیتونه ورکړل ۰

اوس نو د قتیبه رحمه الله د لیکونو ځواب هم دسلیمان له اړخه نه ورکول کیده ، هغه په دې متیقین شوی و چې انجام به یې د موسی او محمد بن قاسم نه مختلف نه وي ۰ په دې اساس یې دسلیمان سره بیعت فسخ کړ او د هغه په خلاف یې دبغاوت بیرغ پورته کړ ۰

کله چې قتیبه رحمه الله خپلو ملګرو ته د سلیمان سره د بیعت دفسخوکولو وویل نو داسې ورته معلومه شوه لکه مار چې خوړلې وي ځکه هیڅ یوه یې دهغه دخبرې سره سر یو نه کړ ۰

قتیبه رحمه الله د خپلو ملګرو په دې عمل د اور دسکروټې په څیر سور شو، په ځانګړې توګه یې بني تمیم ته سختې سپورې وویلې ۰ بالاخره د بنو تمیم په خلاف راپورته شو او د جنګ ډول یې وواهه ۰ هغه ددې جنګ له پاره زر کسه عجمیان هم دخپل ځان سره را یو ځای کړل ۰

خینس بن یوسف په دې ورځو کې د قتیبه سره یو ځای هملته په مروې کې و او حرب بن یوسف خپل کور ته ورغلی و ، کله چې خینس ته دحالاتو

په اړه معلومات تر لاسه شو نو یوه شپه په تیاره کې د مروې څخه ووت او خپل اس یې د خپلې کلي په لور په ځغاسته کړ ۰ خو ډیـــر په قهر او غصه کې و ۰

کله چې لمر د ختیځ نه څمکه دخپلو شعاعو لاندې کوله نو خینس خپل کلي ته ور رسیدلی و ، دهرې لورې ورته د اهلا و سهلا او مرحبا نارې وهل کیدای ، خو نن یې فکر بدل و ، په دې خاطر یې د خلکو سلام ته ځواب ور نه کړ اونه یې دهغوې په دې چغو باندې خوشحالی ډاګیزه کړه ۰

څرنګه چې دسردار هریم په نسبت ، سردار وکیع د قتیبه په خلاف ډیر مصروف و په دې خاطر نیغ د سردار وکیع کور ته ورغې ، وکیع د خپلې میرمنی سره دخپل کور په انګړ کې ناست و او خبرې یې کولې ، دخینس په کتلو سره راوپورته شو اوپه ډیره مینه یې هغه ته ښه راغلاست ووایه ۰

خینس د هغه تر مخه ودرید او لږ څه په ترخه لهجه یې وویل : ما اوریدلي دي چې ته د سپه سالار قتیبه پـه خلاف د جنګ له پاره ځان تیاروې ؟

وکیع هم ځان راټول کړ بیا وویل : تا سهي اوریدلي دي او په دی جنګ کې به ته زمونږ سره یو ځاي د قتیبه په خلاف جنګیږې ۰

خینس ورته په طنزیه توګه وویل : حیرانتیا ده چې دخپل دوست په خلاف راپورته شوې یې ۰

وکیع ورته په قهر سره وویل : څنګه دوست ، قتیبه رحمه الله زمونږ سره څه احسان کړې دی ؟

خینس په قهر شو ۰

احسان هیرونکې مه ګرځه ، درونده سرداره ! دا د قتیبه د لښکرو زور و چې بلخ ، بخارا ، سمرقند ، تاشقند ، صفانیان ، شومان اود خوارزم ټول سلطنتونه داسلام تابع او فرمانبرداره وګرزیدل او د چین د خاقان دغرور چې حدود اوپولې یې نه درلودې هم تر خپله مخه په زنګون کړ ۰

وکیع ورته په سخته ژبه وویل : په دې کې د قتیبه کمال څه و ؟ دا خو ټول مونږ په خپلو وینو باندې ولکه کړي دي ۰

خینس ورته په زوره وویل : ته دروغ وایې ۰

وکیع هم وغرید ۰

په هوش کې یې ، ته د بنې تمیم د سردار سره خبرې کوې ۰

خینس وویل : زه ستا په څیر سردار باندې لعنت وایم ، چې د خپل محسن په خلاف د جنګ ډول ډبوي ۰

وکیع ترې په پریکنده توګه وپوښتل : نو ته به د قتیبه په خلاف زمونږ سره ملګرتیا نه کوې ؟

نه هیڅکله نه !

وکیع وویل : پیښیمانه به شې ۰

خینس وویل : داسې پیښمانتیا به زه خپله خوش بختي وګڼم ۰

وکیع په خوړونکو سترګو خینس ته وکتل ۰

نو بیا به ددې خبرې پریکړه له تاسره زما توره د جنګ په میدان کې کوي ۰

خینس خپله توره راوویسته ۰

ته دسبا خبره کوې ، همدا اوس راځه ، زه به تاته ډاګیزه کړم چې زما سره تکر کول څومره ستونزمن دي ، که چیرې دخپل پلار زوې یې نو راپورته شه او د خپل قسمت پریکړه وکړه ، خو واوره چې زه همغه خینس یم چې ستا هر بند کار مې درته پرانستې دی ۰

وکیع نرم شو وویل : احساساتې کیږې مه ، ورشه او د قبیلي دخلکوسره خبرې وکړه ، په دې اړه به هیڅ یو له تاسره یوځاې نه شي۰

خینس ورته په ډیره ناهیلۍ سره وویل : تا هغوې ټول بې لارې کړي دي او که نه هغوې دا ډول نه وو ۰

قتیبه رحمه الله مونږ ته ښکنځلې اوبد رد ویلي دي ۰

دهغه ښکنځلې هم زمونږ له پاره ډیر لوې انعام دی ۰

اوس به مونږ او هغوي د جنګ په میدان کې سره خبره سپینوو ، په دې کې زما ارادې شاملې نه دي ، بلکه دا د تقدیر پریکړه ده چې تیښته تری نه شي کیدی ۰

خینس ورته په غمژنه لهجه وویل : تاسو ددې پریکړې په واسطه زه د قتیبه په سترګو کې سپک کړم ۰ خو زه به په هر صورت د هغه سره ملګرتوب کوم ددې خبرې وروسته یې سر تیټ کړ او د وکیع د کوره ووت ۰

خینس خپل کور ته ورننوت ، سر یې همغسې تیټ و او په لاسو کې یې لوڅه توره نیولې وه ۰

سلامه دهغه د راتګ سره سم ور پورته شوه او په منډه مخې ته ورغله اوخینس ته یې غاړه ورکړه ، ماروه ، دمنه ، احمد ، حرب ، مراجل اوطوانه هم دهغه څنګ ته راټول شول ، خو دهغه په خفګان ټول اندیښمن شول ۰ ماروې ته دخینس دغه حالت د زغم وړ نه و اوداسې احساسیده چې اوس به په ژړا پیل کوي ۰

سلامه ترې په ډیرې اندیښنې سره وپوښتل : زویه ! څه درپیښ شوې دي ؟

خینس هیڅ ځواب ورنه کړ ۰

هغه مخته ورغې او د حرب په اوږه یې لاس کیښود اوورته یې وویل : وروره ! ټوله قبیله دسردار وکیع په وینا د قتیبه سره دجنګ کولو له پاره تیاره شوې ده ، زه به همدا نن بیرته د قتیبه لښکر ته ورستنیږم خو زه تا نه مجبوروم چې د وکیع ترڅنګ دریږې او که د قتیبه تر څنګ ۰۰۰

حزب ورته په غمژنه لهجه وویل : ته زما ورور او زما مټ یې ، هیڅ څوک خپل مټ او بازو له لاسه نه ورکوي ، په هر هغه لښکر کې چې ته اوسې په همغې کې به ما هم بیاموموې ۰۰۰ دا زما اخري پریکړه ده ۰

د احمد سترګې لمدې شوی ۰

په ژرغونې اواز یې وویل : که چیرې وایې نو زه به هم له تاسره یو ځای ولاړشم ۰

د خینس اواز نور هم ژور شو ۰

نه ، ورروره ! ته به دپخوا په خیر په کور کې اوسې ، بیا هغه په خپله مخه کې ولاړې ماروې ته وکتل ، هغې ژړل او د خپلو سترګو څخه یې خپلې اوښکې پاکولې •

خینس یو ځل بیا احمد ته وویل : ورروره ! زما نه وروسته به د ماروې په اړه فکر کوې ، داسې یې وګڼه چې دا زما له اړخه له تاسره امانت دی •

تر څو لمحو پورې ټول چوپ او غمژن ولاړ وو •

دا ځل خینس دخپلې مور سلامه په لور وکتل او ورته یې وویل : موری ! که په جنګ کې ومرم نو پرما به اوښکې نه تویوی •

همداسې یې وګڼه چې د مرګ له پاره یوه ورځ ټاکلې ده او د هغې ورځې نه تیښته نه شته ، که زما د مړینې وروسته ماروه په دې کور کې پاته کیدل غواړي ، نو هغې ته په همدې کور کې داسې ځای ورکړئ چې دا ماروه نه ده بلکه ستا زوې خینس له تاسره اوسیږي، زما نه وروسته به دا زما په اړه تا ته هیڅ ډول کمې محسوس نه کړي • خو که چیرې دا پخپله په خپله خوښه کومې لورې ته تلل غواړي نو په لاره کې ورته کوم خنډ مه پیدا کوئ •

ماروه په زوره زوره په ژړا شوه •

سلامې هغه دخپله ځانه سره په غیږ کې ټینګه تاوه کړه ، هغې په خپله هم ژړل خو ماروه ته یې دلاسا ورکوله •

دمنی خپل مخ بلې لورې ته اړولې وا و خپل مخ یې په دواړو لاسو کې پټ کړې و او په سلګیو سلګیو یې ژړل ، مراجل هم د غم له لاسه بیهوشه شوې وه ، د احمد څټ ښکته و ، خینس یوځل بیاد حرب په لور وکتل او ورته یې وویل : راځه ورروره ، چې ځو •

ماروی ځان د سلامې د لاسو څخه را خلاص کړ او دخینس په لور یې ورمنډه کړه ، حرب هم خپل اس را پرانست او د خینس مخې ته یې و دراوه •

دواړو یو ځل بیا دکور په ټولو خلکو سترګې راتاوی کړی او بیا په درنو قدمونو دکوره بیرون ووتل •

ماروه ، سلامه ، احمد ، دمنه او مراجل هملته په دروازې کې ولاړ وو او دوې دواړو ته يې کتل ، کله چې هغوې دواړه د سردار هريم د کور دمخې څخه تيريدل نو هلته يې وکتل چې عتيقه هم د خپل کور په دروازی کې ولاړه وه ، په يوه لاس يې دستمال نيولې و او خپلې اوښکې يې پرې پاکولې او بل لاس يې په هوا کې پورته کړې و او حرب ته يې د خداي پامانی له پاره خوځوو، کله يې چې دوې د سترګو پناه شول نو منډه يې کړه او کورته ننوتله ، خپلې کوټې ته ولاړه اوپه بستره پريوته او په سلګيو سلګيو يې په ژړا پيل وکړ .

***

د بنوتميم سردار وکيع دخپل ځان سره ګڼ شمير عجميان هم را يو ځای کړي واو په دی خوشحاله و چې د قتيبه رحمه الله په مقابل کې ورسره جنګيالي زيات دي . کله چې ددواړو اړخونو فوځونه سره يو دبل مقابل کې و دريدل نود قتيبه بن مسلم رحمه الله سره يوازې څو کسه ځان ځارونکې و خو په مقابل کې د انسانانو سمندر څپې وهلې .

جنګ پيل شو ، قتيبه رحمه الله دخپل يو موټې ځان ځارونکو سره يوځاي په سر باندې کفن و تړه او د مقابلې له پاره رامخته شو ، خو ماته يې وخوړه او د خپلو ملګرو سره يوځاي ووژل شو، خينس اوحرب په تيښته بريالي شول .

کله چې سليمان بن عبدالمالک ته د قتيبه بن مسلم رحمه الله دمرګ خبر ور ورسيد نو سمدلاسه يې دقتيبه رحمه الله په ځاې يزيد بن مهلت دخراسان والي و تاکه .

د قتيبه بن مسلم رحمه الله په مړينې يوه عرب شاعر يوه مرثيه وليکله : چې کله چې زما سپرلی په مدينه کې وه نو د قتيبه د وژلو دردناکه خبر را ورسيد او دهر کس همت مات او توټې توټې شو .

يوه خراسانې د قتيبه په مرګ خپل يوه دوست ته ليکلي و، چې تاسو د قتيبه بن مسلم دومره عزت وکړ چې هغه مو بالاخره پــه وينو رنګ کړ ؟ په الله سوګند چې که چيرې دا شخصيت زمونږ تر منځ واې نو مونږ به هغه

په تابوت کې خوندي ساتلې و او د همدې په برکت به په جنګونو کې بريالي کيدو ·

***

دشپې په ژوره تياره کې دوو مسافرو خپل اسونه په پوره چټکتيا سره ځغلول ، دوې دواړه خينس او حرب وو، کله چې هغوې په فرېار کې دخپل کلي کوڅې ته را ننوتل نو د يوه اړخه ورته ډير تيټ او د راز نه ډک غږ وشو ·

تم شئ ، څوک ياست ؟

خينس دحرب په غوږو کې وويل : دا عتيقه ده ، کيداې شي چې د ډيره وخته راهيسي ستا دراتلو منتظره وه ، ته ورسره وينه ، زه به کور ته ولاړ شم · ته هم ددې ځايه د فارغيدو وروسته دکور په لور راځه ، تر څو د مور سره ووينو ، دا وخت په کلي کې د زړو ښځو او کوچنيانو پرته نور څوک نه شته · که چيرې په جنګ کې برخه اخيستونکې لښکر بيرته راستون شي نو مونږ به ژوندي پرې نه ږدي ، زه غواړم د اخري ځل له پاره د مور سره ووينم · بيا کيدې شي چې ليدل مې ورسره په برخه نه شي ، دا وخت زمونږ د ژوندانه ډير خراب وخت دې ، وخت به نه ضايع کوې ، ژر به راځې ، زه به ستا تر راتلو پورې ستا په اړه انديښمن اوسم ·

کله چې حرب د عيتيقه خوا ته ورغې نوهغې ترې په ډيره ناکرارۍ سره وپوښتل : جنګ کومې لورې ته ولاړ ؟

حرب ورته په خفګان سره وويل : مونږ ناکامه شو ·

قتيبه بن مسلم چيرې دی ؟

هغه شهيد شو او مونږ دواړه ورونه په ډيره سختۍ سره ژوندی راوتلی يو ·

عتيقې سلګۍ وهلې او بيا يې په لوړ غږ ژړا پيل کړه ، حرب ورته تسلي ورکړه ، خينس دهغوې د همدومره خبرې د اوريدو وروسته مخکې دکور په لور روان شوې و ·

خينس په پټو پښو خپل کورته ورننوت او نيغ دهغې کوټې په لور ولاړ چې د رڼا شعلې ترې بيرون راوتلې ، ددروازې يوه پټه نيمه وازه وه · ويې

کتل چې دننه سلامه ، مراجل ، ماروه او دمنه څلور واړه لمونځونه کوي ، هغه په خپل زړه کې وويل : نو ايا ماروې هم اسلام منلې دې ؟

تر لږې شيبې پورې مسکې و خو ډير ژر په کوم سوچ او فکر کې ولويد اوسر يې ټيټ کړ .

احمد په کور کې نه و ،کيداى شي د لمانځه د اداء کولو له پاره جومات ته تللې وي ، معلومه نه ده چې خينس تر کومه پورې هلته ولاړ و چې په دې وخت کې سلامه اواز وکړ .

بيرون څوک ولاړ دې ؟

خينس کرار کرار دننه ورغې ، دهغې کالي او مخ په وينو رنګين شوې و .

څلور واړه وويريدې اوراپورته شوې .

سلامه ترې په ژړا ژړا وپوښتل : زويه ! بيرون ولې ولاړ وې ؟

ځواب يې لنډ او سوکه و .

تاسو لمونځ کاوه .

حرب چيرې دى ؟

را روان دى .

جنګ کومې لورې ته شو .

مونږ بايلوده .

ته غمګين يې زويه ! خيريت خو دى ؟

نه مورې ! اوس خو قبيله زما دښمنه ګرزيدلې ده ، زه له تاسو سره کتلو ته راغلې يم ، دا چې اوس به حالات کومې لورې ته ځې ، پرې نه پوهيږم .

سلامه دخينس په سر لاس راکش کړ .

الله تعالي به ستا مرسته وکړي .

مورې ! ورور مې چيرې دى ؟

لمانځه ته وتلې دې ، هغه ستاسو ددواړو په اړه ډير انديښمن و، زه تاته يوه خوشخبري هم درکوم .

ووايـــه مورى !

مارو ې اسلام قبول کړې دی ۰

خینس ورته په پوره دقت سره وویل زه ورته دخپله اړخه مبارکې وایم ترمخه ولاړې مارو ې هیڅ ځواب ورنه کړ ، هغه داسې ولاړه وه لکه چا چې د تیږې یوه ښایسته مجسمه دخینس مخې ته درولې وي او دهغې مخ یې دخینس په لور را ګرځولې وي ۰

سلامه ترې بیا وپوښتل قتیبه بن مسلم چیرې دې ؟

خینس په ژړغوني اواز وویل هغه شهید شو ۰

سلامه خپل لاسونه و مښل او ویې وویل الهی ! قتیبه شهید شو !

په دې وخت کې حرب دننه را ننوت ، تر څنګ یې احمد هم را روان و ، خینس سمدلاسه ورمخته شو او د احمد سره روغبړ وکړ احمد بلکل چوپ او غمګین و ۰

کیداې شي حرب ورته هرڅه ویلي وي ۰

په دې وخت کې د سلامې لړزیدلې اواز واوریدل شو ۰

مراجل ، دمنه او احمده ! تاسو ټول بلې کوټې ته ولاړ شئ . زه خینس او مارو ې ته څه ویل غواړم ۰

کله چې هغوې ټول بلې کوټې ته ولاړل ، نو سلامی ماروه د لاسه و نیوله او د کوټې یوه کونج ته یې روانه کړه او په غوږ کې یې ورته وویل

لوري ! زه پوهیږم چې په دغه وخت کې چې اوس خینس یو ځل بیا زمونږ نه جدا کیږي ، تـه ورته ډیر څه ویل غواړې ، هغه زمونږ څخه په داسې حال کې رخصتیږي چې په نژدې وختو کې ورسره دبیا کتلو هیله هم نه لرم . دا چې په داسې وخت کې به ستا جذبات څه ډول وي . زه پرې ښه پوهیږم . په دې خاطر ما هغه نور ټول بلې کوټې ته ولیږل ، زه به خینس ستا خواته را ولیږم ، ته ورته هر هغه څه چې ستا په زړه کې دي په سپینه توګه .ووایه ۰۰۰او دزړه نه دې غبار لرې کړه ۰

سلامه خینس ته راغله اوپه ژړا ژړا یې ورته وویل زما د ګل په شان زویه ! ماروه له تاسره څه خبره کول غواړي ورشه اودهغه خبره واوره ۰۰۰

هغه پخپله بیرون را ووتله •

هغه په انګړ کې د خینس د ولاړ اس خواته راغله او د هغې څټ یې مښود اوپه سلګیو سلګیو یې ژړل •

خینس خپل سر ټیټ کړې و او کرار کرار راغې او د مجرم په څیر د ماروې مخې ته په ټیټ سر و درید •

ماروی څو شیبې هغه ته وکتل اوبیا یې خپل سر دیوال سره په زوره زوره وواهه او په کریکو یې شروع وکړه •

خینس په ډیــره ستونزمنه توګه هغه ارامه کړه ، تر لــږې شیبې پورې یې هغې ته د وحشت او ناهیلۍ په سترګو کتل ، هغې تــه داسې بریښیده لکه څوک چې د یو چــا څخه د هغه ډیــر محبوبترین شې پــه زور او جبر سره اخلي •

نا څاپه دهغې بیچاره زړه را ډک شو ، د خینس په چپنه یې لاس وواهه او بیا یې ترې وپوښتل ددې ځایه د وتلو وروسته به چیرې ځې ؟

اوس خو مې کوم منزل او لوری لا نه دې ټاکلې ، کیدای شې چې د قبیلي سردار وکیع زما د نیولو له پاره خپل کسان و ګماري ، ددې نه پرته دخراسان نوې والې یزید بن مهلت هم ډیر ژر رارسیدونکې د ې او هغه د هر هغه چا دښمن دې چې د قتیبه بن مسلم سره دوست وي ، هغه به هم دلته د رارسیدو سره سم زما څخه د بدلې د اخیستلو هڅه کوي ، نو په داسې حالاتو کې به زه په یوه ځاې څنګه تم پاته شم •

ماروه ورته وراندیز وکړ وویل بیا نو ته د قطونه په لور ورشه ، کله چې حالات لږ څه را جوړ شي او ګواښونه را کم شي نو زه بــه هم ستاسو پــه لور درشم •

خینس څټ ټیټ و •

داسې شــوني نــه ده ، پــه دی توګه به دهغه قبیله زمــا پــه خاطر د مصیبتونو ســره مخ شي او زه نــه غواړم چې هغوي تــه د مصبتونو سبب وګرځم •

ماروې بيا په ژړا پيل وکړ وويل : بيا به نو چيرې ځې ؟

تر يوه وخته پورې به په پټنځايو کې شپې تيروم او کله چې حالات ښه شي نو بيا بيرتـــه راستون شم ، ته غم مه کوه ، زه به کله کله ستا دکتلو په خاطــر هرو مرو راځم ، راځـــه چې اوس بيرون ولاړ شو ، مور به انتظار کوي .

دواړه بيرون راووتل .

دبيرون راوتلو سره سم خينس اواز وکړ : موری !

په تياره کې دخپلو اوښکو د پاکولو سره سم سلامه د خپل زوی څنګ ته راغله او ودريده .

مورې ! اوس راته رخصت راکړه

سلامې خپلې شونډې وچيچلې .

خينس بيا غږ کړ وويل : وروره !

حرب د بلې کوټی نه بيرون راووت ، د هغه تر شا احمد ، دمنه او مراجل هم راووتل .

وروره ! راځه چې ځو

هغه حرب ته وويل : ځو ...

حرب د انګړ په لور ولاړ .

د احمد لړزانده اواز راغې وويل : لږ صبر وکړئ .

احمد په منډه کوټې ته ولاړ او د نقدو پيسو يوه کڅوړه يې له ځانه سره راوړه او دخينس ته يې ورکړه او ورته يې وويل : دا له ځانه سره واخلئ ، په دې سخت حال کې به مو په کار راشي .

خينس دحرب په لور اشاره وکړه بيا وويل : ورور ته يې ورکړه .

نه ، ته يې له ځانه سره واخله ، ما حرب پوه کړې دې ، هغه به د پټيدو په دې حال کې تاته دا احساس پيدا نه کړي چې هغه ستا مشر ورور دی او ته به هرو مرو د هغه خبره منې ، ته د هغه نه ډير زړه ور يې ، ځواکمن او پوه يې ، په دې وخت کې د حرب د ساتنې دنده هم زه تاته درسپارم ، اوس

دواړه ورځئ ، که د قبیلي لښکرې پیرته راستنې شي نو هغوې به هرو مرو له تاسو سره لاس وګریوان شي .

سلامې دواړه له لاسونو ونیول او د خپلو اسونو په لور یې راوستل ، بیا یې د خنیس د اس په غاړه لاس راښکود او په ژړغونې توګه یې وویل :

ستا د اس په خرجین کې مې وچه میوه ، غوښه او د خوراک نور ضروري شیان ایښودي دي ، د نقدو پیسو کڅوړه هم له ځانه سره وساتئ ، کله چې زمونږ سره د کتلو له پاره راځئ نو په ډیر احتیاط سره به راځئ ، اوس تاسو ورځئ ، زه تاسو دواړه په الله تعالي سپارم .

د کور ټول خلک دهغوې سره ان ددروازو پورې راغلل . هغوې دواړه د شپې په تیارو کې د کوره ووتل ، د دری څلورو کوڅو د تیریدو وروسته هغوې دکلي نه بیرون شوي وو او بیا یې خپل اسونه په پوره ځواک سره په ځغاسته کړل .

کله چې دسردار حریم د باغونو څخه تیریدل نو یو ښځینه اواز د فضا څپې څیرلې او ددوې د غوږونو دپردو سره یې ټکر کاوه .

وروره !

ژړغونې او زګیروي کونکې اواز و .

خنیس یو ناڅاپه دخپل اس واګې راښکودې او حرب ته یې هم د تم کیدو وویل ، حرب یې څنګ ته راغې او په اندیښنې سره یې وویل : څه وشول ؟

چا مونږ و درولو .

دشپې په دې تیارو کې به څوک وي ؟

عتیقه ده .

لومړی باید ځان مطمئن کړو ، هسې نه چې څوک مو وغولوي .

هیڅکله هم نه ، زه د خپلو همدردو او غم وهلو دوستانو اوازونه پیژنم .

بیا هغه د اس نه راښکته شو .

په کراره یې وویل : عتیقه ! زه خنیس یې ، مخې ته راشه ... څه خبره ده ، له ماسره حرب ملګرې دې ، ویرېږه مه ...

عتیقه په منډه بیرون راووتله او بیا د خینس سره ورغاړي وتله او په زوره زوره یې و ژړل ۰

وروره ! تاسو دواړه چیرې ځئ ؟

دخینس زړه هم را ډک شو ۰

چیرې مو چې تقدیر بوځي ۰۰۰ لاتر اوسه زمونږ په ذهن کې داسې کوم ځاې نه شته ۰

دا څه وشول وروره !

هغې په ډیره غمژنه لهجه وویل : بس الله تعالي ته به همداسې منظور وه

عتیقه خپلې اوښکې وچې کړې او شاته شوه ۰

زما سره راشئ ، ما ستاسو له پاره څه سامان را وستې دې ۰

خینس دهغې سره باغ ته ولاړ ، د یوې لوې ونې لاندې یې د خوراک څښاک څه شیان ایښودي و، خینس او عتیقې دواړو یو ځاي هغه دحرب د اس په خرجین کې ور ځاي کړل او بیا دوې دواړو دعتیقه څخه خداي پامانې واخیسته ۰

بیا یې خپل اسونه د تور غره په لورې په پوره رفتار سره هڅ کړل ، هغوې اوس د شومان د ښار په لور روان و۰

***

خینس او حرب ټوله شپه د اسونو په شا خپل سفر کړې و ، بله ورځ ، کله چې لمر را وخوت نو هغوې د بزدې ښار کوتې ته ور ننوتې و۰ خو دهغوې پسې خطرونو هغوې ډیر سخت متوجه کړې وو، هغوې د لوې سرک نه چپ شول او د یوې کوچنۍ لارې په سر پروت یوه سراې ته ور ننوتل تر څو د تعقیب کونکو د سترګو نه پناه شي ۰

دواړو ورونو د سراې خوراک څښاک وکړو او خپلو اسونو ته یې د دانې او وښو غم وکړ ، تر لږه وخته پورې یې دمه وکړه او د دمې وروسته یې یو ځل بیا خپل سفر ته دوام ورکړ ۰ هغوې د بزدې نه د وتلو وروسته د دنسف په لور د تللې لوې لارې څخه په څنګ شول او په یوه بې نومه کوچنۍ لاره

یې ځانونه د قصبې نومې ښارګوټي ته ورسول ، دا ځاې د لوېي لارې څخه په څنګ واو دخلکو تګ راتګ ورته هم ډیر کم و٠

هغوې په دې ښارګوټې نژدې یوه میاشت پاته شول ، تر دې وخته پورې یزید بن مهلب خراسان ته را رسیدلې و او د ولایت نظم و نسق یې سنبال کړې و ٠

بیا د قصبې دښارګوټي نه د وتلو وروسته هغوې د سودا د غرنیو لړیو په وهلو سره د لمر دپریوتو سره سم د کش ښارګوټي ته ورننوتل ٠

هغوې غوښتل شپه همدلته تیره کړي ، په دې خاطر یې غوښتل کوم ښه سراې پیدا کړي ٠ کله یې چې د یوه سراې ترمخه خپل اسونه تم کړل نو ویې کتل چې د سراې څخه پنځه کسان بیرون راووتل او دخپلو اسونو په پرانستلو یې پیل وکړ ، د هغوې د ډلې څخه د یوه سترګې په خینس ولګیدې او د غصې نه تک سور شو، خپلو ملګرو ته یې وویل : سرقوسه ٠٠٠٠ هغه لیوه و وینه

هغه ترې په ډیره حیرانتیا سره وپوښتل : کوم لیوه ؟

د فریار دښار عرب خینس بن یوسف اوستا د کاکا د زوې باغر قاتل هغه سمدلاسه خپله توره په لا س کې ونیوه ٠

تا څنګه وپیژنده ؟

ما هغه یو ځل هلته په ترمز کې د توفیل په کور کې کتلې و ٠

سرقوسه خپل توره راویستله وویل : نوبیا خو به یې دده سره همدلته معلومه کړو ٠

دا نن سبا بلکل تنها او یوازې دی ، څرنګه چې هغه په جنګ کې د قتیبه بن مسلم ملګرتیا کړې وه ، په دې خاطر یزید بن مهلب اود ده خپله قبیله اوس دده په خلاف ولاړ دي ، یوازې دا نه ، بلکه د یزید بن مهلب سپاهیانو د هغه دنیولو له پاره پلټنه کوي ، په دې حالاتو کې هغه بلکل بې وسه دې ، نو که چیرې مونږ ورسره ټکر وکړو نو د باغر انتقام ترې اخیستلې شو ٠

دهغه دا بل ملګرې څوک دې ؟

دهغه مشر ورور حرب بن یوسف دی •

خینس هم د هغوې خبرې اورېدلې وې ، هغه راښکته شو او داس تر څنګ و درېد ، حرب هم دا پنځه واړه په ډېر غور سره تر سترګو لاندې څارل •

اوس نو دې پنځه واړو خپلې تورې په لاسو کې نیولې وې او د دوې په لور راوړاندې کېدل • خینس دهغوې د هر حرکت څارنه کوله ، خپل دروند اوسپنیز زنځیر یې را پرانستې و او په لاسو کې یې ډال هم نیولو •

حرب هم خپله توره او ډال په لاسو کې نیولې و ، په اس د ناست شاهین سترګو د اور بځرکي تویول او په تیزو سترګو یې ددې پنځو واړو په لور کتل •

کیدای شي چې هغه هم د خطر زنګ احساس کړي وي•

سرقوسه را نژدې شو او ویې ویل : ایا ته همغه خینس بن یوسف یې چې خلک ورته لیوه وایې ؟

خینس څو قدمه ور نزدې شو وویل : هو!

هم تا زما دکاکا زوې باغـر وژلې و ؟

زه بې زړه نه یم او په دی اقرار کوم چې هو !

نو بیا به د دې ښار څخه ستا لاش وځي •

خینس په غصه شو •

ته هسې بکواس کوې ••• زما کار لا تر اوسه پورې نیمایې پاته دې • زه د مرګ تصور هم نه شم کولې ، په الله سوګند چې که څه هم زما اس ستومانه شوې دې او سم یې زخمې شوې دې ، بیا هم زه اجازه درکوم چې دومره انسانان نور هم له ځانه سره راولئ ، زه به تاسو ټولوته همغسې سزا درکړم لکه څنګه مې چې باغر ته ورکړې وه•

کله چې هغوې پنځه واړه د خینس په لور را نژدې شول نو د خپل اس تر څنګ ولاړ حرب پرې راټوپ کړ او حمله یې پرې وکړه ، د سترګو په رپ کې یې یو وواژه او پر بل یې لاس پورته کړ •

په همدې وخت کې خینس هم دخپل اوسپنیز زنځیر سره یو ځاي پر هغوې حمله وکړه او د سترګو په رپ کې یې دهغوې څخه ددرې تنو سرونه لکه د هندوانو په څیر رژولي وو، پاته دوه کسان د حرب په توره خپل ځای ته رسیدلي و.

د سرای خاوند ، دسراې ددروازې سره ولاړ وو او دا ټوله پیښه یې په خپلو سترګو کتله ، د خینس د زنځیر نه اوس هم وینې څڅیدلې ، په همدې حال کې د سراې دروازې ته راغې او د مالک نه یې وپوښتل •

مونږ غواړو شپه همدلته وکړو ، زمونږ اسونه ستومانه شوي دي او دهغې سومان زخمي شوي دي ، هیله ده چې ته به انکار و نه کړې و ، مونږ جنګې خلک نه یو خو دې خلکو دکوم دلیل پرته زمونږ لاره و نیوله او پرمونږ یې حمله وکړه • په دې خاطر مونږ هغوې ته مناسب درس ورکړ •

دسراې مالک ورته مسکې شو •

تاسو دواړه بهارد او زړه ور ځوانان یاست ••• په سرای کې تاسو ته ځاې نه درکول پخپله ډیر بد عمل دی •

خینس ترې په حیرانتیا سره وپوښتل ولي

دا پنځه کسه بدمعاشان د تیرې ورځې راهیسې زما په سراې کې دیره شوي وو اوڅه یې چې خوړلي دي د هغې مصرف نه یې هم نه دې پرې کړې ، اوس یې ماته د یوې ډیرې ښې خوراک د تیارولو حکم وکړ او د لږې شیبې له پاره یې د بیرون تللو له پاره وویل ، کیدای شي چې چیرې به یې لوټمار کاوه ، ځکه دا داړه ماران دي •

خینس دحرب سره یو ځاي سراې ته ننوتل وویل زه ستا ممنون یم یوه بله خبره واوره •

خنیس وویل ووایه

ددوې نور درې کسه ملګرې هم شته • هغوې پرون چیرې تللي دي او نن بیرته راستنیدونکې دي • په دې خاطر تاسو لږ څه محتاط اوسئ ، تاسو دننه کینئ ، زه کوم خدمتګار ته وایم چې ستاسو اسونه طبیلې ته بوځی

او هم ورته غله دانه واچوی او هم نور ته ووایم چې ستاسې لپاره خوراک څښاک تیار کړي او زه به هم دغه لاشونه په یوه ځاي کې ور ښخ کړم ۰
ځکه که چیرې دا همداسې دلته پراته اوسي نو زما د سرای دروازې به وتړل شي ۰

په دې وخت کې ، هغه وخت چې دشپې دوه بجې کیدې نو حرب په یوه ارامه کوټی کې په ارام سره ویده شوې و خو تر څنګ یې خینس په خپله بستره کې لا همغسې ویښ ناست و ۰

هغه په بستره باندې غځیدلې و خو سترګې یې په چت ښښتې وې ، شاهین یې هم پښو ته ناست و او اوسپنیز زنځیر یې هم د پښو په برخه کې پروت و ۰

تر ډیره پورې هغه همداسې بیداره و ، ان تر دې چې د سراې ددروازې د پرانستې اواز راغې ۰

کیدې شي چې هغه به دهمدې وخت له پاره انتظار کاوه ، سمدلاسه دخپل بستر څخه را ښکته او بیرون په برنډه کې و درید ، د هغه شاهین او اوسپنیز زنځیر هم دهغه تر څنګ وو ، ددروازې دپرانستلو سره سم درې سپاره کسان دننه سراې ته راننوتل ۰

دهغوې څخه یوه یې په ډیره قهرجنه لهجه وپوښتل : ایا هغه چې زمونږ ټول ملګري یې وژلي اوس هم په دې سراې کې تم شوې دی ؟

دسراې خاوند ځواب ورنه کړ او د هغوی سر ټیټ و او چوپ ولاړ و ۰

هغه نوي راغلي یو ځل بیا وغورید ۰

ریښتیا ووایه او که نه ستا سر به پرې کړم ۰

پخوا له دې چې د سراې مالک څه ووایې ، دشپې په دغه تیاره کې دخینس غیرمانوسه قهقه خندا راپورته شوه،چې دسراې په ټولو ځایو کې په پوره شان سره واوریدل شوه ۰

زه دلته یم او ستاسو انتظار باسم

نوي راغلي کس ورته وویل : ته څوک یې ؟

همغه چې تاسو ورته لیوه وایی ۰

هیڅ ځواب ور نه کړ۰

خینس ورته یو ځل بیا وویل : زه به تاسو تیښتې ته پرې نږدم ۰

خینس دهغو درې وارو په لور اشاره وکړه ، لږه شیبه کې د شپې په دې توره تیاره کې د شاهین د وزرونو اواز راپورته شو ، په دې دریوارو یې حمله وکړه ، د حملې سره سم توله فضا په چغو اوفریادونو ډکه شوه ۰

بیا هرڅه چوپ شول ، ژور او ویرونکې سکوت و ۰

هغوی دریواړه له منځه تللي و، د سراې مالک تر اوسه پورې حیرانه او اندیښمن ولاړ و ، شاهین خپل کار کړی و او بیرته دخینس په لور ستون شوې و ۰

کله چې خینس د خپلې کوټې په لور بیرته ستنیده نوویې کتل چې حرب یې تر شا ولاړ دې ۰

په لاسو کې یې توره او ډال و او خندیده ۰

خینس ور وګرزید او ورته یې وویل : ته راییداره شوې یې وروره !

حرب نور هم په زوره وخندل ۰

زه کله ویده شوې یم ، ما خو هسې سترګې پټې کړې وې، دا به څنګه شوني وي چې ته به ویښ یې اوزه به ویده کیږم ۰

دواړه ورونه بیرته خپلې کوټی ته ولاړل ، کله چې کیناستل نو د کوټې په دروازې یې چا ټک ټک وکړ، دواړو په پوښتونکو سترګو یوبل ته وکتل ،بیا دواړه و دریدل ۰

د خینس په لاسو کې زنځیر او ډال و او حرب هم خپله توره او ډال په لاسو کې نیولي و ۰

خینس ورغې او ددروازې تر مخه و درید ، ډال یې خپلې مخې ته کړ او ددروازې زنځیر یې پرانست ، هغه د ګذار کولو له پاره پوره تیار و۰

حرب یوې لورې ته شو او دروازه یې پرانستله ۰ ویې کتل چې تر مخه یې د سراې مالک مخارق ولاړ دی ۰

دوارو ورونو یو بل ته وکتل او مسکی شول ۰

خینس د مخارق نه وپوښتل : له مونږ سره کوم کار لری ؟

مخارق د ننه راغی ۰

زه تاسو ته ډیر څه ویل غواړم ۰۰۰ زه ستاسو مشکور یم چې دویم ځل مې هم په کار راغلئ ، که چیرې تاسو مداخله نه وای کړې نو هغوې به په یقیني توګه زه وژلې وم ۰

خینس ورته په خندا شو ۰

دا خو دومره ستر کار نه دې او بیا تا هم هغوې ته زمونږ په اړه معلومات نه ورکاوه ۰

دا زما اصول دي ، هر هغه څوک چې زما په سراې کې پاته کیږي د هغه ساتنه اوحفاظت زما فرض دي ، اوس تاسو ارام وکړئ ، ما خپل کسان ستاسو د کوټې شاوخوا درولي دي ،ترڅو ستاسو حفاظت وکړي ۰

دې ته هیڅ اړتیا نه شته ، مونږ د خپلې ساتنې په طریقو ښه پوهیږو ۰

مخارق بیرته ستون شو ، خینس او حرب په خپلو بسترو کې و غځیدل ، بله ورځ سهار وختې هغوې د کنش په لور کوچ وکړ ۰۰۰۰

***

لمر پریوتو ته نژدې شوې و، فضا هره لمحه تیارغونې کیده ، د کوچنیو کوچنیو غرونو سره یو ځاې خړه او ګردجنه هوا یوې خوا بلې خواته خپریده ۰

خینس او حرب د زینل دسیند دلرګیو د جوړ شوي پُل څخه تیر شوي و او د شومان ښار ته ور ننوتي وو ، د هغه وخته چې مسلمانانو په دې ښار ولکه کړې وه ،په ښارکې ډیر زیات بدلونونه راغلي و، د ښار په منځنۍ برخه کې چې پخوا په کې یو ( اتش کده ) وه، هلته اوس یو ډیر ښکلې جومات جوړ کړل شوې و، د جومات منارونه د ډیر لرې واټن څخه هم تر سترګو کیدل ۰

دواړه د نوطس دکور په لور راغلل خو ویې کتل چې د کور دروازې یې بندي دي ۰

دوې لېږ څه اندېښمن شول ۰
دوې خپل مخونه پټ کړي و تر څو هلته و نه پيژندل شي ، تر لږې شيبې پورې هملته تم پاته شول ۰
په دې وخت کې د مسجد څخه د سکون او اطمينان نه ډک اواز راپورته شو ۰
الله اکبر ۰۰۰ الله اکبر ۰۰۰
اذان پيل شوې و ۰
دواړه د جومات په لور ولاړل ، اسونه يې د جومات نه بيرون وتړل بيا يې اودسونه وکړل او د الله تعالي په حضور کې يې سرونه په سجده کيښوول ، د شومان په ښار کې ، چې پخوا يو لمونځ کونکې هم نه و اوس دخلکو څخه تر خولې پورې ډک شوې و ۰
دلمانځه نه وروسته يې وکتل چې نوطس د لمونځ کونکو په لومړی صف کې ناست دې ، کله چې ټول لمونځ کونکې ولاړل نو نوطس په نفلو کولو پيل وکړ ۰
خينس او حرب چې په اخرې صف کې ناست و د هغه د فارغيدو انتظار يې پيل کړ ، اوس نو په جومات کې ددې دريو څخه بل څوک نه و پاته شوې ، د نفلو د ادا کولو نه وروسته نوطس تر ډيره پورې ناست و او د الله تعالي ذکر يې کاوه بيا يې ددعا لپاره لاسونه لپه کړو او په ډيری عاجزی سره يې دعا پيل کړه :
اې د اسمانونو او زمکو مالکه ۰۰۰ ای ددواړو جهانو پيداکونکيه ۰۰۰ ستا شکر ادا کوم چې زه دې د اسلام په رڼا باندې منور کړې يم ، ستا اوستا د رسول صلي الله عليه وسلم نه وروسته زه دهغې هستۍ هم شکر باسم چې د خير غوښتو څخه يې زما غاړه خلاصه کړه او هم ماته يې د اسلام په لور د ورتلو رغبت راکړ ، د هغه نوم خنيس بن يوسف دی ۰

الهی ! هغه چې هر چیرې وي خوښ او خوشحاله یې ولرې • هغه د قوم پالنې نه لرې ستا درضا په خاطر د قتیبه سره لاس یو کړ ، خو نن یې حالات پر خلاف دي •

نو ای زما مالکه ! ته پرې د خپل رحمت سیورې دایم ولره ، په دغه غم لړلي وخت کې چې هغه په هر ځای کې د ځان د پټولو هڅه کوي نو زه ستا په حضور کې دهغه دسلامتۍ له پاره دعا او عذر کوم •••

نوطس دعاګانې کولې ، د هغه تر شا ناست خینس خپل سر ټیټ کړې ناست و او د سترګو څخه یې داوښکو باران را روان وو، د حرب حالت هم دهغې نه کم نه و •

نوطس خپله دعا پای ته ورسوله او را پورته شو خو خینس لا تر اوسه پورې په همغه حالت کې ناست و ، د هغه د څنګ نه په تیریدو سره نوطس تکان وخوړ او څو لحظې یې هغه ته وکتل ، بیا شاید چې د اطمنیان له پاره په حرب سترګې ښخې کړې ، دهغه د مخ رنګ الوتې و او دخوشحالۍ نه په ډک اواز سره یې وویل : خینس •

خینس سر راپورته کړ او په عجیبه توګه یې د نوطس په لور وکتل • نوطس ورښکته شو او هغه یې له لاسه ونیوه •

کله راغلې یاست ؟

خینس راپورته شو او د نوطس سره ورغاړیوت •

ډیر به ستړې یې !

کله راغلې یې ؟

همدا اوس اوس •••

چا خو به نه یې پیژندلې ؟

نه ، مونږ دواړو خپل مخونه راتاو کړي و •

دا مو ډیر ښه کار کړي دي ، یزید بن مهلب ستا دنیولو له پاره د ښار حاکم ته حکم نامه لیږلې ده ، همداسې حکمنامې یې نورو ښارونو ته هم

ور لیږلې دي ، په دې ښار کې اوس هره لمحه ستا له پاره خطره ده ، دخینس سر تیت شو •

نو ددې مطلب دا شو چې مونږ اوس دلته هم نه شو اوسیدلې او لا تر اوسه پورې زمونږ د پټنځایو په اړه لټون پاې ته نه دې رسیدلې •

تا سهي فکر کړې دې ، خو په دی اړه اندیښنه مه کوه ، زه هیله مند وم ه چې ته به هرو مرو دلته راځې ، په دې خاطر ما پوره پوره تیارې کړی دی •

څنګه تیارې ••••

همدا نن شپه بلکه همدا اوس مونږ دا ښار پرېږدو •

چیرې به ځو ؟

دسمرقند سره نژدې د طراز په نامه یو بې نومه کلې دې ، څوک دا ګمان هم نه شي کولې چې ته هلته اوسیږې ، هلته زما یو دوست دې او هغه یو اضافي کور هم لري • هملته به مونږ اوسیږو ، هغه زیات شمیر میږې ، وزې ، اوښان او نور حیوانات لري ، د ورځې به مونږ دهغه رمې څروبه وو او د شپې به یې په کور کې اوسیږو ، په دی نا وړه حالاتو کې به مونږ مجبورا دغه ډول عمل کوو •

حرب هم په خبرو شو •

نوطس سهي خبره کوي ، دلته ریښتیا هم زمونږ له پاره خطره شته ، مونږ به همولته په طراز کې اوسیږو ،که چیرې هلته هم خطره راپیدا شوه نو مونږ بیا د شمال په لور خوځیږو ، هسې خو هم د ترک قبیلي د سردار ارطبون کاروان هم په همغو لارو سفر کوي، نو که چیرې خطر زیات شو نو بیا به دترکانو کالي واغوندو او د هغوې په قبیلي کې به ور ننوځو • هلته به مونږ ډیر محفوظ اوسو ، ځکه په دومره لویه قبیله کې ددوو کسانو پټول به ارطبون ته دومره مشکل او ستونزمنه کار نه وي •

خینس راپورته شو •

که چیرې ستاسو د دواړو اراده همداسې وي نو ورځئ ، هر چیرې چې ستاسو ددواړو خوښه وي زه درسره تللو ته تیاریم •

د جومات نه د راوتلو سره سم نوطس خپلې پنځې په پښو کړې او ورېې ویل: تاسو دواړه دښار د جنوبي دروازې نه بیرون زما انتظار وکړئ، زما سره ډیره زیات اثاثه ده، زه به هغه ټول هر څه راواخلم او له تاسو سره به یو ځای شم ...

خینس راپورته شو او نوطس یې له لاسه و نیوه.

نوطس کاکا! ته همدلته اوسیږه. ته به ولې زمونږ په خاطر دا ټولې ستونزې په ځان اخلې، معلوم نه ده چې زمونږ تقدیر مونږ کومو ځایو ته بوځي، ته زمونږ سره ددې تریخ ژوند په پل پل مه ږده.

دنوطس اواز ژړغوني شانته شو.

زه اوس په دې ښار کې اوسیدل دځان له پاره حرام ګڼم ... زه به دا خپل پاته ټول ژوند له تاسره تیروم. هیله لرم چې په خبرو به وخت نه ضایع کوو، ددې امنیتی کړۍ ستا د نیولو له پاره ډیرې بې کراره دي، بس تاسو دواړه هلته د جنوبي دروازې نه بیرون زما انتظار وکړئ، دا زما اخري پریکړه ده، ددې خبرې سره سم نوطس د ځوانانو په څیر په یوه منډه د جومات نه بیرون شو.

هغوې دشپې په تیاره کې په ډیر احتیاط سره د ښار د جنوبي دروازې څخه بیرون شول او هلته یې دونو په یوې ګنې کې د نوطس له پاره انتظار پیل کړ. هغوې به لا لږه شیبه هم انتظار نه وکړې چې نوطس یې هم د جنوبي دروازې څخه د وتلو په حال کې وکتلو، نوطس لږ څه متکې ورغې، بیا یې خپل ښي او کیڼ لورې ته وکتل، هغه دخینس لوحرب د پیدا کیدو لټون کاوه.

په دې وخت کې خینس ورته غږ کړو.

نوطس همغه لورې ته ورمنډې کړې، خینس په اس باندې سپور و، نوطس یې له لاسه و نیوه او پورته یې کړ او په خپل اس یې شاته کینوو.

نوطس خینس ته یوه درنه کڅوړه ورکړه.

دا تولې طلایې سیکې دي ، په خرجین کې یې کیږده ، په پردې وطن او د بې کورۍ په وخت کې دا ډیرې په کاریږي ۰

خینس په پوره چوپتیا سره هغه کڅوړه دخپل اس په خرجین کې کیښوده ،او اس ته یې پونده ورکړه ، لږه شیبه وروسته د زنیل دسیند دلړکیو نه دجوړ پُل څخه تیر شول اوبیا یې اسونه د سمرقند په لور په تللې لویه لاره رهي کړل ۰

د څو ورځو د پرلپسې مزل وروسته یوه ورځ دریواړه دسمرقند نه یو فرسنګ جنوبي اړخ ته په یوه کلي کې ور ننوتل ، ددی کلي نوم طراز و ۰ دکلي ختیځې برخې ته په رسیدو سره نوطس دیوې حویلۍ مخې ته ودرید او د هغه دروازې یې ور و ټکوله ۰

د پوخ عمر یوه کس دروازه پرانسته ۰

لومړی یې تر څو لمحو پورې نوطس ته کتل او بیا یې چیغه کړه ۰

اوه ۰۰۰نوطس ۰۰۰ زما ډیر درونډ دوست او زما محسن ۰

نوطس هم ورمخته شو اودهغه سره یې غاړه ورکړه ۰

دواړو تر یوه وخته پورې یو بل ته د محبت او مینې غیږ ورکړې وه ، کله چې خلاص شول نو نوطس ورته خینس او حرب ور وپیژندل ، اغوس دریواړه له ځانه سره دننه کور ته بوتلل او په یوې کوټې کې یې کینول ۰

نوطس دکیناستو سره سم وویل : اغوسه ! مونږ دریواړه دلته د مستقل پاته کیدو اراده لرو ، ایا ته مونږ ته هغه کور راکولې شې چې له تاسره اضافي پروت دې مونږ به تاته دهغې قیمت درکړو ۰

اغوس ناراضه شو او ویې ویل : د پردیو په څیر خبرې مه کوه نوطسه ! ته زما داسې دوست یې چې د ورونو څخه هم زیات راته ګران یې ، تاسو دریواړه به زما سره په همغه کور کې اوسیږئ ۰

که چیرې ته غواړې چې مونږ په طراز سیمه کې واوسو ، نو ته به مونږ ته خپل هغه اضافي کور راکوې ، زمونږ څه مجبوریتونه دي او د همغې له مخې مونږ غواړو ځانته واوسیږو، په همدې کې زمونږ سلامتي ده ، ځکه

ستا هغه کور دکلي نه بیرون دې او همغه زمونږ د اوسیدو له پاره ډیر مناسب ځاې دې ...

اغوس ترې وپوښتل: مجبوریت مو څه دې ؟

نوطس ځواب ورکړ: اوس یې زه درته نه شم ویلې .

که چیرې خبره همداسې وي نو په همغه کور کې اوسیدې شئ په یوه شرط سره او هغه دا چې زه به دهغې کور قیمت له تاسو نه اخلم ، د نن نه وروسته هغه کور خپل وګڼئ .

مونږ ته منظور دې خو په یوه شرط ...

اغوس ورته وویل: څه شرط دی

ته به مونږ ته اجازه راکوې چې مونږ به د ورځې ستا رمې څروو او دشپې به په هغه کور کې اوسیږو . داسې یې وګڼه چې دا هم زمونږ یو مجبوریت دې او که چیرې ته یې و نه منې نو مونږ به په همغه وخت له دې ځایه کوچ وکړو او د سمرقند په کوم سراې کې به ځاي و نیسو .

نوطس ورته وویل: که چیرې تاسو په دې خوشحالیږې نو دا شرط ماته منظور دی .

نوبیا راپورته شه ، مونږ همدا اوس هغه کور ته ورځو .

اغوس و درید وویل ورځئ ، څنګه چې ستاسو خوښه وي .

هغوی دسهار نه تر ماښامه به یې د اغوس رمې څرولې اودشپې به د کلې نه بیرون په همغه کور کې پاته کیدل .

اغوس ورته یوه وینځه او غلام هم ورکړي و ، چې د هغوې د اخلي پخلې انتظام به یې کاوه اوبه دې توګه نوطس د خینس اوحرب سره یوځاي د سمرقند په دې بې نومه کلي کې ژوند تیروو .

***

ماروه ، سلامه ، دمنه او مراجل ټول دکور په انګړ کې ناست و او د خوراک څښاک کولو تر څنګ یې په خپلو منځو کې خبرې اترې کولې ، ددوې اساسي موضوع دخینس او حرب دکوره تلل و ، ټولو ورته په لپو لپو دعاوې کولې .

ماروه په ټولو کې مخته وه ، هغه د خینس په اړه ډیره اندیښمنه وه • اوغوښتل یې دهغه په اړه ډیر څه واوري چې هغه اوس چیرې دې او په څه حال کې دې ؟

دغه ډول ډیرې پوښتنې یې په ذهن کې را ګرځیدلې ، چې ځواب یې د هیچا سره هم نه و•

د انګړ په هغه بل اړخه کې طوانه د اسونو له پاره ګیاه او دانه ورکوله • په دې وخت کې احمد په منډه کور ته راننوت ، هغه سخت ساه نیولې و• دهغې په کتلو سره ټولو خبرې پریښودې او د احمد په لور راغلل •

طوانه هم به منډه د احمد خواته راغې او ودرید اوپه ډیره اندیښنې سره یې احمد ته کتل •

دهمدې ویرې او ترهې په وخت کې سلامه په خبرو شوه او د احمد څخه یې وپوښتل : زویه ! څه شوی دی ؟

احمد خپله ساه جوړه کړه او وېې ویل : مورې ! د یزیدبن مهلب ورور حبیب د څو کسو عسکرو سره زمونږ کلي ته راغلې دې ، د سردار وکیع او څو نورو کسانو سره یې خبرې کړي دي ، هغه په اصل کې دخینس او حرب دواړو دنیولو له پاره راغلې دې او که چیرې هغه ورته په لاس ور نه شي نو ماروه به نیسې او له ځانه سره به یې بندي کوي • په ماروه به پوره سختي کوي تر څو خینس او حرب ترې خبر شي او بیا هغوې دماروې د خلاصون له پاره راشي اوپه دې توګه هغوې دواړه بندیان کړل شي •

سلامې چیغې کړې داسې نه شي کیدای •

داسې کیدونکې مورجانې ! ماروی ته ووایه چې د طوانه سره یو ځای دکور تر شا وتښتي ، زه به هلته یوه رسۍ وتړم تر څو په اسانۍ سره دهغې ځایه لاندې ښکته شي •

سلامې په ژړا پیل وکړ ووېل : دوې به چیرې ولاړ شي ، زه به یې هیڅرې تللو ته پرې نږدم ، زه به یې ساتنه کوم •

موري ! ضد مه کوه ، ماروه او طوانه ته ووايه چې ددې ځايه پښې و کاږي ٠ که چيرې حبيب د خپلو سپاهيانو او د کلي د ځوانانو سره دلته راشي نو دماروه عزت به خوندي پاته نه شي ٠

هغې يو ځل بيا په چغو پيل وکړ وويل : موري ضد مه کوه ! د الله له پاره ماروه او طوانه ته ووايه چې د کور د شا له اړخه و تښتيږي ، زه نه غواړم چې د خپل کشر وروړ عزت زما تر مخه تر پښو لاندې کړل شي ، زه به هر هغه لاس پرې کړم چې دماروې په لور وربود شي ، که چيرې ته غواړې چې په دې کور کې وينه توې نه شي نو ماروې او طوانه ته ووايه چې ددې ځايه و تښتيږي ، ددې ځايه دې ولاړ شي او د نسف په کوم سراې کې دې ديره شي ، کله چې حالات سم شي نو زه به پخپله ورشم او دهغه ځايه به يې له ځانه سره بيرته راولم ٠

خپلې اوښکې يې وچې کړې او سلامه ته يې وويل : موري ! ورور مې سهې خبره کوي ، مونږ دواړه بايد ددې ځايه ولاړ شو ، کله چې حالات درست شي نو مونږ به بيا بيرته راستانه شو ، په همدې کې زمونږ له پاره خير دی ٠

احمد ورمنډه کړه او دکوټې نه يې يوه کڅوړه را وويستله او د ماروې په لاسو کې يې ورکړه ٠

دا د طلايې سيکو څخه ډکه ده ، که چيرې تول ژوند يې مصرف کړې هم نه خلاصيږي ، په دې وختو کې که خينس زمونږ مخې ته راغې نه هغه ته به هم ستا په اړه معلومات ورکړم ٠ هغه به همدلته په نسف کې ستا حفاظت هم وکړي او له تاسره به ليده کاته هم کوي ٠

ماروه په ژړغونې اواز وويل : وروره ! ژر کوه ٠٠٠ د کور تر شا رسی را وغځوه ، زه به د همغې په واسطه لاندې ښکته شم او د نسف په کوم سراې کې به تم شم او دحالاتو ښارنه به کوم ، زما دمور قبر هم همدلته دی او د هغې په شنون کې به ماته حوصله تر لاسه کيږي ٠

بيا هغه دننه ولاړه ٠

دوه توري يې راوړې ، يوه يې دخپل ځان له پاره اويله يې د طوانه له پاره ٠

احمد په چټکۍ سره دننه ولاړ او يوه اوږده رسۍ يې راواخيسته او د طوانه په لور د کټلو سره سم يې وويل ٠

طوانه ! ته دوه اسونه را واخله اود کور شا ته يې بوځه ٠ خو ژر ژر کوه ٠ طوانه د اسونو دپرانستو پسې ورغې ، احمد او ماروه په چټ و ختل ٠ درسۍ يو سر احمد په لاسو کې و نيو او بل سر يې لاندې په ځمکه و غورځوو ، ماروه د همدې رسۍ په مرسته لاندې ښکته شوه ، احمد هملته په چټ ولاړ پاته شو ، کله چې طوانه د اسونو سره ور ورسيد نو دواړه په اسونو سپاره شول او د جيحون دسيند په لور يې په ځغاسته کړل ، احمد رسۍ بيرته راټوله کړه او لاندې را ښکته شو ٠

د کور هر وګړي په غم کې ډوب و، د خوراک څښاک د تيارولو له پاره د هيڅا فکر هم نه راګرزيده ، په نغرو کې بل کړې اور اوس مړشوې و ٠

په دې وخت کې بيروني دروازه و ټکول شوه ، احمد دروازه پرانسته ، ويې کتل چې بيرون د خراسان د والي يزيدبن مهلب ورور حبيب ولاړ دې ٠ دهغه سره پنځلس کسه خراساني سپاهيان يې هم ملګري دي ، تر څنګ يې د بني تميم درې کسه ځوانان هم ولاړ دي ٠

حبيب ، احمد ته وويل : زه دخراسان د والي ورور حبيب يم ٠

احمد بيرون ورووت او دشا له اړخه يې دروازه بنده کړه وويل : ما وپيژندلئ ٠

ستا نوم څه دې ؟

زه احمد نوميږم ٠

دخينس اوحرب ورور يې ؟

هو ٠

هغه دواړه چيرې دي ؟

ماته يې په اړه معلومات نه شته ، د جنګ نه وروسته ورک دي ٠

حبیب ورته په طنز سره وویل : نه دې وي خو ماروه چیرې ده ... هغه چې خینس له ځانه سره د ترمز نه راوستلې وه او ډیره مینه ورسره کوي .

د هغې سره دې څه کار دې ؟

حبیب وویل : همغسې چې د خینس سره یې لرم .

هغه هم له دې ځایه تللې ده .

حبیب توره را وویستله .

ته بکواس کوې ، هغه همدلته په همدې کور کې ده . مونږ به ستا دکور تالاشي وکړو ، هرو مرو به دې چیرې پته کړې وي .

زه درواغ نه وایم هغه له دې ځایه تللې ده .

زه ستا کور تالاشي کوم .

ته ځانته راتلې شې .... زه به درته ټول کور وښایم .

نه له ماسره به زما دا سپاهیانو او ستاسو د قبیلې دغه ځوانان هم دننه راځي .

لږ صبر وکړئ ، ترڅو زه پرده وکړم ...

پرده کوې او که ماروه چیرې پټوې اویا هغې ته د تښتیدو حکم کوې ...

احمد غوښتل خبره وکړي چې د قبیلې ددرې ځوانانو څخه یې یوه وویل : رواغ ولي وایې ، مونږ پخپله ماروه نن ماسپښین په کور کې کتلې وه .

په پټه خوله یې دوې ته ورکړه .

احمد ورته په ډیره عاجزی سره وویل : الله ګواه دې چې زه درواغ نه وایم هغه له دې ځایه تللې ده .

مونږ ته معلومات نه شته چې ته سهي خبره کوې او که غلطه ، خو مونږ به هرومرود کور تالاشي اخلو .

بیا لږ صبرو کړئ ، ترڅو زه دخپلې مور نه وپوښتم ، چې هغه په دې اړه څه وایې ، دهغې پریکړه به زما له پاره اخري خبره وي .

ورشه او ترې وپوښته .

احمد دننه راغي او سلامي ته يې وويل : موري ! بيرون د خراسان د والي ورور راغلې دې ، د هغه سره پنځلس كس عسكر او زمونږ د قبيلي درې كسه ځوانان هم ملګري دي ، هغوې غوارې چې دماروې دپيدا كولو په خاطر زمونږ كور و پلټي ، ته ما ته په دې اړه څه هدايت كوى ؟ كه چيرې وايې چې زه هغوې ټول ددروازې نه بيرون تم كړم ،ته زما مور هم يې او پلار هم ، خپله پريكړه دې وكړه په الله تعالى قسم چې كه ته ووايې نو زه به د هغوې دهر هغه ځوان پښې ور پرې كړم چې زمونږ كور ته د په زور د راننوتلو هڅه وكړي ••

سلامه په ژور فكر كې ډوبه شوه •

مورې ! ته به هرو مرو دا فكر كوې چې كه چيرې په دې وخت كې خينس په كور كې واې او خپل درونډ اوسپنيز زنځير يې د وينه تويونكې شاهين سره يو ځاي په لاسو كې وايې نو ددې خلكو مخه به يې نيولې وه •

زما دې زما په پيدا كونكې سوګند وي چې كه ته ماته خپله پريكړه راكړي نو زه به درته ثابته كړم چې زه دخپل ورور خينس بن يوسف ، چې د اتو اتو او لس لس ځوانانو سره يې په ځانته ځان مقابله كوله ، په څير ددوې مقابله وكړم اوپه دې اړه به تاته هيڅ ډول كمښت محسوس نه كړم او كه نه بيا دې شيدې مه رابښه •

سلامه سر را پورته كړ اوپه لمدو ستركو يې وويل : جذباتي كيږې مه ، هغوې پريږده چې دننه راشي ، كه چيرې د تالاشۍ كولو په واسطه دا جګړه پاي ته رسيږي نو ددې نه ښه لاره چيرته ده • زه نه غوارم چې په دې كور كې وينه و بهيږي او نه غوارم چې دا معامله ددې نه زياته اږوده شي ، ته هغوې ته ووايه چې بيشكه راشئ او تالاشي وكړئ •

احمد بيرته ورغې او دروازه يې ورته پرانسته ، سر يې ټيټ كړ اوپه داسې حال كې چې خپلې شونډې يې چيچلې ويې ويل : زما د مور حكم دې چې تالاشي اخيستلې شئ •

دحبيب تر شا شا هغوې ټول دننه راغلل او دکور په پلټنه يې پيل وکړ ، د پوره لټون وروسته ، کله يې چې ماروه د سترګو نه شوه نو حبيب د ليونيانو په څير بيرون راغې او احمد يې دګريوان نه ونيو اوورته يې وويل : ووايه ماروه چيرې ده ؟

احمد ترې په يوې جټکې سره خپل ګريوان خلاص کړ او ورته يې وويل : ما درته پخوا ويلي دي چې ماروه له دې ځايه تللې ده ، خو تاسو د تالاشی د اخيستلو له پاره اصرار کاوه .

په دې وخت کې د سردار حريم لور عتيقه په منډه منډه راغله او ددروازې ترڅنګ ودريده او دغه ټوله نظاره يې کتله .

حبيب غوښتل به ځواب کې ورته څه ووايي چې په دې وخت کې د بنو تميم د ځوانانو څخه يو ځوان ددمنې په لور اشاره وکړه او ويې ويل : دغه مختته دده ښځه ولاړه ده ، ترڅو چې مونږ ته ماروه په لاسو کې را نه کړي نو ښځه يې له ځانه سره بوځه ، که چيرې لږ څه غيرت هم په کې وي نو خپله ښځه بــه زمونږ څخه خلاصه کړي او په بدل کې به يې ماروه مونږ ته حواله کړي .

حبيب خپل يوه سپاهي ته اشاره وکړه .

ښځه يې و نيسئ .

احمد توره را وويستله او په لوړ غږ يې وويل : خبر دار! چې څوک هغې ته لاس ور نه وړي ، هر چا چې لاس وروړ لاس به يې پرې کړل شي .

هغه سپاهي په ډير لجاجت سره وويل زه لاس ور وړم ، بيا به ووينم چې ته څه ډول زما لاس پرې کوی .

هغه سپاهي د دمنې په لور خپل لاس ور غځوو چې احمد پرې د تورې داسې ګذار وکړ چې د هغه دواړه لاسونه يې په مټو کې ور پرې کړل . او بيا يې د زخمې حيوان په څير په غورس کې وويل : ما نه ويلي چې هغې ته به لاس نه وروړی .

حبيب چيغه کړه او عسکر ته يې حکم وکړ .

دا بدمعاش و نیسئ .

سپاهیانو به لا توري نه وي را ویستلي چې احمد ورمنډه کړه او د هغوي څخه یې دوه کسه عسکر هملته ځاې په ځاي ووژل .

سلامې هم منډه کړه او دري توري یې را وویستلې ، یوه یې دخپل ځان سره وساتله او دوه نور یې دمنې او مراجل ته ورکړې ....او ویې ویل : که مرګ وي نو دخپل کور په انګړ کې به باعزته مړه کیږو .

سپاهیانو غوښتل په احمد حمله وکړي چې په دې وخت کې سلامي ، دمنې او مراجل په سپاهیانو باندې حمله وکړه، دوې دریواړو دوه کسه سپاهیان له منځه یوړل ، په دې وخت کې څه سپاهیانو شاته شول اوپه دوې یې حمله وکړه .

احمد د سپاهیانو په مقابل کې په پوره توان سره مقابله کوله خو د عسکرو شمیره زیاته وه په دې خاطر یې خپل قسمت له لاسه ورکړ او ووژل شو او په وینه باندې یې ټول انګړ رنګین وګرزید .

سلامه ، مراجل او دمنه هم په پوره ځواک سره وجنګیدې خو ددومره باتجربه سپاهیانو ترمخه هغوې هیڅ هم نه و په دې خاطر یوه یوه په خپل ځاي باندې ووژل شوه ، یو سپاهی دسلامه په ګیډه کې خپله توره ور ننویستله او هغه یې په ځمکه وغورځوله ، په ځمکې د غورځیدو سره سم سلامې د خپل کور د انګړ په وینو ککړه خاوره په خپل موټې کې را واخیسته او په ډیر حسرت سره یې وویل : خینس ! زما لعله ، ته به چیرته یې ... کاش ته همدلته واې او د خپلې مور دغه دحسرت نه ډک مرګ دې په خپلو سترګو کتلې واې ... ته چې هر چیرې یې ، زما د سترګو رڼا یې ، خوښ او سلامت اوسې ...

ددې خبرې سره سم یې خپله اخري ساه واخیسته او ددې نرۍ څخه یې سترګې پټې شوې .

حبیب دخپلو پاته ملګرو سره بیرون ووت اوپه کوڅې کې یې خپلو سپاهیانو ته وویل :

دوه دوه یو ځای شئ او ځلورو خواوته ولاړشئ ، که چیرې هغه له دې ځایه تللې وي نو لا تر اوسه به چیرې نژدې وي ، هغه باید په هر حال کې ژوندی ونیوله شي •

سپاهیان هرې لورې ته خپاره شول ••••

حبیب هم له هغه ځایه ولاړ •

دکلې درې واړه ځوانان هم دهغوې سره و •

عتیقې ورمنډه کړه او د سلامې په وینو ککړ جسد باندې ور پریوته او په چغو چغو یې ورته وژړل •••••

***

طوانه او ماروې خپل اسونه د جیحون د سیند په غاړه په پوره چټکتیا سره ځغلول ، دهغوې تر شا دوه کسه سپاهیانو هم په پوره بیړه د هغوې تعقیب کاوه •

کله چې عسکر ور نژدې شول نو دواړه تم شول او دیوه یوه عسکر مقابلې ته و دریدل •

هغوې فکر کاوه چې ددې دواړو عسکرو د وژلو وروسته به بل څوک دهغوې په تعقیب پسې ولاړ نه شي خو شاید چې قدرت ته به نور څه منظور وو•

طوانه د خپل مقابل عسکر سره د جنګ په دوران کې ووژل شو خو ماروه دخپل مقابل لورې په مخکې کلکه ولاړه وه او بالاخره یې هغه وواژه ، په همدې وخت کې هغه بل عسکر هم په ماروې حمله وکړه•

ماروې سمدلاسه دخپلې تورې په واسطه دهغه عسکر ګذار واخیست ، خو د هغه عسکر توره د ماروې د تورې سره ونښته او بیا را خلاصه شوه او دماروه پښه یې پرې کړه ، دهغې پښه سمدلاسه په ځمکه پریوته •

په ماروې باندې ددرد د زیادښت له کبله خولې راماتې شوې خو حوصله یې له لاسه ور نه کړه او د خپلې تورې په یوه بل دروند ګذار سره یې دهغه عسکر څټ ور پرې کړ بیا یې په خپله ښئ پښه اس ته لغته ورکړه او د جیحون دسیند په غاړه یې په ځغاسته کړ •

د ماروې د پرېکړل شوې پښې څخه وینه روانه وه ، دهغه اس به لږ څه مخته تللې و چې ماروه پرې د وینې د ضایع کیدو له امله بیهوشه پرېوته •

د جیحون دسیند په غاړه یو بوډا د ماهیانو دنیولو کسب کاوه ، کله چې دماروې اس د هغه تر څنګ په سیند کې اوبه څښلې ، نو د ماهیګیر سترګې دماروه په پرې کړل شوې پښې ولګیدې •

هغه یو رحم زړې انسان و ، په تیزۍ سره ورمخته شو او ماروه یې د اس د شا څخه راښکته کړه او دسیند په غاړه یې څملوله • د هغې دپښې زخم یې پریمنځه اود زخم څخه د وینې د بهیر د تم کیدو په خاطر یې خپل هغه زاړه کالي وشکول او زخم یې پرې وتړه •

اوس نو لمر پرېوتې و او په فضا کې تیاره خپره شوې وه ، بوډا ماهیګیر ژر ژر خپل جال راټول کړ ، ماروه یې په اس کینوله ، را نیولي ماهیان یې په یوه کڅوره کې واچول ، بیا په اس کیناست او ماروه یې کلکه کړه او په دغه تیاره کې یې ماروه له ځانه سره خپل کلي ته روانه کړه •

هغه د یوه زوړ او رژیدلې کور تر مخه و درید ، د اس نه را ښکته شو او د اس واګو یې و نیو او کور ته ور ننوت •

دا یو کوچنې شانته کور وو، په کور کې دننه د تیلو یو خاورین چراغ روښانه شوې و ، په چراغ کې غوړ سوزیدل ، هلته په یوه مات کټ کې ، چې هیڅ پرې څه نه وخپاره شوې یوه زړه ښځه ناسته وه •

بوډا ماهیګیر اس د کور په انګړ کې وتړه ، ماروه یې راپورته کړه اودننه یې یوړه او د همدې زړې ښځې تر څنګ یې په یوه بل کټ کې ور څملوله •

ښځې یې ترې په وارخطایې سره وپوښتل : دا څوک ده ؟

بوډا خپله ملا سمه کړه او ویې ویل : کومه مظلومه پیغله ده ، ما ماهیان رانیول چې یو اس زما خواته راغې او د اوبو په څښلو یې پیل وکړ ، په اس باندې دغه پیغله سپره وه خو بیهوشه وه • یوه پښه یې پرې کړل شوې ده چې اوس هم ترې وینه روانه ده ، ما خو خپل کمیس و شکوو او دهغه زخم مې پرې بند کړ اوبیا مې له ځانه سره کور ته راوستله •

زړه ښځه راپورته شوه او دماروې خواته راغله او دهغې په سر یې لاس راښکود ، او ویې ویل : ای زما خدایه ! دا څومره ښکلې او ښایسته پیغله ده ، معلومه نه ده چې په دې بیچاره باندې کوم مصیبت راغلې دی •

بوډا د څه فکر کولو نه وروسته وویل : کیداې شي کوم دښمن ولري او دهغه سره یې په جنګ کې دا پښه پرې کړل شوي وي ، ګوره چې په ملا یې توره تړلې ده اوهغه هم په وینه ککړه ده ، ماته خو کومه شهزادګۍ معلومیږي •

ښه ده ، هر څوک چې ده ، اوس دا خبره پریږده ، لومړی ولاړ شه او کوم طبیب راوله ، مونږ بې له هغې هم کوم اولاد نه درلود ، مونږ ته خداې په دې عمر کې یوه لور را په برخه کړه ، ژر کوه وخت مه ضایع کوه ، ماهیان به هم له ځانه سره یوسم او وبه یې پلورم •

ټول مه وړه ۰۰۰ لږ څه کور کې هم پریږده ، زه به یې پاخه کړم او غوږ ونیسه ! ته به ددې خبرې په اړه هیچا ته هم څه نه وایې ، کیدای شي ددې دښمن ددې تر شا وي او بیا هغه ته دا ډاګیزه شي چې دا دلته زمونږ په کور کې تم شوې ده •

بوډا ماهیګیر بیرون راووت او لږه شیبه وروسته یې طبیب له ځانه سره راوست ، طبیب هم یو بوډا انسان و چې ویښتان یې د سپوږمۍ په څیر سپین شوي و او په لاسو کې یې د وزې د پوستکي څخه جوړه شوې یوه کڅوړه وه •

تر هر څه لومړی یې تړل شوې پټۍ راپرانستې ، زخم یې په ښه توګه پاک کړاو بیا یې پرې په ډیر احتیاط سره پټۍ کیښودې •

کله چې هغه خپل سامان را ټولوو ، نو زوړ ترې پوښتنه وکړه •

د خطر کومه خبره خو به نـــه وي ؟

طیب ورته په ډیره ارامه توګه وویل : نه ، داسې کومه خاص خبره نه شته ، ما پرې داسې دوا کیښوده چې ان شاء الله په څو ورځو کې به زخم راټول کړي •

مګر دا خو اوس هم بیهوشه پرته ده •

دهغې له پاره همداسې ښه ده ، او که نه ، تر اوسه پورې به ددې نازکې پیغلې هډوکې ددرد له لاسه مات شوي وو ، زما یوه دوایې درکوم اوبیا درڅخه ځم • یو ساعت وروسته یې ددې په خوله کې ور وزیبښئ ، نو دا به په هوش کې راشي • تر دې وخته پورې به زما ملهمو هم خپل اغیز را څرګند کړې وي اوهغه به دا محسوس هم نه کړي چې زما ښه پرې کړل شوې ده هسې خو کوم ظالم او وحشي حیوان پرې ډیر ظلم کړې دې • څومره ښکلې او ښایسته پیغله ده ، خو اوس یې بیچاره معیوبه کړی ده •••

محترما ! زما یوه غوښتنه هم ده •

طبیب وویل : ووایه

کیدای شي چې ددې کوم دښمن ددې په تعقیب پسې وي ، په دې خاطر غواړم چې ووایم چې زمونږ په کور کې به ددې اوسیدل یو راز وي •

ته په دې اړه فکر مه کوه ، ••••• شبره لا پخوا په دې اړه له ماسره خبرې کړې دي هغه د هغه بوډا ماهیګیر په لور اشاره وکړه چې ددې زرې ښځې میړه و •

ته په دې اړه اندیښنه مه کوه ،هیچا ته به په دې اړه معلومات نه ورکول کیږي چې دا بیچاره دلته ده •

یو بل احسان هم وکړه •

هغه څه ؟

بیرون په انګړ کې ددې پیغلې اس تړل شوې دې ، هغه له ځانه سره بوځه • که څوک در څخه وپوښتي نو ورته ووایه چې دا مې دلرې ځایو دناروغانو دکتلو له پاره اخیستې دې ، دا اس زمونږ په ځای کې دېتیدو نه دې ، دهغې سره تړلی خورجین راپرانیزه او دلته یې کیږده ، کیدای شي په هغې کې یې سامان ایښودي وي •

ډیرښه ، زه به یې له ځانه سره بوځم بیا هغه په خپل جیب کې لاس ورننویست او یو موتي دوایې را وویسته او هغې زرې ته یې ورکړه او ورته

يې وويل : يوساعت وروسته به دا دوايې ورکړئ ، سمدلاسه به په هوش کې راشي ، که چیرې دخطرې کومه خبره مو محسوس کړه نو سمدلاسه ماته خبر راکړئ •

طبیب ولاړ بوډا او زړه دواړه د ماروې تر څنګ کیناستل او هغې ته يې دمینې او حسرت په کړو وړو احساساتو سره کتل •

یو ساعت وروسته هغه زړه پورته شوه ، لومړی يې د خاورو په یوې پیاله کې اوبه راوړې ، بیا يې په کټ پرتې ماروې خوله خلاصه کړه لومړی يې دوايې ور واچوله اوبیا يې په کې اوبه ور واړولې •

دومره شیبه لا نه وه تیره شوې چې ماروه په هوش کې راغله ، سترګي يې پرانستې ، دوه درې ځلې يې ور پولې ، بیا يې په پوره حیرانتیا سره اخوا دیخوا وکتل بیا يې سترګې په هغې زړې ښځې ور ونښتې اوبه ډیر کمزوري اواز سره يې وويل : زه چیرې یم او دلته چا راوستې یم •

زړې يې په سر لاس راښکود •

زه مرجینا نومیږم او دا زما کور دی ، بیا هغه دخپل بوډا میړه په لور اشاره وکړه •

دا زما خاوند دې او شبره نومیږي ، نن يې دسیند په غاړه ماهیان رانیول چې ستا اس د هغه تر خوا تم شو او په اوبو څښلو يې پیل وکړ• ته په خپل اس بیهوشه پرته وې او پښه دې پرې کړل شوې وه ، دپښې ځخه دې وینه راوانه وه ، زما خاوند ته دلته زمونږ جونګړې ته راوستې ، بیا مو درته طبیب راوست او هغه ستا په زخمونو ملهم پټۍ کیښوده ، هغه مونږ ته ډاډ راکړ چې ته به ډیر ژر روغه رمته شې ، په دې اړه اندیښنه مه کوه

ماروی یوه اږوده ساه واخیسته •

بیا يې په خپلې پرې کړل شوې پښې لاس راښکود او ويې ویل : اه ••• زما پښه پرېکړل شوې ده ، اوس به خینس له ماسره دپخوا په څیر مینه ونه کړي بلکه برعکس به زما ځخه کرکه پیل کړي •

زه څومره بدنصیبه یم •

مرجينا ترې په ډيره مينه وپوښتل : لورې ! دا خينس ځوک دې ؟

دهغې سره زما واده کيدونکې و ۰

ته مسلمانه يې ؟

هو ! او ته ؟

مونږ خو د قتيبه بن مسلم رحمه الله د حملې نه وروسته مسلمانان شوي يو ، ددې نه مخته مونږ اتش پرسته و، لا تر اوسه هم زمونږ ټول کلې مسلمان شوې نه دې او ځيني خلک اوس هم د اور عبادت کوي ۰

نه ۰۰۰ داسې ځرګنديږي چې ددې ملهمو اوپټۍ سره به ژر روغ شي ۰

طبيب هم همدا خبره کوله ۰

ايا ولې شې چې ستا پښه څه ډول پرې کړل شوې ده ؟

ما دخپلو دښمنانو سره جنګ کړی دی ۰

ايا خپل ټول داستان دې راته ويلې شې ؟

هرومرو ۰۰ ددې خبرې سره سم يې مرجينا ته خپله تيره شوې کيسه په تفصيل سره وکړه ۰

مرجينا غم وهلې او چوپ ناسته وه ۰

ماروه ترې وپوښتل : ستاسو ګټه وټه له کومه راځي ؟

ميړه مې د جيحون دسيند په غاړه ماهيان رانيسي ، بيا يې پلوري ، بس په همدې باندې ګذاره کوو ۰

اس مې چيرې دی ؟

هغه مو هلته د طبيب کور ته ورليږلې دې ، په حقيقت مونږ غواړو دلته ستا موجوديت پټ پاته شي او د اس موجوديت زمونږ په ځير دغريبو خلکو کور کې پټ نه شي پاته کيدی ۰

تاسو خو ډير ښه کار کړې دې ، خو په هغې يوه خرجين وه او په هغې کې زما سامان او لږ څه نقدي هم وی ۰

شبره ځواب ورکړ ۰

خرجين بيرون په انګړ کې پروت دی په لږه شيبه کې به يې راوړم ۰

شبره بيرون ووت ٠

مرجينا د ماروې ښځه وپوښتل : ما ستا په خاطر ماهي ايښودې دې كه خوښيږې دې چې درته يې تيار كړم ٠

هر څه چې راكوې په خوښۍ يې خورم ٠

شبره خورجين له ځانه سره راوړه او دماوره مخې ته يې كيښودله ٠ ماروې د خرجين څخه د احمد له اړخه وركړې كڅوړه راوويستله او د هغې څخه يې دوه طلايې سيكې راوويستلې او شبره ته يې وركړې او ورته يې وويل : كاكا ! دا يوسه او دكور ضروري سامان پرې واخله او له ځانه سره يې راوړه ، دا چې څه څه به واخلې د كانې ښځه يې پوښتنه وكړه ٠

د شبره سترګې د حيرانتيا څخه پرانستې پاته شوى ٠

هغه دا دواړه طلايې سيكې په لاسو كې اړولې را اړولې اوبيا يې وويل : دوه طلايې سيكې ؟

ددې كور د ټولو شيانو د اخيستلو له پاره خو دا يوه هم بسنه كوي ، بلكه زياده ده ، دا يوه بيرته واخله ٠

ماروې ورتـه وخندل وويل : دواړه وساته بيا بـه يې ضرورت درتـه پيدا شي ٠

شبره تر لږې شيبې پورې په فكر كې شو ، بيا يې دا دواړه سيكې د ماروې مخې ته داسې ور وغورځولې لكه سيكې چې نه وې بلكه داور سكروټې وې ٠٠٠يا زهرې مار وي چې په غلطۍ سره يې په لاس كې را خيستې وي ، اوبيا په ژوره ساه وويل : نه ، نه ، ٠٠٠ ته خو په دې كور كې ميلمنه يې ٠ مونږ به له تانه دا سيكې هيڅكله هم وانخلو ، ددې نه دا ډاګيزيږي چې ما ته د همدې طلايې سيكو په خاطر خپل كور ته راوستې يې ٠٠٠ نه هيڅكله هم نه ٠٠٠ ستا چې تر څو پورې دلته د اوسيدو اراده وي نو دلته اوسيدلې شې ،ته اوس ددې كور لور يې ، زه به زحمت كاږم اوستا هره اړتيا به پوره كوم ٠

شبره پورته شو او بيرون ولاړ دير احساساتي شوې و ٠

خو ماروه پوره چوپ پرته وه •

مرجینا هم دخپله ځایه پورته شوه او بیرون ته د تللو په وخت کې یې وویل زه سمدلاسه بیرته را ستنیږم ، تاته به د خوراک له پاره څه تیار کړم •

ماروه په فکرونو کې ډوبه شوې وه •

کیدې شي چې دهغې په ذهن کې به همدا موضوع وه ، چې په دې نړۍ کې څنګه څنګه او کوم ډول خلک اوسیږي ، څوک په دښمنۍ کې د خپلو حدودو تیریږي او څوک په همدردۍ اومحبت کې بې نمونې اوبې مثاله اوسي • که چیرې دا فکر ورسره نه و نوبیا به هغې هرو مرو دا فکر کاوه چې خینس به اوس چیرې وي او ایا دهغې دپښې د پریکیدو وروسته به هم ورسره همغسې محبت کوي او که څنګه ؟

***

یوه میاشت تیره شوه ، د ماروې دپریکړل شوې پښې زخم اوس را رغیدونکې و، شبره د طبیب په مشورې ماروې ته د یوه بیساکې د جوړیدو له پاره کار کاوه • چې بیا دهمدې بیساکي په مرسته به هغه په اسانۍ سره ګرزیدله •

د زخم څخه یې د زیاتې وینې د بهیدو له امله ډیره کمزورې شوې وه ، خو مرجینا یې داسې نه ستومانه کیدونکې خدمت وکړ چې دهغې روغتیایې حالت یې تر ډیره پورې را سم کړ •

یوه ورځ سهار ماروی شبره ته وویل : کاکاجانه ! زه غواړم له دی ځایه رخصت شم •

شبره ډیر اندیښمن شو خو په خوله یې څه ونه ویل ، تر څنګ د ناستې مرجنیا مخ هم تک ژیړ شو خو بیا یې هم دزغم نه کار واخیست او ورڅخه یې وپوښتل : د ظالمانو څخه په دغه ډکه دنیا کې به ته چیرې ځې ؟

دنسف په کوم سراې کې به قیام وکړم ، کله چې زمونږ حالت سم شي نو د خینس مشر ورور احمد به راشې او ما به بیرته بوځي ، دکور څخه د راوتلو په وخت کې زمونږ خپلمنځې همدا خبره شوې وه •

زه خو وایم چې همدلته اوسیږه •

ماروۍ ورته په ژړغونې اواز وویل  زه ددې ځایه درخصتیدو په وخت کې په خپل زړه غټه تیره ېدم • زه چې هر چیرې ولاړه شم تاسو به له یاده و نه کاږم ، هم تاسو دواړه واست چې د الله تعالي په مرسته مو راته دوباره ژوند را وبښه •

ماروۍ کڅوړې ته لاس ښکته کړ او یو موټې طلایې سیکي یې د هغې څخه راوویستلې او دشبره په لمن کې یې ور واچولې او ورته یې وویل

کاکاجانه ! دا له ځانه سره و ساته ، ستا عمر اوس ډیر تیر شوي دې او ورځ تر بلې د مزدوري او محنت توان له لاسه ورکوې ، دا به دې په کار راشي ، کله چې زما حالات سم شي نو تاسو دواړه به خپل ځان ته راوغواړم •

شبره سخت نالانه شو •

نه ، نه ••• لورې زه به دا هیڅکله هم وانخلم ، ته پټ ژوند تیروې ،په دې خاطر زمونږ په نسبت ته دې ته ډیره اړتیا لرې ••••

د ماروی په سترګو کې اوښکې راغلې •

د اوښکو د پاکولو سره سم یې وویل : که چیرې تاسو دا نه اخلئ نو زه به داسې وانګیرم چې تاسو زما سره دمینې په ځاې کرکه کوئ •

د شبره اوزا کې لړزان راپیدا شو •

دا څنګه کیدای شي ؟

ماروۍ په ژړا پیل وکړ وویل : نو بیا دا واخله کاکاجانه ، ستا لور یې تاته درکوي •

شبره په ډیرې ناهیلۍ سره د ماروۍ په لور وکتل او بیا په نازړه توګه هغه سیکې واخیستې •

ماروۍ یو ځل بیا په ژړا پیل وکړ، بلکل همغسې لکه •••

کاکاجانه ! زما اس ماته راولئ

شبره په چوپ سره پورته شو او لږه شیبه کې یې دماروۍ اس له ځانه سره راوستلو•

ماروه راپورته شوه او د بيساكي په زور د انګړ په لور روانه شوه • خرجين يې د زين سره و تړه ، توره يې په ملاو تړله • بيا په اس سپره شوه او بيساكي يې د زين سره وتړل • دروازې ته په رسيدو سره مرجينا او شبرا ورته په ژړغونو سترګو ، رپيدلو شونډو او لړزيدونكو اوازونو د لاسو په خوځولو سره خداې پاماني وويله او ماروه دخپل سفر په لور روانه شوه د هغې دسفر موخه دنسف ښارګوټې و•

د ماښام تيرغونې شروع شوې وه چې ماروه هغه سراې ته رو ننوته چيرې يې چې مور څه موده مخكې وژل شوې وه ، كله چې د سراې دبيرونې دروازې څخه دننه ور ننوتله نو يو فكر يې په ذهن كې را وګرځيد •

ايا دپښې دپرې كيدو سره يوځاې به مې خينس و زغمې ؟ د ذهن يوې تيارې برخې يې دغه انديښنه په هغې كې را وپاروله •

كه چيرې هغه له مانه كركه پيل كړي نو بيا •••؟

ماروې په خپلو غوږونو كې ګوتې كيښودې •

نه ، نه ••• زه به دهغه كركه و نه زغمم ، زه به ومرم ••• خپله خوله يې د اسمان په لورپورته كړې وه اوبه پوره حسرت سره يې ويل : اى زما ربه ! تا زه په كوم ازميښت كې اچولې يم ••

هغه په همدې فكرونو كې ډوبه وه چې دسراې د مالک ارمن اواز يې دغوږونو سره ټكر شو •

زه خپلې لور ته ښه راغلاست وايم •

ماروه حيرانه شوه خودهغه په لوردكتلو په وخت كې يې هسې خوله چينګه كړه ، ارمن ورسره د اس نه په راښكته كيدو كې مرسته وكړه ، بيا چې كله ماروې داس د زين سره تړل شوي بيساكي راپرانستل نو ارمن په ډير غور سره دهغې ښئ پښې ته وكتل اوبيا يې په ډيره همدردۍ سره ورته وويل : دا پښه دې څنګه پرې كړل شوې ده ؟

ماروه ورته په دروند اواز وويل : ددښمنانو د ظلم او تيرې ښكار شوې يم ارمن اوږده ساه واخيسته •

دی زمانی خلک ډیره ظالمان دی •

ماروې څو طلایې سیکې راوویستلې او هغه ته یې ورکړی •

زما له پاره د یوې کوټې انتظام وکړه •

ارمن ورته په حیرانتیا سره وکتل وویل : د یوې کوټې له پاره دومره زیات رقم !!!

زه غواړم چې دتل لپاره دلته واوسیږم •

ارمن ورته په اندیښنې سره وکتل وویل : ته مه ویریږه ، زه به همدومره نقدې نورې هم درکړم •

ارمن ورته وویل : دا خبره نه ده ، زه په دې فکر کې یم چې ته په دې دنیا کې هیڅ بل د اوسیدو ځای نه لرې • ترڅو دا پاته ژوند دې هملته په ارام سره تیر کړې •

دماروې په سترګو کې اوښکې راغلې وویل : نه

ارمن ترې هغه سیکې واخیستې وویل : راځه چې کوټې ته دې بوځم •

ماروې ورځخه غوښتنه وکړه وویل : محترما ! کوټه باید داسې وي چې د چا تګ راتګ پرې نه وي •

ارمن ورته وویل : زه به دخپلې کوټې تر څنګ تاته کوټه درکړم او هغه کوټې زما په سراې کې تر ټولو زیاته ارامه او دسکون نه ډکه ده •

کله چې هغه دارمن سره یو ځاي هغه کوټې ته ورغله ، نو په لړزیدلو شوندو یې ارمن ته وویل : که چیرې زما پوښتنه څوک وکړی نو زما په اړه ورته وایه چې هغه دلته نه شته •

ارمن یې په لور په دقت سره وکتل بیا وویل : که څه هم هغه ځوان هم وي دکوم سره چې ته یو ځاي دې سراې ته راغلې وې اونوم یې خینس بن یوسف یادیده او په اوږه به یې یو شاهین هم ناست و او خلکو به ورته د ځواک دیوتا وایه •••

ماروې په خپل زړه بوج محسوساوه خو ویې ویل : هو! هغه ته هم ووایه چې ماروه دلته نه اوسیږي •

ایا تا دهغه ځخه هم نفرت او کرکه پیدا کړې ده ؟

نه ، دپښې دپرېکېدو په خاطر زه اوس خپل ځان دهغې ور نه وینم

شاید چې ته به د کمترۍ په احساس ککړه شوې یې •

نه ، زه خپل ځان هسې په هسې په خوش فهمۍ کې نه اچوم ، دا زما اخري پرېکړه ده ، اوس نو ته ورځه او هو له چا سره خبره وکړه او زما اس پرې وپلوره •

ارمن بیرون راووت اوماروه بیهوشه شانته په خپله بستره ور پرېوته •

***

خینس ، حرب او نوطس د سوادر د غرونو د لړۍ په یوې لوړې غونډۍ ناست و او د وزو ، میږو ، اوښانو اواسونو ستري رمې یې تر مخ ځریدې ، دریواړو په خپلوملاګانو د غشو کڅوړې تړلې وې ، په اوږو یې کمانونه راځړېدلي و، په ملاګانو یې د تړلو تورو ځلا هم د ورایه معلومیده ، ددې نه پرته دخینس سره دهغه دروند اوسپنیز زنځیر هم په مخې کې پروت و او شاهین یې په اوږو ناست و•

په دې وخت کې د غره لاندې دکلې په شاوخوا کې د اسونو د قدمونو زوګ راپورته شو ، دریواړو هغه لورې ته مخ واړوو•

شپږ کسه سواره په ډیره بیړه ددوې د ناستې غونډۍ په لور ور روان وو، په راتږدې کیدو سره یې هغوې و پیژندل ، هغوې د یزید بن مهلب سپاهیانو چې شاید ددوې د نیولو له پاره دې سیمې ته راغلي و•

نوطس وویرید او دخینس نه یې وپوښتل : مونږ ته ځه کول په کار دي ؟

دخینس په مخ سختي راغله او په پوره غور سره یې وویل : بلکل چوپ اوسئ ، پرېږدئ چې راشي •

خینس دخپل زنځیر کړۍ په لاسو کې واخیسته اوپه یوه ډول یې دخپل زنځیر سره لوبې پیل کړې ، سپاره ډیر ژر دهغوې مخې ته راغلل او تم شول نوطس اوحرب تورې راوویستلې خو خینس همغسې سرښکته ناست و •

د سپاهیانو مشر وویل : په تاسو کې خینس اوحرب ځوک دي ؟

خینس د هغوې په لور دکتلو پرته همغسې تیټ سره ورغږ کړ •

زه او دا ۰۰۰۰

سالار ورته وویل : سر راپورته کړه اوبیا خبره وکړه ۰۰۰ ولې دښځو په څیر شرمیږې ۰

خو دخینس سر همغسې ښکته و ، خو اواز یې دپخوا نه زیات دروند او تیز شوی و ۰

ته زما په ذات باندې حمله کوې ، تا به اوریدلي وي چې زه دښځو په څیر بې زړه نه یم ۰

خبرې مه کوئ ۰۰۰ تاسو دواړه ورونه زما سره یوځای د یزید دربار ته روان شئ ، مونږ ستاسو د نیولو له پاره راغلي یو ۰

که چیرې مونږ ولاړ نه شو نو بیا ۰۰۰۰

مونږ به مو په زوره بوځو ۰

د خپلو ملکرو سره بیرته ستونه شه ، زما له تاسو سره کومه دښمني نه شته ، زه به په تاسو باندې لاس پورته نه کړم ، که چیرې یزید زما د نیولو له پاره دومره شـوق لري نور ورشـه او ورته ووایـه چې پخپله راشي او ما ونیسي ۰

مونږ ته بدمعاشي مه ښایه ، راپورته شه او زمونږ سره روان شه او که نه زه به پخپله درښکته شم او د کریوان نه به دې ونیسم ۰

خنیس په قهر ورته وویل : زه درته وایم چې بیرته ستانه شی ۰

زه دویم ځل تاته حکم کوم چې له مونږ سره روان شه ، خو دریم ځل بیا به زما توره وي او ستا څټ پوه شوې ۰

دخینس دحالاتونه ډاګیزیده چې هغه هره شیبه را جوشیږي ، تر څنګ یې زنځیر هم په لاسو کې راپورته کړې دی۰

تا له یاده ویستلې دي چې خینس بن یوسف دداسې خبرو اوریدو عادي نه دې ، واوره ! زه د اخري ځل له پاره درته وایم چې بیرته ستون شه ۰۰۰

سالار خپل اس نور هم رامخته کړ ۰

ته د انسانانو د اولاد په څیر زما خبره نه منی ۰

هغه ددې نه زیات نور څه و نه شو ویلای ، خینس پرې داسې حمله کړې وه لکه په وښو کې پټ شوې زمرې چې په خپل ښکار باندې ناڅاپي حمله کړې وي ، دخینس او سپنیز زنځیر د سالار په سر ور پرېوت او هغه یې دوه ځایه کړ • سمدلاسه یې ټوپ کړ اودهغه په اس سپور شو او د سترګو په رپ کې یې د هغه نور پنځه ملګري هم له منځه یوړل ، حرب اونوطس هملته په ولاړه ولاړه ددې ټولې جګړې ننداره کوله •

د اس نه راښکته او بیا د خپل په وینو ککړ زنځیر سره یو ځای د نوطس تر مخه و دریږد ، سترګې یې د قهر نه دومره را خوټیدلې وې لکه وینه چې ترې بهیږي •

د غصی او قهر په حال کې یې خبره و نه شوه کړای ، په اوږې یې ناست شاهین خپل وزرونه پړکول ، خینس بیرته راغې اوپه خپل ځاې کیناست •

نوطس اوحرب راپورته شول او دمړو لاشونه یې واخیستل او په یوه کنده کې یې واچول او دپاسه یې پرې تیږې واچولې ، د جنګ ځاې لا همغسې د وینو په څاڅکیو لړلې و، دوې دواړو په خپلو پښو باندې هغه نښې نښانې و مښلې او له منځه یې یوړې ، بیا دوې دواړو یـو ستر لوښی واخیست او پــه میږو کې ورننوتل تر څو شیده یې را ولوشي ، لومړی دوې دواړو وڅښل اوخپلې ګیډې یې ډکې کړې اوبیا ډک لوښی د خینس مخې ته راوړ ، تر دې وخته پورې دخینس غصه هم سړه شوې وه او ددوې په دې کار باندې خندیده •

نوطس ورته دشیدو نه ډک جام ورکړ ، هغه هم دخولې سره یو ځای کړ اوپه یوې ساه یې ټول شیده وڅښل •

کله یې چې لوښی خالي کړ اویوې لورې ته یې کیښود نو نوطس ترې وپوښتل : نن ښکار نه کوی •

خینس راپورته شو او ویې ویل : همدا اوس یې کوم او راوړم یې
خپل شاهین یې په اوږو کیناوه او د غره یوې څوکې ته وخوت •
څو قدمه به لا مخته نه و تللې چې نوطس پرې ور غږ کړ •

كاشكې چې ته د كومې لوړې عسكري قطعې قومندان وايې اويا هم دكوم ډير ځواكمن فوځ سپه سالار واې نو دنړۍ پياوړو ، زړه ورو او شجاعو سالارانو به دزياندې ويار كاوه •

خينس د غره سر ته راغې او په فضا كې په الوتونكو مرغانو يې خپل شاهين ور پريښود ، هغه هم ښكار پيل كړ ، د يوه ساعت د ښكار كولو په دوران كې يې څلور ستر مرغان ، درې مرغاوې اوشپږ يا اوه د واورې دسيمې مرغان ښكار كړل ، دا ټول مرغان يې دپښو نه و نيول او د نوطس مخې ته يې راوړل •

كاكا جانه ! درواخله يې ••• وريته يې كړه ، ددې په كتلو سره زما لوږه هم راپيدا شوه •

نوطس اور ولګاوه • تر دې وخته پورې خينس او حرب دواړو مرغان سپين كړل ، بيا نوطس دا ټول مرغان داوسپنې په يوه سيخ كې وركړل او د تيز اور په سكروټو يې وريته كړل •

لاتر اوسه پورې نوطس د مرغانو د وريتولو نه نه و خلاص شوې چې حرب دخپلې مخې په لور اشاره وكړه او چيغه يې كړه : هلته وګورئ ، ••• شايد چې كوم ستر لښكر را روان دې ، ګرد ته ګورئ چې تر اسمانه پورې رسيږي •

خينس پورته شو او ويې كتل •

او بيا يې په خندا وويل : دا د چا لښكر نه دې وروره ! دا كاروان دې ، يا به دسغديانو وي او يا هم زمونږ د ترک سردار ارطبون د خلكو، صبر وكړه زه غره ته خيژم او بيا تاته وايم ، زه به يې دهمدې ځايه بيا درته ډاګيزه كړم چې دا د سغديانو دې او كه د تركانو •

خينس په منډه منډه دنژدې غونډۍ سر ته وخوت •

ويې كتل چې يو ډير ستر كاروان چې څو مايله اوږد او خپور دې ددوې څخه د يوه ميل په واټن سره په لويه لاره د سمرقند له لورې را روان دى •

خينس وكتل چې دكاروان نه مخته ځو كسه وسلوال كسان په اسونو سپاره دي ، دهغوی شاته بې شميره څاروی او تر شا یې سامانونه بيا بنځې او نارينه او بيا د هغوی تر شــا بار كړل شوي كچرې اواسونه را روان دي •

په زوره يې وويل : د سردار ارطبون كاروان دی •

د لوړو لوړو تيږو نه يې په ټوپونو سره ځان لاندې را ورسو بيا يې د رمې د څرولو هغه لوي ډانګ راواخيست ، د هغې لرګي په سر يې سپينه لونګۍ و تړله اوبيا په غره وخوت او بيا يې دغه په لرګې تړلې سپينه لونګۍ د كاروان په لور وخوځوله •

كاروان ددې په كتلو سره تم شو •

بيا د هغې كاروان څخه څلور كسه سپاره را ووتل اودهغه غره په لور رهي شول چې خينس پرې د لرګي سره ولاړ و• څلور واړه دخينس سره په ډيره مينه ور غاړيوتل او بيا دهغې وروسته دحرب او نوطس سره يې روغبړ وكړو ، بيا يې خپل اسونه را وځغلول او بيرته كاروان را ستانه شول او كله چې هغوی بيرته كاروان ته را ورسيدل نو دهرې لورې دا يو غږ پورته كيده چې خينس بن يوسف ، خينس •••

كاروان خپل تګلورې بدل كړ او د همدې پراخه او وسيع ميدان په لور راغلل چيرې چې خينس او حرب خپلې رمې څرولې ، كله چې د كاروان د لومړی ليكې وګړې خينس ته راغلل نوپه هغې كې سردار ارطبون هم شامل و•دهغه شا شا ته قطونه هم وه چې په پټه پټه او غلاګرو ستركو سره يې دخينس په لور كتل •

لومړی ارطبون دخينس سره ورغاړيوت ، بيا د حرب سره او په اخر كې د نوطس سره •

قطونې په شرميزه توګه همدومره وويل : څنګه ياست ؟

خينس ورته په خندا ځواب وركړ وويل : روغ اوسلامت يم •

ارطبون په لومړي ځل وویل : ښه شوه چې په لاره کې را سره یو ځای شوې اوکه نه مونږ خو ستاسو د کلي په لور روان وو .

خینس ور څخه وپوښتل : ولي خیریت دی ؟

مونږ ته ډاګیزه شویده چې مسلمانان په خپلو منځو کې په جګړو کې را ښکیل شوي دي ،په دې ډله کې تا د قتیبه سره ملګرتیا کړې وه او اوس د قتیبه د وژل کیدو وروسته د هغه ځای ناستې یزید بن مهلب ستا مخالف شوې دې ... ایا دا خبره سهي ده ؟

هو ! سرداره ! تا سهي اوریدلي دي

ارطبون غمژن شانته شو .

نو بیا ....

زه نن سبا په پټنځایوکې پټ ژوندکوم .

ارطبون خپل لاسونه سر یوځاي کړل .

دا خو ډیر بده خبره ده ....نن سبا دلته د چا سره اوسیږې ؟

خینس د نوطس په لور اشاره وکړه .

زما دمحترم دوست نوطس یو ملګری دلته اوسیږي ، مونږ دریواړه د هغه میږې او رمې څروو .

ارطبون چیغې کړې .

نه ، نه ، زه به دې هیڅکله تاسی یوازې پرینږدم ، زما په ژوند کې به ته هیڅکله هم په دغسې بد حال کې د چا رمې او میږې و نه څروي ، که چیرې ته راضي یې نو زه به دې همدا نن د قطونه سره د واده پروګرام جوړ کړم تر څو دهمدې لارې زمونږ د قبیلي یو عزتمند سردار وګرځې ، په خدای سوګند چې که د یزید بن مهلب ټول لښکر هم ستا د نیولو هڅې وکړې نو زما قبیله به تر ټولو لومړی پر تا خپل سرونه ځار کړي .

قطونه چې هلته ولاړه وه ، خپل مخ یې د شرم له مخې بلې لورې ته کړ .

سرداره ! په دغسې نا وړه او کرغیړنو حالاتو کې ، په داسې حال کې چې پخپله زما د ژوند چراغ مړ ژواندې دی ، زه به د خپلې ښځې په اړه فرائض

او دندې ځنګه ترسره کړای شم او بیا خو دا کار تر هغې شونې نه دې تر څو چې ماروه دلته نه وي راغلي ، زه نه غواړم چې هغه دخپل حق نه بې برخې کړم، زه که چیرې واده کوم ، نو بیا به ددواړو سره یو ځای په یوه شپه وي او همدا ما ددې دواړو سره ژمنه هم کړې ده •

نو بیا زما یوه خبره ومنه ٠٠٠ همدا نن د خپل کلي په لور ولاړ شه ، ماروه او مور دی دواړه دلته له ځانه سره راوله اوبه دې توګه ته ، ماروه او مور دې همدلته زمونږد قبیلي سره یو ځای واوسیږئ او که چیرې ته وغواړې نو زه به دحرب له پاره هم همدلته په خپله قبیله کې دواده کولو بندوبست وکړم •

نه سرداره ! ورور مې دځان له پاره یوه پیغله انتخاب کړې ده •

نو بیا هغه له ځانه سره همدلته راوله ، ډاګیزه نه ده چې ستاسو په نه شتون کې به ستاسو په کورنۍ باندې څه تیرشوي وي ، ته ورشه او ټول دلته راوله ، زه به د نسف په ښار کې ستا انتظار کوم •

حرب خپل ورور خینس ته په ژوره توګه وکتل بیا وویل : څه فکر وکړه •

سردار سهي خبره کوي ، په دې توګه به دکور دخلکو خبر هم واخلو او ددې نه پرته به مور او ماروه هم دلته له ځانه سره راوله، هلته په کور کې مې ورور ، دمنه او ترور بس دې •

خینس په خندا شو او ويې ویل : عتیقه به هم له ځانه سره راوله •

حرب په خندا شو او چوپ شو •

خینس ارطبون ته مخ کړ او ورته يې وویل: سرداره ! ستا خبره بلکل سهي ده ، زه او ورور به مې همدا نن د خپل کلي په لور ولاړ شو، زما دا محسن نوطس به همدلته ستا په قبیله کې اوسیږي ،راځی چې اوس خوراک او څښاک وکړو ، د هغې وروسته به مونږ دواړه ورونه له دې ځایه رخصت واخلو •

دارطبون د اشارې سره سم هلته دخیمو یو کلي اباد کړل شو. هغه ځای چې خینس ناست و، همتله یې دارطبون خیمه ښخه کړه ... او بیا ټولو یو ځای د ډوډۍ غذا په خوړلو پیل وکړ.

***

تیاره پوره خپره شوې وه ،خینس او حرب دخپل کلي نه بیرون ولاړ و، په دې فکر کې و چې څه ډول کلي ته ور ننوځي ، ځکه دکلي په کوڅو کې لا تر اوسه دخلکو ښه جوش اوخروش و. خلکو خپلې خپلې رمې د اوبو په چینو کې په نوبت خړوبولې او دخپلو کورونو په لور یې بوتللې.

دوې د څو ونو تر منځ تر ډیره پورې ولاړ و، په دې وخت کې یې یو کوچنی وکتلو چې خپلې وزې یې دکلي په لور بوتللې او خینس وپیژانده.

هغه د سردار حریم د محلې اوسیدونکې و، خینس ورته ورغږ کړ او تم یې کړ، هغه ته را نژدې شو ، په سر یې ورله لاس کیښودلو او دوه دیناره یې ورته په جیب کې ور واچول.

د سردار حریم لور عتیقې ته ووایه چې حرب ستاسو په باغ کې ستا انتظار کوي خو دا خبره بل چا ته و نه کړې ، یوازې عتیقه بـه جدا کړې اوپه غوږ کې بـه ورتـه دا خبره وکړې.

هلک خوشحاله و اوپه خندا شو.

زه په هر څه پوهیږم ، ته غم مه کوه ، زه به یې همدا اوس درته راولیږم

خینس اوحرب دواړه د سردار حریم باغ ته راغلل او هلته په چوتره کیناستل. همغه چوتره چې پخوا به یې په کې د عتیقې سره ناسته کوله. خو خینس دهمدې ځای په شاوخوا کې د انکورو په یوه بوټي کې پټ کیناست ، اوسپنیز زنځیر یې په مخکې پروت و ، کمان یې هم په لاسو کې نیولې و او د احتیاط په خاطر یې یو غشې پرې خیژولې و.

ډیر وخت تیر شو، هیڅوک را نه غلل.

د لرې څخه یو دروند اواز راغې: الله اکبر ..... الله اکبر ...

د کلي د جومات نه د اذان غږ راپورته شو.

د اذان د غږ د پای ته رسیدونه لږ وروسته دپښو غږ راپیدا شو ، داسې احساسیده لکه څوک چې باغ ته را ننوځي ۰

خینس په خپل کمان باندې خیژولې غشي همغې لورې ته ونیو ۰ حرب هم راپورته شوې و اوخپله توره یې راویستلې وه او کلکه یې په لاسو کې نیولې وه ۰

دپښو اوقدمونو ترپار لږ لږ را نژدې کیده ، بیا د چوترې سره نزدې عتیقه را څرګنده شوه اوپه ټیټ اواز یې وویل : حرب .....

حرب ورمخته شو ۰

رائحه ... زه دډیره وخته ستا انتظار کوم ...

عتیقې ور منډه کړه او د حرب دواړه لاسونه یې و نیول۰

کله راغلې یې ؟

د هغې په غږ کې داسې درد وو چې هوا پرې هم په زوره زوره ژړیدله ۰

د ماښام د تیارو سره سم دلته ولاړ یم ۰

ورور چیرې دې ؟

زمونږ ددواړو دخوندي ساتلو په خاطر په همدې باغ کې چیرې پټ ولاړ دی ۰

د انګورو په ونو کې پټ ولاړ خینس ددوې تولې خبرې اوریدلې ۰ اوس یې نو خپل غشي او کمان په ځمکه ایښودي و۰ اود همدې دواړو خبرو ته غوږ په اواز و ۰

حرب ورته وویل : مور مې څنګه ده ؟

عتیقې په ژړا پیل وکړ او ځواب یې ورنه کړ ۰

حرب یې په اوږو لاس کیښود او په زوره یې ورته وویل : ولې خبرې نه کوې ، ماروه اوورور مې څنګه دي ؟

خینس خپل غشي په کڅوړه کې واچو اوکمان یې په اوږه را ځوړند کړ او خپل زنځیر یې په لاسو کې را واخیست او د انګورو د بوټو څخه بیرون راووت ۰

چوترې ته په را ننژدې کيدو سره يې په ژړغونې اواز وويل : اې وروره ! ماته دکلي څخه دخپلې ويني بوې رائحي •

حرب ورخطا شوې و•

په لړزيدلي اواز يې يو ځل بيا وپوښتل : ستا دې دمحمدصلي الله عليه وسلم په رب سوګند وي چې ووايه :

زما مور ، زما ورور ، زما ورندار او زما په اوښې باندې څه تير شوي دي ،اوکه نه زه به دمرګ دپرواه کولو پرته همدا اوس کلي ته ورشم او و به وينم چې زما په کور باندې څه تير شوي دي ؟

خينس هم راغې او ددوې دواړو تر څنګ و دريد •

عتيقې په ډيره ستونزمنه توګه وويل : مور ، مراجل ، دمنه او احمد ټول وژل شويدي ، ماروه او طوانه د احمد له اړخه ددې پيښې څخه يوه شپه مخته دکور نه رخصت کړل شوي دا چې اوس به هغه دواړه چيرې وي ماته يې هم په اړه معلومات نه شته •

خينس د ليونيانو په څير چيغې کړې : کاشکې ددې خبر د اوريدونه مخته قيامت راغلې و اوزه له منځه تللې وم او يا زه ګونګ شوي وم اويا دا ځمکه چـاودېدلې وه او زه په کې ژوندې ننوتلې وم ، عتيقې را ته ووايــه چې چا زمونږ پــه دې وينو تويولو کې لاس درلود •

عتيقې اوښکې پاکولې •

د يزيد بن مهلب ورور حبيب د سپاهيانو د يوې ډلې سره راغلې و او همغه ستاسو کور برباد کړ •

زمونږ دکلي کوم ځوان هم ورسره و؟

هو ! مالک بن نويره او خريم بن نويره دواړه ورونه اوقريع بن عوف هم دهغوې سره ملګري ؤ •

خينس په چوتره کيناست •

عتيقه ! ته بيرته ستنه شه ، اوس به نو زمونږ مرګ اوژوند همدلته وي • ترڅو چې زه ددې دريواړو ســره حساب پاک نه کړم ، ددې ځايه نه وځم •

دهغې ورو ستنه به د سـردار وکیع ، حبیب او یزیدبن مهلب سره خپل حساب پاکوم .

نژدې د چا د قدمونو اواز راغې ، خینس تـوپ کړاو و درید ، زنځیر یې په لاسو کې و نیوه .

حرب یې هم تر څنګ په داسې حال کې چې توره یې په لاس کې کلکه نیولې وه ودرید ، عتیقه ددې دواړو ورونو تر شا پټه شوه .

دشپې په دې تیاره کې یو دروند اواز راغې : ویرېږئ مه ، زه حریم یم لږه شیبه وروسته سردار حریم د ونو د سیورې نه راڅرګند شو اوبه ډیر وقار سره راغې او ددې دواړو تر مخه و درید . په ډیره ښه توګه یې دهغوې ښه راغلاست وکړ اوبیا یې ورته په ډیره همدردۍ سره وویل :

زه ستاسو دکور په تباهۍ باندې ډیر غمګین شوې یم ، دا ټول هرڅه د وکیع په وینا شوي دي ، دهغه وخته چې هغه د قتیبه بن مسلم په خلاف دریده نو همغه وخت هم ما منعه کړ ، خو هغه زما خبره و نه منله او بیا کله چې د یزید ورور حبیب دماروې د بوټلو له پاره راغې نو هغه وخت هم ما وکیع ته وویل چې که چیرې حبیب دماروې غوښتنه کوي نو دا زمونږ د قبیلې دعزت سوال دې په دې اساس هغه ته په سخته ژبه ځواب ورکړه . خو هغه بیا هم زما خبره و نه منله اوبیا زه چوپ شوم ، ځکه چې د قبیلې ډیر ځوانان د وکیع تر څنګ ولاړ دي . هغه دا ځوانان دطلایې سیکو په واسطه اخیستې دي ، خو هغه ورځ لرې نه ده چې ددې طلایې درهمو نشه یې له منځه ولاړه شي اوبیا ته وګورې چې څه ډول سرادر حریم د سردار وکیع څخه خپله بدله اخلي .

حریم لږ څه تم شو او بیا یې په خبرو پیل وکړ : کله چې عتیقه دکوره راووتله نوهمغه وخت زه شکمن شو چې څه خبره خوشته . په هر صورت زه ډیر خوشحاله یم چې عتیقې دخپل ژوند له پاره دحرب په څیر یوه تکړه او ویاړلې ځوان انتخاب کړې دې ، حرب زویه ! ته چې هر چیرې یې ، دادمن اوسه ، عتیقه به زما سره ستا امانت وی .

خينس خپل زنځير په اوږې واچوو او ويې ويل : زه به د مالک ،خريم او قريع څخه دبدلې اخستلو پرته ولاړ نه شم .

سردار حريم خپل د مينى لاس د خينس په اوږه کيښود اوويې ويل : د مالک او خريم څخه خو ته اوس او همدا نن شپه هم بدله اخيستلې شې ، خو قريع بن عوف اوس د ترمز دښار په لور تللې دې ، هغه د وکيع د وينا سره سم هلته په دې خاطر ورغلې تر څو توفيل ته ډاګيزه کړې چې خينس بن يوسف نن سبا بې ياره و مددګاره شوې دې ، دخراسان والي يې هم په خلاف راپورته شوې ،په دې خاطر ، ددې طلايې فرصت نه ګټه واخله او دخينس د له منځه وړلو له پاره قدم پورته کړه .

ګوره چې وکيع څومره ذليل حرکت کړې دې ، دا خو هغه توفيل دې چې د بني تميم د قبيلي دخلکو قاتل ګڼل کيږي او دهغه څخه د بدلې د اخيستلو له پاره يې ته ور ليږلې وې ، خو نن همغه توفيل د وکيع په واسطه ستا په خلاف راپارول کيږي او دا دټولې قبيلي له پاره دشرم نه ډکه خبره ده .

خينس د غصې نه توکاني تيرې کړې او ويې ويل : زه به د قريع حساب هملته ور ختم کړم چې د ترمز نه راستون شي .

هغه ځانته نـــه دى ، بلکه دکلي څلور کسه ځوانان نور هم ورســره ملګري دي .

خينس بن يوسف دشميرې پرواه نه کوي ، تر هغې چې زما د زنځير کړۍ يو دبل سره نښتې وي ، تر هغو چې زما د اس سومان سلامت وي ، تر هغو چې زما د شاهين الوت لامتناهي وي او تر هغو چې زما په خپل خداې باندې باور او اعتماد وي ، هيڅوک هم خينس بن يوسف ته ماتې نه شي ورکولې .

سرداره ! تا وويل چې دمالک او خريم څخه خو همدا اوس هم بدله اخيستلې شې نوايا هغوې دا وخت دکلې نه چيرې بيرون دي ؟

هو ! هغوې نن د چینې د اوبو نوبت لري ، تر څو خپل باغ پرې خړوبه کړي ، نو که چیرې د همت نه کار واخلي نو هغوې دواړه هم هلته په باغ کې له منځه وړلې شي ، خو د احتیاط نه به کار اخلې ، هغوې نن سبا ستا د ویرې د خپلو ځانو سره څو کسه وسلوال ځوانان هم ساتي ٠

خینس د خپل اس په لور ورمنډه کړه ، اس یې د چوترې څخه لږ څه اخوا ولاړ و، لږه شیبه کې هغه په اس سپور شوې و، لاس یې وخوځوو او ویې ویل : ډیـر ښه ، سـرداره ! خدای پامان ، که ژونـد باقي و نو بیا به سره ووینو ٠

هغه خپل اس په پوره ځواک سره و ځغلوو ، حرب هم د هغه سره یو ځاي په اس سپور شوې واو دواړو د ختیځ په لورې خپل اسونه ځغلول ٠

په یوه باغ کې د ورننوتلو سره سم دخپلواسونوڅخه راښکته شرل ، اوس نودوې ډیر احتیاط کاوه ، اسونه یې په یوه ځاې کې و درول او خپلې وسلې یې په لاسو کې را واخستې او یو د بل تر څنګ څنګ روان شول ، دباغ دننه پنځه شپږ مشالونه روښانه شوي و، د مشالونو سره پنځه شپږ سیورې هم تر سترګو کیدل ٠

دوې هلته ور نژدې شول ، ویې کتل چې څلور کسان په یوه ځاې کې ناست دي ، چې په کې مالک اوخریم هم ناست و، دوې د اوبو د لښتي تر څنګ ناست و او په خپلو کې یې سره خبرې کولې ، کله چې خینس اوحرب نور هم ور نژدې شول نو ویې کتل چې په هغه بل اړخ کې یې نور دوه کسه هم ولاړ تر سترګو کیږي ، داسې ډاګیزیده چې هغوې باغ ته د لوې لارې د راننوتلو ساتنه کوله ٠

خینس پرې خپل شاهین ور پریښود ، کله چې شاهین په هغه یوه ور ونښت نو هغه بل چیغې کړې او په تیښته شو٠

دلته ستاسو ترڅنګ چیرې خینس راغلې دې ، په الله سوګند چې زه درواغ نه وایم ، هغه د خپل شاهین په واسطه ابونخیله له منځه یوړ

هغوې څلور واړه راپورته شول او تورې يې راوويستلې ، هغه راتښتيدلې کس هم دپنځم کس په څير دهغوې ترڅنګ و دريد •

خينس د مشالونو په رڼا کې دهغوې تر مخه و دريد ، د هغه په ښي لاس کې زنځير و اوپه کيڼ لاس کې يې ډال ، د هغه نه اخوا ته په لږ څه واټن کې حرب هم راڅرګند شو، شايد چې هغه به لاره نيولې وه ترڅو څوک د تيښتې هڅه ونه کړي •

د سترګو په رپ کې شاهين بيرته دخينس اوږې ته راستون شو ، د مشالونو په تيزه رڼا کې هغوې وکتل چې د شاهين دمخوکې نه د انسان وينه را تويېږي ، هغوې پنځه واړه ويرې واخيستل او بيا وروسته دغه صحنه نوره هم د ويرې او دهشت نه ډکه شوه کله چې خينس د هغوې تر مخه و دريد اوپه زوره زوره يې همغه د قهره ډکه خندا وکړه ، خينس او حرب دواړه د مختلفو لارو نه پر هغوې حمله وکړه •

دوې هغې لورې ته چې حرب پرې حمله کوله لږ متوجه وو ، دهغوې ټولو سترګې د خينس د زنځير په لور را کږې شوې وې ،حرب دموقع نه ګټه واخيسته او د خپلې ناڅاپي حملې په واسطه يې يو له منځه يوړ او په بل يې ګذار پيل کړ ، په دې وخت کې ددې نورو درېواړو مخونه هم دحرب په لور کاږه شول او همدا دهغوې تر ټولو ستره غلطي وه . ځکه په همدې وخت کې پرې خينس حمله وکړه او دخپل زنځير په واسطه يې په ډيره لږه شيبه کې هغوې درېواړه له منځه يوړل او د هغه څلورم روح د حرب د تورې په ګذار هوا ته والوت •

هغوې دلته ډير پاته نــه شول ، ددې پنځو واړو د له منځه وړلو وروسته يې بيرته خپلو اسونو ته ورمنډې کړې او لږه شيبه کې يې خپل اسـونه دکلي څخه په تيريدو د ختيځ په لورې په ځغاسته کړي و، اوس نو هغوې د نسف د ښار په لور ور روان وو ، هلته يې د سردار ارطبون سره دکتلو ژمنه درلوده •

***

د سهار نښې نښانې را ښکاره شوې وې ، سپوږمۍ خپله رڼا نوره له لاسه ورکوله او په افق کې نوره په ډوبيدو وه ، دسترو سترو غرونو سيورې راخپريدل ، کله چې حرب اوخينس دنسف او بزده تر منځ دسيند څخه تيرشول نو ورته د نسف دښار په شمال جنوبي برخه کې ډير زيات مشالونه ترسترګو شول ، هلته سردار ارطبون خپله خيمه وهلې وه ، کله چې دوې د سيند هغه بلې غاړې ته ورسيدل نو اودسونه يې وکړل اوبيا په يوې غونډۍ وختل •

حرب د قبلې په لور ودريد او اذان يې وکړ •

د اذان الفاظ يې لکه د ملغلرو په څير هرې لورې ته خپاره شول ،کله يې چې اذان خلاص کړ نوبيا دواړو ورونو دعاګانې پيل کړې نو په دې وخت کې د ارطبون دقبيلې له لورې د چا سوزونکې او جادو وزمه اواز واوريدل شو [ الله اكبر الله اكبر ••• ]

هلته هم اذا پيل شوې و•

دواړو ورونو په پوره حيرانيتا سره يوه بل ته و کتل ، په سترګوکې يې سوال اوځواب وکړ ، بيا يې خپل سامانونه راټول کړل اوپه اسونو سپاره شول ،کله چې قبيلې ته ورننوتل نو وې کتل چې د قبيلې بې شميره خلک د دجمعې دلمانځه د ادا کولو له پاره په يوه ستر ميدان کې سره راټول شوي دي او سردار ارطبون يې امامت کوي ، دې دواړو ورونو هم د هغې تر شا په جمع لمونځ اداکړ •

کله چې د لمانځه نه وروسته دواړه ورونه دارطبون خيمې ته ورننوتل نو وې کتل چې قطونه په همغه لومړۍ خيمه کې لمونځ ادا کوي ، خينس هلته ودريد اوپه حيرانتيا سره يې قطونې ته کتل ، په دې وخت کې ارطبون هم راغې او په خندا يې خينس ته وويل ، زه تاسو دواړو ته ښه راغلاست وايم •.کله راغلي ياست ؟

خينس دهغه په لور ور وګرزيد اوورته يې وويل : همدا اوس اوس راغلي يو هلته مې په سمرقند کې له ياده ووتل چې پر تاسو زيرې وکړم چې زما

توله قبیله مسلمانه شوېده ، اوس راته ووایاست چې تاسو ولې له ځانه سره ماروه او مور مو نه ده راوستلې •

خینس غمګین شو او سر یې ښکته کړ ، اربطون هم ناهیلې او غمژن شانته شو •

زه ستا سر ،ټیټ کړې ، نه شم کتلی .... راته ووایه چې څه پیښ شوي دي ؟

خینس خپل سرا را پورته کړ او په لنډه توګه یې ورته توله کیسه وکړه • ارطبون خپله توره را وویستله •

په الله تعالی سوګند چې که ته ووایې .... نو همدا اوس به په توله قبیله کې د جنګ ډول وغږوم اوستا دکورنۍ د قاتلانو څخه به بدله واخلم ••••

قطونه چې دلمانځه نه وروسته راغلې وه او همدلته ددوې تر څنګ ولاړه وه دخینس دکیسې په اورېدو سره په ژړا وه ، کله چې ارطبون دخپلې تورې سره یو ځای بیرون ووت نو خینس له لاسه ونیوه •

نه سرداره ! زه داسې نه غواړم .... زه ستا مشکور یم .... ته به وګورې چې خینس بن یوسف څه ډول دخپلو دښمنانو څخه بدله اخلې •

خینس حرب ته وویل : وروره ! ته لږ څه ارام وکړه ،زه به د نسف تر ښاره پورې ولاړ شم ، شاید هلته ماروه په لاس راشي اوهغه له ځانه سره دلته راوړم • تر څو چې زه هغه راپیدا نه کړم نو ارام نه شم کولی •••

زه هم درسره یوځای ځم •

نه ، ته غم مه کوه ، زه ژر بیرته راستنیږم • دلته کومه خطره نه شته • زه غواړم ددې ځای په سریونو کې دهغې لټون وکړم ، کیدې هغه همدلته چیرې پاته شوې دي •

قطونه یې خواته راغله •

خوراک څښاک وکړی بیا ولاړ شه •

خینس بیرون راووت وویل : وږې نه یم •

د قطونه دسترګو څخه د اوښکو سیلاب را روان شو اوبیرته یوې بلې کوټې ته ورننوتله •

اریطون او حرب په همغه کوټې کې د لرګیو په چوکیو کیناستل ۰

***

د ښار په څو سرایونو کې د پلټنې د ستومانتیا نه وروسته خینس د زاړه ارمن سراې ته ورننوت ، په دې وخت کې ماروه د ارمن په کوټه کې ولاړه وه او ددوې خبرې یې اوریدلې ، د خینس په کتلو سره یې دځپل پیساکې په مرسته په منډه خپلې کوټې ته ځان ورسوو او د پردې تر شا یې خینس ته په مینه مینه کتل ۰

د اس د تړلو نه وروسته خینس دارمن کوټې ته راننوت او په ډیره غمژنه توګه یې ترې وپوښتل : زوړ ارمن ! ایا تا هغه نجلۍ کتلې ده چې مور یې ستا په سراې کې څه موده مخته وژل شوې وه او ماروه نومیږي او له ما سره مینه او محبت هم کوي ؟

ارمن تر لږه وخته پورې د هغه په اوږه ناست شاهین ته وکتل ، بیا سر ټیټ کړ او په زړه یې غته تیږه کیښوده او ځواب یې ورکړ : ستا په خیر د یوه ځواکمن ناهیلې کتل ماته د غم او درد سبب ګرځي خو زه افسوس کوم چې ما هغه نجلۍ نه ده کتلې او نه هغه وروسته دلته کله زما سراې ته راغلې ده ۰

ماروې ددوې خبرې اوریدلې ۰

دخینس اواز دروند شوی و ۰

کاشکې هغه دلته راغلې واې او همدلته له تاسره په دې سراې کې ډیره شوې واې ،زه خو دهغې په پلټنې پسې ځاې ځاې وګرزیدم۰

ماروې دهغه خبرې اوریدې او ژړل یې ۰

ډیرښه ! ارمن ! که چیرې هغه ستا سراې ته راغله او دلته یې قیام کول غوښتل نو ځاې ورکړه زه به یې ټول واجبات اداء کوم ۰

زه له تاسره وعده کوم ، ایا دهغې سره د واده کوم پروګرام هم و؟

هو ! هغه خو زما په ژوند کې یوه رڼا راغلې وه ۰او اوس د یوې تیارې په څیر را نه ورکه ده ۰

زوره ارمنه ! دهغې پرته زما ژوند بيكاره دې ، زه به هغه په هر ځاې كې و لټوم ، او تر څو يې چې تر لاسه نه كړم نو ارام به كښينم •

اوس به ته چيرې ځې ؟

زه به ترمز ته ولاړ شم او دهغې د ترور كور به وپلټم • څه معلوم ، چې كه چيرې هلته ورغلې وي ••

ما خو اورېدلي دي چې هغه ستا دښمنه ده •

نو څه وشول ، دماروې په خاطر خو به سمندر ته هم ورښكته شم •

كله چې هغه د كوټې نه بيرون راووت ، نو دماروې زړه غوښتل چې ورمنډه كړي او لاسونه ور نه چاپيره كړي اوپه ژړا ژړا ورته خپله تيره شوي كيسه واوروي ، خو د خينس دتللو په وخت كې هغه چوپ شوه ،ددروازې پله يې و نيوله او په ژړا ژړا هم هلته تم پاته شوه •

كله چې خينس د سراې نه بيرون راووت نو هغه هم بيرون را ووتله او دخينس يې دبيرون غرونو په لور دتللو په حال كې كتلو •

كله چې هغه په غره باندې د ختلو وروسته دغره بل اړخ ته ښكته اود هغې دسترګو څخه پناه شو نو ماروه ډيره انديښنه شوه ، دبيساكي په مرسته خپلې كوټې ته بيرته راستنه شوه اوبيا دروازه و نيوله اوپه ډيره افسوس اوناهيلۍ سره يې وويل :

الهې ! زه دې په څه ډول ازمېښت كې واچولم، دا څه ډول ظلم او تيرې راباندې وشولو •

الهی ! خينس چې زما د ژوند حاصل دې زه هغه ته اوس دخينس په نامه غږ نه شم كولې .... په لړزيدلې ځان مخته ولاړه او په بستره كې را پريوته او په ژړا يې پيل وكړ •

خينس بيرته قبيلې ته راستون شو ، حرب ، قطونه او ارطبون ټولو هملته په خيمه كې دهغه انتظار كاوه • كيدې شي چې نوطس به دا وخت په بله كومه كوټې كې و، ټولو يو ځاي ډوډی او غذا و خوړله ، قطونې غوښتل خينس ته ډير څه ووايې خو هغه چوپ وه ، د سمندر په څير چوپ ! هغه

غمژنه وه ، لکه په پنجره کې د بندي مرغۍ په څیر ، د حرب په لور دکتلو په وخت کې خینس په مړاوې غږ وویل : زه ترمز ته ځم ، وروره ! شاید چې ماروه هلته تللي وي .

حرب راپورته شو وویل : زه هم در سره یو ځاي ځم .
بیا نو راځه ....

دواړه پورته شول اوبیرون راووتل او په خپلو اسونو سپاره شول او د ختیځ په لور روان شول ، ارطبون ، قطونه اونوطس هیڅ یوه هم ورته د تم کیدو دویلو جرئت ونه شو کړاي .

***

خینس په ترمز کې د شاهک دروازه ور و ټکوله ، شاهک پخپله دروازه پرانستله او دخینس سره ور غاړیوت او شکوه یې ترې وکړه : ډیره موده وروسته راغلې یې .... راځه چې کینو .

هغه خینس له ځانه سره دننه راښکود .

لومړی یو کار وکړه ، زه په بیړه کې یې یم ، د توفیل کور ته ورشه او معلوم کړه چې ماروه خو هلته نه ده راغلې ،

شاهک خنیس له ځانه سره دننه روان کړو .

ته کینه ، زه به همدا اوس په دې اړه تاته معلومات راوړم .

شاهک ددواړو وړونوتر مخ د و چې میوې یوه ډکه کاسه کیښوده ، اوپخپله بیرون ووت .

لږه شیبه وروسته بیرته راستون شو او دخینس تر مخه ودردي اوورته یې وویل : ماروه دلته نه ده راغلی .

خینس راپورته شو وویل : مونږ له دې ځایه بیرته ځو .

شاهک هڅه وکړه چې هغوی له ځانه سره وساتي .

ماښام کیدونکې دې ، شپه همدلته تیره کړئ او بیا سهار حرکت وکړئ .

نه ، زما په قسمت کې اوس چیرې تم کیدل نه شته .

شاهک وویل : یوه بله خبره واوره ...

خنیس وویل : ووایه

د توفیل خلک یو ځل بیا ستا په اړه ګرم شوي دي •

خینس ورته په بې پرواهۍ سره وویل : زما پسې داسې کوڅه ډب سپې ټول عمر منلډې وهي ، زه چې کله هم وغواړم نو دخپل زنځیر په ګرځولو سره یې له ځانه شړم ، په الله تعالی سوګند که دا ځل توفیل زما په لاره کې خنډ شي نو زه به یې سر ور وواهم •

دواړه ورونه بیرون راووتل ، کوڅې ته په راوتلو سره حرب ترې وپوښتل : اوس چیرې ځو ؟

خینس ورته په دقت سره وویل : دکش د ښار په لور ورځو ••• شاید هلته مونږ ته تر لاسه شي •

اسونه یې کرار کرار بوتلل او د زنیل دسیند څنډه پورې وتل ، بیا دغرنۍ لړۍ څنډه په تیریدو سره دکش په لور په تلونکې لویه لاره سر شول •

په داسې حال کې چې دماښام تیارې خپریدې او دشپې تیارو دسترو سترو غرونو دغارونو خولې ور پټولې ، دوې پخپل مخکې په دې لویه لاره پنځلس شل کسان سپاره وکتل ، هغوې په وسلو سنبال وو او اسونه یې په پوره ځواک سره ددوې په لور ځغلول • کله چې هغوې ددې دواړو ورونوخواته را نژدې شول نو خینس خپل زنځیر په لاس کې کلک کړ او په بل لاس کې یې ډال و نیوه ، حرب هم د حالاتو سره دمقابلې له پاره ځان تیار کړ•

دغه شل کسه سپاره ټول ددوې د قبیلې خلک وو ، په دې ډله کې قریع بن عوف هم و ، همغه قریع چې دوې ورپسې ګرزیدل ، کیدای شي چې دوې بـه ټولو د مالک بن نویـره او خریم بن نویـره د انتقام او غچ د اخیستلو هوډ درلود •

یو بل ته د نژدې کیدو سره سم ، دوې ټولو یو بل ته د اذلي دښمنانو په څیر په کتلو شول ، دوې ټولو دا دواړه ورونه په کلابندۍ کې واخیستل او کرار کرار یې ځلورو خواو ته خپاره شول ، خینس دهغوې د هریوه خوزښت په ژورو سترګو کتلو، په دې وخت کې خینس په اشارې سره خپل ورور

حرب ته وویل نن ورځ به ډیره ستونزمنه وي ، د قبیلې خلکو نن شل کسه ډیر ځواکمن ځوانان زمونږ دمرګ پسې را لیږلي دي ، که چیرې تا همت له لاسه ور نه کړ نو په اسانۍ سره به ترې خوندي ووځو ، که څه هم دوې زما د جنګ د ټولو طریقو سره اشنا دي خوبیا به یې هم زه په خپل مخکې داسې و ځغلوم لکه څنګه چې یوه رمه په مخکې ځغلوم ، د جنګ په وخت کې زما سره نژدې اوسه ، که چیرې مونږ جدا شو نو دا جدایې به مونږ ته ډیره زیانمه ثابته شي .

حرب په خپل سر باندې اوسپنیز خود سم کړاو ویې ویل : تر هغې چې ته زما سره یې ، نو ماته د اندیښنې کولو هیڅ اړتیا نه شته . زه پوهیږم چې دخلکو په سترګو کې د ځواک دیوتا یې او هر هغه څوک چې له تاسره ټکرکوي تل دماتې او شکست سره مخ کیږي .

خینس خپل زنځیر و خوځوو.

تیار شه ... هغوې زمونږ شاوخوا دایره هره شیبه راتنګوي ، زه غواړم چې هغوې لرې و ساتم .

هغه خپل اس ته پونده ورکړه او په یوې لورې یې حمله وکړه .

حرب د هغه ترڅنګ و ، هغوې هم ټول هغې لورې ته شول په کومې لورې چې خینس اوحرب حمله کړې وه . خو دهغوې دلاسه به څه شوي وو ، ځکه دخینس دحملې بڼه داسې وه چې ددوې له پاره یې مقابله کول سخت وو . لومړی یې په ښي لاس خلکو حمله وکړه ، بیا یې خپل اس د برق په څیر و ځغلاوو او دشا له اړخه خلکو باندې یې حمله وکړه او هلته چې کوم سپاره په ډیره چټکۍ سره را ټولیدل ، هغوې یې دحملې توان را نه وست .

څلور د خینس په زنځیر ، یو د حرب په توره او یو هم د شاهین په ښکار کولو له منځه ولاړل ، خو هغوې هم ډیر چالاکه وختل . کله چې خینس اوحرب ددوې کلابندي ماته کړه اووتل نو هغوې ټولو پرې یو ځل بیا حمله وکړه اوپه ډیره چالاکۍ سره یې دا دواړه یو دبل نه جدا کړل .

خینس په جنګ کې شاته روان وو ، په همدې توګه حرب هم په جنګ کې دهغه څخه لرې کیده ، ان تر دې چې دواړه ورونه د غرونو په دې لړه کې یو دبل د سترګو څخه غایب شول •

خینس دخپل ورور حرب په اړه ډیر اندیښمن وو• خو حرب په نسبت پر دې د حمله کونکو شمیره ډیره وه •

دحرب په فکر کې هغه خپل زنځیر په پوره ځواک سره ګرځوو او په خپل ځان کې یې یوه نوې ولوله راپیدا کړې وه • اوس نو هغه په ډال باندې هم ګذار کاوه او شاهین یې هم په دښمن باندې حملې کولې •

نژدې نیم ساعت دسختې مقابلې په جریان کې یې د هغوې لس کسان په خپلو لاسو له منځه وړي و او کله یې چې خپل اس را وګرځلاوه اوهغه لورې ته راغې چې حرب په کې په جنګ کې را نښتې و او بیا دهغه د سترګو څخه غایب شوي و، نو لږ مخکې راتلو سره حیران پاته شو ، ویې کتل چې هلته جنګ کونکې هیڅوک هم نه شته ، یوازې د تیږو تر منځ دحرب لاش پروت دې خوسر یې غایب دې ، کیداې شي چې هغه یې پریکړې وي او له ځانه سره یې وړی وي •

خینس د احساساتو لاندې راغلې و او د لیونتوب تر مرحلې پورې رسیدلې و، هغه د خپل ورور د لاش سره یوځاي پروت و او په سلګیو سلګیو یې ژړل ، تر ډیره پورې د حرب دلاش سره بیهوشه پروت و، بیا راپورته شو او د زین سره د نښتې تبر او خنجر په مرسته یې دغره په لمنه کې یوه ژوره کنده وویسته او د حرب لاش یې په کې ښخ کړ ، بیا یې په هغه ځاي یوه لویه تیږه کیښوده او د ځنګلي ګلاب پاڼې یې پرې و شیندلې ، بیا یې په خپله لونګۍ خپلې اوښکې پاکې کړې ، دخپل اس خواته راغې اوپه ډیره ناخواله توګه پرې سپور شواو د نسف دښار په لور په تلونکې لویه لاره روان شو •

***

شپه نیمایې ته نژدې شوه چې خینس د نسف په ښارکوټي کې د زوړ اړمن د سراې دروازه ور ووهله ، لږه شیبه وروسته دروازه پرانستل شوه ،خینس

دخپل اس واګې نیولي وې او د زوړارمن تر مخه ولاړ و. دهغه لباس په وینو رنګ و اوپخپله هم ډیر غمژن.

ارمن یـوې لورې ته شو او خینس هم په پټه خوله سرای ته ورننوت ، اس یې په تبیله و تړه او بیا په پوره چوپتیا سره دارمن کوټې ته راغې او ودرید.

تر دې وخته زوړ ارمن هم د سرای دروازه تړلې وه او خپلې کوټې ته راستون شوې و، د خینس دحالت په کتلو سره یې په ویره ویره دهغه نه وپوښتل: د ځواک دیوتا! ایا ته یو ځل بیا د ماروې په لټون پسې زما سرای ته راغلې یې .... خو داسې بریښې چې دکوم جنګ نه راستون شوې یې.

تر څنګ کوټې کې ویدې ماروې دا خبرې واوریدې اوراپورته شوه ، په تیارې کې ددروازې شاته و دریده.

خینس چوپ و، ارمن یو ځل بیا ورته وویل: اې ځواکمن ځوانه! ایا چا درسره ظلم او تیرې کړې دي او ته دهغوې څخه دانتقام اوبدلې له پاره راوتلې یې.

د خینس ټیټ سره راپورته شو وویل: ارمن! تا سهې فکر کړې دې ، زما د قبیلې خلکو لومړی زما مور ، ورور ، ورندار او ترور ووژله او اوس یې زما او زما د ورور د وژلو له پاره زمونږ مخه نیولې وه ، زما ورور یې ،چې په دې دنیا کې زما یوازنې پانګه وه ، وواژه ، اوس دخپلې قبیلې دخلکو څخه دانتقام له پاره راوتلې یم ، اوس راته یوه کوټه راکړه ، خو زه سهار وختي ددې ځایه کوچ کونکې یم او بیا ټوله ورځ سفر کوم تر څو خپلې قبیلې ته ورسیږم اوهلته د دښمنانو د وینو سره لوبې وکړم.

ماروې ددې خبر د اوریدو سره بیهوشه شوه ، په ګوډه پښه خپلې بسترې ته ور نژدې شوه اوپه کې ور پریوته اوپه سختې ژړا یې پیل وکړ.

ارمن ترې یو ځل بیا وپوښتل: نن دې ورور څه ډول ووژل شو ؟

د قبیلې شل کسه ځوانان د کش په لاره کې زمونږ مخې ته تم شول ، د هغوې ډیر کسان ما له منځه یوړل ، خوافسوس چې دهغوې څو کسانو زما ورور وواژه اودهغه سر یې پرې کړ اوله ځانه سره یې یوړ •

ارمن ورته دهمدردۍ له مخې وویل : ستا د حالاتو په اوریدو سره ډیر غمژن شوې یم .... واوره ځوانه .... زه داډمن یم چې یوه ورځ به ته په خپلو ټولو دښمنانو باندې لاس برې شي •

خینس ورته وویل : ماته یوه کوټۍ راکړه .... زه غواړم ارام وکړم ، سهار بیا ددې ځایه کوچ کوم ، زما د اس ددانې او وښو په اړه هم توجه وکړه •

ارم ورته کوټه ورکړه اوهغه ورغې او په کې څملاست •

بله ورځ سهار ، کله چې ماروه راپورته شوه نو په لړزیدلي وجود یې اخوا دیخوا وکتل اوبیا د ارمن کوټې ته راغله •

ارمن ورته مسکې شو او ترې ویې وپوښتل : لورې څنګه یې ؟

ماروه غمژنه وه •

دلته دشپې خینس بن یوسف راغلې و ؟

هو راغلې و خو اوس بیرته تللې دی •

ماروه ترې په اندیښنې سره وپوښتل : کله ؟

سهار وختې ، تیاره غوني کې ••• هغه ددې ځایه ولاړ ، ایا تا خپله وعده ماته کړې او د هغه سره کتل غواړې ؟

نه ، ما غوښتل هغه ووینم ، زه دهغه تر مخه نه راوځم ، کیداې شي هغه له ماڅخه نفرت وکړي ، زه په نړۍ کې دهر چا نفرت زغملې شم خو دخینس نفرت نه شم زغملې •

هغه ډیر غمګین و.... د هغه مور ، خور ، ورور ، ورندار او ترور ټول وژل شوي دي او کوم ورور یې چې پاته شوې و هغه هم پرون د دښمنانو په واسطه ووژل شو •

ماروې ژړل •

ما واوریدل •

ارمن ترې په حیرانتیا سره وپوښتل: کله؟

ماروی وویل: کله چې دشپې هغه ستا کوټې ته راغې، ما دهغې اواز واورید او راپورته شوم، ایاد تللو په وخت کې یې ډاګیزه نه کړه چې دکومه ځایه راغلې او بیا کومې لورې ته روان دې؟

هو! دکوچ کولو په وخت کې یې ماته هلته په تبیله کې وویل چې د ترمز له لورې راغلې او اوس دخپل کلي په لور روان دې.

غواړي دهغو خلکو څخه بدله واخلي چې دده ورور یې وژلې دې، هغه ډیر احساساتي شوې و، ویل یې چې په قبیله کې ګڼ شمیر خلک دې چې انتقام ترې باید واخلي، ویل یې چې زه به د یزید بن مهلب او د هغه دورور حبیب بن مهلب څخه هم بدله اخلم.

ماروې ددعا له پاره لاسونه پورته کړل.

د کعبې رب دې هغه په خپل امن اوامان کې و ساتي.... ماروه شاته شوه اوخپل بیساکي یې واخستل اودخپلې کوټې په لور ورغله.

***

ماښام نور تیاره شوې و او تیارې هری لورې ته خپرې شوې وې.

خینس د فقیرانو او سوالګرو په کالیو کې خپل کلي ته ور ننوت، خپل زنځیر او شاهین یې په یوه خیرنه کڅوړه کې ځاې په ځاې کړل، کڅوړه یې په خپله اوږه باندې را وځړوله.

دکلي دروازو ته د ورننوتلو سره سم هغه حیران ودرید، ویې کتل چې ددروازې په سر یو ستر مشال روښانه دې او بیا د یوه لرګې سره تړل شوې دحرب په وینو رنګ سر را ځړول شوې دې، خو ځان یې سنبال کړ او مخته ولاړ.

کله یې چې په تیاره کې یو موړ وواهه نو د شا له اړخه چا ورغږ کړ: وروره!

خینس و درید او شاته یې وکتل: وروره! زه عتیقه یم.

خینس ورته رانژدې شو او په ډیر غمژن اواز سره یې ورڅخه وپوښتل: تا څنګه و پیژندم؟

زه دخپل باغ څخه ستا تر شا را روانه وم ، کله چې تا خپل اس و ترړه او کالي دې بدل کړل نو زه هملته د چوترې تر څنګ پټه شوې وم ، ما ته ډاګیزه شوې وه چې ته به نن شپه هرو مرو راځې او دا چې ته دکوم کار له پاره کلي ته راننوتلې یې ، په دې هم پوه شوې یم ، خو پخوا له دې نه چې ځان په خطره کې واچوې له ما سره راځه •

خینس یې ترشا شا روان شو •

عتیقه خپل کور ته ور ننوتله او خینس ته یې هم د ننوتلو اشاره وکړه • په کور کې هیڅوک نه و ، خینس ترې وپوښتل : سردار چیرې دې ؟

هغه په پټه توګه خپل خواخوږې دلته را ټولوي او دسردار وکیع په خلاف دکوم پریکنده قدم د اخیستو پریکړه کوي •

د عتیقې اواز داسې ګرزېدلې و لکه په پیړیو پیړیو چې یې ژړلې وي او نور یې اواز ورسره خداې پامانې کړې وي •

وروره ! زه درڅخه څه پوښتم ؟

خینس اندیښمن شو او سر یې پخپله ښکته شو •

ووایه !

حرب چیرې دې ؟

عتیقې په ژړا پیل وکړ •

خینس چوپ و او سریې ښکته اچولې و•

. عتیقې په زوره زوره په ژړا پیل وکړ اوبه خپل اواز کې یې قوت راپیدا کاوه اوپوښتل یې : وروره حرب چیرې دې ؟ ایا ما هغه په تا نه و سپارلې ؟

خینس د یوه بُت په څیر ولاړ وخو د سترګو څخه یې د اوښو سیلاب را روان و• عتیقې په ژړا کې چیغې کړې •

حرب خو زما سیورې و او یوه خور د خپل ورور څخه خپل دسر د سیورې غوښتنه کوي •

خینس خپلې شونډې چیچلې او دسترګو څخه یې د اوښکو باران راروان وو، د خپلې چپنې لاندې یې لاس کړ او خپل خنجر یې راوویست اوهغه یې

دعتيقې په لور ور وړاندې کړاو ورته يې وويل : زه ستا مجرم يم .... زه ستا گنهگار يم ، زه ستا د سيورې قاتل يم ، دا خنجر واخله او زما په سينه کې يې را وتومبه •

زما په څير بدبخته انسان ته د ژوند کولو هيڅ حق نه شته • هغه چې دخپل وروړ ساتنه و نه شي کولی دا خنجر واخله ، زه په خوشحالۍ سره تاته دخپل انتقام له پاره ځان در وړاندې کوم •••

عتيقې په چغو او واويلاو پيل وکړاو د خينس سره ور و نښته •

درروره ! دا څه وشول ، ولې پر موږ زمونږ دغه تقدير دومره نامهربانه ده •

بيرون په کوڅه کې د قدمونو اواز را پيدا شو ، خينس دعتيقې نه جدا شو او ددروازې پلې ته ورغې ، څوک ډير نژدې راروان معلوميده •

خينس ددروازې تر شا پټ شو •

سردار حريم راننوت اوپه ډيره غمناکه توگه د خپلې کوټی په لور ور روان شو ، خينس نه غوښتل دهغه سره په خبرو کې خپل وخت ضايع کړي • په دې خاطر يې ټوپ کړاو کوڅې ته ورغې اوپه تياره کې مخ ته ولاړ•

يوې دروازې ته ودريد او دخير غوښتنو غږ يې پورته کړ ، يو کس د ډوډۍ يوه ټوټه را واخيسته او دهغه خواته راغې ، دا دهغو پنځو څخه يو وه چې د حرب سر يې پرې کړې و • څنگه يې چې د ډوډۍ ټوټه دخينس په لور ور اوږده کړه نو خينس سمدلاسه و نيوه او څټ يې پرې ورمات کړ او هم هلته يې ختم کړاو دهغه لاش يې په يوه تياره ځاې کې ور وغورځوو•

هغه بيا لږ څه مخته ولاړ او څو کوره يې پريښودل او د يوه بل کور تر مخه و دريد ، د هغه ځايه يو کوچني ماشوم ورته د ډوډۍ يوه برخه راوړه ، کيداې شي چې دا به د بل قاتل کور وو خو پخپله دروازې ته را نغې •

خينس د هغه ماشوم څخه ډوډۍ واخيسته او ماشوم ته يې څه و نه ويل •

په دې توگه هغه د پنځو قاتلانو څخه ددوو په وژلو برياليې شوی و ، هغه چې وژل شوي و په هغوې کې قريع بن عوف هم شامل و •

په دې وخت کې دکلي تر منځ غوغا جوړه شوه او نر ، ښځې او کوچنیان ټول دکالي دروازو ته ورغلل ، هغه هم ددوې تر منځ ددروازې په لور ورمنډه کړه ، ګڼ شمیر خلک ددروازې تر څنګ را ټول شوي و،څو کسه نارینه ددروازې د پاسه ختلي و او د چا دلاش در ابښکته کولو هڅه یې کوله د خینس تر څنګ یوې ولاړې ښځې دبلې نه وپوښتل : خورې څه شوي، دي ؟

هغې ښځې په ډیره غمجنه توګه وویل : د حرب د وژلو وروسته د سردار حریم لور عتیقې ددروازې سره رسی تړلې او ځان یې وژلې دې ځکه هغې د حرب بن یوسف سره مینه کوله او اوس یې خلک لاش راښکته کوي •

خینس په ویره ویره مخکې ورغې ، د عتیقې لاش لاندې را ښکته کړل شوې و، خینس د لاش خواته ورغې ، دعتیقې په غاړه کې پـه تار یو کاغذ تړل شوې و چې څه پرې لیکل شوي و، خلکو هغه راپرانست او پـه زوره یې ولوست •

دمشال په تیزه رڼا کې خینس هم هغه وکتل وویل : یا اهل القریة قد ظلمتم علینا ( اې دکلي خلکو! تاسو پرمونږ ډیر تیرې کړې دې ) •

هلته نژدې سردار حریم هم لکه د یوه غره په څیر چوپ ولاړ و، خپلې شونډې یې چیچلې او توره یې کلکه په لاس کې نیولې وه ، خینس ددې منظر د لیدلو تاب را نه وړ اوښکې یې وچې کړې اوبیرون راووت او دسردار حریم د باغ په لور ولاړ ، هملته یې اس هم تړلې و •

***

نیمې شپې ته نژدې ، هغه وخت چې د بني تمیم ټول کلې په خواږه خوب ویده وو، دقبیلې یو شمیر ځوانان د سردار حریم په کور کې سره راټول شوي وو اوټول پخپل منځ کې په سلا مشورو کولو لیګا وو• ښکاره خو یې دا خبره کوله چې دوې ټول د عتیقې دمرګ په خواشینۍ سره را ټول شوي دي، خو اصل مقصد یې بل څه و، سردار حریم په خپل ځان دسرادر وکیع په خلاف د بغاوت بیرغ پورته کړې و، په دې وخت کې یو ځوان لږ څه په لوړ غږ وویل : سرداره ! مونږ ستا خولې څخه څه اوریدل غواړو

•••• و الله که ته ووایې نو مونږ به دې د دښمن سر پرې کړو اوستا په پښو کې به یې کیږدو •

سردار حریم راپورته شو او ویې ویل : زه ستاسو سردار نه یم بلکه ستاسو خادم یم ..... ایا تاسو ویلې شئ چې سردار وکیع زمونږ سره څومره ظلم او تیرې کړې دې ، هغه خینس بن یوسف چې ددې قبیلې شاهین و ، رسوا کړ ، د هغه کورنۍ یې له منځه یوړه ، یوازې دا نه بلکه دخراسان فاتح ، قتیبه بن مسلم یې وواژه او اوس یې پرمونږ باندې یزید بن مهلب مسلط کړې دې تر څو مونږ خبره هم ونه شو کړای •

د سردار حریم اواز هره لمحه سختیده وویل : اې زما ځان ځارونکو ! خلیفه سلیمان بن عبدالمالک کوم داسې ښه کار کړې دې ، هغه د سنده معصوم او ځوان فاتح محمدبن قاسم وواژه ، هغه د افریقې او اندلس فاتح موسې بن نضیر له منځه یوړ او هغه د چین اوایشیا فاتح قتیبه بن مسلم له منځه یوړ •••

حریم مخته وویل : اې د قبیلې خلکو واورئ ! سلیمان بن عبدالمالک د فتوحاتو لړۍ بنده کړې ده ، هغه د اسلام په نوم باندې تورداغ کیښود ، هغه قاتل او ناعاقبت اندیشه دې ، زه دهغه سره بیعت فسخ کوم او د هغه د ټاکل شوي والي یزید بن مهلب د هر حکم د نه منلو اعلان کوم •••

ټولو په یوه اواز سره وویل : مونږ له تاسره ملګري یو ، هم ته زمونږ مشر ، پلار او سردار یې •

سردار حریم په یوه اواز وویل : وکیع زما د یوازنې لور عتیقې قاتل دې په الله تعالی سوګند چې زه به دهغه څخه داسې بدله واخلم لکه د یوه ځرونکې په لاسو زخمي شوې لیوه یې چې د هغه د رمې څخه اخلي •

زه تاسو ټولو ته داد درکوم چې په قبیلې کې د وکیع په خلاف تبلیغات وکړئ او هغه ورځ لرې نه ده چې مونږ به ددې فاسق سردار د ظلم نه په پوره توګه خلاصې و مومو او خپل انتقام به ترې واخلو •

یو ځوان پورته شو او یوه مشوره یې ورکړه موږ په هره توګه چې وي هرو مرو خینس راپیدا کړو او د خپل ځان ملګرې یې کړو، په دې توګه به د سردار وکیع په ملګرو کې زړه بداوې راپیدا شي او د خواخوږو شمیره به یې راکمه کړل شي.

سردار حریم هغه ته تسلي ورکړه ددې فکر مه کوئ خینس زما په لاسو کې دې، زه به په کوم مناسب وخت کې هغه ته دلته کلي ته دراتلو بلنه ورکړم، بیا به زه ووینم چې څوک به دومره نر وي چې کلي ته دهغه په راتلو کې خنډ راپیدا کړي، په الله سوګند چې هر هغه څوک چې دهغه دلته په راتلو باندې اعتراض هم وکړي نو خټ به یې پرې کړم، اوس تاسو ټول ولاړ شئ او شپه او ورځ یــوه کړئ او د خپلو ملګرو دډیرښت هڅې پیل کړئ....

ټول راپورته شول او بیا یو یو کوڅې ته راووت او پخپله مخه ولاړل.

***

خینس څلور کاله پرلپسې هڅې وکړې تر څو ماروه راپیدا کړي خو ماروه ورته هیچرې هم په لاس نه ورتله، د خراسان یو یو سراې یې چاڼ کړ خو ماروه غیب وه، په دې وخت کې سلیمان بن عبدالمالک مړ شوې او ځاې یې عمر بن عبدالعزیز رحمه الله خلیفه شوي و، د سلیمان په اخري شپو کې یزید بن مهلب، هغه ته د ډیر سترړقم د ورلیږلو ژمنه کړې وه خو سلیمان اوس مړ شوی و.

هغه د یزید نه دهغې رقم غوښتنه وکړه، یزید انکاري شو، په دې اساس عمر بن العزیز رحمه الله پرې په قهر شو، ویې نیوه او بندي یې کړ، دا ټول هر څه د سردرا حریم په حق کې و، تر څنګ یې د سردار حریم د ملګرو شمیره هم ورځ تر بلې زیاتیده.

د بله اړخه سردار وکیع هم چوپ نه و ناست، په حکومت کې دیزید بن مهلب څه کسان داسې و چې هغوې د سردار وکیع دوستان ګڼل کیدل، په دې اساس لا تر اوسه د سردار وکیع تله په سردار حریم باندې درنه ښکاریده. خو بیا هم سردار حریم په پرلپسې توګه هڅه کوله او د کور

دننه یې د بغاوت له پاره لاس وپښې وهلې او په دې توګه یې د سردار وکیع په ملاتړ وکې کمښت راوست .

خینس ددې ټولو حالاتو څخه بیخبره و او د مارو ې په لټون پسې سر و . هر ځاې یې دمارو ې پسې لټوو او د همغې پیدا کول یې دخپل ژوند میشن ګرځولې و ، د سردار ارطبون سره یې هم پوره وخت لیده کاته نه وکړي ، په هر صورت د مارو ې لټون هغه دهر څه نه بیګانه کړې و .

یوه ورځ د سمرقند څخه راووت او ټوله ورځ یې سفر وکړ او دکش ښار ته ورننوت ، چپنه یې خیرنه شوې وه او پوستین یې هم شکیدلې و ، په هغه ورځ په غرونو باندې پوره زیاته واوره وریدلې وه او د وچې هوا توپانې بادونه را سر شوي و ، د هغه ملا نوره په اس باندې دکیناستو له لاسه کړه په شوې وه ، کیداي شي چې هغه به ستومانه شوې واویا به دغې یخې هواد هغه ملا راتاوه کړې وه .

ماښام نزدې و چې سراې ته ور ننوت . انګړ ته د را رسیدو سره سم د اس نه راښکته کیدونکې و چې څلورو خواو ته یې د قهقه خندا پیل شوه ، دبرق په څیر و ګرزید او څلورو خواو ته یې وکتل ، ویې کتل چې د باغر کشر ورور برقه دخپلو تکړه ملګرو سره هغه کلابند کړې ، هغوې ټول په وسلو سنبال و او د مرګ له پاره یې ځانونه تیار کړي و .

خینس خپل اوسپنیز زنځیر راواخیست اوپه ډیره وینه تویونکې توګه یې د هغوې په لور وکتل خو دحرکاتو نه یې ډاګیزیده چې هغه ډیر ستومانه دی . کیدای شي چې هغوې ټول به دهغه په تعقیب تر دې ځایه راغلي وو .

برقه رامخته شو او په ډیره سپکه لهجه یې ورته وویل : ستا سلامتي په همدې کې ده چې په پوره چوپتیا سره خپل ځان مونږ ته حواله کړې ......یاد ساته چې ستا د نیولو له پاره ما د خپل ځان سره پنځلس کسه تکړه او توانمند ځوانان را وستې دي ، دا ځوانان په ټول خراسان کې بې نمونې اوبې مثاله دي ، ښخوا له دې چې دوې ستا په وهلو پیل وکړې او

هډوکې دې مات مات کړي، خپل زنځير و غورځوه او هغه څه چې زه يې درته وايم بې له شرطه ومنه او عمل پرې وکړه •

خينس په يوه ويرونکې توګه خپل زنځير په فضا کې و خوځوو اوبيا يې په ډيره دهشتناکه توګه د برقه په لور وکتل او وغريد •

ته ډير ناپوهه او نادانه يې ، ما د مرګ اوژوند داسې لوبې ډيرې ليدلی دي ، ياد ساته چې خينس بن يوسف د خپلو دښمنانو تر مخه داسې تيښتيدل نه دې زده کړي • کله چې زه دمرګ په څير ستا په لور درشم نو په هغه وخت به ستا دغه پنځلس کرايه شوي کسان هم ستا څخه دفاع و نه شي کولې ، زما د لارې څخه لرې شه او ما په خپل حال پرېږده •

ما پخوانی دښمني ګاني هيرې کړي دي ، زه د يوه چا په لټون پسې يم ، ماته اوس جنګ کول هيڅ خوند نه راکوي ..... ورځه اوخپل کار کوه •

برقه ورته رامخته شو وويل : مونږ پوهيږو چې ته د ماروه په لټون پسې راوتلې يې ، خو ته زما د ورور نه پرته د نورو بې شميره ځوانانو قاتل هم يې ، په دې خاطر له تانه دهغوې بدله اخيستل پر مونږ فرض دي •

برقه دخپلو ملګرو په لور اشاره وکړه •

ويې نيسئ او په هر صورت يې ژوندې و نيسئ ، زه به دا په داسې مرګ وژنم چې انساني روح ترې و لړزيږي ، هغوې ټولو پرې حمله وکړه ، خو هغه دخپل اوسپنيز زنځير په واسطه په ډير مهارت سره خپله دفاع کوله اوپه هغوې يې جارحانه حملې ، دپنځلس ځواکمنو ځوانانو تر منځ ولاړ هغه داسې بريښيده لکه ذميږو په رمه کې چې خونړې ليوه ولاړ وي •

په يقيني توګه به هغه دا ټول له منځه بوتللې واې خوبدبختي دا چې هلته پرې د هغه نژدې چت نه د تيږو باران پيل شو، کيدې شي چې دا ټول هرڅه دپخوا نه پلان شوي وو ، تر ډيره وخته پورې يې دتيږو په دې باران کې ځان و ساته • خو بالاخره يې بدن وينې وينې شو ، هغه نور راپريوته چې په همدې وخت کې پرې د تورو وهونکو ضربې هم راغلې او هغه يې بيهوشه په ځمکه و غورځوو•

***

کله چې په هوش کې راغې نو ویې کتل چې په لاندینی پوړ کې پروت دې ، هلته د شړشمو د تیلو یو ماشین ولاړ دی او ترڅنګ یې په یوه کونج کې د شړشمو دانې هم پرتې وی ۰

راپورته شو او کیناست ، څو فټه واټن کې یې شاهین هم ناست و خو په سترګو کې یې دېخوا په څیر تیزوالې نه لیدل کیده ، هغه خپل ځان ته وکتل ، ویې کتل چې هیڅ وسله ورسره نه شته ، یوازې یو خنجر یې د چپنې لاندې جیب کې پاته شوې و۰

کیداې شي چې هغوې به دا خنجر نه و کتلې ۰

راپورته شو او کیناست او د حالاتو جایزه یې واخیسته ، ویې کتل چې کوټه یوازې یوه کړکۍ لرې او هغه هم د اوسپنې د کلکو او پیړو میلو په واسطه پوښل شوې وه ، د شړشمو د دانو ترڅنګ یوه تخته یې راواخیسته اوپه هغې و درید ترڅو د کړکۍ له لارې بیرون وضع ډاګیزه کړي ۰ بالاخره یې هغه ځاې و پیژنده چیرې چې بندې کړل شوې و۰

دا پخپله د کُش ښارګوټې و، ددې ځایه نژدې یو فرلانګ واټن کې د ځوانانو نظامي روزن ځاې و ، په همدې ځاي کې دڅو دیوالونو په واسطه را کلابند شوې تاه خانې وې او اوس د همدې تاه خانو څخه په یوې کې خینس بندې شوي و۰

لاندې راښکته او هغه لرګي یې بیرته په خپل ځاې کیښود ، یو ځل بیا یې اخوا دیخوا وکتل او د تاه خانې جایزه یې واخیسته ، خوپه دې وخت کې یې د قدمونو اواز تر غوږو شو، بیرته ژر خپل ځاې ته راغې اوکیناست ، لږه شیبه وروسته برقه دخپلو ملګرو سره یو ځاي راننوت او د خینس په لوریې دکتلو سره سم وویل : په هوش کې راغلې ، بس سر له همدا اوسه به ستا سزا پیلیږي بیا به ووینو چې مونږ ستا په څیر لیوه په څه حال ککړوُ۰

بیا هغه د یوه ډیر عمر یوه کس ته اشاره وکړه وویل : دا په خپل کار کې مصروف کړه ۰۰۰

برقه د خپلو ملګرو سره بیرون ووت ، د هغه بوډا سره څو کسه ځوانان پاته شول ،هغوئ د تاه خانې په دروازې باندې و دریدل •

بوډا د هغه خوا ته راغې اوپه ډیره سخته لهجه یې ورته وویل : ځوانه! راپورته شه •

خینس یې د مخ څخه ډاګیزه کړه چې دغه قهر یې مصنوعې دې اوکنه بوډا دهغه سره دهمدردۍ احساسات درلودل •

خینس راپورته شو او ودرید ، بوډا یې لاس ونیوه او د شړشمو دتیلو دماشین په لور یې یوړ •

هغه ته یې د اوسپنې د درنو بیړیو د ور اچولو او د شړشمو دماشین تر څنګ ددرولو وروسته وویل : دغه شړشم چې پراته دي دا به په دې ماشین کې منډې او تیل به یې راباسې ، دا به ستا ورځنې کار وي اوهره ورځ به درته همدومره شړشم نور راوړل کیږي •

دعسکرو د نظر نه د خوندې کیدو سره سم هغه بوډا په ډیره خواخوږۍ سره خینس ته وویل: زه ستا همدرده او خواخوږې یم ، ته هم دکومې مور زوې یې ، دا خلک تاته د ورځې ډیره لږه ډوډۍ درکوي تر څو ته پرې ژوندې پاته شې ، یوه اونۍ وروسته چې ته ډیر کمزوې شې نو دوې دې د مقابلې له پاره بیرون کاږي او ستا مقابلې ته به یو ځواکمن ځوان رابولي تر څو تا په ډک میدان کې په ډیر ذلت سره ووژني ، ستا نه مخته پخوا هم دلته ډیر ځوانان راوستل شوي و، هغوئ ټول د برقه او دهغه د ورور باغر دښمنان وو، هغوئ یې ټول په همدغسې ذلیله توګه ووژل ، ما درته دا خبره ډاګیزه کړه ، اوس ددې حالاتو نه ځان ژغور ستا کار دې •

واوره ! زما نوم خیزر دې ، زه په هیڅ ځاې کې له تاسره مرسته نه شم کولې ، که چیرې هغوئ ته ډاګیزه شي چې ما له تا سره همدردي کړې ده نو په همغه ګړۍ کې به زما سر له تنې پرې کړي •

کله چې هغه بوډا ولاړ نو دوه کسه نور راغلل ، د یوه سره بدبویه بړستن وه او د بل سره د لرګیو یو ګیډې و ، هغوئ دا دواړه شیان په فرش باندې

واچول اور یې بل کړ او پخپله بیرون ووتل ، د هغوې تر شا خیزر هم د عسکرو سره یو ځای بیرون ووت او د خپلو ځانو پسې یې دهغه ځای اوسپنیزه دروازه بنده کړه ٠

خینس په خپل ژوند کې د لومړی ځل له پاره بیړه په خپلو پښو کې تجربه کوله ، په دې خاطر ورته داهر څه ډیر حیرانونکي ښکاریدل ٠ په هر صورت شړشم یې په مشین کې واچول او مشین یې راښکود تر څو دهغې څخه تیل وکاږي ٠

ټوله ورځ ورته چا ډوډۍ ورنه کړه ، د ماښام نه لږ څه مخته دروازه پرانستل شوه ، څو وسله وال کسان دننه راغلل ، دپخوا په اندازه یې نور شړشم هلته واچول اوکوم تیل چې خینس ویستلي و هغه یې له ځانه سره یوړل ،تر څنګ یې د خینس تر مخه لږ څه ډوډۍ کیښودله چې دهغې د لوږې څخه څلور هومره کمه وه ٠

هغه دا ټوله ډوډۍ په دوو کپونو کې وخوړله او بیا پورته شو او په دې کوټه کې په ګرزیدو شو ، خو داوسپنو دغو درنو بیړیو یې تګ ډیر ستونزمن کړې و، ډیر وږې شوې و او د لوږې له لاسه یې ذهن سم کار نه کاوه ٠

په تاه خانې کې ګرزیده را ګرزیده ، بیا یې دشړشمودتیلو دمشین په لور مخه کړه او دتیلو دمشین څخه یې دیتلو په ویستلو پیل وکړ ، دتیلو دویستلو وروسته یې هغه تیل پاک کړل اوبیا یې د تیلو ډکه کاسه په سر راوړوله ٠ هلته یې دتیلو د لوښي د ایښوولو وروسته دخپل شاهین په لور وکتل ، هغه هم د څو ساعتو څخه وږې تږې ناست و٠

خینس یوځل بیا هغه لرګې ددیوال سره یو ځای کړ ، بیا پرې وخوت او د کړکۍ څخه یې بیرون نړۍ وکتله ٠

ماښام تیاره کیدونکې و اوهر ډول مرغۍ دخپلو خپلو ځالو په لور الوتې خینس خپل لاس راومخته کړاو شاهین ور والوت او په لاس یې کیناست ٠

خینس د کړکۍ د اوسپنې د میلو نه شاهین بیرون کړ او په فضا کې یې د مرغانو دښکار کولو په خاطر ور پریښود ، لږه شیبه وروسته شاهین دوه مرغان په خپلو پنجو کې نیولې راوستل او خینس ته یې ورکړل ، خینس یو ځل بیا هغه ور پریښود او په همدې توګه یې په شاهین باندې لس دولس مرغان ښکار کړل •

خینس دغه مرغان ټول په خپل خنجر باندې حلال کړل او د هغې وزرونه او فالتو غوښه یې د کړکۍ نه بیرون وغورځوله ، لومړی یې شاهین ته په مړه ګېډه غوښه ورکړه او پاته ټول مرغان یې په هملته بل شوي اور باندې وریته کړل ، درې مرغان یې هملته په ناسته وخوړل او نور شپږ یې د سهار د ناشتې له پاره د ځان سره وساتل •

دشپې یې ارام وکړ ، سهار د پاڅیدو سره سم یې هغه وریت کړل شوي مرغان و خوړل ، دتیلو یو لوښې یې په سر راواړوو ، او بیا یې په مشین دنورو تیلو دویستلو له پاره ځان بوخت کړ •

هغو خلکو به یوازې د ماښامې په وخت ورته لږ څه ډوډۍ او د اوبو په څیر شورا راوړه ، خو خینس د تیلو په څښلو او د کړکۍ له لارې د خپل شاهین په واسطه دمرغانو په ښکارکولو باندې وخت تیروو• په دې توګه دهغه په روغتیایې حالت باندې کوم بد اغیز راڅرګند نه شو ، بلکه برعکس دتیلو دڅښلو په واسطه یې د وجود ځواک نور هم زیات شوې و• هغه په همدې حال کې یوه اونۍ تیره کړه •

***

خینس د وریتي کړل شوې غوښې او د شرشمو دتیلو په څښلو باندې خپل ځان ښه صحتمنده ساتلې و ، په همدې وخت کې د تاه خانې دروازه پرانستل شوه او هغه بوډا خیزر د څو کسو وسلوالو ځوانانو سره رانںوت • او دخینس خواته را نژدې شول •

دغه کالې لره کړه ٠٠٠٠ ستا ورځې پوره شوې دي ، نن ستا دمقابلې ورځ ده ، بیا لږ څه نور هم دخینس خواته ور نژدې شو اوورته یې وویل

ما ددې مقابلې په اړه دېخوا نه خبر درکړې و، که چیرې ته په الله تعالی باندې باور لرې نو دهمغه نه دخپلې سلامتیا له پاره دعا وغواړه •

ترنن پورې چې هر څومره بندیان په دې تاه خانه کې بندیان کړل شوي دي ددې مقابلې نه ژوندي نه دي وتلي ، ستا سره دمقابلې له پاره دخوارزم یوه پهلوان ته ډیر زیات رقم ورکړل شوي دي ، برقه غواړي تا په عام محضر کې لومړی ذلیله کړي او بیا دې له منځه یوسي ، هغه ځوان چې ستا دمقابلې له پاره دلته راغوښتل شوي دي ، په اړه یې ویل کیږي چې هیڅوک یې دلومړی ضربې څخه ژوندي نه دي وتلي ، ورځه بیرن به زرتشت له تاسره مرسته وکړي •

هغه بوډاد خینس دېښو نه بیړی پرانستلې او هغه یې دوسلوالو ځوانانو تر څارنې لاندې د تاخانې دهغې دروازې له لارې بیرون راوویست چې دمقابلې ددې میدان په لور پرانستل کیده •

کله چې خینس بیرون میدان ته راوویستل شو نو دمیدان څخه یې وکتل چې په یوه لړه چوتره توفیل ناست دي دهغه تر څنګ برقه اوشاوخوا یې بي شمیره خلک ناست دي ، داسې معلومیدل چې د کش دښار نندارچیان به وي ، ددوې تر منځ د برقه او توفیل بدمعاشه ملګري هم ناست وو• دمیدان په یوې لورې کې دخینس اس ولاړ و او دهغه سره یې ټول جنګې وسایل هم وو •

کله چې خینس په میدان کې لږ څه مخته راغې نو په دې وخت کې ورته برقه رامخته شو او د هغه داس په لوریې په اشارې کولو سره وویل

هغه ستا خپل اس دې او ستا ټولې وسلې په همغې باندې پرتې دي • دهمغې نه کومه وسله را واخله او میدان ته راکوز شه اوبه خپلو لاسو دخپل قسمت پریکړه وکړه • کیداې شي دا ستا د ژوند اخري ورځ وي •

خینس دهغه خبرې ته هیڅ ځواب ور نه کړ ، چوپ مخته ورغې ، بلکل داسې لکه دکلونو کلونو راهیسې چې ناروغه پاته شوې وي ، نیغ خپل

اس ته ورغې ، کیداې شي چې هغه به داسې څرګندوله چې د یوې اونۍ د لوږې د نه خوراک له کبله یې وجود ډیر کمزوري شوی دی ۰

خپل اس ته د رارسیدو سره سم یې دخپلو وسلو اندازه واخیسته ، لومړی یې خپله توره وکتله ، بیا یې د اوسپنې نیزه ، تبر او دغشو کمان او په اخر کې یې خپل هغه اوسپنیز زنځیر وکتلو، زنځیر یې د اس نه راپرانست او به ښي لاس کې یې و نیوه ، په کیڼ لاس کې یې ډال و نیوه او په داسې حال کې میدان ته را ننوت چې زنځیر یې د ځان پسې شاته راښکود بیا د میدان په منځ کې ودرید ۰

څو لمحې وروسته یو ځوان میدان ته راښکته چې د فیل په څیر څربه او د اوښ په څیر دستر قد خاوند و، د هغه په لاسو کې توره او ډال و، د تورې ځلا یې د لرې لرې څخه ډاګیزیده ۰

هغه دخینس ترمخه و دریداو بیا یې خپل ځټ لږ څه کوږ کړ او ویې پوښتل : ته څوک یې او پـه کوم جرم یې نیولې یې چې نن یې ماته حواله کړې یې ؟

خینس ورته دسر نه تر پښو پورې وکتل وویل : که چیرې همدا پوښتنه زه له تانه وکړم نو بیا ؟

دداسې خبرو ځواب بیا زما توره درکوي ۰

زه هم د وسلو په ژبه پوهیږم ۰۰۰

نو بیا تیار اوسه ۰۰۰۰

هغه دخینس په مقابل کې د لمر په لور و درېد او پخپله مخه کې یې خپل ډال و خوځوو ، د ډال څخه د لمر تیزې وړانګې دخینس په سترګو ولګیدې او هغه یې خړې کړې ۰ په همدې وخت کې یې په توره هم ګذار پیل کړ ۰ خینس په ډیره ستونزمنه توګه دهغه وار په خپل ډال واخیست او که نه سر یې له منځه تللې و۰

د ډال نه چې د لمر کومې منعکس شوې وړانګې د خینس په سترګو لویدلې وې هغې د خینس په سترګو کې تیاره راپیدا کړې وه او همدې کار

خینس ویرولې و• معلومه نه ده چې ډال یې په څه شي پالش کړې و چې دغه ډول ړندیدونکې وړانګې ترې راوتلې اوسترګې یې ړندولې •

خینس ډیر محتاط ګرزیدلې و ، مقابل لوري یې بیا هڅه کوله خپل ډال و خوځوي او دخینس سترګې پرې ړندې کړې ، خو خینس هم دوخت د ضایع کیدلو نه ځان ساته ، هغه خپل ډال دخپلو سترګو مخې ته کړ تر څو د لمر د انعکاسي وړانګو څخه ځان خوندي وساتي ، هغه د مقابل لوري ډال دخپل ځان له پاره دهغه څخه هم زیات خطرناکه احساسوو •

یو ځل را په قهر شو ، خپل زنځیر یې په ښه قوت سره یې و خوځوو او بیا یې دمقابل لوري په ډال باندې ور پریښود ، ډال دومره سخت و لګید چې ور څخه سپرغی را والوتلې ، تر څنګ یې د مقابل لوری د ډال لاس هم ولړزید ، د ډال د څو برخـــو څخه پالش ولاړ او اوسپنه یې راڅرګنده شوه • اوس نو د هغې څخه د لمـر د انعکاسي وړانګو منعکس کیدل له منځه تللي و•

د خینس په شونډو کې مسکارا پیدا شوه ، په طنزي توګه یې خپل مقابل ته وویل : دخپل ډال په ځلانده انعکاس سره دې چې غوښتل ما لاندې کړې اوس هغه له منځه تللي دي ، اوس به زما زنځیر ستا په سر باندې را نازلیږي خو زه تا له وړاندې خبروم چې ځان را نه خوندي ساته ځکه د خینس بن یوسف څخه ځان ساتل اسانه کار نه دی•

هغه په خینس د توري یو بل خطرناکه ګذار وکړ خو خینس په ډیر مهارت سره په خپل ډال واخیست •

هغه یوځل بیا خپل زنځیر په پوره قوت سره و ګرځوو خو مقابل لوري یې په ډال باندې واخیست ، د زنځیر د او ډال د ټکر څخه سخت شور اوزوګ راپیدا شو او د مقابل لوري ډال په څو ځایو کې مات شو •

خینس یې په لور دکتلو په وخت کې یو ځل بیا و غرید وویل : لکه څنګه دې چې ډال و شکید ، بلکل په همدې توګه به دې سر هم وشکیږي ، هر

څوک زما د زنځير ګذار نه شي زغملې ، په يقيني توکه چې دخوارزم څخه به دې مړک تر دې ځايه راوستې يې ٠

هغه يوځل بيا خينس په ډير مهارت باندې د خپلې تورې د ګذار لاندې راوست ٠ خوپه خپل مقصد کې بريالي نه شو، دخينس ډال په ډير لرې واټن کې د هغه د تورې سره مخ شوې و ، خينس يو ځل بيا زنځير و ګرځوو اوپر هغې يې ور پريښود ، دهغه ډال د هغه دلاسو څخه لرې پريوت ، زنځير يو ځل بيا په هوا کې وڅرخول شو او د خوارزم د پهلوان توره يې ترې څو قدمه لرې وغورځوله ٠

خينس بيا ورمخته شو خو مقابل يې شاته و تمبيد ٠ خينس خپل ډال و غورځوو او زنځير يې بيا تاو راتاو کړ ، دا ځل زنځير دخوارزم د پهلوان په خود باندې پريوت خو هغه ځان يوې لورې ته څنګزن کړ او دزنځير بله برخه يې په لاسو کې کلکه کړه او د خپل ځان په لور يې راښکوده ٠

خينس دبرق په څير ورمخته شو او خپل زنځير يې دهغه د ټټ څخه راتاو کړ ، بيا يې دزنځير دواړه برخې راښکودې ، د زنځير کړه يو دبله سره و نښتې او د خوارزم دپهلوان ژبه يې بيرون راوويستله او په دې توګه ختم شو او په ځمکه راپريوت ٠

خينس د څو شيبو له پاره دهغه په لاش باندې ودريد او خپل زنځير يې راښکوده، بيا راغې او دميدان تر منځ و دريد او دتوفيل او برقه دعکس العمل انتظار يې پيل کړ ٠

هغه دواړه پورته شول اودميدان نه وتښتيدل ٠

هغه بوډا خيزر دخپلو وسلوالو ځوانانو سره خينس يو ځل بيا همغه تاخانې ته راوست او بيړه يې ورته ورواغوستلې ٠

خينس د لومړي ځل له پاره ورته وويل : اى د دردمند زړه بوډا انسانه ! ايا زه اوس پوښتلې شم چې پس له دې به زما سره څه ډول سلوک کيږي ؟

خيزر ورته په ټيټ اواز وويل : ځوانه ! ستا په اړه ما اوريدلي دي چې ته ليوه او د قوت ديوتا يې ، نن دې ثابته کړه چې له تاسره مقابله کول

اسانه نه دي ، اوس به دې په دې تاخانې کې دیوې اونۍ له پاره بیا ساتي تر ځو ته لږ څه نور هم کمزورې شې او بیا بـه دی د مقابلې له پاره داسې دوه کسه ځوانان رابولي لکه څنګه چې نن ستا مقابله دی ددی ځوان سره وکړه •

خینس ورته په ډاډه زړه ځواب ورکړ : زرخیزه ! تر هغو چې زما خداې ما ژوندې ساتي نو داسې بې شمیره ځوانان هم ماته زیان نه شي رسولې ، ته به ووینې چې په بله مقابله کې به هم په میدان کې دخپلې بریا دغه زنځیر له ځانه سره رانبکارم •

خیزر بیرون ولاړ او تاخانې دروازه یې تر شا بنده کړه • خینس ټوله ورځ هغه د شړشمو دتیلو مشین چلوو ، د ماښام نه لږ څه مخته یې ډوډۍ راغله ، په ډوډۍ کې یې یوازې یو چپاتې او دوه ګوټه ښوروا وه ، د معمول مطابق یې دا ډوډۍ وخوړله او بیا یې تیل په سر راواړول ، د خپل شاهین په واسطه دښکار کولو له پاره هغه کړکۍ ته ور پورتـه شو او شاهین یې ښکار ته ولیږه •

د ماښام د تیارو د خپریدو پورې چې څومره مرغان هغه ښکار کولې شول هغه یې ښکار کول او تاخاني ته یې را رسول او کله چې اخري ځل شاهین خالي لاس راغې نو را ویې نیوه او تاخاني ته یې را ښکته کړ ، دوې نژدې څلویښت مختلف ډوله مرغان را نیولي و •

خینس هغه ټول پاک کړل ، بیا یې په اور وریته کړل ، یوازې درې مرغان یې ترې وخوړل اوپاته یې دخپلې بسترې تر څنګ یې کیښودل ، دمرغانو د وزرونو څخه یې یو خوبن کړ او هغه یې له ځان سره کیښود ، بیا یې ټولې ښکې او ناولې غوښې بیرون ګذار کړې ، بیا د اور خواته راغې او هملته کیناست •

د خپل کمیس څخه یې لږ څه ټوټه پرې کړه اوپخپله مخه کې کیښوده ، بیا یې خنجر راوویست او خپل زنګون یې پرې زخمې کړ ، کله چې د زخم څخه

وینه را روانه شوه ، بیا یې هغه خنجر په وینه کې ور ننویست او په هغه ټوټه یې چې دخپل کمیس څخه جدا کړې وه په غتو غتو ټکو ولیکل مرسته ...

د دکالیو دغه ټوټه یې دشاهین په پښې پورې و تړله او بیا یې هغه د کړکۍ څخه بیرون کړ او په فضا کې یې پریښود ، لږه شیبه کې شاهین دهغه ځایه والوت • بیا یې خپل مخ بدل کړ او دشمال غرب په لور یې الوت پیل کړ ، د هغې مخ د بنې تمیم د قبیلې فریار په لور و•

خینس تر ډیره پوره داذمن معلومیده ، هغه د اور په نغري کې څو لرګي نور هم ور کیښودل ، هغه زره بړستن او کمبله یې له ځانه راتاو کړل • د دیوال سره یې تکیه وکړه او بیا په څه فکر کې ډوب شو ، بیرون دنرۍ نري باران سره واوره هم وریده او دشپې یخ بادونه د تاخانې د دیوالو سره ټکریدل او شور او غوغا یې راپیداکوله •

یوه اونۍ نوره هم تیره شوه ، هغوې خینس ته ډیره لږه ډوډۍ ورکوله تر څو خینس کمزورې شي • خو خینس د تیلو په ښلو او دښکار دمرغانو په خوړلو نور هم تندرسته شوې و او د زیات قوت خاوند ګرزیدلې و•

د اونۍ په همدې ورځ ، چې هغه یله مقابله پکې کړل شوې وه ، یو ځل بیا سهار وختې د تاخانې دروازه پرانستل شوه، دخینس نه یې بیړۍ پرانستلې او د مقابلې میدان ته یې یوړ• توفیل او برقه دپخوا په څیر په لوړه چوتره ناست وو ، په میدان کې دپخوا په څیر دهغه اس ولاړ و•

خینس په ډیره چوپتیا سره خپل اوسپنیز زنځیر را پرانست • داس سره تړل شوې خپل اوسپنیز خول او زره راپرانستل ، زنځیر یې له ځانه سره کشاوه او دمیدان منځته راغې او ودرید ، په دې ورځ میدان ته دوه کسه تنومنده کسان راوستل شوي و چې د هره اړخه یې په خینس باندې برتري درلوده •

هغوې دواړه د خینس ښي اوکیڼ لورې ته ودریدل ، په لاسو کې یې ځلیدونکې تورې او قوي ډالونه نیولي و اوخینس ته یې داسې کتل لکه وږې لیوان چې خپل ښکار ته ګوري ، شاوخوا ناستو ننداریانو په ډیره بیړه او ناکراری سره ددې ننداری دکتلو انتظار کوو•

کله چې هغوې غوښتل حمله وکړي نو خینس دځپله ځان نه چاپیره زنځیر ګرځوو• هغوې دواړه شاته شول او ددې د زنځیر د تم کولو په تدبیرونو یې فکر کول پیل کړل، خو په همدې وخت کې خینس دهغوې څخه په یوه په ډیره وینه تویونکې توګه حمله وکړه ، هغه یې په خپل زنځیر په سر وواهه ، د هغې د سر خول دهغه په سر کې داسې ورننوت لکه یوه مسي لوښې چې په هندوانه کې ور ننوځي ، د سر نه یې وینو دارې پیل کړې او لاندې په ځمکه راپرېوت او له منځه ولاړ•

د هغه نه وروسته خینس دهغه دبل ملګرې په لور داسې کتل لکه یو وینه تویونکې حیوان چې دخپل ښکار پسې ګوري •

خینس هغه ته د خپل لومړي ګذار له پاره فرصت ور نه کړ ، بلکه هغه یې هم په خپل زنځیر باندې وواهه ، خو هغه د زنځیر وار په خپل ډال باندې واخیست ،خو ډال یې په منځ کې دوه ټوټې شو ، هغه وارخطا شو او په همدې وارخطایې کې یې په خینس باندې بل ګذار وکړ خو د هغه ګذار خالي ولاړ ، په همدې وخت کې خینس هغه هم په سر په زنځیر وواهه اوهملته یې راچپه کړ •

هغه یوځل بیا د میدان په منځ کې و درید ، خیزر د خپلو وسلوالو ځوانانو سره بیرته میدان ته راښکته او خینس له ځانه سره تاخانې ته روران او هلته یې ورته بیرته بیړه ور واچولې ، خینس ترې په ډیر راز سره وپوښتل خیزره : اوس به ددې نه وروسته څه کیږي ؟

خیزر ورته په ډیره مینه وویل : د راتلونکې مقابلې انتظار کوه ، دا ځل به درې کسه ځوانان ستا پخلاف مقابلې ته راوستل کیږي •

دا لړۍ به تر څو پورې جاري وي ؟

بوډا خیزر ورته په ډیر افسوس سره وویل : تر هغې چې ستا مرګ تا لاندې کړي •

ایا راتــه ویلې شې چې دلته د توفیل او بــرقه ټول وسلوال څومره کسان دي ؟

شاوخوا ډېرش کسان به وي ••
دا تاخانه د چا ده ؟
دبرقه ورور باغر خو په ښکاره توګه دا تاخانه او دغه میدان د ځوانانو د نظامي روزنې له پاره جوړ کړې و، خو په حقیقت کې یې په کې خپل بدعمله ملګری روزل او د همدې ځایه به یې لوټمار ، قتلونه کول او کله به یې چې د کوم دښمن څخه بدل اخیسته. نو همداسې سلوک به یې ورسره کاوه لکه څنګه یې چې اوس دا کوچنې ورور برقه له تاسره کوی ••• ایا ستا مور اوپلار یا بل څوک شته ؟
خینس بیا غمژن شو لږه شیبه وروسته وویل : هغوې وژل شوي دي •
خیزر وویل : کوم ورور ، خور اویا دوست چې ستا سره مرسته وکولې شي ؟
خنیس وویل : هیڅوک نه لرم •
خیزر وویل : بیا نو خپل ځان تقدیر ته حواله کړه •
زما همدرده : زما زړه وایې چې زما مرګ ددوې په لاسو نه دې لیکل شوې ، زما د ژوند مقصد لا تر اوسه پورې نیمایې دې •
خیزر ورته په ډېره غمژنه لهجه وویل زما زړه وایې چې یوه ورځ به په همدې میدان کې ستا وجود هم په وینو کې لت پت پروت وي ، ما بې شمیره ځوانان د ډېرې بې وسی په حال کې کتلي چې خپل ځانونه یې د مرګ کومي ته سپارلي دي •
ای د ځواک دیوتا ! دا د مرګ میدان دې او دا خلک ورځ په ورځ ستا ځواک راکموي او غواړي تا په همدې میدان کې له منځه یوسي •
خنیس وویل : خیزره ! داسې به هیڅکله هم ونه کړل شي •
د زرتشت خداې همداسې کوي • کاشکې چې ما له تا سره مرسته کولاې شوه ، خو زه هم مجبور یم •
اې د قوت دیوتا ! نشی کولی چې دا کړکی له بیخه وکاږی •

خو که دا ییږه راته په پښو کې نه وې اچول شوی ۰۰۰نو په یقیني توګه به مې ویستلی وه ۰

دا ییږه هم ماتې کړه ۰

خو په دې کار سره به زه پخپله هم زخمې شم او د بل کار نه به هم ووځم ۰ دا کار به زه هله کوم چې بلکل ناهیلې شم ۰

خیزر ورته ییږه په پښو کې اچولې وې اود تاخانې دروازه یې بنده کړه اوبیرون ووت ، خینس کالي واغوستل او د شړشمو د تیلو د ګانړ په چلولو یې لاس پورې کړ ۰

***

شاهین دشپې شپې ځان دخینس کلي ته ورسوو ، دوه درې وارې دکلي په سر و ګرزید ، دشپې په چوپتیا کې دهغې په پښو پورې د قطونې دلاسو ترلي ګونګرې په ډیره زړه وړونکې توګه موسیقې خپروله ۰

د قبیلي یو ځوان د خپلې رمې سره یو ځاي دمیږو په یوه پنډغالي کې ویده شوې و، هغه د شاهین ددې ګونګرو اواز واورید، په تیاره کې یې شاهین په هوا کې وکتلو ، راپورته شو او دکلي په لور یې را منډې کړې ،کله چې دخینس کور ته ورسید نو ویې کتل چې شاهین دهغوې په کور کې د چتر دپاسه ناست دې ، دا هم هغه چتر و چې خینس به هلته خپل اس تړه ۰

په ویره ویره ورنژدې شو ، هغه ددی نه هم ویریده چې هسې نه چې شاهین پرې حمله و کړي ، په ویره ویره ور نژدې شو او بالاخره یې شاهین و نیوه ، په تیاره کې د شاهین پښې وکتلې ، ویې کتل چې پیغام ور سره ترلې دې ، شاهین یې په بغل کې و نیوه او څادر یې په ځان را واچوو او د سردار حریم دکور پــه لور پـه منډه ور روان شو او د هغه دکور دروازه یې ور وټکوله ۰

لږه شیبه وروسته سردار حریم دروازه پرانستله او په داسې حال کې چې سترګې یې مینلې دځوان څخه یې وپوښتل څوک یې ؟

ځوان په ډیر راز سره یې وویل زه خوارزم بن خزیمه یم ۰

حریم دروازه بنده کړه او ورڅخه یې وپوښتل څه خبره ده او ولې دومره ویرې اخیستې یې ؟

سرداره ! دخینس بن یوسف پیغام راغلی دی ٠

پیغام یې چا راوړی دی ؟

هغه ورته شاهین د تخرګ څخه راوویست ٠

دا ګوره دهغه شاهین دی ، ددې د پښو سره یوه ټوټه تړلې ده ، چې په یقیني توګه به کوم پیغام ورسره مل وي ، زه هلته په پنډغالي کې ویده وم چې دا شاهین مې په هوا کې وکتلو بیا دخینس په کور کې را ښکته شو او زه پسې ورغلم ، را ومې نیوه او نیغ مې ستا کور ته راوست ٠

سردار حریم په ملا و ټپوو ٠

دا خو دې ډیر ښه کار کړی دی زه به درته ددې کار ښه انعام درکړم ٠

خزیمه ورته په ډیره دردمندۍ او اخلاص سره وویل سرداره د انعام اړتیا نه شته ، زما له پاره ستا خوشحالي ډیر ښه انعام دی ٠

سردار حریم خپل ټول غلامان را بیداره کړل ، دسترګو په رپ کې یې مشالونه روښانه کړل ، بیا یې دشاهین دپښو څخه هغه ټوټه راپرانستله ٠ او په رڼا کې یې ولوسته ، په هغې کې لیکلي وچې مرسته مرسته

سردار حریم چغه کړه په الله تعالی سوګند چې خینس بن یوسف په کوم مصیبت کې پرېوتې دی او زه یې دمرستې له پاره ور بللې یم ٠

بیا یې په لوړ اواز وویل لبیک زه حاضر یم زویه زه حاضر یم ٠

سردار حریم په بیړه وویل هغه دمرستې له پاره غږ کړی دی ، په یقیني توګه چې هغه په کوم مصیبت کې پرېوتې دی اوکه نه هغه چا ته دمرستې له پاره غږ نه کوي ٠

خزیمه اندیښمن شو ٠

مونږ څه خبر یو چې هغه اوس چیرې دی ؟

ددې غم مه کوه ، دهغه شاهین به مونږ ته لاره ښيي ، ته په منډه ولاړ شه او جارود بن مصعب له ځانه سره راوله •

خزیمه په منډه بیرون راووت ، سردار حریم یوه غلام ته ورغږ کړ ترڅو شاهین ته د خوراک له پاره څه ورکړي اوپه خپله په ډیره ناکرارۍ سره د انګړ په منځ کې په ګرزیدو شو •

لږه شیبه کې خزیمه د یوه بل تکړه ځوان سره دهغوي کور ته راننوت • دا ځوان جارود بن مصعب و ، هغه په ډیر ادب سره حریم ته سلام وکړ • سردار حریم ورته دخینس پیغام ورکړ او ورته يې وویل دا وګوره چې خینس مونږ ته دمرستې له پاره غږ کړې دې •

زه غوارم چې پخپله قبیله کې بهترین توره وهونکې ځوانان راټول کړې او د هغوې سره یو ځاي د خینس مرستې ته ور شې ، زه نه غوارم چې په دې معامله کې تاخیر منځته راشي •

جارود بن مصعب هغه ټوټه دمشال په رڼا کې ولوستله او سردار ته يې وویل که چیرې دا پیغام شاهین راوړی وي نو په یقیني توګه چې خینس به په کوم مصیبت کې پریوتې وي او په دې وخت کې دهغه سره مرسته پر مونږ فرض ده ، که څه هم په د ې اړه سردار وکیع زمونږ سره خپله دښمنې نوره هم زیاته کړي •

سردار حریم ور غریدو وویل په الله سوګند که سردار وکیع په دې معامله کې زمونږ مخې ته راشي نوزه به دحالاتو دپرواه کولو پرته د هغه سر له تنې پرې کړم • زه به هغه ته دا ثابته کړم چې په طلايې سیکو باندې د څو کسو ځوانانو داخیستلو سره سره بیا هم سردار حریم په قبیلي کې دهغه څخه زیات محبوبیت لري •

جارود ورته وویل مونږ باید په دې وخت کې نیغ په نیغه دسردار وکیع تر مخه ونه درېږو او همدا د حالاتو غوښتنه ده ، زه غوارم چې شل کسه تکړه ځوانان دشپې په همدې تیارې کې دخینس دمرستې له پاره سره راټول کړم ، هیچا ته به معلومه هم نه شي چې مونږ د خینس دمرستې له

پاره هغه لورې ته ورغلې یو، مونږ باید تر یوه وخته پټ کار وکړو او بیا به یې په لاره کې ودرېږو او خپل دریغ به ورته ډاګیزه کړو۰

سردار حریم د هغه خبرې تاییدکړې وویل ستا خبره سهي ده ، ته شل کسه ځوانان راټول کړه او زما دباغ په لور راشه ، زه به همغلته تاسو ته خدای پاماني ووایم ۰

سرداره ! داسې خو به وخت له لاسه ورکړو زه وایم چې زه به شل کسه ځوانان راټول کړم او بیا به ورسره پخپله هغه لورې ته روان شم ۰ زما دوستان به زما حکم د سردار حریم حکم وګڼي ۰

سهې بیا همداسې وکړئ ۰زه غواړم تا دهغو شلو کسو ځوانانو سالار و ټاکم او که چیرې ته وایې نو زه به هم درسره ولاړ شم ۰۰

دې ته به اړتیا نه وي ، جارود به انشاء الله ناکامه را و نه ګرځیږي ۰ که چیرې دښمن خینس بن یوسف په کومه تاخانه کې ور ننویستې وي نو په الله تعالی سوګند چې زه به د هغه پلټنه وکړم ، ماته د هغه شاهین راکړه ، هغه به انشاء الله مونږ ته لاره وښیې ، زه پوهیږم چې د هغه څخه څه ډول کار واخیستل شي ، زه ځان تیاروم او دکلې نه بیرون دریږم او د کوموځوانانو نومونه چې زه در ښایم هغه په یوې حکمنامه کې ولیکه ، خزیمه دې دهغوې سره یو ځاي دکلي نه بیرون راووځي ، ستا دحکمنامې د کتلو سره به هغوې سمدلاسه را پاڅیږي ، زه اوس ورځم او د کلي نه بیرون تیار دریږم او هم هلته د نورو ټولو انتظار کوم ۰

جارود بن مصعب ولاړ ، سردار حریم یوه حکمنامه ولیکله او هغه یې خزیمه ته ورکړه اوهغه د ځوانانو د پیداکولو پسې دهغوې کورو ته د ورتګ په حال کې و چې په همدې وخت کې جارود بیرته راستون شو اوپه تاسف سره یې وویل : ما خو د هغو شل کسو ځوانانو نومونه در نه کړل بیا یې ژر ژر دهغه حکمنامې تر شا دهغوې نومونه ولیکل اودخزیمه سره یو ځاي بیرون ووت ۰

جارود ځان تیار کړ او د کلي نه بیرون ودرید ، هغه لا دومره انتظار نه وکړې چې دغه ځوانان یو یو دخپلو کورنو څخه په وسلو سنبال راووتل اودهغه تر خوا ودریدل ، د هغوې تر شا سردار حریم او خزیمه هم را غلل .

سردار حریم جارود ته رانژدې شو او د خینس شاهین یې هغه ته ورتسلیم کړ اووزته یې وویل : تا خو دا له یاده ویستلې و ، اوس نو تاسو تللې شئ ، زه درته خداې پاماني وایم ..

جارود شاهین په دواړو لاسو کې ونیوه اوهوا ته یې ورخوشې کړ او ورته یې وویل : اې دمرغانو پادشاه ! ورځه او مونږ ته وښایه چې ستا مالک چیرې دې ؟

شاهین په فضا کې یوې لورې ته الوت پیل کړ او جارود بن مصعب دخپلو شلو کسو ملگرو سره دهغې شا شا ته روان شول .

***

د ماسختن د لمانځه د اداء کولو وروسته خینس په خپلې یخې تاخانې کې د شپې دخوب له پاره ځان تیاروو چې شاهین یې د همغه کړکۍ نه تاخانې ته ور ننوت او دهغه په اوږې باندې کیناست ، خینس هغه په لاسو کې راواخیست ، ښکل یې کړ او بیا یې ورته وویل : دوسته ! ماته دې څه خبر راوړې دې ؟

شاهین خپل وزرونه وړکول او عجیبه شانته اواز یې وکړ ، په دې وخت کې چا د کړکۍ نه لاندې کمند راوځړو .

خینس سمدلاسه متوجه شو ، کمند په کړکۍ کې ښتې و او چا هغه کشکاوه تر څو دهغې د کلکوالي اندازه واخلي .

خینس سمدلاسه هلته پروت لرگې را واخیست او د کړکۍ سره یې و دریږو اوبرې وخوت اوخپله خوله یې د کړکۍ په لور ور نژدې کړه .

بیرون سخته تیاره وه ، هغه ته هیڅ نه تر سترگو کیدل خو داسې یې احساسوله چې د بیرون له اړخه دکمند د را اچولو څخه داسې داگیزېږي چې څوک پرې را خیژي ، لږه شیبه وروسته یو چا په کړکۍ باندې خوله کیښوده او ویې ویل : خینس ...

خینس دهمغه په لهجه وویل: هو! زه خینس بن یوسف یم، ته څوک یې؟

اواز بیا راغبرګ شو.

زه جارود بن مصعب یم او ستا سره دمرستې له پاره راغلی یم، ستا شاهین مونږ ته لاربښونه کړې ده، هغه هم په همدې کړکۍ کې درننوتې دي ماته ډاګیزه شوه چې ته همدلته یې، چا دلته بندي کړي یې؟

توفیل او د هغه ملګرو یې؟

ددې تاخانې دروازه چیرې ده؟

د شمال په لورې، کیڼ لاس ته چې کوم دیوال دې، دهغې نه راتیر شئ نو دتاخانې دروازه به در ته ترسترګو شي.

دلته به ستا د ساتلو له پاره پهره داران هم موجود وي؟

هو! د تاخانې په دروازه باندې هر وخت درې کسه وسلوال کسان شتون لري.

ایا د تاخانې دروازه ماتیدې شي؟

نـه.

بیا مونږ ته ووایه چې مونږ څه وکړو؟

دا کړکۍ له بیخه وکاږئ.

دا کار خو ته پخپله د داخل نه هم کولی شې

زه خو په بیړیو کې تړل شوې یم...

ډیر ښه صبر وکړه، لومړی به په ساتونکوباندې لاسونه پاک کړو

له تاسره د قبیلي څومره نورځوانان راغلي دي؟

شل کسان....

جارود بن مصعب لاندې را ښکته شو، د خپلودرې کسو ملګرو سره یې ددیوال نه راتوپ کړ، پټ پټ د تاخانې تر دروازې را ورسیدل، هلته درې کسانو پهره درلوده. دخپلو دواړو ملګرو سره یې په هغوې حمله وکړه او دشور او زوګ دپیدا کیدو پرته یې هغوې ټول له منځه یوړل.

بیرته راستون شو او تاخانې د کړکۍ دوارو خواو ته یې رسۍ و تړلې ، ټولو په یو وار زور وواهه او هغه کړکۍ یې له بیخه وویستله • د له منځه تللې کړکۍ څخه یې رسۍ را وځړوله اوخنیس ته یې ور غږ کړ :

رسۍ کلکه و نیسه..... خینس ! زه دننه را ځم •••

خینس رسۍ کلکه کړه ، جارود اودهغه دوه کسه ملګري دننه راغلل ، دوې دریوارو سره تبرونه وو، سمدلاسه یې خینس په فرش باندې څملاوو اودهغه زولنې او بیړۍ یې په تبرونو ماتې کړې اوبیا یې له ځانه سره یو ځای دهمغې کړکۍ له لارې بیرون ویست •

د قبیلي ټولو ځوانانو د خینس سره په ډیره مینه روغبړ و کړ ، جارود ورته په خندا وویل : لومړی زه ددغو شلو کسو ځوانانو سالار وم ، خو اوس ته زما په ګډون دیویشت کسو ځوانانو سالار یې ، اوس مونږ ته حکم وکړه چې څه وکړو ؟

خینس یوې لورې ته روان شو •

له ما سره راځئ •••

ټول دیوه دیواله راتیر شول او هغه میدان ته راغلل چیرې چې خنیس دوه ځلې مقابله کړې وه ، د میدان منځ ته په راتلو سره خینس خپله خوله پټه کړه اوپه زوه یې شپیلۍ وواهه ، په ځواب کې یې د یوه لرې تعمیر څخه دهغه د اس اواز راغې •

خینس په خوشحالۍ سره وویل : زما اس پـه هغه مخامخ تعمیر کې دي ، لومړی به هغه را وکاږو ، بیا به ددې ځایـه د ټولو بدمعاشانو سـره معامله پاکوو •

خینس هغه تعمیر ته ورننوت چیرې یې چې د اس اواز راغلې و ، پاته ملګري یې ورته بیرون و دریدل •

خینس په پټه توګه دعمارت داسې یوې برخې ته ور ننوت چې د اصطبل په څیر وه ، هلته ډیر زیات اسونه تړل شوي وو، په دې اسونو کې دهغه خپل اس هم ولاړ و، څنګه چې خینس اصطبل ته ور ننوت نواس یې ورته د

شنړيد ، خنيس اخوا ديخوا وکتل ، نژدې يې داس زين پروت و او تر څنګ يې دهغه ټولې وسلې هم ورسره پرتې وې ، زين را واخيست او په خپل اس يې کيښود اوبيا يې خپلې ټولې وسلې راواخيستې او د زين پورې يې وتړلې ،بيا يې اس د واګو نيوه اوبيرون يې را وويست ، دراوتلو سره سم يې جارود ته وويل : ستاسو اسونه چيرې دي ؟

جارود دهغه تاخانې په لور اشاره وکړه •

همدلته د ونو په يوه ډيره کې تړل شوي دي •

زما سره يو ځاي راځئ ، اوس نو مونږ ته د وخت د ضايع کولو فرصت نه شته ، خينس په يو ځاي کې اس تم کړ اود هغه عمارت تر مخه د ځاي د جايزې د اخيستو په خاطر د جارود سره يوځاي ورغې ، هلته ټولې درې کوټې وې ، په يوې کوټه کې توفيل ، برقه او هغه زوړ خيزر ويده شوي و او په پاته دوو نورو کوټو کې د هغوې ديرش کسه وسلوال ساتونکې ويده وو•

خينس جارود ته وويل : خپل ټول ملګري دې په دوو برخوويشه ، تر څو په هغو دواړو کوټو حمله وکړي چې ساتونکې په کې ويده دي ، په دريمه کوټه کې توفيل ، برقه او هغه بوډا خيزر ويده دي ، زه به دهغوې سره پخپله خپل حساب پاک کړم ، زه همدلته دريږم ، ته خپل ټول ملګرې دې لورې ته راوله •

جارود ولاړ او خپل ټول ملګري يې دې لورې ته راوستل ، بيا يې دساتونکو د دواړو کوټو د دروازو تر مخه خپل لس لس کسه ملګري و درول او د خينس د حکم انتظار يې پيل کړ، خينس دهغه دريمې کوټې د دروازې تر مخه ودريد اوبيا يې دلاس په اشارې سره هغوې ټولو ته دحملې کولو حکم وکړ•

عرب دساتونکو دکوټو دواړه دروازې ور ماتې کړې اوبه ډيره بيدردۍ سره يې د وينوتويولو او وژلو لوبه پيل کړه ، د هغوې تېرې تورې په ډيره ناکرارۍ سره ددشمن په وينو خړوبيدې •

په هر حال عربو خپل ځانونه مرګ ته ورکړي و او د دښمن په جاله ور ننوتي وو •

کله چې په هغوی دواړو کوټو کې د مرګ اوژوند لوبه پیل شوه نو خینس د هغه دریمې کوټې دروازه هم په زور ووهله او دروازه یې ماته کړه او دننه ور ننوت • تر دې وخته پورې توفیل ، برقه او خیزر درې واړه راپورته شوي وو او ناست وو •

خینس په فرش باندې دخپل ځان سره خپل اوسپنیز زنځیر رانښکوده او دهغوی خواته ورغی •

توفیل په ډېره چټکۍ سره خپلې سترګې مښودې او په ډېره اندیښمنه توګه یې وویل ته خینس بن یوسف اودلته ؟

برقه راپورته شو او توره یې په لاسو کې واخیسته او په ډېره سخته لهجه یې وویل که چیرې ته د تاخانې څخه په راوتلو بریالي شوې یې ،نو همدلته تم شه .زما په یوه اواز به دیرش کسه وسلوال ځوانان دې کوټې ته را ننوځي او د تل له پاره به ستا ساه اخیستل بند کړي •

خینس څو قدمه نور هم ورمخته شو او ورته یې وویل غرنې سپیه ، په زوره و غپیږه او خپل هغه ملګري ټول راوبوله ، خو دا خبره په ذهن کې و ساته چې ستا ټول وسلوال ځوانان له یوه سره له منځه تللي دي او خینس بن یوسف ستاتر مخه ولاړې دې اوتاته دمقابلې کولو بلنه درکوي ، که چیرې په دې اړه کوم شک اوشبه لرې نو خپلو ملګرو ته اواز کړه او بیا دهغې عکس العمل ووینه •

واوره ، په غور سره یې واوره دغه تر څنګ کوټې کې تاته د تورو او ډالونو د جنګیدو اوازونه نه راځي ، زما ملګرو به ، چې زما د مرستې له پاره راغلي دي ، تر اوسه پورې ستا ټول دکرایې ساتونکي له منځه وړي وي•

برقه په عجیبه وحشت او ویرې سره دتوفیل په لور وکتل ، په سترګو سترګو کې دواړو یو بل ته وکتل او توفیل هم دمقابلې له پاره توره

راواخيسته ، د خينس په اوږو ناست شاهين هم خپل وزرونه و پړكول ، د شاهين ددې حركت ســره ســم د توفيل او برقــه دواړو رنګونــه تک ژېړ وتښتيدل •

خينس خپل زنځير ترشا كشاوه او نور هم مختې ته ورغې
زما خواخوږې خيزره ! ته بې طرفه اوسه •••• زه تاته هيڅ نه وايم ، زه تاتــه ستا د سلامتى ضمانت دركوم ، پورتــه شــه او كيڼ لورې ديوال سره ودرېږه •

خيزر راپورته شو او دكيڼ لورې ديوال سره ودريد ، خينس ورمخته شو ، زنځير يې وخوځوو اوبيه يوه ځل يې په توفيل باندې حمله وكړه ، هغه دګذار څخه دځان ساتلو هڅه وكړه خوناكامه شو او په خپلو وينو كې لت پت په فرش راپرېوت •

تر دې وخته پورې برقه په خينس حمله كړې وه ، خو په جنګونو كې جنګيدلې ليوه خينس دهغه د حملې څخه بيخبره نه و، د هغه توره يې په خپل ډال باندې واخيسته او د خپل زنځير په واسطه يې هغه په پښو وواهه، برقه هم په فرش باندې راپرېوت •

خينس زنځير پورته كړ او برقه يې پرې په ملا وواهه • د برقه دملا نه يې د زنځير په همدې يو ګذار غوښې پورته كړې ، هلوكې يې راووتل او هملته په ذليله توګه و مړ •

خينس بيرون راووت ، جارود او ملګرو يې هم خپل عمليات پاې ته رسولي واو دخپلو وسلو په پاكولو بوخت وو، خينس دروازې ته د رارسيدو سره بيرته ور ستون شو او خيزر ته يې ورغږ كړ ورته وويل: خيزره ! چيرې كور لرې او كه له ما سره تلل خوښوى •

خيزر وويل : زما كور په كش كې دې او غواړم خپل كور ته ستون شم •
نو بيا ورځه ، په خوشحالى سره ورتللې شې •

خيزر په پوره چوپتيا ســره دهغه عمارت څخه راووت او دښار په لور ولاړ •

خينس دجارود خواته راغې او په خندا يې ترې وپوښتل : کار مو خلاص کړ؟

جارود په لاس کې نيولې توره په نيام کې کېښوده •

مونږ هغوې ټول له منځه يوړل ، زما په اند چې اوس بايد کوچ وکړو•

هو ! ټولو ځوانانو ته وواياست چې ورشي او پخپلو اسونو باندې سپاره شي ....

پخپله دخپل اس په لور ورغې ، دهغه مخ يې پاک کړ ، بيا په اس سپور شو اود تاخانې شاته دهغو ونو په لور ورغې چيرې چې يې ټول ملګرې د کوچ کولو له پاره تيار ولاړ وو، دده دورسيدو سره سم ټولو ملګرو د شمال لويديځ په لور خپل اسونه په ځغاسته کړل •

***

خينس د خپلو يوشت کسو ملګرو سره يو ځاي دشپې شپې د سردار حريم باغ ته ورننوت •

چوترې ته د رارسيدو سره سم خينس جارود ته وويل : ټولو ځوانانو ته ووايه چې يو يو يا دوه دوه کلي ته ورننوځي او يو ځوان ته ووايه چې سردار حريم ته خبر ورکړي ترڅو د کلي په هديره کې له ماسره ووينې •

جارود ټول ځوانان خپلو کورونو ته وليږل ، خو يوه ځوان ته يې پيغام ورکړ ترڅوولاړ شي او سردار حريم ته ووايې چې دخينس سره دکلي په هديره کې ووينې •

هديرې ته په رارسيدو سره خينس په دير افسوس سره جارود ته وويل :

ايا ماته ويلې شې چې زما د مور ، خور ، ورور ،ترور او ورندار قبرونه چيرې دي ؟

جارود ورته ټول قبرونه وښوول ، خينس ورغې او فاتحه يې پرې ولوستله ، تر دې وخته پورې سردار حريم هم را ورسيد او د خينس په اوږه يې لاس کيښود ، خينس هم راپورته شو او حريم ته ورغاړېوت •

سردار حريم ورته وويل : راځه له ماسره ، ترڅو کلي ته ولاړ شو ، اوس حالات دپخوا په څير نه دي ، هغه ورځ لرې نه ده چې سردار وکيع خپل ځان بې وسه او ځانته احساس کړي •

ما ته جارود په لاره کې تولـه خبره کړې ده •

سرداره ! زه اوس او په دې وخت کې کلي ته نه ورځم ، ته خپل کار ته دوام ورکړه او خپل ملګري زيات کړه ، زه به ماروه و لتوم او بيرته به کلي ته راشم او بيا به دهمغې تر مخه د هر هغه چا څخه بدله اخلم چې زما له کورنۍ سره يې ظلم اوتيري کړي دي ، زه همدا اوس او په همدې وخت کې ددمشق په لور ورځم اود عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په خدمت کې به عرض کوم او د خپلې کورنۍ د قصاص له پاره به ترې غواړم تر څو يزيد بن مهلب او ورور يې حبيب بن مهلب را و غواړي ، ما اوريدلي دي چې عمر بن عبدالعزيز رحمه الله يزيد بن مهلب بندي کړي دي ، زه به تر ټولو لومړی دهغه څخه انتقام اخلم ، اوبيا به يې دحواريونو پسې ورځم تر څو څټونه يې پخپله پرې کړم •••

حريم ورته په خواخوږۍ سره وويل : ايا ددې هيله لرې چې ماروه به بيا په لاس درشي ؟

هو! سرداره زما زړه ګواهي ورکوي چې هغه ژوندۍ ده •

حريم ورته په خجالت سره وويل : زه افسوس کوم چې ستاکورنۍ ټوله له منځه ولاړه او ما دهغوې سره هيڅ ډول مرسته و نه شوه کړاي ، خو داده اوسه چې انتقام به يې هرو مرو اخلم •

کيدې شي دخينس طبيعت نور خراب شوي و او نه يې غوښتل دخپلې کورنۍ د تباهۍ په اړه څه واوري ، په دې خاطر دخپل اس په لورورغې •

سرداره ! اجازه ده ، زه همدا اوس روانيږم •

سردار حريم هغه په خپله غيږ کې را تاو کړ او ورته يې وويل : زه دې په لوې رب سپارم •

خينس په خپل اس باندې سپور شو او هغه يې د جيحون دسيند په لور باندې په ځغاسته کړ •

***

د فريار څخه د وتلو وروسته خينس د جيحون دسيند څخه تير شو او امل ته ورسيد ، د هغه ځايه يې د طوس دلارې څخه دکيسپين د بحيرې

سره خوا تر خوا سفر کاوه اوبالاخره دمشق ته د تلو په لاره کې د الموت څخه په تیریدونکې لویه لاره دارمینیا غرنیو لړیو ته ورسید .

په دغو غرنیو لړیو کې د پنځه فرسنګه سفر کولو نه وروسته یوې تنګې درې ته ورسید ، د لته د رارسیدو سره سم ونښت ، تر مخه یې دسپین رنګ یوه ټوټه را ځړول شوې وه چې پرې په سور رنګ لیکل شوي وو .

صبروکړه او دمرګ انتظار وکړه .

دټوټې په دواړو اړخونو کې رسۍ بندې کړل شوې وې چې د ښي او کیڼ لورې د غرنیو تیږو سره تړل شوې وې ، د سترګو په رپ کې ددې غرونو څخه ځوانان یو په بل پسې راڅرګند شول ، دهریو تر شا د غشو خلطې وې اوپه لاسو کې یې دغشو نه ډک کمانونه نیولې وو ، د هغوې تر شا نور سپاره کسان راڅرګند شول ، چې په ډیرو ښو اسونو سپاره وو او ځلیدونکې وسلې یې په لاسو کې نیولې وی .

خینس په خپل سرباندې خود سم کړ لږڅه لاندې و خویښد ، زنځیر اوډال یې سمبال کړل او ځان یې دحالاتو سره دمخ کیدو له پاره تیار کړ .

تر مخه سپور یې ورته رانژدې شو اوورځخه یې وپوښتل : ته څوک یې ؟ اودکومه ځایه راغلی یې ؟

خینس ورته په ډاډ سره ځواب ورکړ : مسافریم او ددمشق په لور روان یم .

څومره نقدي لرې ؟

دلارې د خرڅ نه پرته را سره نور هیڅ نه شته .

مونږ په دې ځان پوهول غواړو چې ووینو له تاسره ټول څومره رقم شتون لري دا خو زما ذاتي معامله ده ، او تاسو ته یې نه شم ویلې .

هغه نرۍ شانته قهقه خندا وکړه .

نا پوهه ! کله چې زمونږ توري ستا په څټ باندې را پریوځي نو ته به پخپله د طوطي په څیر په خبرو راشې .

کله چې دهغه نه مخکې او وروسته سپاره ټول هغه ته رانژدې شول ، نو خینس خپل اس ته پښه ورکړه اود اس مخ یې بدل کړ او بیرته تم شو .

اوس نو هغه ددوارو ښي او کیڼ لورې ته و اوپه یوه وخت کې یې په دواړو سترګي ښخې کړې وې •

هغه سپور ورته بیا وویل د رخ دبدلون څخه به څه تر لاسه کړې • هسې خو ته دمرګ دخولې څخه خوندي نه شې پاته کیدې •

خینس په لومړي ځل په غړایدلي اواز وویل بدبختوانسانانو ! زه پخپله دمرګ په لټون پسې راوتلې یم ، تاسومې څنګه د مرګه ویروئ •

مونږ ستا تالاشي اخلو •

زه د مرګ مسافر یم او هر هغه لاس به پرې کړم چې زما سره دظلم په خاطر راو غوځیږي •

واورئ ! زما د زنځیر ګذار ډیر خطرناکه وي او زما اس هم ډیر تیز رفتاره دې • زه تاسو ته وایم چې زما لاره پریږدئ ، ایا تاسو غواړئ چې ستاسو د څلورو وارو میندې سرتور سر او بربنډې پښې ستاسو په لاشونو باندې فریاد اوژړا وکړي •••• تر څنګ یې د خپل شاهین په سر باندې ګوته راښکوده ، هغه خپل وزرونه وځنډل او په خپلو وینو تویونکو سترګو یې په دې څلور وارو نظر ور ښخ کړ •

نیغ په نیغه خپله ټوله نقدي او خپل اس مونږ ته راحواله کړه اوکه نه زه به دغــره د پاســه ناستو کسانو ته اشاره وکړم ترڅوپرتا د غشو باران پیل کړي •

واوره ! د ګیدړې نه زیات مکاره انسانه ! زما په زرې او خود باندې غشي اغیز نه شي کولې •

هغه سمدلاسه په غره ولاړ کسانو ته اشاره وکړه ، هغوې هم څو غشي په خینس باندې را وورول ، خو هغه ټول د هغه په زره کې ونښتل ، هغه له ځانه جدا کړل او لرې یې وغورځول ، تر څنګ یې بیا بیا په غرونو د ولاړو ځوانانو په لور اشاره وکړه او شاهین ته یې په هوا کې د الوت اجازه ورکړه •

کله چې شاهین په یوه غشي ویشتونکې باندې حمله وکړه نو هغه په چغو سورو پیل وکړ، پــه دې وخت کې هغو دوارو سپرو هم د هغه په لور په

کتلو شول ،خینس د موقع نه ګټه واخیسته اوپه ډیره ګړندی توګه یې د خپل زنځیر پــه واسطه پــه هغوې پیا پیا حملی وکړی او دواړه یې هملته ډیري کړل ۰

په دې وخت کې دهغه د شا څخه پنځه کسه سپاره را څرګند شول ، خینس خپل اس ته پونده ورکړه اوهغه یې مخکې و ځغلوو، هغو پنځو سپروهم د خینس په تعقیب پسې روان شول ، شاهین هم ددواړو غشو ویشتونکو د وژلو نه وروسته بیرته راستون شو او د خینس په اوږه کیناست ۰

تر درې مایلوپورې خینس خپل اس د هغوې تر مخه و ځغلوو، ان تر دې چې تر مخه یې یو لوې میدان راغې ، خینس دخپل اس رفتار را کم کړ ۰ اوس نو هغه پنځه کسان ددې څخه څو ګزه واټن کې شاته را روان وو۰

خینس یو ناڅاپه د برق په څیر خپل اس را تاو کړ او دخپل زنځیر په واسطه یې په هغوې سخته حمله وکړه اوپه لږه شیبه کې یې هغوې ټول له منځه یوړل ، پاته دوو د تیښتې هڅه وکړه خو ناکامه شول ،ځکه خینس دخپل زنځیر په واسطه هغوې ټوټې ټوټې کړې وو ۰

***

لا تر اوسه ددمشق نه لرې و چې په یوه سراې کې ورته خبر ورکړل شو چې خلیفه عمر بن عبدالعزیز رحمه الله رحلت کړی ؤ او په ځاې یې یزید بن عبدالمالک خلیفه ټاکل شوې دې ، څرنګه چې یزید بن مهلب د یزید بن عبدالمالک دخپلوانو سره زیاتې او ظلم کړې و ،په دې خاطر هغه په دې ویره کې و چې یزید بن مهلب به دخلافت سره سم د هغه څخه بدله اوانتقام واخلي ، په دې خاطر یې د زندان یو سپاهی ته رشوت ورکړ او د هغه ځایه و تښتید او د بصرې په لور ولاړ ۰

خینس د دمشق ښار ته ور ننوت او د اهنګرانو په بازار کي یې د یوه کور دروازه یې ور و ټکوله ، داکور د بني تمیمو د یوه کس هلال بن اجوزه ملکیت و ۰

هلال په سرکاري فوځ کې د لوړې رتبې منصبدار و، یو صحتمنده ځوان ورته دروازه پرانستله ، دا ځوان په خپله هلال بن اجوزه و ۰

د خینس دکتلو سره سم خینس ته ورغاړیوت او له ځانه سره یې دننه روان کړو ، په اخور د اس د تړلونه وروسته دواړه یوې کوټې ته ولاړل اوکیناستل ، د هلال د کور ښځې هم راغلې او خینس ته یې دزړه له کومې ښه راغلاست ووایه ،کیداې شي چې ددې نه مخته به یې پیژندلی •

هلال ترې په خندا خندا وپوښتل : نن دې څنګه لاره غلطه کړېده ؟

خینس ورته وویل : د انتقام په خاطر را وتلې یم •

هلال ترې په حیرانتیا سره وپوښتل : انتقام او دلته ، اخر د چا څخه انتقام اخلې او په کوم جرم •

خینس په داسې حال کې چې پورته یې کتل وویل : دیزید بن مهلب اودهغه د ورور حبیب څخه ، چا چې زما ټوله کورنی وژلې ده ••••

هلال بن اجوزه ورته په اندیښمنه لهجه وویل : که لږ څه په تفصیل سره یې راته ووایی •

خینس ورته ټوله کیسه وکړه •

زه افسوس کوم ، خو زه به په دې معامله کې هرو مرو له تاسره مرسته وکړم ، یزیدبن مهلب له دې ځایه تښتیدلې دې او بصرې ته ورغلې ، هغه خپل ورونه له ځانه سره یو ځاي کړي دي او بغاوت یې کړې دې ، ددی بغاوت د ماتولو له پاره خلیفه خپل ورور مسلمه بن عبدالمالک د یوه ستر لښکر سره هغه لورې ته ور لیږونکې دې •

خینس ترې په ډیره ناکراری سره وپوښتل : دا لښکر به کله ورځي ؟

بس په یو دوه ورځو کې •

خینس پورته شو وویل : نوبیا پورته شه او دمسلمه بن عبدالمالک ځاې ته راسره ولاړ شه •

هلال ورته مسکې شو •

دومره ناکراره کیږه مه ، ارام وکړه ، لږ څه خوراک څښاک وکړه بیا به ور شو •

هو! لومړی داکار وکړه بیا به خوراک څښاک کوو •

هلال راپورته شو •

چې مجبور وې مې نو درځه چې ورشو •

دواړه راپورته شول او بیرون را ووتل •

***

دواړه په یوې محل شکله حویلی کې ورننوتل ،هلال چې دهغه نه مخته روان و د یوې کوټې دروازه پرانستله او ورننوت ، په کوټې کې دوه کسان ناست و یو یې مسلمه بن عبدالمالک اوبل یې دهغه زوم سعید بن عبدالعزیز و ، هغوې دواړو د هلال او خینس سره په ډیره ښــه توګه روغبړ وکړ •

هلال ورته خینس ور وپیژانده و تر څنګ یې په هغه او د هغه په کورنۍ تیر شوې ټول داستان ورته واوروو•

هغوې دواړو ددې داستان په اوریدو باندې ډیر افسوس وکړ •

مسلمه ورته د همدردی له لارې وویل : وواپه ! زه ستا سره څه ډول مرسته کولې شم •

خینس ورته په ډیر اشتیاق سره وویل : زه غواړم په هغه لښکرو کې شامل شم چې د یزید بن مهلب د ځپولو له پاره هغه لورې ته ور روانیږي •

دا خو د خوشحالۍ خبره ده ، د هلال دخبرو او ثابت د کرچار څخه داګیزیږي چې ته یو ډیر نایابه سپاهی یې ، زه دې همدا اوس اودهمدې ځایه په یوه اعلي منصب ټاکم •

د خینس اواز را ډډ شو وویل : محترما ! زه ستا ممنون یم ، زه غواړم چې د یوه نوم ورکي سپاهي په څیر ستا په لښکرو کې شامل شم ، یوازې یوه هیله لرم چې که چیرې یزید بن مهلب د جنګ نه وروسته دخپلو ورونو سره دتیښتې هڅه وکړي نو ماته د عسکرو یوه ډله راکړه تر څو د هغوې تعقیب په خپله وکړم او هغه په خپلو لاسو جهنم ته ورسوم •

مسلمه ورته په ډیره خوشحالۍ سره وویل : زه به ستا هره هیله اوغوښتنه پوره کړم ، که چیرې ته پخپله قومندانی نه خوښوې نوبیا د هلال په ډله کې کار وکړه ، که چیرې ددې نه پرتــه نور څــه کار وي نو هم ماته یې ویلې شی ....

محترما ! زه ستا مشکور یم ۰

ددې شاهین څخه څه کار اخلې ؟

دا زما په دښمن باندې حمله کوي ، ښکار کوي او زما پیغامونه یوځای بل ځاې رسوي ۰۰۰

یقینا چې په حرب او ضرب کې به بې مثاله وي۰۰۰

هلال د لومړي ځل له پاره دخینس ستاینه وکړه ۰

محترما ! دا زمونږ د قبیلي تر ټولو زړه ور او ځواکمن ځوان دې ، تر اوسه پورې هیڅ پهلوان ورته ماتې نه ده ورکړې ۰ په جنګ کې د تورې په ځاې یو درونډ زنځیر استعمالوي ، داسې زنځیر چې یو عام انسان یې د پورته کولو توان هم نه لري ۰

دا زمونږ دقبیلي داسې ځوان دې چې دمحبت له پاره یې جنوني لیونی دي ، زاړه پرې ویاړ کوي ، ښځې یې د قبیلي سپوږمی ګڼي او نامسلمانه خلک ورته دځواک دیوتا او لیوه وایې ۰۰۰۰

مسلمه ورته په حیرانتیا سره وویل : زه به په جنګ ستا د جنګیدو طریقې هرو مروووینم ۰ هغه ستاینه چې هلال ستا په اړه وکړه نو که چیرې ته پر هغې پوره و خیژې نو په الله سوګند چې زه به د خلیفه له اړخه تا په سالارۍ باندې و ویاړم ، بله ورځ زما لښکر هغه لورې ته روانیدونکې دی ، ته به دهلال سره په لښکر کې کار کوی ۰

خینس راپورته شو وویل : محترما ! ما ته اجازه راکړئ ، زه ډیر ستومانه شوې یم ۰

مسلمه اودهغه زوم دواړه پورته شول او د هغه سره یې په پوره خوشحالۍ سره خداې پاماني وکړه ، ددې سره سم هلال اوخینس دواړه دهغه ځایه راووتل ۰

***

یزید بن مهلب د زندان څخه د بصرې په لور تښتیدلې و ، د هغه ورور مفضل ، حبیب او مروان لا دېخوا څخه بصرې کې میشت شوي و، خلیفه

یزید بن عبدالمالک د بصرې والي عدي بن ارطاة ته د مهلب دکورنۍ دغړو د نظربندۍ حکم کړې و .

والي د یزید درې واړه ورونه په زندان کې واچول .

یزید هم خپل اثر و رسوخ استعمال کړ او ډیر ژر یې د یوه لوی لښکر په راټولولو پیل وکړ او په کې بریالي هم شو ، هغه خپل لښکر دبصرې په لور ولیږه او بصره یې و نیوله او پرې قابض شو .

ددې پایلې دا شوې چې ډیر ژر په عراق ، خراسان او کرمان کې دیزید طوطي په خبرو راغې .

د خلیفه سره بیعت یې مات کړ او د بغاوت اعلان یې وکړ او مسلمانانو ته یې دکتاب اوسنت تر نامه لاندې دبنې امیه و په خلاف د جنګ بلنه ورکړه . ددې اعلان له مخې د بنو امیه و سره جنګ د تُرک ویلیم سره هم د جنګ نه دزیات ثواب خاوند و ګڼل شو .

د یزید پر دغې اعلان دهغه وخت مشهور دیني عالم او بزرګ حضرت حسن بصري رحمه الله مسلمانانو ته ددې جنګ څخه دځان د ساتلو فتوا ورکړه او ویې ویل چې یزید تر پرونه پورې د بنو امیه و له اړخه حکمران و او د هغوې د خوشحالۍ په خاطر یې دخلکو ورمیږونه پرې کول او نن همغه خلک د بنو امیه و سره د مقابلې له پاره را بولي .

خلیفه یزید بن عبدالمالک خپل ورور مسلمه بن عبدالمالک د اتیا زره کسیز فوځ سره د یزید د ځپلو له پاره بصرې ته ور ولیږه .

خو په مقابل کې یې یزید بن مهلت یولک او شل زره کسان د لښکر په څیر را ټول کړي وو .

د فرات دسیند په ښي اړخ کې د عکرا په پراخه میدانو کې ، د مسلمه بن عبدالمالک اتیازره لښکر او دیزید بن مهلب یو لک اوشل زره لښکر یو دبل سره ټکر شول ، دی جنګ ته یې دعکرا جنګ ووایه .

د عکرا دا میدان د تورو فصل و ګرزید . په ساعتونو ساعتونو د وینو سیلابونه روان وو ، د تورو شرنګار و او د ډالونو ډزار .

خینس په یزید بن مهلب او د هغه په وروړ حبیب باندې سترګې ولګیدې اوخپلو ځوانانو ته یې حوصله ورکړه تر څو هغه لورې ته ور نژدې شي •
خینس د مرګ په خوله کې ځان ورکړاو په ډیره عجله یې خپل اس د جنګ او وینو په څپو کې ور وغورځوو او د یزید او دهغه دوروړ حبیب لورې ته ور نژدې شو•

په داسې حال کې چې د جنګ تنور په پوره توګه ګرم وو چې دا افواه خپره شوه چې د فراه پُل اوراخیستې دې ، ددې خبرې سره سم د عراق خلک په تیښته شول ، یزید بن مهلب یې د را ټینګولو ډیرې هڅې وکړې مګر کاریې ورنه کړ • هغوې د لښکرونه ووتل او ولاړل •

خینس په همدې وخت کې د حبیب په سر ور رسیدلې و او د خپل زنځیر په خوځولو سره یې ور غږ کړ او ورته یې وویل ای دظلم تنور ګرمونکیه ! زه همغه خینس بن یوسف یم د چا کورنۍ چې تا د ماروې د ترلاسه کولو له پاره له منځه وړې ده •

واوره ! زه همغه یم چې نامسلمانه خلک مې لیوه او د قوت دیوتا ګڼي ، زه دریاندې ګذار کوم که همت لرې زما د ګذار نه ځان خوندي وساته •

خینس په خپل زنځیر وار وکړ خو حبیب یې ګذار ته ټینګ نه شو ، د هغه سر دوه ځایه شو اوپه ځمکه راپریوت ، ددې نه وروسته خینس د یزید بن مهلب په لور ور وخوزید اوپه خپل زنځیر یې پرې په پرلپسې توګه ګذارونه وکړل ، د اسه یې را وغورځوو او هملته یې فیصله کړ•

د یزید بن مهلب د وژلو وروسته د هغه وروړ مفضل د پاتو عسکرو سره د واسط په لور په تیښته شو او بیا دهغه ځایه د قندابیل په لور روان شو • مسلمه بن عبدالمالک دهغه په تعقیب هلال بن اجوزه ورولیږه او خینس یې دهغه سره دمرستې له پاره ورولیږه •

کله چې د قندابیل امیر وداع بن حمید ته ډاګیزه شوه چې مسلمه بن عبدالملک له اړخه هلال بن اجوزه تمیمي د مفضل او د هغه د لښکرو په

تعقیب را روان دي ئو هغه د یزید بن مهلب دلاسپوڅي کیدو سره بیا هم مفضل او د هغه د لښکرو ته د امان ورکولو څخه معذرت وغوښت •

د قندابیل نه بیرون د مفضل او د هلال بن اجوزی د لښکرو تر منځ ټکر رامنځته شو ، مفضل په جنګ کې له منځه ولاړ ، ملګري یې هم ووژل شول او د هغوې ښځې او کوچنیان یې دبندیانو په څیر له ځانه سره دمشق ته بوتلل•

***

کله چې د جنګ نه وروسته هلال بن اجوزه د خینس سره یو ځاي دمشق ته ورسید ، نو مسلمه بن عبدالمالک دواړه وروغوښتل ، کله چې دوې هلته ورغلل ، نو هغه یې د پخوا په نسبت نور هم په ګرمه توګه ښه راغلاست وکړ•

په الله سوګند چې د جنګ کولو په وخت کې ته انسان نه ښکاریدې ،ما تر ننه پورې ستا څخه غوره او بهتر جنګیدونکې او د جنګ په قواعدو پوه انسان نه دې کتلې ، تا خو د اوسپنې هغه درونډ زنځیر د جنګ په میدان کې داسې استعمالوو لکه د اوسپنې څخه چې نه وي جوړ شوې بلکه د لرګي نه جوړ کړل شوي وي ، اوس به ته ددمشق نه بیرون نه ځې زه به د خلیفه څخه ستا له پاره دکوم مناسب منصب سپارښتنه وکړم•

خیتس ورته ځواب ورکړ محترما ! زه څه مجبوریتونه لرم ••• په همدې خاطر به زه بیرته دخراسان په لور ورځم •

څه مجبوریتونه ؟

د یزید بن مهلب د ظلم او تیرې څخه دخوندي پاته کیدوپه خاطر یوه نجلۍ زما دکوره راوتلې او چیرې پټه شوې . هغې له ماسره محبت کاوه او په نزدې وختو کې مو د واده کولو پروګرام هم درلود ، ما هغه ډیره ولټوله خو لا تراوسه مې نه ده پیدا کړې ، اوس یو ځل بیا ورځم او د نوې عزم او هوډ سره یو ځاي یې تلاش پیلوم ، ماپخپله هم د یزید بن مهلب په زمانه کې پټ ژوند تیراوو ، په دې خاطر مې په پوره ازادۍ سره د هغې لټون و

نه شو کولې ، خو اوس به یې په هر ښار او هر کلي کې لټوم ، تر هغې چې هغه راته تر لاسه شوي نه وي نو ژوند به مې نیمګړې وي •

مسلمه بن عبدالملک ورته په خواخوږۍ سره وویل بیا خو دې زه نه تم کوم ته بیرته خراسان ته تللی شی ، بلکه په دې اړه به زه له تاسره مرسته وکړم •

خلیفه زه د عراق او شرقي سیمو والي تاکلې یم بیا یې په خپله مخکې ناست خپل زوم ته اشاره وکړه او ویې ویل ما خپل زوم سعید د خراسان امیر تاکلې دې ، دا به په هره معامله کې له تاسره مرستندویه وي ، ته کله خراسان ته د بیرته ستنیدو نیت لرې ؟

زه همدا نن ددې ځایه بیرته ستنیږم •

مسلمه بن عبدالملک راپورته شو •

راځه دننه ولاړ شو ، ما نن تاسو دواړه د میلمستیا له پاره رابللي یاست •

هغوې پورته شول او دننه ولاړل ، سعید ، هلال او خینس یو دبل تر شا وو ، دوې ټول داسې یوې کوټې ته ورننوتل چې هلته غلامانو ډوډۍ او غذا تیاره کړې وه او ددوې انتظار یې کاوه •

***

د جیحون دسیند د پُل څخه دتیریدو وروسته خینس داسې یوې څلور لارې ته راغې اوودرید ،چې دهغه ځایه مخامخ سړک د هغه دکلي په لور ورته او د کلي کورونه او هدیر ورته د لرې نه تر سترګو کیده • ښیې لورې ته شاهراه د بزده نه تیریده او دنسف په لور ورتلله او درېمه لاره دخوارزم په لور ورغلې وه •

خینس تر لږې شیبې پورې په همدې څلور لارې ولاړ و او فکر یې کاوه بیا ښي لورې ته وګرزید او اس یې په لویه لاره واچوو، دا لاره د نسف په لور تللې وه ، خو هغه دنسف په ښار کې تم نه شو اونیغ ترې ووت • هغه دهغې غرنۍ لږیو په لور روان و ، چیرې چې یې حرب ښخ کړې و •

ماښام نژدې هلته ور ورسید ، قبر باندې ودرید ، فاتحه یې ولوسته اوبیا دسمرقند په لویه لاره روان شو ، په سمرقند کې څو ورځې سر په سر پاته

شو او دماروې لټون یې کاوه ، د هغه ځایه بیا راستون شو او کش ته راغې هلته یې پلټنه پیل کړه بیا شومان ، صفایان ته راغې ... خو هیچرې یې ماروه ونه موندله ، هغه ډیر ناهیلې اوغمژن و.

اوس نو دماروې د لټون له پاره ترمز ته ور ننوت ، دښار په سړکونو دګرزیدو وروسته د توفیل کورته ورننوت .

په داسې حال کې چې پر اس سپور وو دکور دننه انګړ ته را غې او هلته یې دانګړ دننه دروازه وټکوله .

لږه شیبه کې دروازه پرانستل شوه او د توفیل ښځه نتیان یې مخې ته ودریده .

د خینس په کتلو سره یې دغصې نه په ډک اواز وویل : ته زما د میړه قاتل یې ، ما خو ته لټولې ، ښه شو چې ته پخپله دمرګ خولې ته راغلی .

ته خو لیونی یې : زه له تاڅخه یوې پوښتنې ته راغلې یم ، زه دماروې په لټون پسې راوتلې یم .

نتیان نوره هم په غصه شوه .

زه ماروه پروه نه پیژنم ، زه یوازې یو کس پیژنم چې خینس بن یوسف نومیږي اوهغه زما دمیړه قاتل دې .

نتیان دکوټې څخه را بیرون شوه او برنډې خواته راغله ، هلته یې په یوه ډول باندې په زوره زوره کوټک وواهه ، د ډول اواز په ټوله حویلۍ کې خپور شو، نتیان بیرته راغله او په ډیره عیارۍ سره یې خینس ته وویل : ما په ډول په لرګي وواهه ، اوس به درته معلومه شي چې ماروه چیرې ده .

د خینس ذهن په پوره توګه کار کاوه . هغه ته د حویلې د هرې دروازې او دیوال څخه دخطر بوې راته . په دې خاطر یې اس بیرته راستون کړ اود حویلۍ نه بیرون راووت .

نتيان ورته وويل : بي غيرته ، د ګيدړ په څير دې ولې لکۍ ننويسته او و ښتيدلې ، اوس چې ته تيښته وغواړې بيا به هم د تيښتې لاره پيدا نه کړای شې •ما ستا د وژلو له پاره پوره لارې چارې پيدا کړی دي •

خينس ور وګرزيد او نيتان ته يې وويل : ای مکارې ګيدړی ! زه دې دکور بيرون دريږم ، هر څوک چې زما د مقابلې له پاره رابولې را ويې بوله ، زه به هيڅکله هم د بي غيرتو په څير تاته شا نه کړم •••

په دې وخت کې خينس په خپله مخه کې پنځه کسه سپاره چې د بوټو د يوه ځنګل څخه را وتلې وو ،وکتل ، هغوې په ډيره بيړه دخينس خواته را روان وو•

خينس هم خپل اس ته پونده ورکړه او دحويلۍ نه بيرون راووت •

هغوې پنځه واړه هم دهغه په تعقيب د حويلۍ نه بيرون راووتل ، خينس پرې شاهين ور پريښود اوپخپله يې هم خپل اس د برق په څير ور غبرګ کړ اوحمله يې پرې وکړه ، دوه کسه يې شاهين ور ختم کړل اودوه نور يې هغه په خپل زنځير باندې دخاورو سره خاورې کړل ، يوکس يې ځان خوندي کړ او په تيښته و ښتيد•

دترمز نه د راوتلو وروسته خينس د زنيل د سيند څخه ورتير شو اوبيا يې په غرنۍ لړۍ کې تر يوه وخته پورې سفر ته دوام ورکړ ، ويې کتل چې د غرونو د لړۍ په هغه اړخ کې د اسونو ، کچرو د شنهيدو اوازونه را ځي •

خپل اس يې کينې لورې ته وګرځوو ، په غره ور وخوت ، ويې کتل چې لاندې يو لوې ستر او پراخه ميدان دې ، په وښو شين دې او ګڼ شمير اسونه ، کچری ، وزی ، ميږی او نور حيوانات په کې څريږي . غره په لمن کې هری لوری ته خيمی ښخی کړل شوی دي •

خينس پوه شو چې دا دارطبون د کاروان تم ځاې دې •

کله چې دغره نه ور ښکته شو اوخيمو ته ور ننوت نو دهرې لورې نه د خينس بن يوسف اوازونه راپورته شول ، هغه دخلکو د ګڼې ګونې سره يو

ځاې د سردار ارطبون خیمې ته راغې ، د اس نه راښکته شواو نیغ خیمې ته ورننوت •

په لومړي خیمی کې هیڅوک نه و ، بیا یې پرده پورته کړه اوبلې خیمی ته ورننوت ، هلته سردار ارطبون سترګې پټې کړې وې او په کټ غوځیدلې و ،د قبیلې حکیم د هغه د پښې علاج کاوه ، د سردار ارطبون دکټ سر ته قطوانه هم ولاړه وه ، بلکل چوپ او غمګینه ، داسې معلومیده لکه یوه ډیره ښایسته مجسمه چې ولاړه وي •

کله چې خینس ور ننوت نو قطونه و دریده ، حکیم هم د هغه ددرننبت له پاره راپورته شو ، خو دهغه ملګري حکیم چې د پټۍ د تړولو کار یې کاوه همغسې په خپل ځاې ناست پاته شو •

خینس ورمخته شو •

څرګنده نه ده چې ولې دخینس د راتلو سره سم دقطونې د سترګو نه اوښکې روانې شوې •

سردار ارطبون په پټو سترګو وپوښتل: څوک راغې ؟

قطونـه خپله خوله د سردار غوږ ته ور نژدې کړه او په کراره یې ورته وویل: پلاره ! خینس راغی •

د سردار ارطبون مخ د خوشحالۍ نه روښانه شو ، غوښتل یې راپورته شي خو خینس پرې نښود ، خپل لاس یې پرې کیښود او بیرته یې دپخوا په څیر څملاوو ، سردار ارطبون خپل لاس د خینس په ملا باندې کیښود اوپه ډیر شفقت سره یې ورته وویل : دومره زیات وخت چیرې وې ؟

خینس ورته په داد اواز سره وویل: بس ګرځم او تیندوکونه خورم •

په دې وخت کې نوطس هم کوټې ته راننوت ، خینس ور پورته شو ،او غاړه یې ورکړه او د خپل ځان سره یې کیناوه ، پخوا له دې چې نوطس خبره وکړې ارطبون ترې وپوښتل: حرب چیرې دی ؟

خنیس سر ښکته شو او شونډې یې و چیچلې او ځواب یې ور نه کړو کړ •

سردار ارطبون هغه د اوږې څخه و نیوه او ټکان یې ورکړ •

خینس سر راپورته کړ ،سترګې یې داوښکو ډکې وی وویل : هغه دښمنانو وواژه •

سردار ارطبون ناکراره شو •

څه دي وويل ، ووژل شو ، مګر ولې او چا ؟

خنیس وویل : زما د قبیلي خلکو!

په الله تعالى سوګند چې ستا د قبیلي خلکو هر ځل له تاسره ناروا سلوک کړې دي ،چې یو ځل روغتیا و مومم نو پخپله به ترې انتقام و اخلم •

د نوطس سر را ټیټ شوې و اوقطونه په ژړا وه •

سرداره ! ما دحرب ورور د قاتلانو څخه بدله اخیستې ده •

ما د عکرا په جنګ کې برخه اخیستې وه او یزید بن مهلب او د هغه ورور حبیب بن مهلب مې هم په خپلو لاسو وژلي دي ، اوس د قبیلي سردار وکیع او څو کسه ځوانان داسې پاته دي چې د هغوې څخه به بدله اخلم •

سردار ارطبون هغه په خپله غیږه کې را جوخت کړ •

اوس به دې هیچرې هم پرېنږدم•••

سرداره ! ستا په پښه څه شوي دي ؟

دلته په دې غره کې مې اس و ترید ، زه ترې لاندې راپرېوتم او پښه مې ماته شوه •

کله چې حکیمان ترې ولاړل نو سردار ورته وویل : دا ځل زه له تاسره په یوه مسئله اخري کول غواړم •

امر کوه سرداره !

زما په ژوند هیڅ باور نه شته ، زړښت پسې راخیستې یم ، زه غواړم په خپل ژوندکې ستا او د قطونې واده وکړم اوتا د خپلې قبیلي سردار وګرځوم ، ما د قبیلي د خلکو رایه هم اخیستې ده ، هغوې ستا په سرداری باندې خوشحاله او متفق دي •

قطونې خوله پټه کړه او په چټکۍ سره دهغې خیمې نه ووتله او د پردې شاته و دریده ترڅو خبرې واوري •

سردار ارطبون ترې ییا وپوښتل : وایه ، ته په دې لړ کې څه ویل غواړې ؟
خینس چوپ پاته شو •
ارطبون ییا ترې وپوښتل : ولې خبره نه کوی ؟
یو څو ورځې نـور هم صبر وکړه سـرداره ، بیا چې ته هر څه وایې زه یې منم •
نور نو صبر شوني نه دې .... نن ته د ډیرې مودی وروسته زمونږ خیمې ته را ستون شوې یې ، مونږ دواړو پلار او لور ستا دقدمونو انتظار کاوه • اوس به دې هیڅ خبره و نه منل شي اونه به درته دییرته تللو اجازه درکړل شي ، همدا نن به زه د قبیلي مشران را ټولوم اوستا او دقطونې تر منځ به د واده کولو رسمي اعلان کوم • • •
خینس ورته منت وکړ •
زه یوازې د څو ورځو له پاره مهلت غواړم ، درونده سرداره ! بیا به هیڅکله هم ددې قبیلي نه ولاړ نه شم ، اوس ماته پخپله د سکون اوارام اړتیا ده •
اوس چیرې تلل غواړې ؟
زه یو ځل تر خوارزم پورې ورځم •
دڅـه له پاره ؟
ما خو ماروه هر ځاې ولټوله ، خو په هیڅ ځاې کې مې تر لاسه نه شوه کړاې ، اوس یو ځل خوارزم ته ورځم که هلته مې په لاس راشي • کیدې شي همل‌ته ورغلې وي ، که راته تر لاسه شوه سهي او که نه بیرته به راستون شم او دقطونې سره به واده وکړم او د تل لپاره به په همدې قبیلي کې و اوسیږم •
ایا دا ستا اخري ژمنه ده ؟
هو سرداره !
ارطبون ورته په خندا شو •
ما ته منظور ده ، ته کله د خوارزم په لور ور تلل غواړې ؟

زه به د شپې په اخري برخه کې د دې ځایه وځم ۰
نوطس راپورته شو او بیرون ته د تللو په وخت کې یې وویل : زه به دې د اس له پاره د دانې او چارې بندوبست وکړم ۰
ارطبون قطونه ته ورغږ کړ : قطونه .... قطونه .... د خینس له پاره خوراک څښاک راوړه !
خینس راپورته شو او هغه بلې خیمې ته ولاړ زه پخپله ورځم او د هغې څخه ډوډۍ او غذا را اخلم ۰
قطونه د پردې نه لرې شوه او د خیمې په لور ورغله ، خوله یې بلې لورې ته کړه او و دریده ، خینس هم همغه کوټې ته ورننوت او قطونه یې د اوږې څخه و نیوله او ورڅخه یې وپوښتل : ناراضه یې قطونې ؟
قطونې هیڅ ځواب ورنه کړ، خینس هغه راتاوه کړ او د هغې مخ یې په خپلې لورې کړ اوبیا یې ترې وپوښتل : ولې خبرې نه کوی ؟
قطونې ترې ځان خلاص کړ وویل : که څوک مری یا ژوندې وی تاته یې څه ؟
ولې څه وشول ؟
هو! څه وشول ؟ دایې په کې لا بله ، څومره موده وروسته را غلې یې ، داسې بریښې لکه له مونږ سره دې چې هیڅ نه پیژنی ، زه او بابا که مړه وو او یا ژوندي ۰۰۰۰ تاته یې څه هیڅ پراوه دې نه وه اونه شته ۰
خینس یې تر مخه دواړه لاسونه جوړه کړل : ښښه غواړم ۰۰۰۰ په راتلونکې کې به داسې نه کیږي ۰
قطونه یې دواړه لاسونه و نیول او ښکل یې کړل او په خندا شوه ۰
خنیس وویل : اوس خو د خوراک څه را کړه ، وږې شوې یم ۰
قطونه له لاسه و نیو او په خپل پالنګ یې کیناوو، بیا ورته ډوډۍ او غذا کیښودله او هغه یې په خوړلو پیل وکړ ۰
قطوني یې په اوږې ناست شاهین را ونیو اوپه خپله غیږه کې کینوو او ښه پریمانه غوښه یې ورکړه د خوراک او څښاک نه وروسته خینس راپورته

شو او قطونه يې له لاسه و نیوله اوورته يې وويل : راځه ، دسردار خوا ته ورځو اوهملته خبرې کوو .

دواړه راغلل او د ارطبون په پالنګ کې دهغه تر څنګ کیناستل . خینس يې کرار کرار پښه زور کوله خوارطبون يې لاس و نیو .

پریږده يې زویه ! ....ته پخپله ستومانه يې . پرلپسې سفرونو ستومانه کړې يې . نه پوهیږم چې قطونې ډوډۍ درکړې ده او که نه . ځکه هغه له تانه ناراضه وه . هره ورځ به يې راته ويل چې خینس به اوس دلته هیڅکله هم رانشي ، او ما به هره ورځ تسلي ورکوله .

سرداره ! ما خو ډوډۍ و خوړله او دا له ما څخه راضي هم شوې هم ده

ارطبون په خندا شو .

زه په تاسو دواړو ډير خوشحاله يم .

ارطبون قطونې ته وويل : قطونې د خینس له پاره بستره جوړه کړه اوپریږده يې چې ارام وکړي ، ځکه د شپې په اخري برخه کې د خوارزم په لور روانیږي .

قطونه راپورته شوه او خینس يې له لاسه و نیوه او له ځانه سره يې راښکوده .

راپورته شو ، اوارام وکړه .

هغې خینس خپلې خیمی ته روان کړو ، خینس يې په پالنګ باندې څملاست اوهغه يې تر څنګ کیناسته او په مینه مینه يې ورته کتل .

***

د څو ورځو د پرلپسې سفر کولو نه وروسته خینس خوارزم ته ور ننوت . هلته يې په ښار کې د اوسیدو له پاره همغه سراې انتخاب کړ چیرې چې د باغر د تعقیبولو له پاره راغلې و او بیا يې هلته د ماروه ، قراطیس او طوانه سره لیدنه شوې وه .

کله چې د سراې د چینایې مالک اکتائي کوټې ته ور ننوت نو هغه ورته دخپله ځایه راپورته شو اوبه خوشحالی يې ورته وويل : په زرتشت مې دې سوګند وي .... که زه په غلطی نه اوسم نو ویلې شم چې ته یو ځل پخوا

هم زما سراې ته راغلې وې ، په هغه وخت کې دې هم په اوږه همداسې یو شاهین ناست و ، ته هغه وخت زما سراې ته راغلې وې چې دلته سخته واوره وریدله ، کیدې شول چې ته به د چا د تعقیبولو په خاطر راغلې وې . ایا زما خبره سهي ده؟

خینس لاس ور اوږود کړ او روغبړ یې ورسره وکړ .

بوډا اکتایې ! ستا خبره سهي ده .

اوس څنګه راغلې یې ؟

د خپل یوه دوست په لټون پسې نو ایا زه له تاسره په دې اړه څه مرسته کولې شم ؟

کیدای شي .... ته به خبر یې چې ددې ښار پنځه مایله شمال ته یو کلې دی چې سرقوسه نومیږي ، د هغې په شرقې برخه کې یوه لویه غونډۍ ده او په هغې غونډۍ د یوه سالار محل ودان و .

د خوارزم پادشاه خرزاد غوښتل هغه سالار ووژني او د هغه محل لاندې ویجاړ کړي ، دهغې سالار یوه لوره وه ماروه نومیده ، ایا ماته ویلې شې چې د هغه سالار دا لور اوس چیرې ده ؟

اکتایې ورته په حیرانتیا سره وویل : ستا معلومات سل په سلو کې سهي دي ، خو ستا دهغې نجلۍ سره څه کار ؟

همغسې ، لکه یو جسم یې چې د روح سره لري .

یوه شوم ... په یقیني توګه به هغه نجلۍ له تاسره مینه کړې وي .

ستا خبره غلطه نه ده ... ایا اوس راته ویلې شې چې هغه نجلۍ اوس چیرې اوسیږي ؟

هغه خو ددې ځایه چا د تاخانې څخه ویستلې وه ، بلکل په همغو ورځو کې په کومو کې چې ته دلته خوارزم ته راغلې وې ، که چیرې زما ذهن په غلطه نه وي نو هم تا هغه له دې ځایه ویستلې وه ...

بوډا اکتایې ! ستا خبره سهي ده ، دهغې نه وروسته دې د ماروه په اړه څه اوریدلي دي ؟

نه ... په زرتشت مې سوګند چې هيڅ مې نه دې اوريدلې.

دخينس سر راټيټ شو ، بيرون راووت او په ډيره ناخواله توګه په خپل اس سپور شو او هغه يې دښار د شمال په لور په لاره ورسم کړ ، لومړی هغه کلي ته راغې چې سرقوسه يې ورته ويلې ، دهغه ځايه بيا دشرق په لور ورغې او هغه غونډۍ ته ولاړ چې يو وخت پرې د ماروه د پلار قصر ودان وو ، د محل کوم ديوالونه چې خونډي پاته شوي وو همغسې وران ويجاړ ولاړ وو.

ددواړو ديوالونو تر منځ چا د وښو يوه جونپړۍ جوړه کړې وه چې اوس ترې دود را خوت ، د جونپړۍ نه بيرون يو تور رنګه کچره هم ولاړه وه.

د خينس زړه ټکان وخوړ ، هغه په دې متيقين شو چې دا جونپړۍ به هرو مرو ماروه د ځان له پاره اباده کړي وي او اوس به همدلته اوسيږي.

په ناڅاپه يې په شونډو باندې د اميد اوهيلو خندا راپيدا شوه.

خو کله چې هغه جونپړۍ ته ورننوت نو مايوسه شو. ځکه دننه يوې زړې ښځې په نغري باندې لرګي ايښودې و او اور يې بل کړې و.

خينس ترې په ناخواله توګه وپوښتل: محترمې ! ولې دې ددې ځنګل تر منځ په دغه تباه شوي او ويجاړ محل کې د ځان له پاره د خاشاکو جونپړۍ جوړه کړې ده ؟

هغه ښځې ورته په ډيره ناهيلۍ سره وويل: ځوانه ! دا محل يو وخت زما د لور کور و ، پوه نه يم چې هغه به اوس چيرې وي ، ما دلته دا جونپړۍ جوړه کړې او د هغې د راتلو انتظار کوم ، يو وخت خو به دخپل دغه ويجاړ محل د کتلو له پاره دې لورې ته راشي.

ای اجنبي ! ايا ته هم د چا په لټون پسې ګرزيږي ؟

بيشکه ! ستا اندازه سمه ده.

د کوم خوش نصيبه په لټون پسې راوتلې يې ؟

د يوې نجلۍ.

ايا هغې هم د همدې محل سره اړيکي درلودی ؟

هو ! هغه هم يو وخت د همدې محل اوسيدونکې وه ، خو ظالم خرزاد هغه بلکل تباه کړه •

ايا ماته يې نوم راښودلې شې ؟

په نومونو کې څه پاته دي ، که ته يې په اړه واورې نو مايوسه به شې •

خنيس وويل : ايا ته غواړې چې دهغې نوم له تاسره په راز کې پاته شي ؟

هغه زړې ښځې په ډير حسرت سره ورته وويل : نه ! ته د هغو رازونو نه دېخوا څخه خبره يې •

زړې ښځې خپل سر يوې لورې ته کړ اوپه حيرانتيا سره يې وويل : عجيبه ده .... زه د هغې رازونو څخه دېخوا څخه خبره يم ••••

اجنبي ! ته په يقيني توګه په طنزونو کې خبره کوې ، خو زه يې د پوهيدو توان نه لرم ، زه هيله لرم چې ماته خبره ڈاکيزه کړې ••••

خينس نه غوښتل هغې ته د قراطيس دمرګ او دماروه د ورکيدو په اړه څه ووايي ، هغه په دې انديښمن و چې که چيرې بوډۍ دهغوې دحال احوال څخه خبره شي نو زړه به يې و دريږي •

په دې خاطر يې دخبرو مخ بدل کړ وويل : محترمې ! زه لږ څه وږې شوې يم ، د خوراک څښاک له پاره که څه لرې او راکړې نومهربانې به دې وي •

زړې ښځې ورته د منت په توګه وويل : کومه خبره دې چې لومړی را ياده کړې ده ، هغه راته سپينه کړه ، زما سره د خوراک څښاک له پاره ډير څه شته ، زه وعده کوم چې ته به را نه وږې پاته نه شې ، کيداې شې د هغې نجلۍ لتون ته لږ څه لالچې کړې يې •

محترمې ! دا خبره نه ده ، زه ستاخيريت غواړم •

که چيرې زما خيريت غواړې نو دخبرو لړۍ دې پوره کړه •

خينس مجبور شو •

واوره محترمې ! ايا ستا لور قرطيس نوميده ؟

زړې راتوپ کړ •

هو ، په یقیني توګه ، د هغې همدا نوم دی ، راته ووایه چې هغه چیرې ده ؟

ایا ستا یو لمسی هم شته چې ماروه نومیږي ؟

هغه زړه یې ځنګ ته راتږدي شوه •

هو ! زما یو لمسی هم وه چې ماروه نومیږي اوماته ډیره ګرانه هم ده •

اې اجنبي ! په خبرو کې ځنډ مه کوه زه درته عذر کوم ماته پوره کیسه وکړه ، که چیرې راته دې ونه ویل نو زه به هم دلته په سلګیو سلګیوکې ساه ورکړم ••• اوله منځه به ولاړه شم •

خینس خپل شونډې و مروړلې •

که ته مې مجبوروې نو واوره ! ماروه له مانه ورکه شویده اوزه یې په لټون پسې راوتلی یم ، دا همغه نجلۍ ده چې زه ورسره مینه کوم • خو ستا لور قراطیس په یوه پیښه کې له منځه تللې ده ••••

دزړې ښځې سترګې بوټې را ووتلې او د ځمکې په لور ورښخې شوې ، خینس ورمخته شو ، ویې کتل چې هغه مړه شوې ده • خینس دپخوانه زیات غمژن شو ، هغه زړه یې سنبال کړه او بیا یې هملته په هغه جونپړه کې ورته قبر وویست او په کې یې ښخه کړه ، دقبر د پاسه یې فاتحه ولوستله اوبیا په خپل اس سپور شو ، د غونډۍ نه لاندې راښکته شو او دجیحون دسیند په غاړه دخراسان په لور را روان شو •

***

د سردار ارطبون دکاروان له لورې د تللو په وخت کې خینس د نسف دښار څخه ورتیر شو او د زوړ ارمن په سراې کې ور ننوت •

زوړ ارمن په داسې حال کې چې په خپله کوټه کې ناست و او خپلې نقدې پیسې یې شمیرلې ،خینس ور ننوت او په اوړه یې ورته لاس کیښود ، کله چې ارمن دهغه په راتلو خبر شو نو سمدلاسه یې تر مخه و درید او بیا یې په ګرمه توګه دهغه ښه راغلاست وکړ •

زه د ځواک دیوتا ته ښه راغلاست وایم •

دخينس سر تيټ و او هيڅ يې هم و نه ويل ارمن د پيسو کڅوړې پرېښودې او هغه ته را نژدې شو ·

دڅواک ديوتا: ايا ته يوځل بيا دچا څخه د انتقام د اخيستلو په خاطر راغلې يې ·

خينس ورته په ډيره غمژنه توګه ځواب ورکړ نه! زوړ ارمن! په دې وخت کې زه د يوه ترک سردار دکاروان له ارخه روان يم ·

دکومه ځايه راغلې يې ؟

دماروې د لټون په خاطر خوارزم ته تللې وم ·

په لاس درغله او کنه ؟

نه! ارمن، ···تر اوسه په لاس نه ده راغلى ·

ايا ته يې د لټون څخه ناهيلې شوې يې ؟

نه هيڅکله نه! ناهيلي ګناه ده، زه دهغه لټون ته دوام ورکوم ···

دخينس د حالت په کتلوسره ارمن ژړغونې شو او ورته يې وويل د ځواک ديوتا: که يوه خبره درته وکړم نو بده خو به يې نه ګڼې ؟

ووايه ارمن! زه به هيڅکله ستا په خبره خفه نه شم ·

د ځواک ديوتا! که چيرې ماروه د جسمې ارخه معيوبه شوې وي نو ايا ته به ترې نفرت و نه کړې ؟

زه ستا په مطلب پوه نه شوم ·

زما مطلب دادې چې که فرض کړو په کومه پيښه کې دماروې ښه پرې کړل شوي وي نو ايا ستا په محبت کې به ورسره کوم بدلون راشي او که څنګه ؟

دا هيڅکله هم شوني نه ده، ارمن. په داسې حال کې خو به زه د هغې سره نور هم خپل محبت زيات کړم ·

نو بيا دادمن اوسه، ماروه به په همدې ښار کې او همدلته له تاسره ووينې ·

خينس دخپله ځايه ټوپ کړ څه دې وويل ؟ په همدې ښار کې او همدا نن زه دماروې سره کتلې شم •

هو ! د ځواک ديوتا !

هغه چيرې اوسيږي ؟

دا درته نه شم ويلې ، په هر حال ، هغه هره ورځ د خپلې مور په قبر باندې ګلونه ږدي ، دا چې دکومه ځايه راځي ماته هم نه ده معلوم خو بيا هم هره ورځ راځي •

خينس ناکراره شو •

کله راځي او څه وخت راځي ارمنه !

ارمن ورته په خندا شو •

د ځواک ديوتا ! د صبر نه کار واخله ، همدا وخت دهغې د ګلونو د ايښودو دې ، که چيرې ته همدا اوس هديره ته ولاړشې نو په يقيني توګه به دې ورسره ليدنه وشي •

خينس په ډيره بيړه وګرزيد •

زوړ ارمن ورته يو ځل بيا وويل د ځواک ديوتا ! واوره دماروې څخه يوه پښه ستا دښمنانو پرې کړې ده ، که چيرې ته هغه د هغې پريکړل شوې پښې سره يوځاي منې نوورشه ، هغه به درته هم هلته په هديره کې په لاس درشي •

خينس يې د خبرې ځواب ورنه کړ، په خپل اس باندې سپور شو او د هديرې په لور يې په ځغاسته کړ ، هديرې ته درارسيدو سره سم يې اس بيرون و دروو او بيا د قراطيس قبر ته راغې ، هلته د مړاوو ګلونو ډيرې پاڼې پرتې وې . پوه شو چې ماروه لا تر اوسه پورې دنوو ګلونو د ايښوولو له پاره نه ده راغلې . هم هلته د قبر سره نژدې ديوې ونې خواته کيناست ، اس يې همهلته د هديره نه بيرون په وښو کې څريده • خوپخپله د ونې په خوا کې د کيناستو سره سم خوب يوړ •

***

ارمن دخپلې کوټې څخه را ووت او نیغ د اصطبل په لور ورغې ، په دې وخت کې یې ماروه هم وکتله ، هغه د خپلو ییساکیو په مرسته د سراې تر مخه تیریدله ، ارمن ورغږ کړ ، هغه د سراې د دروازې تر څنګ و دریده ارمن هم راییرون شو ۰

بیا ترې لږ څه په پلټونکې توګه وپوښتل : لورې چیرې ځې ؟

ماروې په خپلو ییساکیو باندې خپل توازن سم کړ وویل : دمور په قبر باندې دګلونو د ایښوولو له پاره هدیرې ته ور روانه یم ۰

ته خو دیره مخکې له دې ځایه دقبرستان په لور د تللو له پاره وتلې وې ، تر اوسه چیرې وې ؟

نن په هغه نژدې دکان کې ګلونه نه و، په دې خاطر د ګلونو داخیستلو له پاره بازار ته ولاړم ، په دې خاطر راباندې لږ څه ناوخته شو ۰

ته ولې دومره لرې ور تللې خو ماته به دې ویلې وو ما به راوړې وو ۰

اوس خومې راوړې دې کاکاجانه !

لورې ! خینس راغلې و ۰

ماروې تکان وخوړ ۰

خینس راغلې ۰۰۰ هغه اوس چیرې دی ؟

ایا د هغې سره کتل غواړې ؟

هو ! کاکا ! نن به هرو مرو د هغه مخې ته ورځم ۰

ایا پخپله وعده باندې ولاړه نه یې ؟

د ماروې سر را ټیټ شو وویل : زه اوس ددې ژوند نه تنګ ته راغلې یم کاکا جانه ۰۰۰ نن به زه هرو مرو د هغه سره وینم ۰ که چیرې د پښې د پریکیدو سره سره هغه ما قبلوي نو دا به زما خوش قسمتي وي ، خو که چیرې مخ یې را نه واړوو نو بیا به زه خپل ځان له منځه یوسم ۰

کاکا ! ماته نور دا ژوند خوند نه راکوي ،ما ته ددې پیکه ژوند او ځانتوالي څخه نور نفرت راځي ۰۰۰اوترې بیزاره شوې یم ۰

بیا ارمن ورته په خندا شو وویل : زه درباندې زیرې کوم ۰۰۰۰

زما د بدبختۍ له پاره به هم کومه خوشخبري وي ؟

خینس اوس هم له تاسره محبت کوي .

ته څنګه وپوهیدی ؟

هغه همدا اوس اوس زما دسراې نه ووت او ستاسره دکتلو له پاره د هدیره په لور تللې دې، ما هغه ته وویل چې ستا دښمنانو دماروې یوه پښه پرې کړېده .

بیا هغه څه ځواب درکړ .

هغه وویل چې که چیرې دماروې پښه پریکړل شوي وي نو زه به ورسره اوس دپخوا په نسبت ډیره مینه اومحبت کوم .

ماروه د ګل په څیر وغوړیده .

ارمن کاکا ! ریښتیا وایې ته .

زه به ولې خپلې لور ته غلطه خبره کوم ... ورشه اوخینس هلته په قبرستان کې ستا دراتلو انتظار باسي ، خو ما هغه ته نه دي ویلي چې ماروه دلته زما سره په سراې کې پاته کیږي ، همدومره مې ورته ویلي دي چې ماروه هره ورځ دخپلې مور قبر ته ورځي او دګلونو ګیډۍ پرې ږدي ، دا چې دکومه راځي اوچیرته پاته کیږي ، په دې اړه ماته هم معلومات نه شته .

ماروه په بیړه بیړه مخکې ولاړه .

زه به ورسره همدلته په هدیره کې ووینم ، کاکا جانه

ارمن هم ډیر زیات خوشحاله شو .

ورشه زه ستا له پاره دخوشحاله ژوند وراند وینه کوم ...

***

کله چې ماروه هدیره ته را ورسیدله نو د هدیره نه بیرون یې د خینس څریدونکې اس وکتلو او ویې پیژانده ، زړه یې په زوره زوره ټکان خوړ اوپه دې فکر کې وه چې څه ډول د خینس مخې ته ورشي ، په هر حال په ستونزمنه توګه هدیرې ته ور ورسیده .

کله چې دخپلې مور قبر ته راغله نو ویې کتل چې هلته خینس یوې ونې ته تکیه کړې او ویده شوی دی ، ماروه ولاړه او خپلې مور په قبر یې ګلان

و شیندل اوبیا راغله او دخینس مخی ته ودریده اوپه ډیره مینه او محبت یې ورته وکتل .

د خینس د حالت نه ډاګیزیده چې هغه ډیر ستومانه او وږې دې ، ویښتان یې خیرن اوکالي یې شکیدلي و، د هغه په اوږی ناست شاهین ماروی ته په ډیر دقت سره کتل .

ماروې په ولاړه ولاړه خینس ته غږ کړ خینس .... خینس ..... وګوره ، زه ماروه ستاتر مخه ولاړه یم .

خوخینس همغسې په خوب کې ډوب پروت و .

ماروه یې تر مخه داسې کیناستله لکه څوک چې د لمانځه له پاره کیني خپل بیساکي یې یوې لورې ته کیښوول اوبیا یې خینس ته ورغږ کړ د قوت دیوتا ! .... ایا ته اوس هم زما سره مینه اومحبت کوې ؟

خینس اوس هم همغسی چوپ و ، کیدای شي په ژور خـوب بیده شـوی و.

ماروه ورته په زوره ورغږ کړ خینس ! راپورته شه .

کله یې چې وکتل چې هغه همغسې پروت دې نو له لاسه یې ونیوه اوپه زوره یې و خوځوو .

اې د قوت دیوتا! .... وګوره چې یوه بیکسه پیغله له تا څخه دخپل محبت خیر غواړي ، وګوره اې دقوت دیوتا ....

خینس د خپل درانه خوب نه کرار کرار سترګې راپرانستلې او د ماروې په لور یې وکتل ، لومړی یې سترګې د هغې په بیساکو ولګیدې ، رنګ یې تک ژیړ شو ، بیا یې سترګې د ماروه په پریکړل شوې پښې ولګیدې، هغه د بُت په څیر و ګرزید اوهغې ته یې کتل او خپلې شونډې یې چیچلې ، د ماره سر را ښکته شوې و اودسترګو نه یې اوښکې روانې وې .

خینس ورته په ژرغونې اواز وویل ماروې ! ایا ته زما څخه نفرت کوې ؟
خینس ! ته زما روح یې او هیڅ بدن د خپل روح څخه نفرت نه شي کولی .

ماروی ته دا دومره موده ولې زما ښځه پټېدې ، ما ستا په خاطر هر ځاې ولټوو، زه ستا د پیدا کیدوپه خاطر شومان ، صغایان ، ترمز ، بلخ ، بخارا ، کش ، سمرقند ، اوحتې چې خوارزم ته هم ولاړم • هلته دې نیا سره لیدل کتل وشول •

ماروه حیرانه شوه او سر یې را پورته کړ •

هغه اوس چیرې ده ؟

هغې ستاسو په تباه شوي محل کې ځانته د وښو یوه جونپړۍ جوړه کړې وه او ستاسو انتظار یې کاوه ، خوکله چې ما ورته وویل چې قراطیس وژل شوې ده او ماروه له ما چیرې ورکه شوې ، نو دغه غم یې و نه شو زغملې او هملته په ناسته ناسته یې ساه ورکړه ، ما هغه هم هلته په هغه جونپړۍ کې ښخه کړه •

ماروې په ژړا پیل وکړ •

خینس یو ځل بیا ورته ورغږ کړ •

ایا اوس له ماسره ځې اویا هغه ځاې ته بیرته ورځې دکومه چې راغلې یې

ماروې خپلې اوښکې پاکې کړې او په سلګیو کې یې وویل : زه د ازل ښځه ستا یم ، د قوت دیوتا ••• خو که ته ما له ځانه سره بوځې هله ••• بیا خو به زه خپل ځان ډیر خوش قسمته و ګڼم ، ستا ښځه په بیلتون چې کوم عمر په ما تیر شوي دې هغه زما دژوندانه ډیر تریخ عمر وو•

که چیرې خبره همداسې وه نو بیا ولې زما ښځه پټېدې ؟

دیښې دپریکیدو وروسته را سره دا ویره وه چې هسې نه چې ته له ما ښځه نفرت وکړې ، زه په ژوندانه کې هر غم زغملې شم خو ستا نفرت اوکرکه نه شم زغملې •

خینس اوس خوشحاله و ، راپورته شو ، لومړی یې بیساکي را واخیستل اوپه خپل لاس کې یې و نیول، بیا یې ماروه دلاسه و نیوله اوراپورته یې کړه • ماروې خپل دواړه لاسونه د هغه په غاړه کې اچولي و او د هغې په سینه یې سر ایښودې و اوسترګې یې پټې کړې وې •

خینس هغه دقبرستان څخه په غیږ کې راوویستله . بیا یې په اس کینوله اوتر شا یې کیناست او خپل یو لاس یې دهغې دخوندي ساتلو په خاطر دهغې په اوږې باندې واچوو او بیرته دنسف ښار ته راغلل او دارمن سرای ته ورننوتل •

ارمن همله ته په انګړ کې ولاړ و، کله یې چې دوې دواړه یو ځای خندانه وکتل نو پخپله یې هم په خندا پیل وکړ ، الله تعالی خبر چې دڅومره مودې وروسته به ارمن د ماروه په خوله خنداکتلې وي •

لومړی خینس د اس نه راښکته شو ، بیا یې ماروه له لاسه و نیوله او د اس نه یې راښکته کړه اوبه ډیره خوشحاله توګه یې وویل : ارمنه ! مونږ دواړو ته خوراک او څښاک را جوړه کړه ••• زه ډیر زیات وږې شوې یم •

ارمن خپل یو خدمتګار د ډوډۍ او غذا پسې ولیږه او بیا یې ماروې ته وویل کله چې ته قبرستان ته ورغلې نوخینس څه کول ؟

ماروه لږ څه شرمیدله بیا وویل : ویده شوی و•

ارمن ترې په حیرانتیا سره وپوښتل : ویـده و؟

دا ځل خینس پخپله خبره وکړه : هو! زه ویده شوې وم ، زه دماروې دراپیداکیدو په هیله ډیر ډاډمن شوې وم • د هغه وخته چې دا له ما نه جدا شوې وه ما د لومړي ځل له پاره داسې ژور او ډاډمن خوب کړې دې او که نه ددې په لټون کې مې شپه او ورځ نا ارامه وه •

ایا ماروې تاته ویلې دي چې دا دومره موده دا چیرې وه ؟

نه ، نه یې دې راته ویلي •

دا هم دلته زما په سرای کې زما د کوټې سره یوځای کوټې کې اوسیدله • اوکله به چې ته دلته راغلې نو دې به په ډیره ناکرارۍ سره ستا خبرې اوریدلې او ژړل به یې •

ولې زما مخې ته نه راتلله ؟

ویریده چې دېښې دپریکیدو وروسته به ته ورڅخه نفرت وکړې •••

ای ارمنه ! تا هم ماته نه ویل چې ماروه همدلته اوسیږي •

ماروې له ما څخه ژمنه اخیستې وه چې زه به تاته دهغې په اړه هیڅ نه وایم ، بیا راته ووایه چې ما به څنګه د وعدې خلاف کار کړې و٠

ملازم ډوډۍ او غذا راوړه او ماروې او خینس یې په چوپتیا سره په خوراک څښاک پیل وکړ٠

***

خینس اوماروه دواړه دسراې نه ووتل ، خینس ماروه له ځانه سره په اس مخته کینولې وه او په یوه لاس یې هغه نیولې وه ، اوس یې نو داس مخه دخپل کلي فریار په لور وه٠

ماروې ترې په اندیښنې سره وپوښتل : اوس چیرې ځو ؟

خپل کلې ته : هلته اوس هم داسې خلک شته چې انتقام اخیستل ترې په کار دي ٠

ماروه ورغاړېوتله٠

زه دې اوس جنګونو ته نه پرېږدم ، ټول کلې ستا دښمن دې ، زه دې نه پرېږدم چې هلته ورشې ، د خپل اس مخ دې را وګرزوه او د سردار ارطبون دکاروان په لټه کې شه ، زه او قطونه غواړو له تاسره یوځای نوې ژوند پیل کړو، زه نوره دژوند ددې ستومانتیاو څخه زړه خوړیني شوې یم ٠ خینس ؛ ماته د ارام اوسکون ضرورت دی ٠

خینس یې په مخ لاس راښکود ورته وویل : اندیښنه مه کوه ، اوس په کلې کې زما ددوستانو شمیره زیاته دی ، سردار حریم زما ملګرې دې ، اوس وخت راغلې چې د سردار وکیع سره خپل حساب کتاب پاک کړم ٠

ماروې ورته نور هم په سختۍ سره وویل : زه ویرېږم ! هسې نه چې زمونږ سره دوکه وکړل شي ٠

د زړه نه دې دا وهم بیرون کړه ، اوس حالات دېخوا په خیر نه دي ، ما د خراسان والي او د هغه ورور حبیب د فرات دسیند په غاړه دعکرا په جنګ کې له منځه وړي دي ، اوس به ان شاءالله سردار وکیع خپل ځان ځانته او یوازې ووینې ... زه د هغه څخه او د هغه دځو ملګرو څخه دقتیبه بن مسلم

انتقام اخيستل غواړم ، د هغې وروسته به دواړه د سردار ارطبون کاروان ته ورځو او بيا به د قطونې سره يو ځاې د سکون او ارام ژوند پيلوو •

ماروې يې خبره و منله •

هر څه دې چې زړه غواړې همغسې وکړه ، زه دې تر څنګ يم •

د پرلپسې ستونزمن سفر نه وروسته کله چې د بزده کلي يوې څلور لارې ته راورسيدل چې د هغې ځايه يوه لاره د خينس کلي فريار ته تلله او بله د جيحون د سيند غاړې ته ماهيانو نيونکو کلي ته ورتلله ...نو په دې وخت کې ماروې په ډيره مينه خينس ته وويل : دلته لږ تم شه !

خينس اس تم کړ وويل : خيريت دی ؟

هغه ترې په انديښنې سره وپوښتل : زه ډيره تږې شوې يم •

خينس د اس د زين سره تړلې مشکوله را پرانسته او هغې ته يې ترې اوبه ورکړې •بيا يې ترې وپوښتل : اوس ځو •

نه ، زه غواړم تاته يو څه ووايم •

نو بيا يې ووايه ، ولې ځنډ کوی ؟

هغه وخت چې زما پښه پرې کړل شوې وه او زه په خپل اس باندې بيهوشه پرته وم نو اس مې د جيحون په سيند کې اوبه څښلې ، هلته يوه بوډا ماهي نيونکې زه وکتلم او د خپله ځانه سره يې کورته يوړم او هلته يې ديوه طبيب په واسطه زما علاج وکړ ، ان تردې چې زه روغه شوم او بيا د نسف د ښار په لور ولاړم ... زه غواړم نن د هغه بوډا ماهي نيونکې سره ووينم او دغه لاره چې د جيحون دسيند په غاړه ځي دا هملته دهغه بوډا ماهي نيونکې کور ته ورځي ، هغه شبره نوميږي او ښځه يې مرجينا نوميږي ...

خينس خپل اس په همغه لاره روان کړ •

ورځه ... په همدې لاره به ولاړ شو، زه به هم دهغه بوډا ماهې نيونکې شکريه ادا کړم چې د مصيبت په وخت کې يې له تاسره مرسته کړيده •

اس په همغه لار ځغليده اوهره لمحه دسيند سره ورنږدې کيده •

***

خینس اومارووه د ماهي نیونکو کلي ته ور ننوتل او د بوډا شبره د کور تر مخه داس نه راښکته شول او دننه ور ننوتل ، په انګړ کې شبره او ښځه یې مارجنیا دواړه ناست و او دیوه پخواني جال شکیدلې ځایونه یې راټولول .

دماروې او خینس په کتلو سره د خپله ځایه راپورته شول مرجنیا ماروه په غیږ کې ونیوله او بوډا شبره یې تر څنګ خندان ولاړو .

مرجینا دخینس په لور اشاره وکړه او ورڅخه یې وپوښتل : دا ځوان څوک دې ماروه ؟

ماروې په ډیره مینه د خینس لاس په خپل لاس کې ونیوه او په ډیره خوږه لهجه یې ورته وویل : دا هغه خینس دی چې زما واده ورسره کیدونکې و .

مرجینا یې په ځواب خوشحاله شوه .

د الله تعالی شکر دی چې تاسو دواړه یو دبل سره یو ځای شوې .

ماروې ورته په شکایت کونکې توګه وویل : ما خو تاسو ته پوره طلایې سکې درکړې وې خو دهغې سره سره بیا هم تاسو پخواني زاړه جالونه را اخلی اوپیوند کوي یې ؟

مرجینا بیچاره ورته په خواره خوله وویل : هغه ټول رقم زمونږ څخه د بني تمیم څو ځوانانو په زوره واخیست . هغوې ته د کومې لورې نه داګیزه شوې وه چې مونږ دلته په خپل کور کې ماروه ساتلې او د هغې علاج مو کړې دې . دبني تمیم پنځه کسه ځوانان زمونږ کور ته راغلل ، غوښتل یې مونږ دواړه ووژني ، زما میړه یې په ډیره ناوړه توګه وواهه ، بالاخره زمونږ په عذر و زاریو او دکلي د خلکو درامنځته کیدو په خاطر مونږ ته د وژلو ګواښ وکړ او مونږ یې پریښودو ، خو په کور کې ټول هر څه یې له ځانه سره یوړل . په دې خاطر مونږ یو ځل بیا دماهیانو نیولو ته اړ شو .

خینس ورته د لومړی ځل له پاره وویل : تاسو دواړه زما سره زمونږ کلي ته ولاړ شئ ، هلته زمونږ کور دې هملته به اوسیږئ ، زمونږ باغونه دې او هغوې دومره حاصلات لري چې شل پنځه ویشت کسه پرې په ښه توګه ژوند تیرولې شې ، ایا تاسو زمونږ سره تللو ته تیار یاست ؟

هغوی دواړو په خندا سره یوه بل ته وکتل ،بیا شبره وویل : هو! مونږ دواړه به هرو مرو له تاسو سره ولاړ شو .

ایاتاسو به د بني تمیم هغه ځوانان هم وپیژني چې دلته راغلي وو او تاسو ته یې د قتل ګواښ کړې و او بیا یې ستاسو ټوله شتمني له ځانه سره وړې ده ؟

هرو مرو به یې وپیژنو .

نو بیا دواړه تیار شئ او زمونږ سره روان شئ .

کله چې شبره د خپلې کوټې په لور ورته نو ماروې ورته ور غږ کړ او تم یې کړ ، بیا یې د خپل کوټې څخه څو سیکي را وویستلې او هغه یې ورکړې اوورته یې وویل : مرجینا د سفر له پاره ځان جوړوي ، ته ورشه او دکلي دکوم کس نه ښه اس واخله ، ترڅو تاسو دواړه میړه او ښځه پرې سفروکولای شئ.

شبره نقدې واخیستې اوبیرون ووت او مرجینا په بیړه بیړه خپل ځان دسفر له پاره تیار کړ . لږه شیبه کې شبره د یوه ښه اس سره یو ځای بیرته کورته راستون شو اوبیا څلورو واړو د فریا په لور کوچ وکړ .

***

خینس ماسپښین ناوخته په داسې حال کې خپل کلي ته ورسید چې ماروه یې په خپل اس له ځانه سره مخکې کینولې وه ، شبره او مرجینا دواړه په یوه بل اس باندې سپاره وو، په کلي شور و غوغا ګډه شوه .

سردار حریم او د هغه د ملاتړو کورنۍ ،ښځې او کوچنیان دکورنو په سرو راپورته شول اوپر دوې یې د ګلانو پاڼې شیندلې او ددوې دښه راغلاست سندري یې ویلې ، ددوې د کتلو سره سم هغو ښځې چې د سردار وکیع ملاتړې وې هم د خپلو کورونو په سرو راپورته شوې او خینس له پاره یې د ښه راغلاست سندرې وویلې ، کله چې هغوې کلي ته ورننوتل نو په کوڅو او لارو کې داسې نغمې او سندرې وې لکه یو ناڅاپه چې د اوږو شرارې را خوتیدلي وي .

ددې قبیلي شاهینه ! مونږ تاته ښه راغلاست وایو .

ستا دییلتون دغه وخت پر مونږ داسې تیر شو لکه په سوزیدلې صحرا کې د اوبو تږې •

اې د ازل نه زمونږ ددښمنانو له منځه وړونکې روحه ! مونږ تل ستا دسلامتئ له پاره دعا کوو •

دکعبې په رب ! ستا د شاهین الوت تیز اوستا د زنځیر ګذار په دښمن باندې درونددې •

اې زمونږ سره کینه کونکو خلکو ! واورئ ! نن مونږ خپل شاهین ته ښه راغلاست وایو •

خبردار ! پس له دې به زمونږ د شاهین سره دښمني نه کوئ ، اوکه نه دقبیلې په زرګونه تورې به د هغه بدبخت په خلاف راپورته شي چې دخینس بن یوسف سره کینه او دښمنې وکړي •

کله چې خینس دخپلو ملګرو سره یو ځاې د سردار حریم دکور مخې ته راغې نو هلته یې بې شمیره خلکو یې استقبال وکړ •

ښځې پورته د کورنو په چتونو ناستې وې او لاندې یې په میلمنو باندې ګلونه را شیندل ، سردار حریم ورمخته شو او ورتــه وویل : ای زما زویه ! د دیــری مودی وروسته دې خپل کلي ته د راتګ هر کلې کوم •

سردار حریم هغه په غیږه کې ونیوه او کله یې چې هغه له ځانهسره خپلې حویلئ ته یوړ نو دیوه اړخه سردار وکیع خپل اس را ځغلاوه او راغې ، د هغه سره څو کسه وسلوال ځوانان هم ملګري و، د خلکو په هجوم کې راننوت او په چغو چغو یې وویل : دا خینس بن یوسف څا بیرته کلي ته راوستې دی ؟

سردار حریم خپله توره را وویستله ، خینس هم خپل زنځیر په لاس کې و نیوه او ډال یې سنبال کړ •

د سردار حریم په مخ باندې داسې سختي راغله لکه یو ښکاري یې چې دخپل ښکار په وخت کې رابرسیره کوي• دهغه مخ د غصې نه داور په څیر تک سور شوی و•

خلکو دسردار حریم ددغه حالت نه داسې انګیرلې وه چې ګویا نن ورځ به دقبیلې ددواړو سردارانو تر منځ پریکنده پریکړه کیږي •

سردار وکیع یو ځل بیا چغه کړه : ما پوښتنه کړې چې چا خینس بن یوسف دی کلې ته راوستی دی ؟

سردار حریم خپله توره په هوا کې خوځوله او د خلکو دهجوم څخه ور تیر شو او د وکیع تر مخه ودرید اوو غرید •

ما خینس بن یوسف دې کلي ته راوستې دی •

دسردار وکیع حالت اوس لکه د زخمی شوې مار په څیر و •

د چا نه دې پوښتنه کړې ؟

دسردار حریم په اواز کې هم ډیره سختې راپیدا شوې وه وویل : د اس نه راښکته شه ، بیا خبره کوه ، ته د بنې تمیمو دسردار ، سردار حریم سره خبرې کوی •

په دې وخت کې خینس د جارود ، خزیمه او څو نورو وسلوالو ځوانانو سره یو ځاي د سردار حریم تر خوا و دریدل •

سردار وکیع د مست اوښ په څیر و برید وویل : ددې پریکړه به همدا نن کیږي چې په مونږ دواړو کې د بني تمیم سردار کوم یودی ، زه همدا اوس د قبیلې خلک را ټولوم •

سردار حریم ورته په سختۍ سره وویل : د قبیلې ټول ځوانان او زاړه سره راټول کړه اوبیا د خپلې بې وسۍ ننداره وکړه •

سردار وکیع په خپل څنګ کې ولاړ یوه ځوان ته اشاره وکړه وویل : د قبیلې ټولو ځوانانو او زړو تــه ووایه چې د روزنې په میدان کې سره راټول شي •

سردار حریم هم د خپل ځان تر څنګ ولاړ جارود بن مصعب ته وویل :

جاروده ! ته هم د بني تمیم ځوانانو او زړو ته ووایه چې هلته د روزنې په میدان کې سره راټول شي •

وکیع یو ځل بیا په رعب سره وویل : حریم ! نن به زه تاته د ټولې قبیلې د خلکو په مخکې ستا ددې ګستاخۍ په اړه سزا درکوم .

سردار حریم خپله توره په هوا کې ګرځوله او د وکیع په لور ورنژدې شو .

د یوه سردار په څیر زه تاته حکم کوم چې د اس نه راښکته شه اوبیا خبره کوه اوکه نه زه به دې همدا اوس اوپه همدې ځاې کې ځټ دربرې کړم .

د سردار وکیع یو شمیر ملګرو تورې را وویستلې اورامخته شول ، دسردار حریم څو کسو وسلوالو هم دخپلو تورو سره دهغوې مخه ډب کړه ددوې ټولو تر مخه خینس و ، چې خپل زنځیر او ډال یې پـه لاسو کې نیولی و .

کله چې وکیع دا حالت وکتل نو خپل اس یې بیرته تاو کړ او په لوړ غږ یې وویل : زه دلته په کومه غلط فهمۍ کې د وینو تویول نه غواړم ، ددې ټولو خبره پریکړه به په روزنیز میدان کې کیږي د ټولې قبیلې د خلکو تر مخه کیږي .

سردار وکیع دهغه ځایه ولاړ .

سردار حریم بیرته راستون شو او خینس یې له لاسه و نیوه او ورته یې وویل : راځه چې ځو .....

کله چې دواړه دماروې خواته راغلل نو سردار حریم ماروې ته وویل : ته دننه ولاړه شه او ارام وکړه ...

سردار د قبیلې یوشمیر ښځو ته د ماروې د ارام کولو له پاره حکم وکړ . چې په ځواب کې یې په ډیره بیړه څوکسه ښځې رامخته شوې ، هغوې ماروې ته لاس ورکړ ، د اس نه یې راښکته کړه او دننه کوټې ته یې روانه کړه کوټې ته د ننوتلو سره یې مخ را واړوو او د خینس اوسردار حریم له پاره یې د زړه له کومې دعاوکړه ...

الله تعالې دې ستاسو حامې او مرستندویه اوسي .

***

د قبیلې په هغه میدان کې ، چیرې چې ځوانانو ته په کې عسکري روزنه ورکول کیږي ، ګڼ شمیر خلک را ټول شوي و ، د قبیلې ښځو هم دخپلو کورونو دچتونو څخه دهغوې ننداره کوله .

ماروه هم د نورو ښځو سره یو ځاې راغلې وه او په ډیره ناکرارۍ سره یې دمیدان په لور کتل ،خو سترګو یې یوازې د خینس نه طواف کاوه • خینس په خپل اس سپور دمیدان په یوې خوا کې د سردار حریم سره ولاړ و•

ټولو خلکو خپل اسونه د میدان په یوې خوا کې درولي و او پخپله د میدان په څلورو خواو کې سره ناست و•

د میدان منځنۍ برخه خالي وه ، څرنګه چې دوې هر و څو کسو په خپلو منځو کې سره خبرې کولې نو په دې خاطر یو دبل خبرې نه اورېدل کیدې •

په دې وخت کې سردار وکیع راپورته شواو د میدان منځته راغې او ودرید خلکو داسې فکر وکړ چې کومه خبره به کوي ، په دې خاطر ټول چوپ شول •

وکیع په لور اواز وویل : خلکو! خینس بن یوسف دخپلې قبیلي نه باغي دې ، د هغه په خلاف ډیر زیات الزامات دې ، چې دهغې سزا مرګ ده اومونږ د هغې په لټه پسې ؤ ، نن حریم هغه زما داجازې پرته دلته کلي ته راوستې دې ،په دې خاطر زه په دې جرم کې حریم هم دهغه باغې ملګرې ګڼم ، اوس تاسو ! اې د قبیلي خلکو! پریکړه وکړئ چې زه دې دواړو باغیانو ته څه سزا ورکړم ؟

په دې وخت کې یو درونډ وزنه ځوان راپورته شو •

د حریم او خینس دواړو سرونه دې پرې کړل شي او د کلي په دروازی دی را وځړول شي •

د بله اړخه یو ځوان پاڅید او په سخته او قهرجنه لهجه یې وویل :

د سردار حریم او خینس د سرونو دپریکونکو سرونه به پرې کړل شي • مونږ وکیع د سردار په توګه نه منو ، مونږ حریم د بنې تمیمو یوازې سردار منو، سردار حریم اوخینس یوهم مجرم نه دی ، بلکه اصل مجرم وکیع دی چې د قتیبه بن مسلم ، زمونږ د خور عتیقه بن حریم او زمونږ د وررو حرب او د خینس د ټولې کورنۍ نه پرته د بې شمیره خلکو قاتل دی ، په دی میدان کې به ددی قاتل له پاره سزا تاکل کیږي •

د سردار وکیع رنګ ژېړ و تښتید •

سردار حریم هم دخپله ځایه راپورته شو او د میدان منځته راغې اوپه لوړ اواز یې وویل :

ای زما د قبیلې خلکو! زه حریم بن عقبه یم ، زما پلار سردار و اوهم تاسو خلکو زه هم خپل سردار ګرزولې یم ، که چیرې تاسو ما خپل سـردار نه ګڼئ ، نو په الله تعالی سوګند چې زه به په خوشحالی سره ستاسو تر منځ دیوه عام انسان په څیر ژوند تر سره کړم ، خو اوس به په دې قبیلې کې یوازې یو سردار وي ، زه یا وکیع نو په دې خاطر په لوړ اواز سره ووایاست چې تاسو څوک خپل سردار ګڼئ ؟

خلکو په لوړو اوازو سره شور پیل کړ •

هم ته د قبیلي سردار یې ••• مونږ د وکیع څخه کرکه لرو او له تا غواړو چې وکیع ته زمونږ د سترګوتر مخه دهغه د جرمونو سزا ورکړې •••

څو کسو د سردار وکیع په حق کې هم خبرې وکړې ، خو د هغوې اوازونه د نورو په اوازونوکې ډوب شول •

سردار حریم په خپل څنګ کې ولاړ وکیع ته غاښوونه و چیچل اوورته یې وویل : خپله بې وسي ووینه ، ستا په ځاې خلکو ماته د سردارۍ ویاړ راکړ اوس نو تاته ستا د جرایمو دسزا له پاره زه د قبیلې شاهین ،خینس بن یوسف ټاکم ، تر څو هغه د یوه منصف قاضي په توګه پریکړه وکړي ، تر ټولو زیات خو تا دهغه دکورنۍ سره ظلم کړې دې او هم هغه ستا د ګناهونو څخه پوره پوره خبر دې ، همغه به تاته سزا ټاکي •

سردار وکیع د کاذبې هیلی به اسره وویل : دغو څوکسانو چې ستا په اړه خبره وکړه ، نو داسې یې مه ګڼه چې ته زما څخه په دې قبیله کې ډیر محبوبیت لرې ، زه چې کله په خپل غضبناکه اواز باندې هغوې ته حکم وکړم نو هغوې به یې هیڅکله انکار و نه کړي •

سردار حریم ورته په خوړونکې سترګو وکتل وویل : ته هسې د غلط فهمۍ ښکار شوې یې ، تا چې د کومو درهمو په مقابل کې خلک اخیستل ،

دهغې ځلا اوس له منځه تللې ده ، خلک اوس پوهیږي چې تـه یو مکار انسان یې ، دا غلط فهمي هم له ځانه لـری کړه چې ډیـر خلک ستا ملاتړي دي ...

سردار حریم په لوړ اواز وویل : ای د قبیلي خلکو ! هغوي چې زما ملاتړي دي هغوي دې دمیدان په یوه اړخ کې کیني او څوک چې د وکیع ملاتړي دي هغوي دې په بل اړخ کې ، زه تاسو ته واک درکوم چې په خپله خوښه پریکړه وکړئ ، دچا د زور اوځواک نه و نه ویریږئ .

د قبیلي ټول نارینه یو ځل راپورته شول او د هغوي ډیره کي د سردار حریم په لوړ و دریدل . خو دسردار وکیع په لور ډیر لږ خلک پاته شول.

دمیدان هغه لوري ته چي خینس په کې ولاړ و سردار حریم ورغږ کړ او ویې ویل : خینس بن یوسف! زما خواته راشه .

خینس دخلکو د کڼې ګوڼې نه بیرون راووت او په چټکه توګه د سردار حریم خواته راغې او د هغه تر څنګ و درید .

حریم ورته په لوړ اواز وویل : اې بنې تمیم ! زما د اند له مخې ، وکیع مجرم او ګنهګاره دې ، زه په دې میدان کې خینس بن یوسف دهغه له پاره منصف ټاکم چې هره سزا چې دا یې ورته ټاکي زما له پاره منظوره ده .

سردار حریم شاته شو ، خینس خپل اوسپنیز زنځیر په ځمکه را ښکوده ، مخې ته ورغې اوسردا ر وکیع ته یې وویل : وکیع ... بنې تمیم زه ستا له پاره منصف ټاکلې یم ، زه تاته حکم کوم چې هغه ځوانان را په ګوته کړه چې د اسلامي امت د سالار او ویاړلي سالار قتیبه بن مسلم قاتلان دي .

وکیع چوپ ولاړ واو د ځنګلي غوایې په څیر یو لوري اوبلې ته کتل .

وخت مه ضایع کوه وکیع ... هغه څه مې چې درته وویل ،سمدلاسه پرې عمل وکړه او کنه ته خوپوهیږې ، زما نوم خینس بن یوسف دې او زه دخپلې خوښې په کار کولو ښه پوهیږم ، ته ښه وینې چې زنځیر مې په لاس کې دې او ددې یوګذار د انسان کوپړی دوه ځایه شکوي.

وکيع کرار کرار د ميدان ښي لورې ته ور روان شو، تر شا يې خينس هم ور روان وو ، وکيع په خوله د هغوې د نومونو داخيستو پرته د ځو ځوانانو په لور اشاره وکړه او هغوې راپورته شو او جدا و دريدل •

خينس په لوړ اواز غږ وکړ: جارود بن مصعب ! ديخوا زما لورى ته راشه •

کله چې جارود د خينس لورې ته راغې نو خينس ورته وويل: دا ټول د قتيبه بن مسلم رحمه الله قاتلان دي ، دوې ټول د هغه مخامخ ديــوال سره يو ځاي و دروه •

جارود هغوې له ځانه سره بوتلل •

خينس يو ځل بيا وکيع ته وويل : اوس نو هغه ځوانان را وکاږه ، چې دماروه پښه يې پرې کړې ده •

وکيع د بې وسو په ځير وويل: هغوې خو ماروه د مقابلې په وخت کې له منځه وړي دي •

اوس نو هغه ځوانان را وکاږه د چې د ماهي نيونکو کلي ته روغلې وو او د هغه بوډا ماهي‌نيونکې او د هغه د ښځې ټول مال اوشتمني يې له ځانه سره راوړې او هغوې ته يې دمرګ ګواښ کړې و ، دا په دې خاطر چې هغوې دواړو ماروې ته پناه ورکړې وه او د هغې د پښې علاج يې کړی و •

وکيع ځو کسه نور ځوانان را وويستل ،هغوې هم جارود له ځانه سره روان کړل او د هغو نورو ځوانانو سره يې يو ځاي و درول •

خينس ورته بيا وويل: وکيع ، زما خبره واروه ! ته دقتيبه بن مسلم قاتل يې ، تــه زما دکورنۍ قاتل هم يې ، تــه د سردار حريم د لور عتيقي او زما دورور حرب قاتل هم يې ، ددې جرايموځخه د خــلاصون له پاره کوم دليل لرې ؟

وکيع هيڅ ځواب نه درلود ، نو د خينس د اشارې سره سم جارود هغه هم هلته دهغو نورو کسانو سره يو ځاي دديوال خواته و دروو •

خینس د جارود په غوږ کې څه وویل ، هغه دمیدان نه بیرون ولاړ او د بیرته راستنیدو په وخت کې یې له ځان سره څو کسه ځوانان هم را وستل چې بربنډې توري یې په لاسو کې نیولې وې ٠

په دې وخت کې د وکیع په ګډون ټول مجرمین دديوال تر څنګ ولاړ وو او څټونه یې ښکته اچولې و، جارود دهغو ځوانانو سره یوځای دهغوی لورې ته ورغې او دټولو څټونه یې ووهل، په دې وخت کې ناست ټول خلک بیرته خپلو خپلو کورونو ته ستانه شول ، هیچا هم اعتراض ونه کړ ٠

***

خینس د سردار حریم سره یو ځای دهغه حویلۍ ته ورننوت ، ماروه ، شبره او مرجینا دپخوانه هلته موجود وو٠

سردار حریم یوې وینځې ته ور غږ کړ ، هغه یې را وبلله او په ډیره نرمه توګه یې ورڅخه وپوښتل : ایا میلمنو څه خوړلي ده ؟

وینځې خپل سر را ټیټ کړ او په ډیر ادب سره یې وویل : هغه بوډا او دهغې ښځې چې نومونه یې نه راځي ، خپله خوراک څښاک کړی دی خو هغه ښکلې پیغلې چې یوه پښه یې پرې کړل شوې ده ، دخوراک څښاک څخه انکار کړی دی ٠

سردار حریم ترې په اندیښمنې توګه وپوښتل : ولي ٠٠٠٠٠څه علت دې ، څه شکایت لری ؟

سرداره ! هغې ماته کوم علت نه دې ویلې او نه یې کوم شکایت کړې دې

سردار حریم د خینس سره یوځای یوې کوټې ته ورننوت اوویې ویل : هغه دلته را وبوله ٠٠٠

وینځه ولاړه ، لږه شیبه وروسته بیرته راستنه شوه ، ماروه یې هم له ځانه سره راوستله ، کله چې د سردار کوټې ته راننوتله نو سردار پورته شو او خپله چوکۍ یې هغې ته پریښوده او هغه یې پرې کینوله ٠

ماروې بیا د خینس په لور کتل ، شاید چې غوښتل یې څه ورته ووایې په همدې وخت کې سردار حریم ورته وویل : زما لور ولې څه نه ده خوړلې ؟

ماروې ورته په خوله څه ونه ویل خو په ډېره ناکرارۍ سره یې اړخ بدل کړ او د خینس په لور یې وکتل ، کیدای شي چې هغې په کومه خبره دهغه پوهول غوښتل •

خوخینس په خندا د هغې لورې ته کتل ، په دې وخت کې سردار یوځل بیا وویل : زما لور خو زما دخبرې ځواب را نه کړ •

ماروې په ډېره حیا سره وویل : سرداره ! خینس دلته نه و ، نو ما به څنګه ځانته څه خوړلې وه •

سردار حریم یې په خبره په زوره زوره وخندل •

او بیا یې وینځې ته وویل : خرما ••• ته زما د لور په خبره تر اوسه هم نه یې پوه شوې ، ورشه او ډوډۍ او غذا همدلته راوړه ، زما لور به زمونږ سره یوځای وخوري •••

خرما هم ډېره مطمئنه معلومیده ، مسکۍ شوه اوبیرون ولاړه ، بیا یې د نورو غلامانو په مرسته د خوراک څښاک لوښي راوړل اود هغوی تر وړاندې کیښوول •

***

کله چې خرما لوښي بیرته ټول کړل او له ځانه سره یې یوړل نو سردار حریم ماروې ته مخ کړ او ورڅخه یې وپوښتل : لورې تاته به معلومه وي چې زما هم یوه لور وه چې عتیقه نومیده •••

خینس ډیر غمژن شوی و•

ماروې هم په ناخوالې توګه ځواب ورکړ : بلکل سرداره ، ماته معلومه وه ••

ایا تاته دا هم ډاګیزه شوې وه چې هغې د خینس د ورور حرب سره د واده کولو پروګرام درلود •

هو ! سرداره ! ماته دا خبره هم ډاګیزه شوې وه •

سردار حریم په ډېره ستونزمنه توګه په خپلو احساساتو کنټرول پیداکړ اوپه داسې حال کې چې شونډې یې چیچلې ، ویې ویل : دې بدبخته خلکو خو نه عتیقه له ماسره پرېښوده او نه یې حرب بن یوسف ته ••• اوس زه په

دې نړۍ کې ځانته یم ، زه هغه بدقسمته پلار یم چې د خپلې لور دواده خوشحالي مې هم ونه کتله ، اوس ته دې کور ته راغلې یې ، هم ته زما لور یې اوهم ته زما عتیقه یې .... نن ماښام ...

دسردار حریم اواز دهغه سره یاري نه کوله .

هو! نن ماښام به ستا او د خینس ترمنځ واده کیږي ، ډیر په ناز و نخرو سره ، بلکل همغسې لکه څنګه مې چې د عتیقې دواده کولو پروګرام درلود .

د سردار حریم اواز ډوب شو او چوپ شو .

د خینس او ماروې سرونه هم ځوړند شوې وو، سردار حریم چې داوښکو له لاسه لږ څخه سر تیتي شوې و همداسې پاته شو بیا معلومه نه شوه چې څه پرې وشول چې سمدلاسه یې ټولو غلامانو اووینځو ته ورغږ کړ او ټول یې راوبلل .

کله چې هغوې ټول راغلل نو سردار حریم پورته شو ،سترګې یې پاکې کړې او په خندا یې وویل : حویلی د ګلونو او مشالونو په واسطه ښایسته کړئ ، نن زما د لور ماروې اوخینس د واده پروګرام دې ، د کلي ټولو خلکو ته وواياست چې کلي د ستورو اوسپوږمۍ په څیر ښایسته کړي ، د قبیلي ښځو ته وواياست چې نغمې ووایی .... نن زه ډیر خوشحاله یم ، دومره خوشحاله ، چې شاید بیا په ژوند کې داسې خوشحالي ونه وینم ، نن به زه په غریبانو باندې د درهمونو باران وکړم .

د واده نه وروسته تاسو ټول ازاد یاست ،له تاسو چې څوک هرچیرې ځې په پوره خوشحالۍ سره تللې شي، زه یې تم کونکې نه یم ...

یو غلام رامخته شو اوپه ډیر حسرت سره یې وویل : سرداره ! مونږ هم تا سره پاته کیږو ...

سردار وږته وخندل ، له تاسو چې څوک له دې ځایه تلل نه غواړي نوهغوې به زما د زوې او لور په څیر دلته زما سره اوسیږي او هغوې به زما په میراث کې زما د اولاد په څیر برخه اخلي ...

سردار پخپله هم مسکې و او خرما ته يې وويل : ماروه د عتيقې کوټې ته بوځه او د هغو کاليو نه ورته ښه کالي و - واغونده چې عيتقي د خپل واده له پاره تيار کړي و ، ځکه دا به اوس د خينس تر مخه د واده نه وروسته د ناوې په څېر را څرګنديږي ...

ماروه په خندا شوه او د خرما سره يو ځاي ولاړه .

ټول غلامان او وينځي بيرون را ووتلې ، څو کسو د کور په ښکلولو پيل وکړ او څه نور کسان د کلي خلکوپسې ورغلل تر څو د خينس او ماروه تر منځ د واده کولو اطلاع ورکړي .

***

د قبيلي د ښايسته پيغلو يوه ډله چې زرين کالي او ښکلي لباسونه يې په غاړه درلودل د سردار حريم کور ته را ننوتله ، د هغوې په لاسو کې ديلارونه ، ډولونه او د خوشحاليو نور وسايل وو ، په انګړ کې د ګرزيدو راګرزيدو سره يو ځاي يې په سندرو ويلو او ديلارونو او ډولونو وهلو پيل وکړ .

همغه سندرې چې دسهار خاپيرۍ يې وايې .

هم هغسې سندرې چې بازګشت يې په فضا کې ملغلرې شيندلې ....

اې حسيني .....! ته د مسافر په څېر دې کلي ته راننوتلې يې او د دروند زنځير لرونکي او درنې تورې وهونکي زړه دې ګټلې دې ، تا زمونږ د قبيلي لمر انتخاب کړې ده ، تاته دی ستا دغه انتخاب مبارک وي ، تاته دې زمونږ شاهين مبارک وي ، کله چې درياندې کوم تکليف راشي او يا زمانه خلک درياندې تيرې وکړي او يا وخت ستا دخوښې په خلاف ولاړ شي نو اې حسينې ! ته خپل شاهين ته ورغږ کړه ، همدا به دد ښمن نه تا خوندي ساتي ، او تابه دامن او سکون په فضا کې له ځانه سره پورته کړي .

په انګړ کې نجونو سندرې ويلې ، په دې وخت کې يو غلام هغه کوټې ته راننوت چې سردار حريم او خينس په کې ناست وو ، هغه په انديښمنه لهجه خپل سردار ته وويل : سرداره ! بيرون دوه کسان غواړي له تاسره ووينې .

سردار راپورته شو .

څوک دی ؟

اجنبیان دي او د خوارزم څخه راغلي دي ·

سردار حریم په فکر کې ډوب شو ·

د خوارزم نه به څوک راغلي وي ؟

د هغوې دډلې څخه یو زوړ کس خپل ځان دماروه ماما بولي او بل یې د هغه زوې دی ·

هغوې دننه راوله ·

هغوې یو دعوا کوي ·

د څـه دعوا ؟

هغه بوډا وایې چې ماروه نه یوازې زما خورزه ده بلکه زما د زوې کوژده شوې هم ده او هغوې دواړه د خپله ځانه سره دماروې د بوتلو په خاطر راغلي دي ·

بوډا وایې چې په ترمز کې یې خور ده او د همغې له اړخه مونږ ته ډاګیزه شوې ده چې ماروه دلته راوستل شوې ده ، دا دواړه فارسیان دي او وایې چې زمونږ د دین له مخې د ماروې رشته پخه شوی ده اوپه هیڅ قیمت نه شي ماتیدلې ···

سردار حریم په حیرانتیا سره د خینس په لور وکتل · هغه اندیښمن او په فکرونو کې ډوب معلومیده ، سردار خپل سر راپورته کړ اوغلام ته یې وویل : هغوې دواړه دلته را وله ·

غلام ولاړ او هغه دواړه اجنبیان یې له ځانه سره کور ته راوستل او همغې کوټې ته یې روان کړل ، په دوې کې یو زوړ سړې و چې ویښتان یې سپین شوي و او بل ځوان هلک دهغه زوې و، ځوان ښه ښکلې او تنومنده انسان و حریم ورته چوکۍ وړاندې کړې او هغوې یې پرې کینول ·

سردار ترې په ډیره نرمه توګه وپوښتل : ایا ته دماروې ماما یې ؟

هغه زوړ لږ څه وضاحت وغوښته ·

ایا زه د بني تمیم د سردار سره خبرې کوم ؟

په یقیني توګه ته د بني تمیم دسردار سره خبرې کوې ·

نو بیا زه دماروې ماما یم او دا زما زوی د هغې سره کوژده شوې دې ، د خپل دین له مخې مونږ دوې دواړه هغه وخت یو دبل سره کوژده کړې وو چې دوې لا کوچنیان وو ، ما د خپلې خور ښځه چې په ترمز کې اوسیږي اوریدلي دي چې یو ځوان چې خینس بن یوسف نومیږي ، زما خورزه یې په زور دخپل کور ښځه را پورته کړې ده ، ایا زه کولې شم چې هغه ځوان ووینم ...

سردار د خینس په لور اشاره وکړه وویل : دا ستا تر مخه ناست دی .

هغه بوډا خینس ته وویل : اې د نورو په لونو په زور ولکه کونکیه ځوانه ! پورته شه او زما د زوې سره مقابله وکړه ، که چیرې ته بریالي شوې نو بیا ماروه هم ستا ده او که چیری زما زوې ته را لاندې کړې نو بیا به ماروه دهمغې وي .

خینس ورته په ډیره نرمۍ سره وویل : تاسو دواړو ته چا ډیره غلطه اطلاع در کړې ده ، ماروه پخپله خوښه دلته راغلې ده او همدلته اوسیږي .

هغه بوډا لږ څه په تریخ اواز وویل : ځوانه ! زه تاته د خپل زوې سره دمقابلې کولو بلنه درکوم اوته ماته اخوا دیخوا خبرې کوې .

د خینس رنګ سور شو ، حریم د هغه بوډا خبره ځواب کړه : اجنبي ! تا ډیره غلطه پریکړه کړې ده ، خینس بن یوسف زمونږ دقبیلې شاهین دې ، هیڅ ځوان دهغه سره تر ډیره پورې په مقابله کې نه شي دریدلې .

بوډا احساساتي شو .

په زرتش مې سوګند ! چې زما زوې ته تر اوسه پورې چا ماته نه ده ورکړې ، په داسې حال کې چې هغه تر ننه پورې په سلګونو پهلوانان په وینو سره کړې او خاورو ته یې ور ننویستې دي .

سردار حریم په قهر شو وویل : په الله سوګند چې خینس بن یوسف هم تر اوسه پورې چا نه دې مات کړې .

اې اجنبي ! ته خینس بن یوسف ته دمقابلې په بلنې ورکولو کې غلطي کوې ...دې خبرې پریکړه به پخپله ماروه وکړي .

نو تاسو د مقابلې څخه ځان په څنګ کوئ ؟

هیڅکله هم نه ، د ماروې د پریکړې داوریدو نه وروسته به ، که بیا تاسو د مقابلې غوښتنه کوله نو زه به دهغې له پاره تیارې ونیسم ،خو زه دهغه وخت نه ویریږم چې ته دمقابلې په میدان کې دخپل زوې لاش سره ولاړ یې او د سترګونه دې اوښکې بهیږي .

بوډا د پخوا نه زیات ګرم شو .

د بني تمیم سرداره ! وخت به ددې پریکړه کوي چې زه به دخپل زوې لاش ته دریږم او اوښکې به پرې تویوم او یا ددې ځوان کورنۍ چې ته یې خینس بن یوسف بولې .

سرداره یوه خبره مې واوره ! چې زما نوم سماک دې او زما د زوې نـوم بروصه ، دغه ځوان چې ماروه یې له ځانـــه سره ګروګان کړې ده ، زما د زوې ســــره خو مقابله کول خو لا پریـــږده چې زما تر مخه بـــه هم تینګ نه شي ...

خینس راپورته شو او خپله توره یې په لاسو کې ټینګه کړه .

سماکه ! ته درواغ وایې ،راپورته شه چې پراخه میدان ته شو ، زه تاسو دواړو پلار اوزوې ته دمقابلې کولو بلنه درکوم .

سردار حریم هم راپورته شو وویل : سماکه ! تا دخینس بن یوسف سپکاوې وکړ ، اوس که ته ونه غواړې هم ، بیا به هم مقابله کیږي . خو زه درته یقین درکوم چې دمقابلې وروسته به ستا حالت داسې وګرزي لکه یوه ښځه چې د خپل ځوان زوې په مړي باندې ویر کوي .

سماک هم راپورته شو وویل : سرداره ! ددې خبرې پریکړه به زما د زوې توره کوي ، راځئ چې لومړی د ماروه لورې ته ولاړ شو .

څلور واړه دیوې کوټې ددروازې مخې ته راغلل ، دروازه بنده وه . سردار حریم دروازه و ټکوله .کله چې دروازه پرانستل شوه نو دپردې دپورته کولو سره سم د حریم وینځه خرما مخې ته راغله .

سردار ترې وپوښتل : ماروه چېرې ده .

خرما په خپل سر باندې تیکرې رسم کړ بیا وویل: دننه ده •
هغې ته ووایه چې د پردې شاته راشي او و دریږي ، د هغې څوکسه خپلوان د هغه سره خبرې کول غواړي خو هغې تـه ووایـه چې د پردې نـه به را وځي •••
خرما ولاړه او ماروه یې له لاسه را ونیوله اودپردې شاته یې ودروله •
سرداره! ماروه دلته ولاړه ده •
حریم ورته وویل: ماروه لورې! د سماک په نامه کوم ماما لرې ؟
دپردې تر شا دماروه ټیټ شانته اواز راغی •
هو سرداره!
دهغه زوې څه نومیږي ؟
د هغه نـوم بروصه دی •
واوره! دغه پلار او زوې دواړه دلته زما خواته ولاړ دي ، ستا ماما دعوا کوي چې په کوچنیوالي کي یې ستا او د بروصه تر منځ کوژده کړیده ، دوې دواړه وایې چې خینس بن یوسف ته دلته په زور راوستلې یې ، اوس دوې دواړه تا دخپلو ځانو سره بوتلل غواړي ، اوس به ته خپله پریکړه وکړې ، ته خینس بن یوسف خوښوې او که د بروصه سره بیرته ستنیدل اوخوارزم ته تلل خوښوی •
ماروې دپردې نه یوه سترګه رابیرون کړه اوبیا یې خپل لاس ور اوږود کړ او خینس یې له لاسه و نیوه اودننه یې دپردې شاته کش کړ •
بیا یې وویل: سرداره! زما ماما ته ووایه چې دهغه ځوان سره چې زه محبت کوم دهغه نوم خینس بن یوسف دې اوهغه دا وخت زما تر څنګ ولاړ دې اوس به د نړۍ هیڅ قوت هغه له ماڅخه جدا نه کړاې شي •••
سماک دهغې دخبرې ځواب ورکړ وویل: ایا تاته یاد دي چې ستا واده د بروصه سره طې کړل شوې و، په زرتشت می دی سوګند وي چې ته ددې څخه را نه شاته نه شی •

ماروه هم همغسې ځواب ورکړ وویل : هغه ماروه مړه شوې ده چې فارسی وه ، زه اوس مسلمانه یم او د خینس بن یوسف نه پرته بل څوک نه پیژنم •

سماک ورته په ډیره حیرانتیا سره وویل : نو ددې مطلب دا شو چې ته اوس مرتده شوې یې •

ماروه ورته په سختې غصې اوقهر سره وویل : زه خو اوس په سمه لاره روانه شوې یم ، خو ددې نه مخته ، هغه وخت چې فارسي وم نو مشرکه وم •

سردار حریم سماک ته وویل : ایا د ماروې پریکړه دې واوریده ، اوس وواېه څه وایې ؟

تا یوه بله وعده هم کړې وه سرداره !

دمقابلې کولو •••

هـو !

ماته یاده ده •

زه تاته همغه وعده دریادوم •

سردار حریم خپل ډیر نژدې غلام ته ورغږ کړ : سیواسه .....اوسیواسه

سیواس له یو لورې په منډه منډه راغې اوکله چې د سردار مخې ته ودرید ، نو سردار ورته وویل : دکلي خلکو ته ووایه چې ټول هلته په روزنځاي کې سره راټول شي ، د خورازم یو اجنبي ځوان غواړې دخینس سره مقابله وکړي ، دا مقابله به دماښام نه مخته کیږي •

سیواس په منډه بیرون راووت •

سماک بروصه له ځانه سره راښکود اویوې لورې ته یې روان کړو او په غوږ کې یې ورته وویل : مقابلې به پوره اړبودوې ، تر څو خینس بن یوسف ستومانه شي ، بیا به یې له منځه یوسې ، هغې د وژلو وروسته به په یقیني توګه ماروه له تاسره بیرته تللو ته تیارشی شي •••

دپردې شاته ماروې یو ځل بیا وویل : د چا مقابله ده سرداره !

ستا د ماما زوې بروصه خینس ته د مقابلې کولو دعوت ورکړی دی •

ماروه ورته په پریکنده توګه وویل : زه دا مقابله ردوم ، سرداره ! زه به اوس خینس د هیڅ سره مقابلې ته پرې نږدم ، مونږ ددې نه مخته هم ډیر ستومانه ژوند تیر کړې دي ، اوس مونږ تــه د سکون او امن ضرورت دی ، سرداره !

بیا به دا خلک مونږ ته بې زړه وبې غیرته وایې ، لورې او بیا خینس دهغه سره دمقابلې له پاره سینه وهلې ده .

ماروی دخینس په لور وکتل او هغه ورته په خندا وویل : ته ولې اندیښنه لرې ، زه به یې په څمکه داسې راپرې باسم لکه یو قصاب چې وزه د حلالولو له پاره راڅملوي ، ته په خندا سره سردار ته ووایه چې دا مقابله ماته منظور ده .

ترڅو بروصه ته هم ډاګیزه شي چې مارویې دکوم بې غیرته او بې زړه انسان سره ملګرتیا نه ده کړې ....

مارویې په خندا وویل : ماته دا مقابله منظور ده .

دپردې نه بیرون ولاړ حریم په خندا و .

***

د کلی روزنځای د خلکو څخه تر خولې پورې ډک شوې و ، د میدان شاوخوا کورونو چتونه د ښځو او کوچنیانو ډک شوي و ، په یوې بالاخانې باندې ماروه هم دسردار حریم د وینځې خرما سره یو ځاي ناسته وه او په ډیره ناکرارۍ سره یې ددې مقابلې دپیل کیدو انتظار کوو ، ترڅنګ یې دخینس له پاره په زړه او خوله دعاوې کولې .

تر ټولو لومړی میدان ته بروصه راغې ، هغه په سور وزمه اس سپور و ، په یوه لاس کې یې یوه درنه نیزه وه اوپه بل کې یې ډال نیولې و ، سر یې په اوسپنیزه خود باندې پټ کړې و او سینه یې هم په زرې باندې پوښلې وه .

میدان ته راغې او هلته دمیدان په یوې خوا کې ودرید او انتظار یې پیل کړ .

د بروصه مخالف اړخ کې خینس د سردار حریم تر څنګ ولاړ و ، هغه ورته ویل چې مقابله ژر مه ختمه وه ، لږ څه دوام ورکړه چې خلک ورڅخه خوند

واخلي ، بيا يې داسې ووژنه چې هغه زوړ سماک دواړه لاسونه په سروهي اوپه ژړا او واويلا ددې ځايه رخصت شي •

خينس پــه خپل اس سـپور د بروصه دمخالف لــوری څخه ميدان ته رانتوت •

د هغه په يوه لاس کې همغه دروند اوسپنيز زنځير و اوپه بل لاس کې يې ډال نيولې و• څنګه چې خينس ميدان ته راغې نو بروصه پرې په پوره رفتار سره حمله وکړه •

خينس هم خپل اس ته لغته ورکړه او دهغه په لوريې ور وځغلاوه •

کله چې ددواړو اسونه يو بل ته را نژدې شول نو بروصه خپله اوسپنيزه نيزه د خنيس په خلاف را نيغه کړه •

کله چې دوې دواړه يو دبل سره په څو ګزه واټن کې وو، نو خينس په خپل اس څملاست او د بروصې د نيزې ګذار خوشې ولاړ ، که څه هم هغه هڅه وکړه چې خپله نيزه د خينس په سر کې ور ننباسي خو خينس دخپل ډال په واسطه دهغه دنيزې څخه ځان خوندي وساته •

دواړه اسونه يود بل سره څنګ په څنګ تير شول ، د ميدان اخر ته په رسيدو سره اسونه بيرته را تاو کړل شول ،د دواړو اسونو خپلې لومړی پښې پورته کړې او وشنهيدل •

د بروصی په لاس کې نيزه وه خو خينس خپله وسله بدله کړې وه ، په خپل ښي لاس کې يې زنځير ګرځوو او په کيڼ لاس کې يې توره نيولی وه چې ځلا يې تر لرې لرې پورې تر سترګو کيدله •

کله چې دواړه يو ځل بيا يو بل ته را نژدې شول نو خينس د خپل زنځير د ګرځولو په واسطه د بروصه نيزه يوې خواته کړه او بيا يې پرې په توره وار وکړ ، بروصه خپل ځان د ډال په واسطه خوندي کول غوښتل خو د سترګو په رپ کې دخينس توره بلې لورې ته شوه •

خينس هغه ته دوکه ورکوله ، خو وار يې پرې نه کاوه ، د خينس توره د بروصه د پښې د ورون نه په څنګ تيره شوه ، که چيرې خينس غوښتلې نو د

بروصه ورون يې پرې پرې کولې شو۰۰۰۰ ښکاره وه چې هغه دخپل سردار دحکم سره سم غوښتل مقابلې ته لږ څو دوام ورکړي ۰۰۰۰

په میدان کې ناستو په زرګونو خلکو دمقابلې دا حال کتلو او نندارچیانو د هغوې یو په بل دحملو څخه خوند اخیسته او لاسونه یې ورته پړکول ۰ اوس نو یو ځل بیا ددواړو اسونه را ګرزیدلي و اویو په بل دحملې له پاره تیار شوي و۰

اوس نو د خینس په لاسو کې یوازې ډال پاته و ، دمیدان منځته په راتلو سره بروصې هغه په نیزه وواهه، خینس دهغه نیزه په خپل ډال ووهله ، نیزه شاته ولاړه ، خینس سمدلاسه هغه نیزه و نیوله او دخپل ځان په لور یې راښکودله او لرې یې و غورځوله ۰

په میدان کې نندارچیانو په پوره خوشحالۍ سره لاسونه وپــړکول ، په بالاخانې بانــدې ناستې ماروه هم د نــورو ښځو سره یــوځاي خوشحالۍ کوله ۰

هغوې یو ځل بیا را ستانه شول او په یوه بل یې حملې پیل کړې ، دخینس سره اوس هم یوازې ډال و۰ خو دبروصه سره ډال او توره دواړه وو، یو بل ته درا نژدې کیدو سره سم بروصه پرې د تورې سخت ګذار وکړ خوخینس په خپل ډال باندې واخیست ، مګر دا ځـل یې لاس ور اوږود کړ او بروصه یې د ملا څخه و نیوه او په یوه جټکه یې پورته کړ اوبه هوا کې یې را ځړوند کړ ۰

شاوخوا ناست خلک پورته شول اوپه ګډا ګانو یې پیل وکړ ۰ په بالاخانې باندې د ناستې ماروه خوشحالي تر ټولو زیاته وه ۰ هغې هم د نورو ښځو سره یو ځــاي لاسونــه پړکول ۰ د خپل اس نه د بروصې دپورته کولو اوبه لاسو کې د نیولو وروسته خینس هغه د میدان په یــوه ځاې کې په ځمکه راوویشت ۰

بروصه د راپریوتو ســره سم بیرتــه پورته شو او د خپل اس پــه لور یې ورمنډه کړه ۰

سردار حریم چې تر اوسه پورې یې خندل او لاسونه یې پرکول په خپل ځنګ کې ناست سماک ته وویل : سماکه ! و دې کتل ، ما درته نه وو ویلې چې د خینس بن یوسف سره مقابله کول اسانه کار نه دی ، په الله سوګند هغه یو غر دې چې وسله پرې اغیز نه شې کولې ، یقین وکړه چې د خراسان نامسلمانه خلک هغه ته د قوت دیوتا وایې ، اودښمن یې ترې د ویرې ورته دقوت د لیوه په نوم غږ کوي ...

سماک سر ټیټ کړې و .

سردار حریم ورته له طنزا وویل : ولې خبرې نه کوې سماکه ! کله چې تا دلته په کلې کې د مقابلې کولو خبرې کولې او د بروصې په تعریف نه مړیدی او د بحرې غلو په ځیر دې د خولې څخه ګواښمنې خبرې راوتلې ، حال دا چې ماتاتـــه همغه ویلي وچې د خینس په لاسو دې زوې مه حلالوه خو ته هغه وخت پـــه احساساتو کې ډوب شوې وې او زما خبره دی نه اوریـــدله ...

سماک بیا هم خبره و نه کړاې شوه .

حریم ورته یو ځل بیا وویل : د مقابلې د تم کولو په فکر کې یې . په خداې چې دا کار اوس ناشونې دې ، ته پوهیږې چې کله چې یو ښکار کونکې خپل ښکار تر ولکې لاندې راوړې او څوک ورمخکې شي ترڅو هغه ښکار ترې خلاص کړي نو په یقیني توګه به هغه ښکار کونکې په هغه باندې هم حمله وکړي او له منځه به یې یوسي.

سماکه ! زما د شاهین حال هم همداسې دې ، اوس به هغه ترهغې شاته نه شي ترڅو یې چې بروصه نه وي ځیرلې ، تا وکتل چې څه ډول یې بروصه دخپل اس څخه لاندې را وغورځوو ...

زوړ سماکه ! په خداې سوګند ، چې اوس دا مقابله تم کیدې نه شي ، اوس نو دخپل تقدیر دپریکړې انتظار کوه . ځکه هرڅه چې کیږي ستا د خپلې خوښې او فشار له مخې کیږي ....

سردار حریم چوپ شو .

خینس او بروصه یوځل بیا یو په بل حمله کونکې شول ، یو د بل په خلاف یې اسونه را وځغلول، اوس نو خینس دخپل ځان سره زنځیر اوډال دواړه راخیستې و، بروصه هم د تورې او ډال خاوند و ، دواړو خپل اسونه یو دبل په خلاف را وځغلول •

کله چې ددواړو اسونه یو بل ته مخامخ شول نو بروصه غوښتل په خپله توره ګذار وکړي او مخته ووځي ، خو د خینس اس د بروصه داس مخې ته راغې ، بروصه ښیې لورې ته اس را تاو کړ خو دخینس اس پخپله دهغه مخې ته ورتاو شو ، کله چې بروصې خپل اس کیڼ لورې ته تاوکړ نو دخینس اس پخپله دهغې مخې ته بیا ورغی •

بروصه ویریدلې و ځکه دخینس اس اوس ورته لاره نه ورکوله ، په دې وخت کې دواړه اسونه یو دبل سره ټکر شول ، دخینس اس دبروصه اس د څټ لاندې وواهه او هغه یې تم کړ ، تر دې وخته پورې خینس خپل ګذار کړې و خو بروصه یې ګذار په ډال واخیست •

د دې ګذار په واسطه د بروصه لاس و لړزید ، داسې بریښیده لکه په سلګونه ټنه درنده تیږه چې یې په ډال را پریوتې وي ، د هغه ډال په منځ کې پرېکړل شو• خینس ورته په قهقه خندا سره وخندل ، همغه نامانوسه خندا چې دهغه هر دښمن یې دخپل ځان له پاره مرګ ګڼي ، بروصه په تورې ګذار وکړ خو تر دې وخته پورې خینس شاته شوې او دخپل چال نه یې کار اخیست •

خینس د بروصه شاوخوا یو چکر وواهه او بیا یې په ډیره تیزۍ سره خپل زنځیر وګرځاوه او هغه یې پرې په سر وواهه ، د ډهلو سره سم دهغه سره دوه ځای شو •

بروصه داس نه راپریوت ، اوپه ترپ ترپ له منځه ولاړ•

بوډا سماک په منډه منډه دمیدان منځته راغې ، ویې کتل چې بروصه له منځه تللی دی •••

سماک په ډیرو ویرونکو سترګو خینس ته وکتل بیایې سر ښکته کړ اودمیدان نه بیرون شو •

سردار حریم بوډا سماک ته د سر نه ترپښو پورې وکتل او بیا یې د تعزیت په توګه ورته وویل : ستا د زوی په مړینې افسوس کوم که چیرې غوارې نو لاش له ځانه سره وړلې شې ، او کنه زما کسان به یې همدلته خاوړو ته وسپاري ،ایا ته ددې مقابلې نه مطمئن شوی یې •

سماک خپل ټیټ سر راپورته کړاو د میړنو په څیر یې اعتراف وکړ چې تا سهې ویلي و سرداره ! یقینا چې خینس داسې یو ځوان دې چې هیڅ څوک یې نشې لاندې کولې ، که چیرې څوک غوارې د هغې دمقابلې نه خوند واخلې نو د هغه مقابله دې دیوه سخت وینې تویونکې ځناور سره وکړي، دا چې نامسلمانه خلک ورته د قوت دیوتا وایې ، نو هغوی په دې خبره کې ریښتونې دي خو دا چې دښمنان یې ورته لیوه وایې ، بلکل په غلطه دي •

سرداره ! زه ځم او دبروصه دغه اس چې یو قیمتي اس دې خینس ته د تحفې په څیر پرېږدم زما خورزه ماروه یوه پوه او با عزته پیغله ده ، هغې په ریښتیا هم د ځان له پاره سهي ځوان انتخاب کړې دې •

سماک د میدان څخه ووت ، په خپل اس سپور شو او د لویدیځ په لور روان شو •

خینس دمیدان څخه رابیرون شو او دسردار حریم خواته راغې ، د اس نه راښکته شو ،حریم ورته ور غاړیوت او د هغه تندې یې ښکل کړ او ورته یې وویل : یقینا چې ته تسخیریدونکې نه یې •

جارود بن مصعب دځو نورو ځوانانو سره میدان ته راغې ، خینس یې په خپلو اوږو پورته کړ او د کلي په لوریې روان کړو ، ټولو خلکو د الله اکبر چغې وهلې ،ډکورنو په چتونو ناستو ښځو دخوشحالی نه دیلارونه او ډولونه وهل اودخوشحالی نغمې یې ویلې•

کله چې خینس دسردار حریم حویلۍ ته ورننوت نو هلته خرما هغه یوې لورې ته راوباله او په غوږ کې یې ورته وویل : ماروه دې خپلې کوټې ته ور بولي ، دسردار نه پټ ورشه ، ځکه دهغه حکم دې چې اوس به خینس ماروه د ناوې په څیر ګوري ٠

خینس د سردار د سترګو نه پټ د ماروه کوټې ته ورننوت ٠ ماروه په خپلو بیساکو باندې را ولاړه شوه او مخې ته یې راغله او په دغه فتحه یې ورته مبارکې وویل ، هلته په دروازې کې ولاړې خرما خینس ته په غوږ کې وویل : اوس نو بیرون راووځه ، دسردار مخ بلې لورې ته دی ٠

ددې خبرې د اوریدو سره سم خینس په خندا شو، بیرون راووت او د بلې کوټې په لور ورغې اوهلته کیناست ٠

***

ټول کلي په مشالونو روښانه شوې و، په هر لورې د دیلارونو ، ډولونو او سندرو غږ راته ،په همدې خوشحالۍ کې د ماروې او خینس تر منځ واده تر سره شو او ماروه د سردار حریم دحویلۍ څخه د خینس کور ته په ډولۍ کې ورغله ٠

شبره او مرجینا هم ور سره وو٠

بله ورځ سهار وختې ماروه او خینس دخوبه راویښ شول ، تر دې وخته پورې مرجینا ددوې دواړو له پاره خوراک او څښاک تیاره کړې وه ، شبره هم له دوې سره یوځای ناست و٠

خینس دهغوې په لور دکتلو په وخت کې وویل : شبره ! زه او ماروه نن ددې ځایه رخصتیږو ،مونږ دواړه غواړو د یوه ترک قبیلي سره یو ځای شو، دا قبیله اوس دسمرقند په شاوخوا کې زمونږ انتظار کوي ، زما نه وروسته زما د ټولې شتمنۍ اوباغونو مالک هم ته یې ، د هغې ټول محصولات په خپلو لاسو او تصرف کې اخیستلې شې ٠٠٠ په دی اړه هیڅوک هم له تاڅخه پوښتنه کونکې نه شته ٠٠٠٠٠

شبره غمژن شو ٠

ایا تاسو دواړه مونږ ځانته پریږدئ او ځئ ؟

خینس ورته حوصله ورکړه او ورته یې وویل : که چیرې دلته په قبیلې کې درته څه ستونزه پیدا شي نو سردار حریم ته یې ووایه ، زه چې ددې ځایه ځم نو زه به ورته ووایم ، ترڅو له تاسره مرسته وکړي او ستاسو د ساتنې په اړه فکر هم وکړي .

ایا ته ماروه نه شې پریښودلې ، که چیرې ته هلته کوم کار لرې نو ورشه او کار دې خلاص کړه اوبیا بیرته راستون شه .

نه ، شبره اکا ! مونږ دواړه به اوس د تل له پاره هملته د هغوی سره اوسیږو ..

شبره په ډیره بې وسۍ سره دماروې په لور وکتل

هغه ورته مسکۍ شوه او په نرمۍ یې ورته وویل : کاکاجانه ! دا یوه مجبوري ده ، مونږ ښځه او میړه دواړه په هر حال باید هلته ورشو ، هلته یوڅوک په ډیره ناکرارۍ سره زمونږ د ورتللو انتظار باسي ، په دې خاطر مونږ غواړو ډیر ژر له دې ځایه ځانونه فارغ کړو اوهلته ور ورسیږو.

خینس راپورته شو .

راځه چې یو ځل درته خپلې ځمکۍ اوباغونه وښایم ، ترڅو زما نه روسته یې ته په ښه توګه څارونه وکولې شې .

شبره په ډیره غمژنه توګه دخپله ځایه پورته شو ، خینس له لاسه و نیو او له ځانه سره یې روان کړ .

شبره ته دخپلو ځمکواو باغونو د ورښوولو وروسته خینس اوشبره بیرته راستانه شول ، خینس په اسونو باندې زینونه کیښوول ، بیا یې دبروصه په اس ماروه سپره کړه اوپخپله په خپل اس باندې کیناست او دکوره بیرون ووت .

شبره اومرجینا دواړو په اوبلنو سترګو هغوې ته خداې پامانې وویله .

خینس په کوڅه کې تم شو او د سردار حریم دکور دروازه یې ور و ټکوله .

لږه شیبه وروسته خرما دروازه پرانستله او احتجاجا یې وویل : تاسو دواړه د بیګانه و په څیر ولې بیرون ولاړ یاست ، ولې دننه نه راځئ ؟

خينس په خپل اس باندې لاس راښكود اوويې ويل : مونږ دواړه پــه ييره كې يو ، هلته دننه پــه درتللو سره مو وخت ضايع كيږي ، كه سـردار دلته راوليږي !

خرما ترې په انديښنې سره وپوښتل : ايا تاسو ميړه اوښځه چيرې ځئ ؟

هــو!

چيرې او ولې ؟

ته خو زمونږ وخت خرابوې ، كه ژر سردار دې لورې ته راوليږې ښه به وي

خرما دننه ورغله •

لږه شيبه وروسته سردار حريم راغې ، تر شا يې خرما هم وه•

سردار حريم شكايتا وويل : ولې بيرون ولاړ ياست ؟

خينس سر ښكته كړ او ورته يې وويل : سرداره ! مونږ داوړه له دې ځايه روانيږو ••

حريم حيران شو •

چيرې ځئ ؟

د ترک قبيلي دسردار ارطبون په لور •

حريم ورته په پريكنده توګه وويل : تاسو هيچرې نه شئ تللې ، تاسو به اوس هم دلته په كلي كې اوسيږئ •

سرداره ! دا يوه مجبوري ده •

هيڅ مجبوريت نه شته ، زه درته د تللو اجازه نه دركوم ، راځئ دننه راشئ ، دواړه دننه كينئ ،كه چيرې غواړې نو زه به ستا په حق كې د قبيلي د سرداري نه لاس په سر شم او هم تا به د بني تميمو سردار وګرځوم وو‌ايه ، دا كار دې خوښ دی ؟

هو! سرداره ! زه بــه هرومرو ځم ، د قبيلې سرداري دې هم تا تــه مباركه وي •

بيا ته ولې ځې ، ايا دلته كوم تكليف احساسوې ؟

ددی ځو علتونه دي •

زه یې هم باید واورم که نه!

سرداره! لومړی خو زما هغه کور چې یو وخت مې په کې مور، خور، ورور، ورندار اوترور اوسیدل اوس خالي پروت دې، کله چې زه ورننوځم نو خپل ځان ډیر بې وسې احساسوم، داسې احساسوم چې اوس په دې دنیا کې زه هیڅوک نه لرم. په دغسې ستونزمنو حالاتو کې زه دلته دسکون نه ډک ژوند نه شم تر سره کول.

ماروې په ژړا پیل کړې و.

خینس وویل: دویم دا چې په کلې کې داسې خلک هم شته چې د وکیع د خواخوږی اعلان یې کړې و، که څه هم اوس هغوې ټول ستا ملګرې ګرزیدلي دي خو ددې سره هغوې یووخت د وکیع ملګري وو، زه چې کله خپل کور ته ګورم نو هسې په هسې مې د هغوې په خلاف کرکه او نفرت راپاریږي، ویریږم چې هسې نه چې کله د هغوی په خلاف د انتقام د اخیستو له پاره راپورته نه شم چې په هغې حالاتو کې به په قبیله کې نا ارامي منځ ته راشي او زه نه غواړم چې قبیله مو یو ځل بیا د هغسې بدو حالاتو سره مخ شي.

دریم دا چې ما دترک سردار ارطبون سره ژمنه کړې ده چې زه به هرو مرو ستا قبیلي ته راستنیږم، اوس نو راته ته ووایه ایا یو مسلمان دخپلې وعدې نه تر شا کیدې شي؟

د سردار حریم سر ښکته شو وویل: ته هرو مرو تلل غواړې.

هو سرداره!

خرما په منډه را ووتله او دسترګو په رپ کې یې ټول کلي خبر کړ چې خینس اوماروه دتل له پاره له دې ځایه او دخپلې قبیلې څخه رخصتیږي.

سردار حریم بیرون راووت او دخینس د اس واګې یې په لاسو کې و نیولې اوورته یې وویل: په اس سپور شه، زه به دې د کلي نه بیرون رخصت کړم او بیرته به راځم.

خینس غوښتل دخپل اس واګې ترې بیرته واخلي.

دا څنګه شونې ده سرداره!

دحريم اواز کيناست او په ډوب اواز يې وويل: همدا زما خواهش دې، زويه! له ماسره ضد مه کوه.

خينس د حريم دحالت دکتلو سره سم په اس سپور شو، اوس نو خينس په اس سپور و اوسردار حريم يې د اس واګې په خپلو لاسو کې نيولې و او پياده روان و او د هغې شاته ماروه په خپل اس سپره وه...

د کلي ښځو په ژړا ژړا ماروې اوخينس ته درخصتې دغم نه ډکې سندرې ويلې، دښځو او نجونو سلګۍ دلرې لرې څخه اوريدل کيدې، هغوې په خپلو سلګيو کې ويل:

ته دښمن ته داسې مورچې نيسې لکه څوک چې د وحشي ځناورو د ښکار شوقين وي.

مونږ خو په ژړا عادي شوي يو خو د هغې اخلاقو مونږ يو ځل بيا ژړا کولو ته وهڅولو.

ستا خبرې ډيرې خوږې او دميني نه ډکې وې چې هر اوريدونکې ته د اوريدو وې او په هر چا ښه لګيدې.

کله چې دوې دکلي دروازې ته را ورسيدل نو يوې پيغلې په ډير سوزيدونکې اواز دا شعر ووايه:

کاشکې چې ستا د جونپړۍ تر څنګ زما جونپړۍ هم وی
هغه جونپړۍ چې زما سترګې په کې يخيدلې شوی
هغه ماته د پوخ جوړ شوې کور په نسبت ډيره غوره وه

خينس او ماروه دکلي ددروازې څخه په داسې حال کې بيرون شول چې سردار حريم يې داس واګې په لاسو کې نيولې وې، اوژړا يې کوله خوښخپله لونګۍ يې خپلې اوښکې پاکولې.

خينس وکتل چې ددروازې نه بيرون جارود بن مصعب د کڼ شمير ځوانانو سره ولاړ دې او د خينس په ملګرتوب يې ژړا کوله، کله چې

دهغوي شخه دتیریدو په حال کې و نو جارود په زوره زوره وویل : اې زما ورورہ ! ته ځې •

ماته داسې برېښي لکه په سکروتو چې داغل کیږم •••

سردار حریم او د کلي کڼ شمیر ځوانانو خینس او ماروه د کلي نه نژدې یو فرلانګ واټن پورې بدرګه کړل او د هغې وروسته یې رخصت کړل ،هغوي هم خپل اسونه د ختیځ په لورې په ځغاسته کړل•

***

خینس اوماروه د فریار ښخه راووتل او بزده ته راغلل ،بیا دنسف ښخه تیر شول او دکش په لور په لویه شاهراه باندې روان شول ، بیا هغه تنګنا ته ورسیدل چې دقصبې په لورې تلله ، دهغه ځایه بیا د سودار د سیمې په لور او بیا د سمرقند په لویه لاره ورسر شول ، اوس یې نو دکش ښار تر سترګو کیده . د ښار اورځایونه او د جوماتونو منارونه د لرې لرې ښخه دمسافرینو له پاره زړه خوشحاله ونکې پیغام درلود •

کله چې ښار ته رانږدې شول نو ماروې په ستومانه شوي اواز وویل : خینس ! دلته چیرې لږ څه ارام کولو ته اړتیا لرم ، ډیره ستومانه شوې یم •

خینس ترې په خندا وپوښتل : دومره ژر! تا خو به شپې او ورځې سفرونه کول او نه به ستومانه کیدې ؟

ماروه غمژنه شانته شوه •

دپښې دپریکیدو په واساس ، دا یوه پښه په سهي توګه د اس په رکاب کې نه شم ایښودلې او په همغې یوې پښې باندې تکیه کوم • په دې خاطر ژر ستومانه کیږم •

خینس هم غمژن شو •

دماروې سره یو ځاي خینس یوځل بیا هغه سراې ته ورننوت چې دهغې ښخه بیرون یې د خپل ورور حرب سره یو ځاي د باغر دکاکا د زوې سرقوسه او د هغه د ملګرو سره ټکر راغلې و، په داسې حال کې چې دخپل اس واګې یې نیولې وی دسرای مالک سریز ته ورغی اوپه خندا یې ورته وویل : کوټه مو په کار ده •

د خینس په کتلو سره سریز راپورته شو اوپه خندا یې وویل : د قوت دیوتا ! زه درته ښه راغلاست وایم ، د سراې یوه کوټې خو لا څه چې زما د ژوند ټول وسایل ستا په خدمت کې دي وایه چیرې تم کیږې ؟

په سراې کې .

د ماروې په لور اشاره وکړه : دا پیغله څوک ده ؟

زما ښځه ده .

اوه ! تا واده هم کړې دې ، زه درته مبارکې وایم . شاید چې تاسو دواړه په ستومانه شوي یاست ، راځئ چې کوټې درته وښایم . تاسو ته دارام کولو ضرورت دې ..

دواړه یې یوې ارامې کوټې ته راوستل ، د کوټې د هر څه د کتلو وروسته یې خینس ته وویل : د قوت دیوتا ! ایا بیا د چا په تعقیب پسې راوتلې یې ؟

نه ما خپل دښمنان له منځه وړي دي .

بیا چیرې ځئ ؟

د یوه ترک قبیلې د لټون په خاطر د سمرقند په لور ورځو .

دلته له مونږ سره څو ورځې پاته کیږې ؟

یوازې یوه شپه ، سبا سهار وختې له دې ځایه د سمرقند په لور روانیږو .

زه به مو اسونه هلته په تبیله باندې وتړم .

مونږ ته خوراک څښاک را ولیږه .

همدا اوس به یې راولیږم .

خینس او ماروې د سریز په سراې کې یوازې یوه شپه وکړه ، په دې دوران کې یې سریز هره غوښتنه پوره کړه او د هغوې له پاره یې هری اسانتیاوی پوره کړی .

بله ورځ سهار هغوې یو ځل بیا په خپل سفر روان شول ، اوس یې نو دشاهراه په دواړو خواو کې د سردار ارطبون دکاروان لټه کوله ، په همدې حالت کې سمرقند ته ورننوتل خو سردار ارطبون ورته په هیڅ ځای کې ترسترګو نه شو ، هغوې په سمرقند کې هم یوه شپه قیام وکړ او بیا یې خپل

سفر پیل کړ ، اوس نو هغوي په هغه لویه لاره روان وو چې د سمرقند نه وتله او د تاشقند په لور تلله ․

کله چې دوي منزل په منزل روان و او دتاشقند په لور په هغه لویه شاهراه باندې یوې دوه لارې ته راورسیدل چې د هغې ځایه یوه لاره د زمن دښار په لور تلله اوبله لار دخوقند په لور تلله او بیا دهغه ځایه دسیهون دسیند څنګه تیریدله او د ازکند دښار په لور ورتلله ، نو همدلته یې په دې دوه لارې کې دسردار ارطبون کاروان هم وکتل، په سلګونو نه بلکه په زرګونو خیمې د یوه غره په لمنې کې خپرې پرتې وې او د یوه ښه ښار ګوتې منظر یې وړاندې کاوه ․

کله چې قبیلي ته ورننوت نو دقبیلې ښځو او نرو ، کوچنیانو او زړو ټولو یې د ښه راغلاست له پاره ور منډې کړې ، اوس نو دسردار ارطبون پښه هم روغه شوې وه په دې خاطر دخپلې خیمې څخه بیرون شواو دخینس اومارووه د ښه راغلاست له پاره مخته ورغې ․

تر څنګ یې قطونه هم ولاړه وه ، زړه یې په زوره زوره درزا کاوه او په ډیره ناکراری سره یې د هغې لمحی انتظار کاوه چې خینس یې خیمی ته ورننوځي․

لږه شیبه وروسته خینس او ماروه د ارطبون دخیمې ترمخه را څرګند شول ، خینس دخپل اس واګې نیولې وې او پیاده روان و خو ماروه په خپل اس سپره وه او د هغه تر شا روانه وه ، سردار ورمخته شو ، ورغاړیوت او د هغه تندې یې ښکل کړ ․

قطونه هم د ماروې په لور ورمخته شوه ، دهغې په پریکړل شوې پښه یې حیرانتیا وښووله ، دماروې مخ ته یې وکتل ، دهغې په مخ د اوښکو سیلاب را روان وو․ قطونې لاس ورکړ او هغه یې د اس نه لاندې راښکته کړه ، کله چې څو قدمه مخته ولاړل نو د سردار ارطبون مخ ژیړ و تښتید اوپه ډیره غمژنه لهجه یې وویل : زما دلور په پښه څه شوي دي ؟

ماروې په سلګیو سلګیو وژړل ، قطونې هم په ژړا پیل وکړ․

خینس ځواب ورکړ : سرداره ! دا په یوې پیښه کې پریکړل شوې ده •
سردار ترې په ډیرې حیرانیتا سره وپوښتل : څنګه حادثه ••• حادثه څنګ
مخته راغله •

سردار ډیر نا ارامه او اندیښمن شوې و•
زما دښمنانو ترې داپښه پرې کړه ده سرداره !
ایا هغوې ستا دقبیلې خلک وو ؟
هو سرداره !
تا ته لازم وچې دهغوې څټونه دې پریکړې وای •
ماروې پخپله دهغوې څټونه د هغوې دتنو نه بیل کړې دي •
بوډا ارطبون ماروه دخپل ځان سره په غیږه کې راتاوه کړه اودهغې په سر
یې د محبت لاس راښکود اوورته یې وویل : زما لور خو ډیره بهادره ده •
ماروې سلکې وهلې ،خو سردار هغې ته محبت ورکاوه او د هغې دچُپ
کولو هڅه یې کوله ، قطونه هم دماروې تر شا ولاړه وه او ژړل یې ، ترڅنګ
یې خپل دواړه لاسونه دماروې په ملا وهل او خپله مینه یې ورکوله ، سردار
ارطبون ماروه دخپله ځانه سره یوځاي خیمې ته ننویستله •

خینس اوقطونه یې هم تر شا شا روان وو، ټول په همغو لرګینزو چوکیو
باندې کیناست چې دپخوا نه هلته په خیمه کې پرتې وې ، قطونه دماروې تر
څنګ کیناستله او د هغې د چُپ کولو هڅه یې کوله •

قطونه راپورته شوه او په یوې کوټې کې پراته د انکورو څو وږي یې
راواخیستل ، بیا یې د ململو د ټوټې په مرسته ترې رس وویست اوپه خپلو
لاسو یې ماروې اوخینس ته وړاندې کړ، په داسې حال کې چې هغوې د
انګورو رس څښه سردار ارطبون ورته وویل : ایا اوس د قطونې سره
دواده کولو له پاره تیار یې ؟

دخینس په ځاي ورته ماروې ځواب ورکړ : بلکل تیار دې سرداره !
قطونې غوښتل چې دهغه ځایه و تښتیږي خو ماروې کلکه و نیوله اوهم
هلته یې په دریدو باندې مجبوره کړه •

ارطبون یو ځل بیا وپوښتل: تر څه وخته پورې ؟

ماروې بیا ځواب ورکړ: همدا نن ٠

قطونه ولاړه وه او لړزیدله، پښې یې لړزې اخیستې وې او په مخ یې د شرم اوحیا رنګ خپور شوې و، په ډیره مینه یې دماروې په لور کتل تر څو د تللو اجازه ورکړي ٠

خوماروې د هغې په لور نه کتل او همغسې یې دلاسه کلکه نیولې وه ٠

اوس نو سردار ارطبون دماروې په لور مخ کړ او ورته یې وویل: ایا تا د خینس سره واده کړی دی ؟

ماروې سر ټیټ کړ وویل: هو! زما او د خینس تر منځ واده شوې دې، اوس هغه زما میړه دې او زه یې ښځه یم، زمونږ تر منځ واده دبني تمیم دسردار حریم په کور کې تر سره شوېدې، که چیرې ما په واده کې د مخکېوالي بیړه کړې وي نو په دې اړه بخښنه غواړم ٠

ارطبون یې په سر لاس کیښود ٠

نه داسې هیڅ خبره نه شته ،لورې! تا د قطونې په نسبت په خینس باندې زیات حق درلـود، خو د نن نــه وروسته به ته ماته د سردار په نامه غږ نـه کوی ٠

دماروی په شونډو لږ څه خندا راپیدا شوه ٠

زه ستا ممنونه یم ٠٠٠ اوس به زما د زړه نه دا احساس کرار کرار وځي چې د خینس پرته په دې نړۍ کې زه بل څوک نه لرم ٠ځکه چې اوس راته ته او قطونه دواړه د پلار او خور په څیر تر لاسه شوي یاست ٠

ارطبون ورته په ډیره خواخوږۍ سره وویل: لورې! زړه دې غټ ساته، دترکانو دا قبیله اوس هم ستا قبیله ده، دنن نه وروسته به دقبیلې هره ښځه او نر ستا دحکم په منلو باندې ویاړ کوي ٠

د ماروې په مخ باندې د احساساتو داسې څپې خپرې شوې وې لکه اوس یې چې تر مخه دخوشحالیو ابشارونه را خوټیدلي وي ٠٠٠او یو نوې ژوند یې پیل کړي وي ٠

سردار ارطبون خنیس ته وویل: خپل کلي ته تللې وی ؟
خینس چې په دې وخت کې کله ماروې اوکله قطوني ته کتل ، ټکان وخوړ •
هو تللې وم سرداره !
سردار وکیع اعتراض ونه کړ •
کړې وه سرداره
بیا ••••
سردار حریم زما پلوي وو، په دې خاطر د وکیع په نسبت ډیر خلک زمونږ په اړخ وو، د هم هغوې په مرسته مې د سردار وکیع او ټولو هغو کسانو څټونه ور پرې کړل چې د قتیبه بن مسلم رحمه الله او زما دکورنۍ قاتلین ګڼل کیدل •
سردار ارطبون پورته شو او د اور ځای سره یو زنګ پروت وو هغه یې وواهه ، په دې وخت کې یو ځوان را ننوت او په پوره درنښت سره و دريد او د خپل سردار دحکم د اوریدو انتظار یې کاوه •
ارطبون ورته په تحکمانه توګه وویل : نن ماښام به دخینس بن یوسف او قطونه تر منځ واده جوړیږي ، دقبیلي خلکو تهووایه چې ټول انتظامات مکمل کړي •
هغه ځوان بیرته ستون شو اوپه ډیره بیړه بیرون ووت •
کله چې سردار ارطبون بیرته خپل ځاې ته راغې اوکیناست نوخینس ورڅخه وپوښتل : نوطس چیري دی ؟
هغه د رمو د څرولو دځوانانو سره وتلې دې ، ما ډیر منعه کړ چې ته د رمو سره مه وځه اوپه خپله خیمه کې ارام وکړه خو داسې معلومیږي چې دهغې د ارام ژوند څخه کرکه کیږي • ما خو هغه ته اوس یوه نوې اوارامه، خیمه ورکړېده خوهغه په کې ډیر کم پاته کیږي •••
خینس ورته وخندل

ستا خبره سهي ده • هغه دییکاره ژوند څخه نفرت لري او غواړي چې ځه نا څه وکړي او خپل ځان مصروف و ساتي ••••

نو که ته وایې چې زه کوم ځوان پسې ور ولېږم •

خینس غوښتل ځواب ووايي چې دخيمي ددروازې څخه يو غږ را غې •

زما د راغوښتلو اړتیا نه شته ، دا دی زه پخپله راغلې يم •

ټولوسترګې واړولی ، ویې کتل چې بوډا نوطس هلته ولاړ دی ، هغه په تیزو قدمونو سره مخته راغې او د خینس سره ورغاړیوت او ورڅخه يې وپوښتل : کله راغلې يې ؟

لږه شیبه مخته راغلي يو •

خینس تر ډيره پورې ور غړیوتې وو•

دخینس نه د جدا کیدو وروسته نوطس د ماروې په لور ورغې خوکله يې چې سترګې دهغې په پريکړل شوې پښې باندې ولګيدې نوحيران و دريد هغه غوښتل ډير څه وپوښتي خو ژبې يې ورسره ملتيا نه کوله ، شونډې يې و چې شوی وې ، په همدی حـال کې يې وپوښتل : لورې ! دا پښه دی ولې ؟

دماروې سر ښکته شو او سترګې يې لمدې شوی •

خینس دهغې په ځای ځواب ووايه : په قبيلې کې زما دښمنانو دهغه داپښه پريکړې ده •

نوطس په ژړغونې اواز وويل : دا څومره ظالم خلک دي چې معصوم اوښکلي ګلونه هم دپښو لاندې مروړي

چاپيرپال ډير غمګين شوې و خو د همدې حالت د له منځه وړلو په خاطر قطونه پورته شوه او د ټولو له پاره يې خوراک او څښاک تياره او د هغوې تر مخ يې کيښوده •••

***

ماښام ، چې څه وخت د سردار ارطبون د خيمو په کلي کې هرې لورې ته رڼاګانې خپرې شوې نو داسې احساسيده لکه ټوله فضا چې د زرګونو

مشالونو پــه واسطه روښانه شوي وي ، دا ځکه چې د خینس او قطونې واده و.

ټوله قبیله خوشحاله وه ، د ماسخوتن د لمانځه نه مخته د قطونې او خینس تر منځ واده وکړل شو، سردار ارطبون هم ډاډمن و او قبیله یې هم خوشحاله.

بله ورځ سهار وختې د قبیلي ټول خلک را ټول شول ، په دې ټوله کې ارطبون پخپل ځای خینس د قبیلي سردار اعلان کړ ، خینس هغه بیا بیا منعه کوو خو ارطبون په دې خاطر چې قبیلي ته اوس زما په ځیر د بوډا سړي په ځای یو ځوان سردار ته اړتیا ده .

ددې نه وروسته قبیلي دهغه ځایه کوچ وکړ، دهغوې تر مخه خینس په خپل اس باندې سپور و، ښي اړخ ته یې ماروه او کیڼ اړخ ته یې قطونه په خپلو خپلو اسونو سپرې وې ، د قطونې کیڼ لورې ته ارطبون هم په خپل اس سپور و، ددوی تر شا او چا رچاپیر بې شمیره وسلوال ځوانان روان وو،دهغوې تر شا رمې او بیا د خلکو کاروانونه را روان و او د هغوې په اخري برخه کې یو ځل بیا وسلوال ځوانان روان و.

کله چې دوې د تاشقند په لور د تللو په وخت کې دبناکد د ښاره یوازې څو میله واټن کې وو ، ویې کتل چې هلته یو بل ستر کاروان تر سترګو کیږي چې په یوه پراخه میدان کې یې اړولي وو،کله چې دخینس کاروان دهغوې د کاروان سره ورنژدې شو نودهغې کاروان څخه څو کسو ځوانانو په داسې حال کې چې خپل اسونه یې راځغلول ددوې مخې ته راغلل ، هغوې سره بیرغونه وو، کله چې دوې خینس ته راغلل نو دهغوې څخه یوه ځوان ورته وویل : ایا دا د ترک سردار ارطبون کاروان دی ؟

خینس هغه ځوان ته په ژوره توګه وکتل اوبیا یې ورته وویل : ستا خبره سهي ده ، څه غواړی ؟

مونږ انتقام اخلو .

څنګه انتقام ؟

مخکې ځل چې زمونږ قبیله او ددوې قبیله یو له بل سره مخامخ شوې نو په هغې قبیلې کې یو اجنبي راغې اوهغه زمونږ څلور کسان ووژل • دهغې په خاطر هغه وخت جنګ بند کړل شو •

خینس خپل مخ په دستمال باندې پټ کړې و ، په دې خاطر هغوې و نه پیژانده •

خپل اوسپنیز زنځیر ته یې لاس کړ او ورته یې وویل : که چیرې هغه ځوان یوځل بیا ستاسو مخې ته راشي نو بیا ؟

دا ځل مو د هغه د چارې کولو له پاره هم ځانونه تیار کړي دي •

خنیس وویل : تاسو د هغه له پاره څه تیارې نیولې دی ؟

مونږ د بزمیجان دښار نه یو سفدي پهلوان په خپل کاروان کې را یوځاي کړي دې او هغه دومره ځواکمن پهلوان دې چې هغه اجنبي له منځه ورلې شي •

او که چیرې هغه اجنبي ستاسو هغه پهلوان له منځه یوسې نوبیا ؟

دا نا شوني ده •

ستاسو سردار څه نومیږي ؟

تریس

بوډا او که ځوان ؟

هغه ځوان او توانمند دې ، زمونږ لومړني سردار چې ددې سردار پلار و مړ شوې دی •

هغه ته وایه چې دجنګ نه ځان لرې وساته ، په جنګ کې خیر نه شته •

دا ځل به جنګ هرو مرو کیږي ، پخوا د جنګ یو علت و ، خو اوس دوه علتونه کرزیدلي دي •

بل علت څه دې ؟

مونږ کورو چې دارطبون قبیله مسلمانه شوی ده •

خنیس وویل : تاسو هم مسلمانان شئ اوکه نه یاد ساتئ چې که چیرې د خراسان نوې والي دریاندې خبر شي چې تاسو دمسلمانانو په خلاف یاست

او دهغوې په خلاف مو لښکرکشي کړې ده نو ستاسو ټوله قبيله به ګډه وډه کړي او بيا به دخفګان نه هيڅ نه جوړيږي •

په دې اړه به وروسته خبره کوو چې مونږ مسلمانان شو او که نه ، لومړی دا راته ووايه چې په تاسو کې سردار ارطبون څوک دی ؟

خينس خپل زنځير راپرانست اودهغه ځوان خواته ور نژدې شو •

ددې قبيلي سردار خو همدا زه يم ، زه د سردار ارطبون له اړخه ددی قبيلي سردار ټاکل شوې يم •

خينس خپل نقاب لرې کړ •

زه همغه اجنبي يم چې مخکې مې ستاسو څلور کسه ځوانان وژلي دي •

نو بيا واوره ، اې د ترکانو سرداره ! زه د خپل سردار له اړخه ستاسو قبيلي ته دجنګ بلنه درکوم •

خينس خپل زنځير په هوا کې وخوځوو •

زه يې قبلوم •

کله چې هغوې ټول ولاړل نو خينس خپل زنځير بيرته د زين سره و تړه اوخپله توره يې راوويستله او په فضا کې يې پورته کړه اوبه زوره يې غږ کړ : خيمې ښځې کړئ ، د الله اکبر غږ يې پورته کړو بيا د د جنګې نغمو خپرونکې سنګونه پوه کړئ •

ترکانو د مشين په څير کارونه پيل کړل ، دوخت دضايع کيدو پرته يې دسترګوپه رپ کې دخيمو کلي اباد کړ •

ددې وروسته ټول وسلوال ځوانان دخيمو تر مخه و دريدل ، خينس دهغوې ليکې سمې کړې ، ځوانان يې د ښځو او کوچنيانو دخوندي ساتلو له پاره موظف کړل او بيا يې چې کله خپل اس را وځغلاوه او د ليکو مخې ته راغې ، نو د قبيلي دخيمو څخه د د الله تعالی د کلام تلاوت په لوړ اوازنو کيدلو •

خینس د توري په اشاره څو کسه وسلوال ځوانان را وبلل او د هغوي سره یوځاي دسغدي قبیلي په لور راغې اوپه لوړ اواز يې ورته وویل ستاسو سردار تریس چیری دی ؟

دهغوي د لیکو څخه اواز راغې : دلته راشه ۰

خینس دخپلو ملګرو سره هم هلته ورغې او د یوه ځوان تر مخه و درید او ورڅخه يې وپوښتل : ایا سردار تریس ته يې ؟

هغه يې تائید وکړ ۰

هـو ۰

ایا زمونږ اوستاسو تر منځ جنګ تمیدي نه شي ۰

هیڅکله هم نه ، نن به زمونږ اوستاسو تر منځ هرو مرو جنګ کیږي ۰

نو بیا زما سره یو تړون وکړه

تریس وویل : څه ډول تړون ؟

زه به د خپلې قبیلي له اړخه میدان ته را ووځم او ته هم خپل توانمنده ، او په جنګ پوه کس میدان ته را ولیږه ، که چیرې هغه زه مات کړم نو مونږ به ستاسو دین ته راشو او اتش پرسته به شو او که چیرې ما هغه مات کړ نو بیا به تاسو ټول اسلام قبلوئ ، په دې توګه به دواړه قبیلي یو دبل سره دجنګ نه خوندي پاته شي ، نقصان به مو هم کم وي ۰۰۰ ایا زما دا شرط منلې شې ؟

تریس لږ څه په فکر کې شو بیا وویل ماته منظور ده ۰۰۰

خینس خپل اس شاته کړ اوبیا يې دصغدي لښکرو تر مخه ځغلاوه او په زوره زوره يې ویل :

واروئ ! زما نوم خینس بن یوسف دې ، زه هغه څوک یم چې دخراسان نامسلمانه خلک راته د قوت دیوتا وايې ، زه نه غواړم چې دا دواړه قبیلي یو د بل سره جنګ وکړي او ناحقه وینه تویه شي ، ستاسو سردار تریس له ما سره ژمنه وکړه چې په میدان کې به زما د مقابلې له پاره خپل قوی او په جنګ پوه کس رالیږي ، که چیرې زه دهغه کس په واسطه مات شوم نو

زمونږ ټوله قبیله به اتش پرسته کیږي اوکه چیرې زه پرې بریالي شوم نو ستاسو ټوله قبیله به مسلمانیږي •

ایا تاسو د خپل سردار سره په دې کې موافق یاست ؟

دسغدي لښکرونه په زوره زوره اوازونه راپورته شول :مونږ ته منظور ده ، مونږ ته منظور ده •

خینس د خپلو ملګرو سره بیرته راستون شو او ارطبون ته یې وویل :

ددښمن په لښکرکې مې داسې تخم شیندلې دې چې دهغوې له پاره هلاکیدونکې ثابت شي •

ارطبون ترې په پلټونکې توګه وپوښتل : څه دې ورته ویلي دي ؟

اوس به میدان ته زما دمقابلې له پاره یو سغدي ځوان راشي • ما دسغدي سردار سره تړون کړې او راغلې یم ،چې که چیرې زه ناکامه شوم نو زما ټوله قبیلهٔ به اتش پرسته ګرځي او که ستا کس ناکامه شو نو ټوله قبیله به دې اسلام قبلوي • بیا مې دا خبره د سغدي عسکرو په غوږونو کې هم ور واچوله ، نو که زما سره د ژمنې وروسته سغدي دخپلې وعدې نه وګرځي او پر مونږ حمله وکړي نو په هغوې کې به هرو مرو څه کسان داسې وي چې په خپلې وعدې به درېږي ، په دې توګه به د هغې د قبیلې خلک په دوو برخو ویشل کیږي ، بیا به زه صغدیان د وزو اومیږو په څیر مخکې وځغلوم ••• که څه هم دهغوې شمیر ه زمونږ نه ډیره وی •

ارطبون ورته مسکې شو •

ریښتیا هم ستا دا قدم زمونږ په لپاره او د سغدیانو له پاره هلاکیدونکې ثابتیدلې شي •

خینس دهغه ځایه را تیر شو اوبیا د خپلو وسلوالو ځوانانو دلیکو په معاینه کولو یې پیل وکړ•

***

دسغدیانو له اړخه د بزمیجان همغه پهلوان میدان ته راغې چې یادونه یې مخکې سغدیان خینس ته کړې وه ، هغه دمیدان منځته راغې او خپله ... په هوا کې پورته کړه او تر لړی شیبی پورې و درید •

بيا يې خپل اس ته ګول چکر ورکړ او ويې ګرځوو•

دخپلو ليکو د منظمولو نه وروسته خينس يوځل بيا د ارطبون خواته راغې ، ماروه او قطونه هم هلته ولاړې وې •

خينس ارطبون ته وويل : سـرداره ! زه ميدان ته ورځم زما له پاره دعا وکړه •

ارطبون پرې اعتراض وکړ : اوس خو ته د قبيلې سردار يې ، ولې ماته سردار وايې •

خينس ورته په خندا شو •

بيشکه چې زه به د قبيلې سردار يم ، خو زما په سترګو کې د قبيلې اصل سردار تاسو ياست ، په دې خاطر تاسو ته مخاطب کيږم •

ارطبون د خينس خواته راغې اوهغه يې په اوږو و ټپوو او بيايې ددعا سره رخصت کړ ، د هغې څخه درخصتی وروسته خينس د ماروی او قطونی لورې ته راغې ، ددريواړو څخه يوه هم خبره و نه کړاې شوه ، هرڅه په سترګو سترګو کې تير شول ، هغوې دواړو هم ورته دعا وکړه اوخينس يې رخصت کړ •

خينس خپل اس ور وځغلوو اوميدان ته ورغې ، د بزميجان ځوان مخې ته راغې او خپل اس ته يې ګول چکر ورکړ• بزميجان ورته را نژدې شو او ورته يې وويل : نوم دې څه دې اوڅوک يې ؟

خينس هم خپل زنځير او ډال سنبال کړل او ورته يې وويل : زما نوم خينس دې او عرب يم •

ددې نه وروسته خينس چوپ شو ، نوسفدي ترې بيا وپوښتل : تا زما د نوم پوښتنه و نه کړه •

خينس ورته په لاپرواهی سره ځواب ورکړ وويل : ما ته ددې خبرې دومره اړتيا نه شته •

بزميجان د غصې نه تک سور شو او د خينس په شاوخوا يې خپل اس وځغلاوه ، شايد چې غوښتل به يې حمله وکړي •

خینس هم تیار و ، خپل زنځیر یې تیار د بزمیجان د استقبال له پاره په لاسو کې نیولی •

په دې وخت کې بزمیجان لکه د لیوه په څیر په خینس باندې حمله وکړه او غوښتل یې پخپله توره دخینس سر ووهې اوبیا یې دخینس په ښیې اړخ باندې ور وغورځوي خو هغه وخت حیران پاته شو چې خینس یې وار په ډیره اسانه توګه په ډال واخیست ، بیا یې خپل اس شاته کړ او واګې یې ورکش کړې ،اس یې په دواړو پښو لکه د الف په څیر شو او وشنهید ،په همدې وخت کې خینس خپل اس ته پونده ورکړه او په ناڅاپي توګه یې پرې حمله وکړه •

خینس په خپل زنځیر باندې ګذار وکړ ،سفدي خپل ځان خوندي وساته • خو خپل اس یې خوندي و نه شو ساتلې ، ځکه د خینس د دروند زنځیر سخت ګذار د اس په ملا لګیدلې و او اس سمدلاسه په ځمکه راپریوتې و• سفدي په منډه منډه راپورته شو او د مقابلې له پاره یې ځان جوړ کړ ، خو اس یې دکاره لویدلې و•

ترکانو په زور زور سره دخوشحالۍ چغې وهلې ، په هغوې کې ماروه ، قطونه ، ارطبون اونوطس هم شامل وو•

خینس هم دخپل اس نه را ښکته شو او زنځیر یې په هغه تیږلوړه ځمکه تر شا کشاوه او د سفدي په لور راغې اوپه ډیره نرمۍ سره یې ورته وویل : اوس خو به دې زما د ګذار او زماد قوت اندازه اخیستې وي ، اوس هم وخت دې که چیرې ته خپله ماتې و منې نو زه به درته بښنه وکړم او که نه په دغه تیږلوړه ځمکه به دې لاش پروت وي اوهیڅوک به هم دریاندې و نه ژاړي •

سفدي ورته غاښونه و چیچل او ویل : ته هسې بکواس کوې ، ما دغه ډول خبرې نه شي ویرولې ••

بزمیجان یو ځل بیا په خینس باندې پراخه حملې پیل کړې خو خینس ته یې هیڅ ډول زیان نه شو ور رسولې ، تر لږې شیبې یې خینس حملې

وزغملې اوهغه ته یې د ازمیښت موقع ورکړه بیا یې خپل زنځیر راپورته کړاو حمله یې وکړه ۰

د زنځیر پـه لومړي ګذار سره د سغدي ډال و شکیده بل وار د هغه پـه سر ولګید اود دروند خود یې په سر کې داسې ور ننوت ، لکه اوسپنه چې په موم کې ور ننوځي ، هم هلته پـه تیږلوړه ځمکه را ډیـرې شو او له منځه ولاړ ۰

کله چې سغدي سردار تریس دا حال وکتلو، نو تړون ته د احترام کولو پرته یې په ترکانو دعامي حملې کولو حکم وکړ ۰

د ترکانو لښکر لا دپخوانه تیار ولاړ و، دغرونو تر منځ په دغه تیږلوړه ځمکه دواړه لښکرې یو دبل سره په ټکر کې شوې اوسترې تیږې د انسانانو په وینو ولړل شوی ۰

په داسې وخت کې چې جنګ په پوره زور سره روان وو د سغدي قبیلي خلک په خپلو منځو کې ونښتل او بیا دسترګو په کتلو سره دا جنګ د هغوې په خپل منځي جنګ بدل شو ،خینس په جنګ کې مصروف و، هلته څه سغدیان په خپلو سغدیانو باندې حمله کړې وه ، خینس پرې ورغږ کړ چې څوک یاست ؟

دهغوې څخه یوځوان وویل : مونږ له تاسره په شوې ژمنه باندې ولاړ یو ته په ریښتیا هم د قوت دیوتا یې ، تا ته ماتې نه شي درکول کیدای ۰ دتړون له مخې مونږ د خپل اسلامیت اعلان کوو ۰

خینس ورته په لوړ اواز وویل : تاسو ټول کرار کرار شاته ولاړ شئ او زما په لښکرو کې شامل شئ ، زه تاسو ټولو ته ښه راغلاست وایم ۰

په کتلو کتلو سره ګڼ شمیر صفدیان د ترک د قبیلي لښکرو ته راغلل او هغوې چې د تړون مخالفت یې کړې و له منځه ولاړل او لږه شیبه وروسته جنګ پای ته ورسید ۰

سردار تریس هم دخپلو سغدیانو په واسطه وژل شوې و ۰

هملته د جنګ په میدان کې خینس سغدي عسکرو ته په لوړ اواز وویل :

خپلې خيمې دهغه ځايه را وکاږئ او دلته د ترکانو قبيلې ته راشئ • خپلې ښځې اوکوچنيان هم له ځانو سره راولئ ، سغديان خوشحاله و اوپه منډه منډه دخپلو خيمو په لور ولاړل •

خينس دخپل لښکر سره يو ځاي ييرته خپلوخيمو ته راستون شو، هلته ورته دخيمې مخې ته ارطبون ،ماروه ، قطونه او نوطس د استقبال له پاره ولاړ وو •

خينس ارطبون په جنګ کې د راګډيدو څخه منعه کړې و ، کله چې هغه دارطبون مخې ته راغې او داس نه را ښکته شو نو ورغاړيوت •

هغه غيرمسلمانان چې تاته د قوت ديوتا وايې ، هغوې په غلطه نه دي ريښتيا هم چې ته يو غريې چې هيڅوک يې هم دخپله ځايه نه شي خوځولې نن زه ستا دجنګ د طريقې نه ډير خوشحاله يم ، کاشکې چې ته دکوم ستر لښکر سپه سالار وايې اويا کوم مملکت د ځواکونو ستر قوماندان • زه تاته ددې سوبې په اړه مبارکي وايم ؛

ماروه اوقطونه دواړه خنداني وې ، ييا ييا يې ورتـه د فتح مبارکې ورکړه ، هغه غوښتل دخپلو دواړو ښځو سره څه خبره وکړي چې په دې وخت کې ترکي ښځو دخپلو ډولو ، ديلارونو او د موسيقې د نورو الاتو سره يوځاي د دوی شاوخوا ونيوله او په خپلو ښايسته اوښکلي غږونو کې يې ورته دا سندره ويله •

سردار خينس ته دې زمونږ سلام وي
دقوت ديوتا ته دې زمونږ سلام وي

ای عربي ځوانه ! ته د يوه اجنبي په څير په دی کاروا ن کې را ننوتلی او د قبيلې ښايسته پيغله دی ، چې د يوه فاتح سر دار لور وه په خپله ولکه کې واخيسته •

ای ددوو ښايستوو زړه وړونکيه ځوانه ! تاته دې ستا فتح مبارک وي •

مونږ خوشحاله يو چې دقبيلې ښځې اوس ستا په خونديتوب کې د بدخشان نه تر اصبيجان پورې سفر وکړي ، ستا په شتون کې زمونږ لارې خوندي شوې دي او دښمن زمونږ سره دټکر څخه ځان ژغوري ۰

کله چې ته د جنګ په ميدان کې خپل زنځير و خوځوې نووخت تم کيږي اوفضا ستا دحملو هغه ښکلا ثبتوي ۰

ای زمونږ سرداره ! اې زمونږ شاهينه ! ته دې تل ژوندې يې ۰

په دې وخت کې سفديان د خپلو ټولو سامانو ،رمو او ښځو اوکوچينانو سره دې لورې ته راورسيدل ، په دې خاطر دې ښځو خپلې سندرې تم کړې ،کله چې سفديان د ترکانو قبيلې ته راغلل نو ترکانو يې په ډيره ګرمه توګه استقبال وکړ ۰

خينس پخپله ورمخته شو او ورته يې وويل چې د پړاو کولو په وخت کې يې خيمې په کومو کومو ځايو کې بايد نصب کړل شي او رمې چيرې پنډې کړي ، اوس نو ددواړو قبيلو په را يوځای کيدو سره خينس کولې شول چې په يوه وخت کې پنځلس زره وسلوال ځوانان ميدان ته را وکاږي ۰

ددې نه وروسته د سفديانو او ترکانو داستر کاروان وکوچيد ، خينس ، ماروه ، قطونه او ارطبون مخته مخته روان وو او په کچرو سپرو ښځو ديلارونه وهل او دخوشحالۍ سندرې يې ويلې ۰

***

يوه ورځ کاروان د تاشقند ښار ته نژدې په يوې پراخې دشتې کې چې د يهبون د سيند تر څنګ پراته وه ، پنډغالې جوړ کړ ، دا سيمه د وښو نه ډکه او تر څنګ يې د سيند پراخه اوبه هم روانې وې ، په ميدان کې د خوړو اوبو تازه چينې هم راخوټيدلې ، د همدې اوبو په خاطر په دې سيمه کې دومره ګياه او شنه واښه وو چې د څو اونيو له پاره رمو او حيواناتو له پاره يې بسنه کوله ۰

د ميدان په يوه اړخ کې خيمې ښخول پيل کړل شول ، ددواړو قبيلو د را يوځای کيدو له مخې چې کله خيمې نصب کړل شوې نود خيمو دښار ګوټې پراخوالی تر څو مايله پورې لرې لرې و غځيد او دغرونو په لمنه کې دغه

په شنو وښو او ګیاه پټ میدان د رنګ په رنګ خیمو په واسطه د الف لیلا ښار وګرزیدلې •

د ټولو خیمو د ښخولو وروسته خینس په اس سپور شو او د ټولو خیمو شاوخوا یو لوې چکر یې وواهه ،غوښتل یې ځانته ډاګیزه کړې چې چیرې خو کوم تکلیف یا ستونزه نه ده پیښه شوې اویا خو د چا سره نا انصافي نه ده پیښه شوې ، هغه اعلان وکړ چې په کاروان کې چې هر چا ته کوم شکایت وي نو هغه کولې شي د سردار سره هر وخت او هره شیبه ووینې ، دسغدیانو په ګډون کاروان ټولو ښځو او نرو د خینس په حق کې نعرې وهلې او د هغه ستاینه یې کوله •

بله ورځ سهار په داسې حال کې چې خینس د مارو ې ، قطونې او ارطبون سره یو ځاي په خیمه کې ناست و. یو ترک ځوان چې د ارطبون په وخت کې یې هم د حاجب دنده تر سره کوله د خیمې دروازې ته راغې او ویې ویل سرداره دخراسان د والې له اړخه څو کسان راغلي او غواړي له تاسره ووینې . ما هغوې د خیمې نه بیرون ستانه کړي دي•

خینس راپورته شو اوبیرون راووت ، د هغه تر شا ارطبون هم راووت • دخیمې نه بیرون چې کوم عسکر ولاړ وو هغوې دخینس دکتلو سره سم و دریدل •

کله چې خینس اوارطبون د هغوې څنګ ته راغلل نو دهغوې څخه یو ځوان وویل اې د ویرونکې شاهین خاونده د خراسان والي سعید بن عبدالعزیز مروې ته ورغوښتی یې •

خینس په خپله اوږه باندې ناست شاهین په خپل لاس کیناوه او د هغه په سر یې ګوته راښکوده اوبیا یې وپوښتل زه یې دځه له پاره ورغوښتې یم ؟

مونږ ته یې علت معلوم نه دې ، خو دومره ضرور درته وایم چې له تانه ډیر زیات خوشحاله دې اوپه ډیر عزت او احترام ستا نوم اخلي •

داسې ډاګيزېږي چې هغه له تانه کوم ستر کار اخيستل غواړي او ياتاته کوم ستر منصب درسپاري ، په هر صورت زه تاته په يقيني توګه ټول تفصيل نه شم ويلې ...

خينس راپورته شو .

د خراسان د والي دپيغام راوړونکو ځوانانو ! زه د خراسان د والي پيغام نه شم ټالولې .

هغه ځوان ودريـد او ويې ويل : مونږ ستا مشکور يو ، تا زمونـږ درنښت وکړ .

تاسو کښينئ ، زه به ستاسو د خوراک ، څښاک او ارام کولو له پاره اسانتياوې برابرې کړم ، سبا سهار به زه له تاسو سره يو ځاي د مروې په لور روانيږم .

خينس خپل حاجب ته ددې شپږو سپاهيانو د خوراک ، څښاک او ارام کولو له پاره حکم وکړ او پخپله د ارطبون سره يو ځاي دماروې اوقطونې په لور ورغې او هملته ورسره کيناست .

ماروې ترې په لږ څه انديښنې سره وپوښتل : سپاهيان د څه له پاره راغلي دي ؟

دخراسان والي زه هلته مروې ته ور غوښتې يم ..

قطونه هم په انديښنه کې شوه وويل : د څه له پاره يې ورغوښتې يې ؟

تر اوسه ماته هم په دې اړه پوره معلومات نه شته ، دا سپاهيانو زما سره د تللو له پاره راغلي دي .

سردار ارطبون د ژور فکر نه راووت اوويې ويل : زه د همدې ځايه تاته ويلې شم چې دخراسان والي ته د څه له پاره ور غوښتې يې ؟

نو بيا خو يې راته ووايه ، سرداره !

هغه غواړي تا دخپل فوځ سپه سالار و ټاکي .

اياماته ددې د ندې منل په کار دی ؟

هيڅکله نـه !

ولې ... تا خو زما له پاره دعاګانې کولې چې کاشکې چې ته دکوم جرار لښکر سالار اويا د کوم مملکت د فوځونو سپه سالار واى •

اوس زما خواهش پوره شوي دې ،د ترکانو اوسفديانو د را يوځاې کيدو وروسته ،اوس ته د پنځلس زره وسلوالو ځوانانو سردار اوسپه سالار يې • ايا دا لږ دي ، زه به دې اوس هيڅ لورې ته پرې نږدم ، ستا پرته به دا دواړه قبيلي د بې خاونده رمې په څير خپرى شي ، د ماروى او قطونى نه هم مشوره واخله •

ماروې اوقطونې يو دبل سره سرونه را يو ځاي کړل ، بيا ماروې د قطونې د احساساتو ترجماني هم وکړه او ويې ويل :

بيشکه ، ته مروې ته ولاړ شه ، ځکه چې هلته د هغه ځاې والي ور غوښتې يې ، خو داسې کومه غوښتنه او وړانديزيې مه منه چې په خاطر يې ته دا کاروان پريږدې او هملته دهغوې سره واوسې •

ارطبون ورته په خندا شو •

ودې کتل ، دوې دواړو هم زما دخبرې تائيد وکړ •

خينس هم په خندا شواو قطونې ته يې وويل : ما ته ستاسو ددواړو مشوره قبوله ده ، اوس نو پورته شئ او د خوراک څښاک څه راوړئ چې وږې شوي يو ، ماروه اوقطونه دواړه پورته شوې بلې خيمى ته ولاړې او د خواړو او څښو انتظام يې وکړ •

***

خينس د خپل کاروان څخه ووت او د هغو شپږو سپاهيانو سره يو ځاي د مروې په لور روان شو ، دکش او ترمز څخه د تيريدو وروسته دبلخ له لارې يوه ورځ ماسپښين مروې ته ورننوت •

د والي ځاى ناستى ته د ورننوتلو وروسته هغه ډير منتظر پاته نه شو ، ځکه والي هغه ډير ژر خپل ځان ته ور وغوښت• هغه هلته يوې پراخه او د ځنګلي ځناورو په پوستکو ښايسته شوې کوټى ته ورننوت •

ویې کتل چې هلته د خراسان والي سعید بن عبدالعزیز ځانته ناست دې ۰ هغه د خپله ځایه راپورته شو ، مخته راغې او دخینس سره یې ډیر ښه روغبړ وکړ اوبیا یې هغه په خپل څنګ کې کیناوه ۰

د انګورو اوانارو د تازه رس په واسطه یې دهغه تواضع وکړه اوبیا یې ورته وویل : خینس ! پوهیږې چې د څه له پاره مې دلته رابللې یې ؟

خینس ورته په خندا وویل : د غیبو علم یوازې الله تعالي لره دی ۰

بیا هم لږ فکر وکړه او اندازه ولګوه ۰

زه خو ستاسو خادم یم ، په دی خاطر به ما تــه دکوم خدمت د کولو حکم وي ۰

ستا اندازه غلطه نه ده ، زه غواړم تاته یو ښه منصب دروسپارم ۰

محترم امیره ! څنګه منصب ؟

د خراسان د فوځ سپه سالاري !

خینس د هغه ددې خبرې ځواب ورنه کړ ، په دې وخت کې سعید بن عبدالعزیز ترې بیا وپوښتل : څه فکر کوی ؟

محترما ! زه به ددې دندې د کولو څخه معذور واوسم ۰

سعید د خپل ځایه راپورته شو ؟

ایا په دی منصب راضي نه یې ؟

نه سرداره ۰۰۰۰

علت یې څه دې ، ایا زه دې نه خوښیږم ؟

هیڅکله داسې نه ده امیره !

بیا ته څه عذر لرې چې ددې دومره ستر منصب منلو ته تیار نه یې ؟

که چیرې زه درته ووایم چې زه درته یوازې د جنګ په وخت کې په کار راځم ، نو ایا ته به زما ددې خبرې تائید وکړی ؟

بلکل به یې تاییدوم ۰

نو بیا زه درسره ژمنه کوم چې کله هم ته دکوم دښمن په خلاف راپورته کیږي نو زه به درته پنځلس زره روزل شوي سپاهي راوړم او ستا په فوځ کې به یې شاملوم ...

هغه څه ډول ؟

د یوې ترکې قبیلې سردرا ارطبون ، چې یو وخت زما ډیر نژدې دوست اومحسن و ، کوچیانې ژوندلرې ، د ګرمیو په موسم کې دبدخشان نه د اصبیجان په لور او د یخنی په موسم کې د اصبیجان څخه تر بدخشانه پورې سفر ونه لري ، هغه سردار خپله یوازنې لور ماته را واده کړې ده او زه یې پخپل ځاې د قبیلې سردار ټاکلې یم ، په دې وروستیو کې مونږ د سغدیانو د یوې کوچیانې قبیلې سره مخ شو، خو زما تکلورې هغوې ټول مسلمانان کړل ، اوس زه د هغې دواړو قبیلو سردار یم او له ماسره د هغوې د پنځلس زره ځوانانو روزل شوې فوځ هم دې ، دا فوځ هر وخت چې ته وغواړې ستا خدمت ته حاضرولی شم ، هغه وخت چې هر خدمت زما او زما دوسلوالو ځوانانو څخه اخیستل غواړې نو ورته به حاضر یو، هیڅوک به ستا د امر څخه دانکار کولو جرئت و نه شي کړای .

که چیرې ته همداسې وکولې شي نو دا خو به زما د خوشحالی سبب وي ، په دې توګه به مونږ په خپل څنګ کې دخپل فوځ نه پرته د پنځلس زره نورو وسلوالو ، روزل شوو ځوانانو فوځ هم ولرو ،او څرنګه چې هغو ځوانانو ستا څخه روزنه تر لاسه کړې ده نو په دې اساس به پرې زمونږ باور او اعتماد نور هم زیات وي .

زه درته دخپله اړخه د پوره ملاتړ ډاډ درکوم ، هر وخت مې چې راغواړې او یادی ماته ضرورت راپیدا شي ،زه راتلو ته تیار یم ....

ماته ستا دا پریکړه منظور ده .

ددې مقصد دا شو چې ستا غوښتنه پاې ته ورسیده .

هو ! اوس هغه ختمه وګڼه ، اوس راته دا ووایه چې په دې ورځو کې چیرې تم شوي یاست ؟

زه نن سبا دهمدې ترکانو او سفديانو دقبيلو سره يو ځاي يم •

هغوې نن سبا چيرې دي ؟

دواړه قبيلي د تاشقند نه بيرون ديوه غره په لمنه کې ميشت شويدي • هغوې به تر هغې هملته ميشت وي تر څو چې زه نه يم ور رسيدلې •

دخپل کلي سره دې اړيکې شکيدلي دي؟

نه اميره !

ستا خو دکلي دسردار سره جګړه وه ، که چيرې هغه اوس په لاره نه وي نو ووايه چې هغه سردار ته عبرتناکه سزا ورکړم ، داسې سزا چې هغه له تا څخه په ښښې غوښتلو مجبور شي •

نه ، ما دهغې نه ځان خلاص کړې دې ••• هغه سردار زما په خلاف تورې راويستلې وې خودهغه ډير بدمعاشه ملګري زما د تورې نښه وګرزيدل •

څومره ورځې دلته قيام کولې شې ؟

زه خوسبا بيرته ستنيدل غواړم•

سعيد بن عبدالعزيز ورته راپورته شو وويل : له ماسره راځه ، نن به ته زما په ځاي کې زما ميلمه يې •

دواړه دکوټې څخه راووتل او د عمارت هغه بلې لورې ته ولاړل •

***

دمروې نه د تاشقند په لور دسفر کولو په وخت کې خينس يوه شپه په ترمز کې پاته شو او بيا يې سبا سهار د هغه ځايه حرکت وکړ اوبه سفر روان شو ، لاره يې همغه وه ، د ترمز نه کش او د هغه ځايه سمرقند او بيا تاشقند •

د ترمز اوکش په غرنيو برخو کې يې خپل اس په پوره قوت سره ځغلاوه چې په خپله مخه کې يې يوه بګۍ و کتله ، دغه بګۍ څلورو قوي کچرو کشکوله ، بګۍ ستره او پراخه وه او د څلورو خواو څخه بنده کړل شوې وه خينس پوه شو چې دبګۍ خاوند سماک دې او د سماک زوې هغه د خپل کلي په ميدان کې وژلې و•

خينس ته دخطر بوې راته ، زنځير يې را پرانست اوپه خپله اوږه يې كيښود ، په بله اوږه يې دناست شاهين په سر باندې ګوته ووهله او هغه يې د حملې له پاره تيار كړ ۰ تر څنګ يې خپل ډال هم سنبال كړ ، د هغه په كتلو سره سماک هغه څلور واړه كچرې د بګى نه جدا كړې او په خپل د بګى په مخكينى برخه كې په كوم ځاې كې پټ شو ، حال داچې هغه ددې نه مخته هلته ښكاره ناست و او كچرې يې ځغلولى ۰

دكتلو كتلو سره دبګى پورته برخه چې په يوې توتې پوښل شوې وه وشكيدله ۰

خينس وكتل چې په اصل كې بګى د اوسپنې يوه پنجره وه اوترمنځ يې يو ځوان او تنومنده زمرې پروت و ۰

دخينس په غوږونوكې د سماک هغه الفاظ را انګازه شول چې هلته دكلي په ميدان كې يې سردار حريم ته ويلي و چې كه څوک د خينس سره دمقابلې نه خوند اخيستل غواړي نو بيا دې دهغه مقابله دكوم وحشي وړې حيوان سره وكړي ۰۰۰

خينس لږ څه فكر وكړ ، بيا د خپل اس نه راښكته شواو خپل زنځير او ډال يې سنبا ل كړاو تيار ودريد ۰

ناڅاپه ددې پنجرې شاته دروازه پرانستل شوه او وړې زمرې ترې په غرار سره را ووت ، په ځمكه باندې د پښود ايښودو سره سم يې په غړميدو پيل وكړ، د خينس اس او هغه څلور كچرې تولې دويرې و تښتيدلې ، زمری په يوې تيږې ودريد او د خينس په لوز يې په كتلو او غوريدلو پيل وكړ ۰

خينس كه غوښتلې نو وخت يې درلود چې خپل شاهين دهغې په خلاف ور وليږې خو هغه داسې و نه كړل ، شايد چې هغه به پخپله د زمرې سره دمقابلې له پاره تيار شوى و ۰

خو بيا هم شاهين پرپريده او ستركې يې دپخوا په نسبت ډيرې سرې شوې وې ،خينس خپل زنځير اوډال سنبال كړل ،لږ څه دقت يې وكړ او د هغه وړې زمري هر حركت يې په غور سره وكتلو ۰

په دې وخت کې زمري په ناڅاپي توګه په خينس باندې را ټوپ کړ • خينس د غشي په څير يوې لورې ته شو او زمرې ترې څو قدمه وړاندې په ځمکه راپريوت ، خينس غوښتل په زنځير يې ووهي خو زمري ورته فرصت ور نه کړ او ژر په يوې تيرې باندې ودريد •

اوس يې يو ځل بيا شاوخوا چکر واهه او د بلې حملې له پاره يې ځان جوړوو، اوس نو خينس خپل ډال په دواړو لاسو کې مخته و نيوه • کله چې زمرې پرې بيا را ټوپ کړ نو خينس دهغې دا حمله په خپل ډال باندې واخيسته او زمرې يې شاته و غورځوو•

اوس نو خينس پوره مستعد شوې و، کله چې زمرې لاندې پريوت نو خينس ډال لرې کړ او زنځير يې راپورته کړ او زمري يې پرې کلک وواهه د هغې دېښتيو هډوکي يې ورمات کړل• زمرې په ځمکه پريوت او لکه د حلال شوي حيوان په څير يې خراټې اسمان ته ختلی •

اوس نو زمرې د بيرته د راپورته کيدو نه وتلې و، ځکه د زنځير دګذار نه وروسته يې يو ځل هڅه کړې وه چې را پورته شي خو و نه توانيدلو •

خينس وخت له لاسه ورنه کړ او يو ځل يې بيا په خپل درونډ زنځير د زمري ملا ور وهله بيايې د هغې په سر ګذار وکړ ، سر يې وشکيد او څهره يې مسخ شوه ،کيدې شي چې سترګي يې هم له منځه تللی وی •

ترڅو لمحو پورې هغه ځناور په ځمکه و ترپيد ،بيا ختم شو ، خينس يې په ګيډه يوه لغته ورکړه اوبيا يې خپل په وينو ککړ زنځير د ځان پسې راښکود اود بکۍ په لور ور روان شو ، په بکۍ کې د زمرې دپنجرې نه پرته يوه بله کوچنۍ پنجره هم وه او سماک په همغې پنجره کې پټ شوې و•

خينس ور نژدې شو او په سختی سره يې ورته وويل : بيرون راووځه او لاندې راشه •

سماک هيڅ ځنډ ونه کړ او سمدلاسه د خينس مخې ته راغې ، د هغه په مخ هيڅ ډول ويره او ترس نه ترسترګو کيده •

ولی دی زما په خینس ترې دېخوا نه په زیاته سخته توګه وپوښتل: خلاف زمرې راپرېښود؟

سماک په ډېر اطمینان سره ځواب ورکړ وویل تا چې په کومه اسانه توګه بروصه له منځه یوړ نو زه په دې داډمن شوم چې هیڅ انسان له تاسره مقابله نه شي کولې، ځکه د بروصه تر مخه هیڅ ځوان تر ډېره پورې نه دې تم شوی خوتاسې داسی عمل ورسره وکړولکه چې هغه ماشوم وي.

ماغوښتل ستا مقابله دداسې کوم شي سره وکړم چې هغه تا زخمې کړي اویا لږ تر لږه دهغې په مقابله کې ته لږ څه تکلیف احساس کړې. خو زه حیران شوم چې تا د خپل زنځیر په دوو ګذارونو سره زمرې د ځمکې باندې راپرېوتلو، که چیرې بل ګذار دی پـرې کړې هم نـه وی نو هغه له منځه تللې و.

خینس په زهرې خندا سره ورته وکتل ورته وویل: او تا دا قدم زما د له منځه وړلو په خاطر اخیستې و.

هیڅکله نه! په زرتش مې دې سوګند وي، زه اوس تا په نړۍ کې دهر څه نه مقدم ګڼم، زه د میړنو سره مینه کوم، هیڅکله هم ورسره کینه نه ساتم...

ددې خبری ثبوت اوس خو زما سره نه شته، خو زما زړه ځیرې کولې شې او کتلې یې شې، اوس به په دې زړه یوازې هم ستا نوم وي.

کله چې خینس غوښتل ځواب ووایې، ویې کتل چې د غرونو په څلورو خواو کې بې شمیره وسلوال ځوانان راڅرګند شول.

هغه چوپ شو او د هغوی په لور یې وکتل.

په هغوی کې د توفیل ښځه اود ماروه ترور نتیان هم وه.

خینس د سماک څخه وپوښتل: سماکه! ایا دا ستا خور ده؟

سماک هم هغه لورې ته کتل.

هو دا زما خور ده؟

دا زمونږ څخه څه غواړی؟

مخکې شپه مې په ترمز کې د هغوی په کور کې تیره کړې ده ،ما هغې ته ویلي و چې زه په خینس بن یوسف باندې چې خلک ورته د قوت دیوتا وایې یو ورېږ ځوان زمرې وربرېږدم چې ووینم ریښتیا هم هغه د قوت دیوتا دی ،نو کیدای شي چې هغه هم دخپلو وسلوالو خدمتکار سره ددی ننداری له پاره راغلي وي خ

ته ناپوهه یې ، دوې زما څخه د انتقام په خاطر راغلي دي •

د څه شي انتقام ، ایا له تاسره کومه دښمني لري ؟

هــو!

څه ډول دښمني ؟

هغه غوښتل ماروه د خپل زوې توصیف سره واده کړي خومارو‌ې له ماسره مینه کوله ، په دې خاطر له ماسره ولاړه او ستا خور نتیان په دې خبره ډیره په غوصه ده •••

زوړ سماک د احمقانو په څیر وخندل •

ته ناپوهه یې د قوت دیوتا •••• نیتیان زما خور ده او زما په شتون کې او زما دخوښې په خلاف به ستا څخه بدله اخیستل خو لا پرېږده چې سخته خبره به هم درسره و نه شي وکولې •••

په دې وخت کې د غره له سره د نیتیان اواز راغی : زه خینس بن یوسف ته حکم کوم چې وسله کیږدي او خپل ځان مونږ ته راتسلیم کړي • هغه دې پوه شي چې نن ددې ځایه نه شي تښتیدلې •

زه به هغه ته همغسې اذیت ناکه مرګ ورکړم لکه څنګه یې چې باغر او د هغه د کاکا زوې برقه په اذیتاناکه مرګ وژلي وو•

سماک ته په خپلو غوږونو باور نه راته ، په ډیرې حیرانتیا سره یې وویل : ایا دا زما خور نتیان غږیږي •

هو سماکه!

هغه څه چې هغې وویل ، هغه تا هم واوریدل ، یا داچې زما غوږونو دوکه خوړلې ده •

داحقيقت دى سماكه •
د بوډا سماک رنګ د غصې نه سور شو ، دواړه لاسونه يې په غوږونو کيښوول اوپه زوره يې وويل زه خپلې خور ته وايم چې د خينس بن يوسف څخه د انتقام اراده پريږده او سمدلاسه ددې ځايه ولاړه شي •
نيتيان ورته په زوره راغږ کړ دا هيڅکله هم شوني نه ده ••
بيا واوره ! زما نوم سما ک دى ، ته پوهيږې چې زه بې زړه اوبې غيرته نه يم ، د خينس بن يوسف په لور د رامخته کيدو نه مخته به ته د خپل ورور په سينه تيريږې •
نيتيان يو ځل بيا په غصه وويل که چيرې ماته داسې رامخته شي نو هم صرفه به ونه کړم • د خينس بن يوسف د تر لاسه کولو له پاره به دا سودا ماته قيمتي نه وي •
نو بيا اى مکارى ښځې واوره ! دخينس او ماروې تر منځ واده شوې دې اوزه به په هر حالت اوهر قيمت د خپلې خورزى د ميړه نه دفاع وکړم •
زه بيا حکم کوم چې خينس دى خپله وسله په ځمکه کيږدي او خپل ځان دې مونږ ته حواله کړي ••
په ځواب کې ورته سماک وويل د اخو وسله په ځمکه نه ږدي ، که چيرې ته يې نيول غواړې نو دخپلو ملګرو سره دې يو ځاي زمونږ دمقابلې له پاره رامخته شه •
نتيا ن په هوا کې لاس وخوځوو او په غره ولاړو ځوانانو په خينس او سماک باندې د تيرو باران پيل کړ ، خينس او سماک خپل ډالونه ورمخته کړل او دتيرو څخه د خوندي پاته کيدوهڅې يې پيل کړې •
د تيرو دباران په وخت نيتيان يو ځل بيا وويل : د ټولو تر مخه ترې شاهين واخلئ ، ځکه هغه دهغه په دښمن باندې حمله کوي ،دهغه له پاره ښکار کوي او تر ټولو مهمه يې دا چې د پيغام رسولو کار هم ترسره کوي •

کله چې د تیږو باران د زغم نه ووت نو خینس سماک ته وویل : زوړ سماکه ! دې لورې ته راځه ، دغه مخکې غار کې ځملو ، هم هلته به ددې تیږو د باران نه خوندي پاته شو •

دواړه راغلل او د غره په غار کې ځملاستل ، بیا یې دخپل لباس څخه یوه ټوټه پرې کړه ، په خنجر یې خپل ورون زخمي کړ او په خپله وینه یې په هغه ټوټه یې ولیکل المدد المدد ، بیا یې دا ټوټه د شاهین په پښې پورې وتړله او هغه یې په فضا کې خوشې کړ •

دسترګو په رپ کې شاهین په فضا کې پورته شو او فریار په لور په چټکۍ سره روان شو •

هغه لږه شیبه وروسته راووت تر څو د دښمنانو جایزه واخلي ، چې په همدې وخت کې پرې څوکسو حمله وکړه ، ویې نیوه ، اوپه زنځیرونو کې یې و تړه • نیتیان هم لاندې راښکته شوه ،خینس اوسماک یې په اسونو سپاره کړل ، څو کسه وسلوال کسان یې مخکې وروسته روان شول • نیتیان یې په منځ کې روانه وه او د کش په لورې حرکت وکړ •

***

دسمرقند د تاشقند په لور په لویه لاره د خینس د اس ځغلیده لکه څوک چې پرې سپور وي او ځغلوي یې • بالاخره هغه خپلې قبیلې ته ور ننوت • نوطس وکتلو اود هغې په لور یې ورمنډه کړه • غوښتل یې و یې نیسي خو اس ترې په منډه و او نیغ د خینس د خیمي لورې ته ورغې •

نوطس یې هم تر شا شا ور ورسید •

اس د ارطبون او خینس دخیمي تر مخه و درید او وشنهید ، په خیمه کې ارطبون ، ماروه او قطونه درې واړه ناست وو • ماروه سمدلاسه و دریده • خینس راغی •

قطونې بیرون رامنډه کړه ، ارطبون او ماروه هم وریسې وو ، ویې کتل چې د خینس اس د خیمي نه بیرون ولاړ دی ، تر دې وخته پورې نوطس هم هلته په منډه ور ورسید او د اس واګې یې و نیولې او په ډیره نرمۍ یې ترې وپوښتل : مالک دې چیرې دی ؟

هغه ځناور شنړيده او خپل سُم یې په ځمکه واهه ، ارطبون ورمخته شو او په انديښنې سره یې ترې وپوښتل : نوطس! خينس چیرې د ې ؟

نوطس هم ژړغونې شو •

ماته پخپله معلومات نه شته سرداره ! ما خو دا اس دخينس پرته وكتلو چې قبيلې ته راننوت ، زه انديښمن شوم اودهغې تر شا شا مې رامنډې كړې • زما زړه ګواهي وركوي چې هرو مرو كومه پيښه شوې ده •

ستا په نظر چې دخراسان والي به ورسره كومه دوكه كړې وي •

دا شوني نه ده سرداره ! د خراسان والي خو د هغه قدر كولو •

بيا ستا نظر څه دې چې څه شوې دي ؟

زما په اند چې د هغه ځاې د بيرته راستنيدو په وخت كې و رته كومه څه پيښه شوې ده او دا اس راتښتيدلې اوپه كومه طريقه يې دلته ځان را رسولى دى •

اطبون په غصه شو او د اور د توپان په څير يې را برګ وهل •

د خينس بن يوسف سره ظلم كونكې به زمونږ د سزا نه خوندي پاته نه شي •

نوطس ترې په انديښنې سره وپوښتل : مونږ ته به څه ډول ډاګيزه شي چې هغه اوس چيرې دى ؟

د ارطبون سر ټيټ شو وويل : ستا دا خبره هم سهي ده •

بيا يې نوطس ته وويل : نوطس ! د جنګ ډول ووهه •

په قبيلو كې هر ځاې د جنګ ډول په غږيدو راغې او ددې سره سم تركې اوسغدي ځوانان په وسلو سنبال شول او د خپلو خيمونه بيرون راووتل او په لوې ميدان كې يې خپلې ليكې جوړې كړې •

ارطبون خيمې ته راننوت او خپله زره ، توره او كمان اوغشي يې له ځانه سره واخيستل •

قطونه په ويره ويره دهغه خواته راغله او ترې ويې پوښتل : بابا! زه هم له تا سره ځم •

ارطبون ورته په ډیره مینه وویل: لوری! ته همدلته اوسه، په الله سوګند چې که دښمن خینس د ځمکې تل ته هم کیباسي نو زه به یې دهغه ځایه بیرته را وکاږم • زما نه وروسته ته او ماروه دواړه د قبیلي سردارانې یاست او د سردارانو په خیر به کار کوئ •

قطونه غمګینه او په ضد شوه •

زه به هرو مرو درسره ځم ••دخینس نه وروسته زه او ماروه دواړه ستا زامن یو، مونږ تر ټولو ډیر حقداره یو چې دخپل میړه لټون وکړو، مونږ هیله لرو چې زمونږ پلار به زمونږ سره په دی دنده کې مرسته وکړي •

ایا ماروه هم له ځانه سره بوځې •••

هو! هغه هم زمونږ سره ځي •

هغه به په تکلیف شي لورې! همدلته یې پرېږده چې ارام وکړي، هو! ته زما سره تللې شې ••• ځان تیار کړه •

د تر ځنګ کوټې ښځه ماروه هم راووتله •

بابا! په اس باندې دسپریدو وروسته به ماته دخینس لټون دومره ستونزمن نه وي، مګر دلته کیناستل او د خپل میړه د بیرته سلامت راستنیدو انتظار به را ته ډیر ستونزمن وي •

ارطبون یې خبره و منله •

نو بیا ځان تیار کړه ••• زه به یې داسې وکنم چې زما دوه زامن زما تر خوا دي •

د ماروې په شونډو باندې دژوندانه ښایسته خندا راپیدا شوه •

زه یوه بله هیله هم لرم •

هغه هم ووایه •

دخینس اس ماته راکړئ، زه دهغې د عادتونو ښځه خبره یم، ددې نه پرته هغه ما پیژني هم، زه هیله لرم چې زه به د هغې ښځه دکار په اخیستو کې بریالی شم •

ورځه تیاره شه او دهمغه په اس سپره شه ••

ماروه اوقطونه دواړه په بیړه د خپلې کوټې څخه را ووتلې اوځانونه یې په چټکۍ سره په وسلو سنبال کړل .

ارطبون په خپله کوټه کې ولاړ وا او د هغوې د راتلو انتظار یې کاوه، بیا یې غږ کړ: نوطس ..... نوطس

نوطس په منډه راغې او ویې ویل: ماته دې غږ کاوه .

ارطبون یې خواته راغې اوپه اوږه یې ورته لاس کیښود او ورته یې وویل: زه همدا اوس دخینس د لټون په خاطر روانیږم ، زما نه وروسته د قبیلې سرداري تاته درپه غاړه ده ، زه به ټولو ته دا خبره ډاګیزه کړم څنګه چې ته غواړې همغسې به کیږي ، ایا ټول ځوانان میدان ته راټول شوي دي؟

هو سرداره ! څومره ځوانان له ځان سره بوځې ...

زه به دوه زره تکړه ځوانان له ځانه سره واخلم ، د بدخشان نه تر تاشقنده پورې چې د خینس څومره دښمنان دي ټول دی تیغه تیروم او بیرته راستنیږم ....

ارطبون د ماروې او قطونې سره یو ځاي بیرون را ووت او په لښکرو کې ورننوت او د هغوې څخه یې تکړه اوتنومنده ځوانان راټول کړل ، زر کسه ترکان او زر کسه سغدیان یې له ځان سره واخیستل او بیایې خلکو ته اعلان وکړ: زما نه وروسته به دقبیلې سرداري دنوطس په غاړه وي .

په ټولو فرض دي چې دهغه حکم و مني ، هغه ځوانان چې ما له ځانه سره جدا کړي هغوې له ماسره ځي او پاته نور ټول خپلو کورونو ته تللې شي .

لږه شیبه وروسته دارطبون تر مشرۍ لاندې دماروه او قطونه په ګډون دوه زره کسیز فوځ دسمرقند په لور په لویه لاره روان شو ، تر ټولو مخته ماروه د خینس په اس سپره روانه وه ، هغې د اس واګې نرمې پرې ایښي وې او اس یې خپلې خوښې ته پرې ایښې و . کله کله به یې په مینه د هغه څټ په لاس ټپوو .

***

شاهین کلي ته راغې ، په فضا کې و ګرزید اوبیا دخینس په کور کې را ښکته شو او داسونو له پاره په جوړ شوي جونپړۍ باندې کیناست .

مرجنیا وکتلو او شبره ته یې وویل : هلته وګوره ! د خینس شاهین راغلی دی، زما په اند چې همدا اوس اوس را رسیدلی دی •

شبره حیران پاته شوی و •

دا دلته څنګه راغلی دی ؟

هسې نه چې د خینس کوم پیغام یې راوړی وي ، ته پوهیږې چې خینس همدې څخه د پیغام رسولو کار هم اخلي ، ورشه او په چتر باندې وخیژه او را ویې نیسه •

شبره څو قدمه ورمخته شو خو بیرته ترشا شو •

په ویره ونکي اواز یې وویل : ما ته د شاهین دنیولو نه مخکې دې دا فکر نه دې کړې چې دا په انسانانو باندې حمله کوي او د هغوی سترګې باسي • که چیرې دا پر ما حمله وکړي نو بیا ••••

مه ویریږه ! هغه یوازې په دښمن حمله کوي •

زما په تندې یې خو یې نه دي لیکلي چې زه دهغې دوست یم او که دښمن دومره بې غیرته کیږه مه ، مخته ورشه او لاس ورمخکې کړه او راویې نیسه ، وګوره په پښو پورې خو یې کومه ټوټه نه ده تړل شوې ، زه یقین درکوم چې دې به دسردار حریم په نامه کوم پیغام له ځانه سره راوړی وي •

شبره په ویره ویره ورمخته شو ، په چپر باندې وخوت ، په لړزیدلو لاسونو یې شاهین را ونیوه ، هغه په دې ډیر خوشحاله شو چې شاهین یې پرته له کوم مزاحمته نیولی دې •

دمرجینا خواته راغی او ورته یې وویل : ریښتیا هم دا الوتونکې ددوست اودښمن ترمنځ توپیر کولی شي اوس راته ووایه چې زه څه وکړم •

دا سمدلاسه دسردار حریم کور ته ورسوه ، هغه به دخینس پیغام ولولي او حتمې پریکړه به وکړي •

شبره په خپلو دواړو لاسو کې شاهین و نیوه او دسردا ر حریم دحویلۍ په لور یې منډه کړه •

حویلۍ ته په ورننوتلو سره سم یې چغې کړې •

سردار .... سردار .... د خینس شاهین راغلې دی ، شاید چې کوم پیغام یې له ځانه سره راوړې وي •

سردار حریم او دهغه شاته ټول غلامان په منډه انګړ ته راووتل ، د شبره نه یې شاهین واخیست ، او دهغې دپښې سره تړلې پیغام یې راپرانست اود لوستلو سره سم یې خپل غلام ته وویل :

په کلې کې دجنګ نغاره ووهئ ، زما زوی او لور په کوم مصیبت کې راښکیل شویدي ، کیدای شي چې پخوا جارود د هغه دښمنان په مکمله توګه نه وي له منځه وړي ، په الله تعالی سوګند چې زه به نن پخپله د هغوې مرستې ته ورځم •اوهغه ته تکلیف ورکونکو ته به ډاګیزه کړم چې عرب په خراسان کې ناخوندي نه دي •••

دفریار په دروازې باندې څلور نغاره وهونکې وختل او لویې لویې نغارې و درېولې چې اواز یې په ټول کلي کې خپور شو •

جارود بن مصعب او څه نور مشران خلک دسردار حریم دحویلۍ په لور په منډه راغلل • اوپاته ټول نر اوښځې روزنیز میدان ته ووتلې •

جارود بن مصعب ویریدلې و او دسردار خواته د را رسیدو سره سم یې ترې وپوښتل محترما! څه پیښه شوې ده ؟

هغه دخپل غلام سیواس په لور اشاره وکړه چې دخینس شاهین یې په لاس کې نیولې و •

وګوره ! د خینس شاهین راغلی دی.، هغه بیا مرسته غوښتې ده •

جارود اندیښمن شوی و •

اوس به ورته څه پیښ شوې وي ،مونږ خو په کش کې دهغه ټول دښمنان له منځه وړي و، هسې نه چې دترک په قبیلې کې هغه او ماروه ته کومه ستونزه راپیدا شوې وي •

نه ، هیڅکله هم نه ، داسې شوني نه دي ، د ترک قبیلې سردار هغه خپل زوې ګڼي او بې پناه محبت ورسره کوي ، په هر حال دا د خبرو وخت نه دې مونږ بایدله ډې ډیر ژر روان شو ، ته به زمونږ سره یو ځای یې ، د خینس

شاهین د خپل ځان سره وساته او میدان ته ولاړ شه او پنځه سوه تکړه وسلوال ځوانان را واخله او زما باغ ته ورشه او هلته زما انتظار کوه ۰

لږه شیبه وروسته سردار حریم د جارود بن مصعب او پنځه سوه وسلوالو ځوانانو سره یو ځای دکلي څخه ووت او د جیحون دسیند په غاړه غاړه یې خپل اسونه د ختیځ په لورې ځغلول ۰

د خینس شاهین هغوې ته لارښوونه کوله ۰

کله چې هغوې هغه دوه لارېو ته راغلل دکومه ځایه چې یوه لاره نیغه ترمز ته تللې وه او بله لاره د نسف دښار نه تیریده او دکش په لور تلله ۰ نو حریم تم شو او ویې پوښتل: ایا په ترمز کې د توفیل کور کتلې دی ؟

جارود منفي ځواب ورکړ ۰

زه د خپلو بندیانو دلتهون له پاره څو ځله ترمز ته تللې یم خو دتوفیل دکور دکتلو توفیق مې نه دې تر لاسه کړی ، ایا ستا اراده اوس دترمز په لور دتللو ده ؟

ستا اند سهي دي ، ۰۰۰۰ زه غواړم چې لومړی ترمز ته ولاړ شم ۰ که څه هم توفیل وژل شوي دې ، خو د هغه کور د هغو بدذاته مرکز دی چې زمونږ په خلاف په زړونو کې دښمني پالي ، زه لومړی ترمز تــــه ورځم او هغه کور له منځه وړم ، د هغې وروسته به د هغه ځایه ځم او هغه ځای ته به ورځم چې خینس په کې دی ، زما په اندچې هغوې به هغه هملته په کش کې ساتلې وي ۰

زما اندازه هم همداسې ده او بیا د شاهین مخ هم همغه لورې ته دی ۰

هغوې خپل اسونه بیا ورمخته کړل او دترمز په لور روان شول ،شاهین په فضا کې ډیرې چغې ووهلې خو بالاخره چوپ شو او د دوې دپاسه یې په فضا کې خپل الوت ته دوام ورکړ ۰

ترمز ته د ورننوتلو سره سم یوې کوڅې ته ورغلل او د یوه لاره تلونکې څخه یې دتوفیل دکور پوښتنه وکړه ۰

ایا مونږ ته ویلې شي چې د فارسیانو درئیس توفیل کور دلته چیرې دی ؟

هغه تلونکې ددومره سپرو په کتلو سره وویریدوویل د ښار ختیځې برخه کې دی •

سردار حریم ایا تر هغه ځایه مونږ ته لارښوونه کولې شی ؟

سردار حریم وویل : هرو مرو به یې وکړم •

راځه نو زمونږ سره یو ځای شه •

هغه کس دوې حویلۍ ته ورسول او بیرته ترې راستون شو ، د حویلۍ دننه لس دولس بدمعاشان ناست وو، کیداې شي سردار حریم ډیر ژر دخپل منزل په لور تلل غوښتل ،په دې خاطر یې د کومې پوښتنې ګرویزنې پرته هغه دولس کسان له منځه یوړل او ځوانانو ته یې حکم وکړ تر څو حویلۍ ته اور ورته کړي • څو کسو ځوانانو مشالونه روښانه کړل او حویلۍ ته یې اور ورته کړ •

سردار حریم چې کله دخپل لښکر سره یو ځای د شاهین په لارښوونه دترمز څخه ووت نو ویې کتل چې دسوزیدونکې حویلۍ شعلې تر اسمانه پورې خیژي ••••

***

سردار حریم او جارود بن مصعب دخپلو پنځو سوو وسلوالو ځوانانو سره هغه ځای ته ور ورسیدل چیرې چې ځینس دهغه وړې او ځوان تنومنده زمري سره مقابله کړې وه • ویې کتل چې هلته په لویه لاره هرې لورې ته مشالونه روښانه کړل شوي دي • داسې څرګندیده لکه یو لوې اوستر کاروان چې هلته تم شوي وي اویا کوم لښکر د تمځاې په څیر خپل پنډ غالي جوړ کړي وي •

سردار حریم دجارود څخه وپوښتل : په دې تیاره شپه کې او ددې وچو غرونو په لړۍ کې دا مشالونه څنګه ایښوول شوي دي ؟

جـارود خپلې مخې ته کتل او ویې ویل : زه هم پـه همدې فکر کې ډوب یم •

شاهین چیرې دی ؟

زما سره دی •••

هغه په خپل لاس دناست شاهین په لور اشاره وکړه •

د دی مطلب دادي چې مونږ لا تر اوسه پورې په سهې لاره باندې روان یو که چیرې مونږ غلط تللې واې نو شاهین به هرو مرو شور او زوګ جوړ کړې و، زما سترګې دوکه کیږي نه ، سرداره ! یقینا چې دا همغه لویه لاره ده چې د ترمز څخه را وځي او د سمرقند په لور ورځي او په هغه لور چې شاهین زمونږ لارښوونه کوي دهغې څخه هم داسې ډاګیزیږي چې خینس دکش په ښار کې دې ، هغه هلته پخوا هم بندې کړل شوی و •

کله چې دوې ددې ځایه دتیریدو په حال کې و،نو څو کسان چې بې شمیره مشالونـــه یې روښانـــه کړي و د دوې مخې ته راغلل او د دوی لاره یې بنده کړه •

سردار حریم د مشال په رڼا کې وکتل چې دا خلک ترکان او سفدیان دي • جارود ته یې وویل : که زه پـه غلطه نه یم نو دا ترکان د سردار ارطبون خلک دي •

تر دې وخته پورې یو ترکي ځوان ددوې څخه وپوښتل : تاسو څوک یاست او چیرې ځئ ؟

سردار حریم ځواب ورکړ •

مونږ د عربـو د قبیلې دبني تمیم خلک یو او د یـوه مقصد له پاره راوتلي یو •

هغه ځوان ورته په خوشحالۍ سره وویل : یقینا چې تاسو به د خینس بن یوسف د لټې په خاطر راوتلي یاست ؟

ستا خبره سهي ده ، خو تاسو څوک یاست ؟

مونږ ترکان او سفدیان یو ••• خینس بن یوسف زمونږ د قبیلې سردار دې ، څو ورځې مخته هغه د خراسان والي مروې ته ور غوښتې و• خو هغه بیرته راستون نه شو ، اس یې په ځانته ځان هلته قبیلې ته ځان را ورساوه اوس نودهغه اس مونږ تر دې ځایه پورې رارسولي یو ، هغه دلته د رارسیدو سره سم دریدلې دي او له دې ځایه هیڅری هم نه ځي •

ایا تاسو د ارطبون د قبیلي خلک یاست ؟

هو !

هغه اوس پخپله چیرې دې ؟

هغه له ځانه سره دوه زره لښکر راخیستې او د خینس په لټون پسې راوتلې دې او همدلته دی ۰

واروه ! زه دبني تمیم سردار حریم یم او د هغه سره کتل غواړم ۰۰۰ له ماسره راځه ۰

سردار حریم او جارود دهغه ترکي ځوان سره یو ځاي شول اوپاته نور عرب هلته په همغه لویه لاره باندې تم شول ۰

د لارې سره څنګ کې یوې خواته سردار ارطبون په یوه لوړه غونډۍ ناست و او شاوخوا یې پوره مشالونه روښانه شوي وو ۰

هغه ترک ځوان ور نژدې شو او ورتیټ شو اوورته یې وویل : سرداره ! دبني تمیم سردار حریم له تاسره کتل غواړي ؟

ارطبون د خپله ځایه راپورته شو ۰

سردار حریم چیرې دی ؟

د هغه کیڼ لورې ته ماروه اوقطونه هم ولاړې وې ، سردار حریم په خندا دخپل اس څخه راښکته شو او د ارطبون مخې ته راغې ، ارطبون یې په کتلو ورمخته شو ، اوپه ډیره مینه اومحبت یې ورسره روغبړ وکړ ۰

ایا زه پوښتلې شم چې دبني تمیمو دغه ستر سردار د څه له پاره په دې تیاره شپه کې دې لورې ته د راتلو زحمت ویستلې دی ؟

که چیرې همدا پوښتنه زه له تاڅخه وکړم نو بیا ؟

زه خو دخپل خینس د لټون له پاره ددوه زرو لښکرو سره یوځاي دې لورې ته راغلې یم ۰

حریم ورته هم په ډیره ښه لهجه ځواب ورکړ : زه هم دخپل زوې خینس د لټون له پاره راوتلې یم ، د هغه شاهین زما سره دې او هغه ماته د المدد پیغام راوړی دی ۰

او له ماسره دخینس اس دي ، همغې تر دې ځایه مونږ ته لاره ښوولې ده ، خو ددې نه مخته مونږ نه پوهیږو چې چیرې ولاړ شو ، په دې ځای کې مونږ ته دوه شیان ترلاسه شوي دي ، یو مړشوی زمری او بله بکۍ •

سردار حریم څه ویل غوښتل چې په ماروه یې سترګې ولګیدی او په خوشحالۍ یې ورته وویل : اوه .... دلته خو زما لور ماروه هم راغلې ده ... اوقطونه هم .... ورمخته شو او ددواړو په سر یې د شفقت لاس کیښودلو •

بیا یې دارطبون نه وپوښتل : ایا د قطونه واده ••••

ارطبون ورته د مخه په خبرو پیل وکړ •

قطون دخینس سره واده کړل شوېده او اوس د ا دواړه دهغه ښځې دی •

دا ځل جارود هم د لومړي ځل له پاره د ارطبون سره په خبرو شو •

سردار ارطبون ! ایا ماته هغه مړ زمری او بکۍ ښوولې شئ •

سردار ارطبون یوې لورې ته ورمخته شو وویل : له ماسره راځئ •

حریم ، جارود ،ماروه و قطونه یې تر شا شا روان شول ، دهغوې مخکې وروسته ، ښي او کیڼ لورې ته دمشالونو لورنکي ځوانان روان وو •

کله چې هغه مړ زمرې ته راغلل ، نو جارود تـر ډېرې شیبې پـورې هلته ودرید او زمري یې معاینه کړ بیا یې د یوه ترکي ځوان څخه مشال واخیست او په ډیر غور سره یې د مړ زمرې وجود وکتلو بیا یې خپله پریکړه واوروله •

دا زمرې دخینس په لاسو وژل شوی دی •

ارطبون ترې په بیړه وپوښتل : ددې په ملا او سر باندې د خینس د زنځیرې حملې نښې نښانې شته •

خو دا زمرې له کومه راغې ؟ په داسې حال کې چې په دې غرنیو لړیو کې هیڅ ځیرونکې حیوان نه شته •

هو داخبره حل کول غواړي ••• راځئ اوس هغه بکۍ وګورو چې تا یې یادونه کړې ده •••

کله چې هغه بکۍ ته راغلل نو هم هلته جارود غږ کړ او ویې ویل: زه اوس په ټوله خبره وپوهیدم ، زمري یې په دغې بکۍ شکله پنجره کې بند راوړې و ، نوکله چې خینس بیرته د مروی څخه راستون شوې دا زمري یې پرې همدلته ورپرې ایښې دی •

خینس ددې زمري مقابله کړې ده اوله منځه یې وړې دې له ددی نه وروسته زما زړه ګواهي ورکوي چې هغو خلکو چې په خینس یې زمری ورپرې ایښې و ، خینس یې نیولې او له ځانه سره یې وړې دی •

ارطبون په پلټونکو سترګو د جارود په لور وکتل: په الله تعالی سوګند ، ته سهي خبره کوې ، اوس ووایه چې مونږ څه باید وکړو •

زمونږ لښکر تیار دې ارطبون سرداره! خپلو لښکرو ته دې ووایه چې په اسونو سپاره شي او زما تر شا شا را روان شي ، زه په یقین سره وایم چې مونږ به د خینس په راپیدا کیدو کې بریالي شو، مونږ بــه اوس د کش د ښــار په لور ورځو ••••

لږه شیبه وروسته جارود بن مصعب ، ارطبون ، حریم ، ماروه اوقطونه یو دبل تر شاشا او بیا دهغوې تر شا ټولې لښکرې یو ځاي د سمرقند په لور په لویه لاره رواني شوې •••

***

خینس او بودا سماک د کش په همغه تاخانې کې بندیان وو چې پخوا هم په کې خینس بندي پاته شوې و او بیا جارود دهغه ځایه ویستلې و، د شپې په هغه برخه کې چې چرګانو یو ځل اذان ویلې و او خینس اوسماک په زنځیرونو تړلې په تاخانې کې پراته وو، چې چا د کړکۍ څخه کمند را ګذار کړ ••

خینس تکان وخوړ او د کړکۍ په لور متوجه شو ، په دې وخت کې په تاخانې کې یــو مشال روښانــه و او د هم هغې په رڼا کې کړکۍ د لرې نه ښکاریده •

لږه شیبه وروسته جارود بن مصعب کړکۍ ته راغې او اواز یې وکړ: خینس ••••

دجارود دکتلو سره سم خینس دکړکۍ لورې ته راغې اوپه پټه توګه یې وویل: جاروده! څنګه یې؟

جارود ورته په خندا و وویل: را رسیدلی یم ... ته به مو یاد کړې او مونږ به را ونه رسیږو، دا څنګه شونې دي؟ په تاخانې کې درسره بل څوک دی؟

د ماوره ماما سماک دی؟

دا دلته څنګه رارسیدلی دې؟

دا یو اوږود داستان دې، بیرون چې در ووځم بیا یې درته وایم.

زه به کړکۍ ماته کړم..

لږ صبروکړه، دا راته ووایه چې څومره ځوانان درسره دي؟

پنځه سوه ځوانان دې او سردار حریم پخپله هم راغلې دې

د خینس په مخ دخوشحالۍ څپې راغلې: سردار پخپله هم راغلې دې؟

هو! ددې نه پرته سردار ارطبون، ماروه، او قطونه هم راغلي دي.

خینس ترې په حیرانتیا سره وپوښتل: هغوې څنګه خبر شول.

ستا اس هلته ورغلی و.

دهغوې سره څومره ځوانان دي.

دوه زره لښکر یې له ځانه سره راوستلی دي؟

خینس دادمن شوی و.

اوس نو دکړکۍ د ماتولو اړتیا نه شته. زه د ترمز دتوفیل ښځې تتیا ن نیولې یم، هغه د ماروی ترور او د سماک خور ده، سهار په همدې سیمه کې دتوفیل، باغر او برقه چې څومره بدمعاشان دې په دې میدان کې را تولیږي، دکش ښار تول تندارچیان هم را ځي، هلته میدان کې زما او دسماک د مقابلې له پاره دوه دوه کسان را وستل کیږي، نو که هغوې مونږ له منځه یوړو نو سهي او کنه درې درې ځوانان به نور را وړاندې کوي. دا شمیره به همداسې ډیریږي تر څو چې مونږ دواړه له منځه ولاړ شو.

نو مونږ څــه وکړو؟

تاسو بیرته ستانه شئ ، او ددې تاخانې شاوخو چیرې پټ د سهار انتظار وکړئ ، دکش دښار په شرقي برخه کې کڼ باغونه دي ، هم هلته ځېل اسونه و تړئ او څارونکې ورته پریږدئ او پاته تاسو نور ټول میدان ته د نندارچیانو په څیر راشئ او ځېل کسان د هر هغه بدمعاش شاته و دروئ چې دې میدان ته وسلوال راننوتې وي ، زه غواړم چې دا ټول بدمعاشان د مقابلې په میدان کې له منځه ولاړ شي او بیا په راتلونکې کې زمونږ له پاره کوم مصیبت راپیدا نه کړای شي ، که چیرې زه اوس ددې کړکۍ نه بیرون شم نو بیا هغه بدمعاشان چې سبا سهار په دی میدان کې را تولیږي محتاط ګرځي او د ځېل ځان د ویرې به هیڅکله هم میدان ته رانه شي ...

زه ستا په خبره پوه شوم خو فکر مه کوه ، څنګه چې ته غواړې همغسې به وکړو ...

سردار ارطبون او سردار حریم چیری دی ؟

هغوې دځپلو لښکرو سره یوځای ددې میدان نه یو فرلانګ لرې میشت شوې دي .

خنیس وویل : اوس دې له ځانه سره څو کسه ځوانان راوستلی دي .

جارود وویل : دلته تاخانی پورې ، له تاسره دخبرو کولو له پاره .

خنیس وویل : هـو...

جارود وویل : لس کسه ځوانان را سره دي .

خنیس وویل : د تاخانې شاوخوا وسلوالو پهره دارانو سره مو څه کړي دي ؟

جارود وویل : ما خو یوازې دوه کسه پهره داران ختم کړي دي ، هغوې د کړکۍ ددیوال سره یو ځای پهره کوله ، دهغوې لاشونه مې ددیوال سره یوځای ایښودي دي...

خنیس وویل دا غلطه ده ، د هغوي لاشونه دد ې ځایه یوسئ او چیرې یې غایب کړئ •• دهغوي په ذهن کې هم باید دا ونه ګرځیږي چې زما دمرستې له پاره څوک راغلي دي •

فکر مه کوه ، زه به یې ددې ځایه یوسم ، ما خو ستا له پاره دخوراک څه شیان هم راوړي دي ، دا ماته ماورې او قطونه راکړي دي •

دننه یې را واچوه ••• دا خو دې ډیر ښه کار کړې دي ، زه وږې شوي یم دې خلکو مونږ ته د خوراک له پاره هیڅ نه دي راکړي •••

جارود دیوې کڅوړې څخه د خوراک شیان راوویستل او لاندې یې ور وغورځول ، دخوراک دشیانو د اخیستلو وروسته خینس ورته وویل دلته خو اوبه هم نه شته ، د خوراک وروسته به اوبه له کومه کړم ؟

زما سره د اوبو مشکیزه شته •

بیا یې راوړه اور راوغورزوه •

جارود ورته هغه مشکیزه ورکړه •

زه به اوس ولاړ شم •

هو ولاړ شــه ••

دماروې اوقطوني له پاره کوم پیغام •

هغوې ته ووایه چې خینس لا تر اوسه ژوندی دی ، سردار حریم و ارطبون ته هم زما سلامونه ووایه •

جارود راښکته شو •

خینس د لرګي په مرسته په کړکۍ کې نښتې کمند را پرانست اوګذار یې کړ ، جارود هغه کمند را تاو کړ او له ځانه سره یې واخیست • بیا یې دخپلوملګرو په مرسته هغه دوه لاشونه هم راپورته کړل اوبه تیاره کې یې د ختیځ په لور کوم پټنځي ته له ځانه سره یوړل •

***

بله ورځ سهار د مقابلې میدان د تندارچیانو څخه ډک شوې و• دتوفیل اویاغر په زرګونو وسلوال ځوانان هلته را ټول شوي و. دوې نن سبا د نتیان

تر لاس لاندې وو ، دکش د ښار نه هم بې شمیره نر اوښځې د ننداري له پاره راغلي وو.

سردار ارطبون او سردار حریم هم دخپلو وسلوالو سره میدان ته د نندار چیانو په بڼه را ننوتي وو او د هغوې وسلوالو ځوانانو د توفیل او تتیان د بدمعاشانو شاوخوا نیولې وې ، دې دواړو سردارانو دمیدان په ټولو دروازو کې هم خپل ساتونکې درولي وو.

کله چې میدان د نندارچیانو نه تر خولې پورې ډک شو نونیتان هم د یوې کوټې څخه راووتله او د میدان په یوې لورې کې په لوړه چوتره کیناسته ، شاوخوا یې وسلوال پهره داران و درول شول.

په دې وخت کې څو کسه وسلوال ځوانان د تاخانې په لور ورغلل او خینس او سماک یې په داسې حال کې چې په زولنو کې راپیچل شوي و راوستل.

د میدان منځته د راوستلو وروسته یې دهغوې زولنې پرانستې او بیا یې ورته ټوله هغه وسله ورکړه کومه یې چې ترې د نیولو په وخت کې اخیستې وه ، خینس د تورې او خنجر پټۍ دخپلې چینې لاندې و تړله او زنځیر او ډال یې را واخیست اوپه لاسو کې یې و نیوه.

سماک هم خپل ډال او توره سنبال کړې وو، کله چې وسلوال پهره داران میدان ته راښکته شول نو سماک خینس ته وویل: د رزتشت په خدای مې سوګند چې نن ورځ به زمونږ ددواړو له پاره ډیره درنه وي ، زرتشت ته پناه وړم ، نن په میدان کې ډیر زیات خلک را ټول شوي دي او ګڼ شمیر یې بدمعاشان دي چې زما د خور د امر لاندې کار کوي ، که چیرې په دې مقابله کې مونږ بریالي هم شو ، نو بیا به هم زمونږ مرګ حتمي وي ، ښه به دا وی چې د همدا اوس څخه خپله وسله په ځمکه و غورځوو ، ای د قوت دیوتا! زه خو د جنګ نه ویریږم ، ستا پریکړه څه ډول ده ؟

خینس یې خواته راغې او په شا یې و ټیوه.

سماکه ! ۰۰۰ همت له لاسه مه ورکوه ۰۰۰ که چیرې ته ریښتیا هم زما ملګرتیا وکړې ۰۰۰ زه درسره وعده کوم چې په دې میدان کې به دې مرګ ته پرې نږدم ۰۰۰

دا به څنګه شوني وي ؟

ایا ته فکر کوې چې زه درواغ وایم ؟

نه .... ستا په څیر ځوان درواغ نشي ویلې .... د قوت دیوتا ! زه په هر حال ستا تر څنګ یم او څنګه چې ته وایې همغسې به کوم۰۰۰۰

میدان ته څلور ځوانان د مقابلې له پاره را روان وو۰

خینس چوپ ولاړ و۰

دغو څلورو کسانو د راتلو سره سم خپلې تورې رابربنډې کړې ، خینس سماک له مټه و نیوه او شاته یې و دروو۰

ته لږ څه ارام وکړه سماکه ! دا څلور خو به زما د وینو تږې زنځیر هم موړ نه کړي ۰

خینس د وحشیانوپه څیر خپل زنځیر هوا ته پورته کړ اوپر هغوې یې حمله وکړه ، په همدې وخت کې هلته په نندارچیانو کې ناست جارود د خینس شاهین هم فضا ته خوشې کړ ، هغه راپورته شو او میدان ته راغې او دخینس په اوږې کیناست ۰

مقابلې ته راغلیو هغو څلورو کسانو غوښتل دخپلو تورو په واسطه په خینس حمله وکړي ، خو دخینس دحملو چټکتیا او دحملو حکمت یې د هغوې ټولې حربې ناکامه کړې وې ، هغوې څلور واړه د زنځیر ښکار شوي وو او په میدان کې د حلال کړو ځناورو په څیر پراته و او دخپلې اخري ساه له پاره یې ترپکې وهلې ۰۰۰

دهغوې څلورو کسانو د له منځه تللو وروسته ،خینس خپل شاهین را واخیست او په خپل لاس یې کیناوه ، د هغه سر یې ښکل کړ او دسماک څنګ ته راغې او ودرېد۰

سماک ترې په بنده ساه وپوښتل : د قوت دیوتا ! ته به ترڅو پورې زما ساتنه کوې .

دا ځل میدان ته اته کسه ځوانان راښکته شول .

سماک ورته په ډیر حسرت سره وویل : هلته وګوره ! میدان ته دمقابلې له پاره اته کسان را ښکته شول ، نن به زما اوستا مرګ په همدې میدان کې وي .

خنیس وویل : هیڅکله هم نه سماکه !

سماک سر ښکته کړ او ویې ویل : ستا خبرې خو اوس زما د فکر نه پورته دي ، خو زه په هر حال کې ستا تر څنګ ولاړ یم .

دا اته کسه ځوانان به لا میدان ته پوره نه و داخل شوي و ،چې دسردار ارطبون ترڅنګ ناست سردار حریم د جارود بن مصعب په لور وکتل او په سترګو یې ورته اشاره وکړه .

جارود خپل لاس هوا ته پورته کړ ، ددې سره سم هلته ولاړو عربو کماندویانو خپل کمانونه د غشو نه ډک کړ .

کله چې د جارود لاس راښکته شو نو دې عرب ځوانانو دخپلو غشو باران پیل کړ او هغه اته واړه یې همدلته په میدان کې ډیرې راوغورځول . ددې اتو کسانو په مړینه باندې په میدان کې یو ډول چوپتیا حاکمه شوه ، او د سردار حریم لوړ غږ په میدان کې انګازې راپیدا کړې .

دا وینه تویونکې لوبه نوره بنده کړئ ... د توفیل ښځې تتیان او دتتیان دوستانو واورئ ! زما نوم حریم دې اوزه د بني تمیمو سردار یم او د خینس بن یوسف دمرستې له پاره راغلی یم .

دتتیان ټول ملګرې راپورته شول او خپلې تورې یې راوویستلې :سردار حریم بیا وغورید وویل : زه خپلو ځوانانو ته حکم کوم چې د تتیان هیڅ کس تیښتې ته پرې نږدي ...

کله چې سردار حریم چوپ شو نو د سردار ارطبون غږ هم په میدان کې انګازه وکړه .

میړنو ترکانو او سفدیانو ! که چیرې نن تاسو دخپلو عربو ورونو تر څنګ په پوره میړانه و نه جنګیږئ نوپه خداې سوګند چې هیڅکله به مو و نه بښم ...

په میدان کې شور او زوګ راپیدا شو ، ترکانو ، سفدیانو او عربو په میدان کې د وینو لوبه پیل کړې وه .

نیتیان پورته شوه اوغوښتل یې دمیدان څخه و تښتیږي ، خو دهغې تر څنګ ناستې پټ مخې ماروې خپل کمان د غشي نه ډک کړې و او هغه یې پرې ورپریښود او دهغې سینه یې پرې څیرې کړه .

خینس او سماک د نتیان په لور ورغلل ،ماروې توره راوویستله اودخپلو بیساکو په واسطه د نتیان په لور ورغله و په داسې حال کې چې قطونې اوڅو نورو ترکي ځوانانو یې ساتنه کوله .

کله چې ماروې د نتیان ورمیږ د هغه د بدن څخه پرې کوو ، نو سماک چې هلته ورلنډ شوې ورغږ کړ : ماروې صبروکړه ... صبر وکړه لورې ...

ماروې د سماک په لور وکتل .

سمال ورمخته شو او بیا یې په خپله توره د نتیان څټ ورپرې کړ .

زه غواړم د خپلې خور څټ پخپله پرې کړم ... دې ستا د خاوند سره ډېر تیرې کړې دی .

په میدان کې یو ځل بیا د سردار حریم اواز را و غوړید .

خینس ، ماروه ،قطونه او سماک دې په جنګ کې برخه نه اخلي او دلته دې زما خواته راشي .

بیا دوې څلور واړه راغلل او د سردار تر خوا و دریدل .

عرب ،ترکان او سفدیان په جنګ کې بوخت وو او په خپلو ښکارونو یې داسې حملې کولې لکه وحشي وږې ځناور چې خپل ښکار شیبیلي .

لږه شیبه کې میدان پاک شو ، یوازې ترکان ، سفدیان او عربان په میدان کې پاته شول .

هغو بد ذاته چې د میدان څخه د تیښتې هڅه کړې وه هغه هلته په دروازو کې د ولاړو عربو له خوا له منځه تللي وو.

د میدان په منځ کې ولاړ جارود بن مصعب په خوله کې ګوتې کیښودې او په زوره زوره یې وویل: ټول ځوانان دې هغه باغ ته ولاړشي چېرې یې چې اسونه تړلي دي او ټول اسونه دې همدلته راولي.

څو لمحې وروسته میدان خالي شو، ټول ځوانان د اسونو د راوستلو پسې ولاړل، جارود هم د میدان څخه رابیرون شو او دسردار تر څنګ ودرید.

سردار حریم د خینس څخه په خندا وپوښتل: څنګه ددوې په لاسو کې راغلې؟

خینس هم ورته وخندل.

د ترمز نه مخکې غرنیو لرېو کې یې زه راګیر کړم..

دا ځل سردار ارطبون ترې وپوښل: هلته یو مړ زمری او یوه اوسپنیزه بګی هم تر لاسه شوي دي، دهغې کیسه څه دول ده؟

خینس د سماک په لور وکتل.

د سماک په مخ دویرې او وحشت علامې را څرګندې شوې.

دا بګی په اصل کې یوه پنجره ده چې په هغې کې یې یو وږې او قوی زمرې بند کړې و، دوې فکر کاوه چې زمرې به ما له منځه یوسي او ددوی ټولې لارې به پاکی شي خو ما هغه زمری لاندې کړ، بیا دوی زه و نیولم او په تیږو یې وویشتلم، په دې توګه زما په نیولو بریالي شول.

دسماک سره دې څنګه لیدل وشول

خینس بیا دروا غ وویل: سماک هم په دغه وخت کې د سمرقند په لور روان و، هغه یې په دې خاطر و نیوه چې هغه خپلې خور تتیان ته په سختی سره وویل چې خینس پریږدي.

مونږ د سماک ممنون یو.

سماک هم دممنونیت په سترګو خینس ته وکتل.

ارطبون یو ځل بیا خینس ته وویل: د والي سره دی وکتل.

خنیس وویل هو، د هغه سره مې لیدنه شوی ده •

د هغه کیسه څه ډول وه •

خنیس وویل : ستا اندازه سهي وه ، هغه غوښتل زه دهغه د فوځ سپه سالار وګرځم •

ارطبون اندیښمن شانته شو •

بیا هغه څه ډول پریکړه وکړه ؟

ما ترې انکار وکړ •

خفه شوې خو به نه وي •

نه هیڅکله نه ، هغه له ماسره داسې کړچار وکړ لکه یو ورور یې چې دبل ورور سره کوي ، زما له پاره یې یوه داسې میلمستیا هم تیاره کړې وه چې نمونه یې کمه تر سترګو کیږي •••

تا ورته ددې منصب د نه منلو علت څه ووایه •

ما چې زه اوس د ترک اوسفدي قبیلو سردار یم او له ماسره اوس پنځلس زره وسلوال ځوانان دي او کوم وخت چې ته کوم جنګ ته ورځې نو زه به دا پنځلس زره ځوان فوځ ستا دمرستې له پاره حاضروم ، هغه زما خبره و منله اوزما څخه یې شکریه ادا کړه •

ارطبون د دعا په څیر خپل لاسونه هوا ته پورته کړل •

یا الله ستا شکر دی •••

تر دې وخته پورې ټول لښکر په اسونو سپور راغې ، سردار ارطبون د سردار حریم نه اجازه واخیسته •

سرداره : مونږ ته اجازه راکړئ ، تر څو مونږ کوچ وکړو ••• هلته به دقبیلې خلک زمونږ د بیرته ورستنیدو په اړه په ناکراری سره منتظر اوسي •• ددې نه پرته په کوم ځای کې چې مونږ قیام کړې هلته د رمو له پاره نوره ګیاه هم ختمیدونکې وه ، اوس به مونږ د نوې څرځای د پیدا کیدو په خاطر د شمال په لور کوچ کوو••

سردار حریم ورسره خدای پاماني وکړه •

نو بیا مو خداې مل ..

هغه خینس سره د غاړې ورکولو وروسته دماروې او قطونې په سر لاس کیښودلو له هغه وروسته په خپل اس دسپریدو په وخت کې یې خینس ته وویل هلته مې د توفیل په حویلۍ کې چې څومره بدذاته وو ټول وژلې دي او حویلۍ ته مې اور ورته کړې او د خاورو سره مې خاورې کړې ده ،اوس به په خراسان کې هیڅوک دښمن و نه لری اوس په ښه او ازاده توګه ګرزیدلې شې ...

سردار حریم او جارود دخپلو لښکرو سره روان شول ، ارطبون او قطونه هم په خپلو اسونو سپاره شول .

خینس سماک ته وویل ته هم راځه زمونږ سره یوځاي شه ... او دژوند دا پاته ورځې زمونږ سره یو ځاي تیرې کړه .

سماک د یوه ترکې ځوان په اس دهغه تر شا سپور شو .

خینس په خپل اس سپور شو او ماروه یې خپل مخته کینوله بیا ټول لښکر دهغه ځایه کوچ وکړ اوبه زرګونو اسونو د سمرقند په لویه لاره دهوا سره خبرې کولې .

***

دخینس تر مشرۍ لاندې کاروان د سیحون دسیند څخه تیر شو او دڅو ورځو پرلپسې سفر وروسته یوه ورځ اصبیجان ته ورسید .

دښار نه بیرون یې د یوې داسې لوې لارې په دوه لارې کې یې ښیې اړخ ته خپلې خیمې ودرولې چې دهغه ځایه یو سرک د شمال څخه د فاریاب په لور ورته او بل د شمال ختیځ په لور د طراز څخه تیریده او په غرنیو لړیو کې ورکیده ، هغه ځاې کې چې هغوې خپلې خیمې ودرولې هلته د وښو اوڅریدو دومره پراخه ځایونه وچې د ډیرو ورځو له پاره پرې د څریدونکو حیواناتو ګذار کیدله .

یوه ورځ په داسې حال کې چې هغه دخپلې خیمې نه بیرون ناست و او دماروې او قطونې سره یې خبرې کولې ، د قبیلي یو ځوا ن په منډه ساه نیولې راغې .

سرداره ! د ښار حاکم ور بللې يې •

خينس راپورته شو •

څه خبره شوې ده ؟

زمونږ څو کسان د ښار بازار ته د سودا د اخیستو په خاطر ور ننوتلې و، دښار خلکو زمونږ نه وپوښتل چې تاسو څوک یاست • مونږ ځواب ورکړ چې مونږ مسلمانان او کوچیان یو ، ددی خبرې د اوریدو وروسته هغوې وویل چې مونږ پر مسلمانانو څه شي نه پلورو ، مونږ څوکسه دکانداران د حاکم دربار ته له ځانه سره روان کړو ، هغه مونږ ته وویل چې خپل سردار راوبولئ .... لومړی به زه د هغه سره خبره وکړم او بیا به کومه پریکړه کوم•••

هلته په ښار کې زمونږ څو کسه ځوانان شتون لري ••

دوه نیم درې سوه کسان به وي •

زما اس راوړلی •

هغه شخص منډه کړه او هغه لورې ته ورغې چیرې چې رمې څریدلې ،دهغه ځایه يې دخینس اس را ونیوه اورایې وست•

خينس پخپله په اس زین کیښود او بیا د ښار په لور روان شو • کله چې خینس بازار ته ورسید نو هلته ولاړ ځوانانو یې په پوره شور اوولولې سره استقبال وکړ او په لوړ اواز يې دښار د دکاندارانو او حاکم پخلاف خپله کرکه اونفرت څرګند کړ •

خينس د خپل لاس په پورته کولو هغوې چوپ کړل او د هغه ترک ځوان په لار ښوونه د حاکم ددفتر په لور ور روان شول•

دښار دننه چې دقبیلي څومره کسان وو هغوې ټول دخینس تر شا دحاکم دفتر ته ولاړل •

دمحل په دروازه کې خینس د اس نه راښکته شو ، په یوې اوږه یې اوسپنيز زنځیر و اوپه بله یې خونړي شاهین ناست و •

دمحل په پاتخو ور وخوت خو نور ځوانان هملته په پاتخو کې ورته منتظر کیناستل.

په دروازې کې ولاړ ساتونکې ته خینس وویل: خپل حاکم ته ووایه چې دکوچیانو دقبیلي سردار راغلې دی.

لږه شیبه کې هغه ساتونکې بیرته راستون شو اوخینس یې له ځانه سره دننه بوتلو.

خینس په ډیر وقار سره هلته ورننوت او د ښار د حاکم ترمخه کیناست.

هغه په ډیره بده توګه دخینس نه وپوښتل: ایا ته د کوچیانو د قبیلي سردار یې؟

هو! زه یې سردار یم

نوم دې څه دې؟

خینس بن یوسف

ستا د نوم او څیرې نه ډاګیزیږې چې ته به عرب اوسې.

ستاخبره سهي ده.

ستا کاروان خو دترکانو اوسفدیانو نه جوړ شوي دی، ته څنګه دهغوې سردار ګرزیدلي یې؟

ته ډا خبره اوس پریږده .... دا راته ووایه چې زه دی څنګه رابللې یم؟

د اصبیجان د حاکم غصه نوره هم زیاته شـوه.

دا ښار پریږدئ او بلې کومې لوری ته ولاړشئ.

ولی؟

ستاسو خلک چې کله د سودا د اخیستو له پاره راځي نو ددکاندارانو او دښار د اوسیدونکو ترمخه دخپل دین له پاره تبیلغ کوي چې په پایلو کې یې دښار څه خلک مسلمان شوي هم دي او دا خبره زمونږ د دین په خلاف ده

ستا سو دین څه دې؟

مونږ د تناسخ په مسئله باندې باور لرو.

او که زه دا ووايم چې مونږ مسلمانان د خپل دين له پاره تبليغ په خپل ځان فرض ګڼو نوبيا ؟

نوبيا داتبليغ بل کوم ځاې کې وکړئ ۰۰۰ زما په ښار کې به يې نه کوئ ۰

خنيس وويل : که زه انکار وکړم نوبيا ؟

حاکم دخپله ځايه پورته شو او وقهريد ۰

ستا دا جرئت چې په داسې شان سره زما تر مخه خبرې کوې ۰ زما په يوې اشارې به زما ځوانان راټول شي او ستا ځټ به درېرې کړي ۰

خينس په غصې سره راپورته شو ۰

خير خپل ساتونکې دې را وغـواړه ، زه په ځانته ځـان د هغوې له پاره بسنه کوم ۰

حاکم لاسونه وپړکول او د چا دراتلو انتظار يې پيل کړ ۰

دخينس ځوانان هملته په پاتخو باندې دهغه د دروازې تر څنګ ولاړ وو۰

کله چې د حاکم کسانو کوټې ته د راننوتلو هڅه پيل کړه ، نو دخينس کسانو هغوې هملته بيرون تم کړل ، ځکه هغوې د خينس او حاکم ترمنځ خبرې اوريدلې وې ۰

خينس ورته په طنزيه توګه وويل : يو ځل بيا لاسونه وپړکوه ۰ شايد چې ستا د لاسونو په پړکولو کې اغيز کم شوې وي خو داخبره په ذهن کې و ساته چې زما په سلګونه ځوانان هلته ستا د محل نه بيرون ولاړ دې اوستا ساتونکې يې هم هلته تم کړيدي ، اوس چې زه درڅخه دڅه شي پوښتنه کوم دهغې ځواب راکړه او کنه زيانمن به شی ۰

حاکم غاښونه وچيچل اووېې ويل : وپوښته ۰

نوم دې څه دې ؟

زما نوم اريون دی ۰

نو اريونه واوره ! زه درته د اسلام په لور بلنه درکوم ، که هغه دې ومنله نو په دواړو جهانو کې به برياليې اوسې او که چيرې انکار دې وکړ نو زه به دې په خلاف لښکرې راوکاږم ، ما د کوچيانو د قبيلي يو معمولې سردار

مه کړه ، په خراسان کې ستا ملګري او نامسلمانه خلک ماته د قوت دیوتا وایې او په یوه وخت کې د ختیځ سیمی ستر سپه سالار قتیبه بن مسلم رحمه الله یو سالار وم •

اریون سر ښکته کړ او ویې ویل : یوه ورځې مهلت راکړه ، زه به د خپلو سردارانو سره سلا مشوره وکړم او بیا به تاته ځواب درکړم •

خینس راپورته شو •

ماته منظور ده ، بله ورځ همدا وخت زه ستا محل ته راځم •

خینس بیرون راووت او کله چې دپاتخو ځخه ښکته شو او سرک ته راغې نو ویې کتل چې هلته دښار یو شمیر ښځې او نر راټول شوې دي ، هغوې ټول اندیښمن اوغمژن وو، خینس د یوه ترک ځوان ځخه وپوښتل : دا خلک ځوک دي ؟

دا ټول دښار نوي مسلمانان دي ، دوې زمونږ دهغو ورونو په تبلیغ مسلمانان شوي دي چې ښار ته د سودا د اخیستو په خاطر راځي ، دوې اوس غواړې له تاسره خبرې وکړي •

خینس د هغوې دډلې ځخه دیوه معمر شخص مخې ته راغې اوبه نرمۍ سره یې ترې وپوښتل : تاسو څه ویل غواړئ ؟

هغه بوډا ورته وویل : ایا هم ته د مسلمانو سردار یې ؟

هو ! همدا زه سردار یم •

مونږ ددې خبرې کولو ته حاضر شوي یو چې تر څو چې ستاسو قبیله دلته وي نو دا خلک به زمونږ سره ښه سلوک کوي خو کله چې تاسو ددې ځایه ولاړشئ نو دوې به مونږ ټول ووژني ، مونږ غواړو چې یا خو مونږ ټول دمسلمانانو سره یوځای ولاړ شو او یا همدلته زمونږ د راتلونکې په اړه کوم ښه قدم واخیستل شي •

خینس په اوږو و ټپوو وویل : تاسو په دې اړه اندیښنه مه کوئ ، ما د ښار حاکم ته د اسلام د قبلولو وړاندیز کړی دی ، هغه راسره وعده کړې ده چې په دوو ورځو کې به دخپلو مشاورینو سره د سلا مشورې ورسته کومه

پریکړه کوي ... زه اوس همدلته یم ،تاسو په دې اړه فکر مه کوئ ، زه به هیڅکله هم تاسو ځانته او بې وسه پرې نږدم .

هغه ټول نوي مسلمانان شوي خلک ددې خبرو په اوریدو سره خوشحاله شول ،او دخینس په اړه یې نعرې ووهلې .

کله چې خینس بیرته قبیلي ته راستون شو نو ارطبون ، مارو او قطونې یې په ډیره ناکرارۍ سره انتظار کاوه ، څنګه چې خیمې ته ورننوت نو ارطبون یې په کتلو خوشحاله شو او ور ته یې وویل :

د الله تعالي شکر دی چې په خیر راغلې ، هلته د تللو نه مخته به دې ماته ویلي و، زه به پخپله له تاسره یو ځاي هلته ورغلې وم ، ددې ځای حاکم چې اریون نومیږي ډیر بدمزاجه انسان دې ، زه ویریدم چې ته به هرومرو دهغه سره لاس و ګریوان شې .که چیرې تر لږې شیبې پورې ته نه واې راغلې نو زه به پخپله هلته در رسیدلي وم .

هغه در ته څه وویل ؟

ویل یې ددې ځایه د خپلې قبیلي سره یو ځاي کوچ وکړه .

ولی ؟

علت یې دا وایه چې ستاسو خلک چې کله د سودا د اخیستو له پاره دلته بازار ته راځي نو دکاندارانو او د ښار اوسیدونکو ته ددین تبلیغ کوي اودا خبره زمونږ دمسلک خلاف ده .

تا څه ځواب ورکړ ؟

ما ورته وویل چې : تبلیغ کول زمونږ دنده اوفرض دي ، ما هغه ته داهم وویل چې یا اسلام ومنه اویا دې په خلاف لښکرې راباسم ، هغه راڅخه ددوو ورځو مهلت وغوښت ، وګورو چې وروسته څه کیږي ، ماته خو ډیر عیار انسان ښکاریږي ، زما زړه وایې چې هسې نه چې مونږ ته دوکه راکړي او دشپې زمونږ په پنډ غالي باندې خونړی یرغل را نه وړي ، زه به د اوس نه خپل لښکر دداسې حادثاتو دمخنیوي له پاره تیار کړم.

ارطبون یې هم دخبرې تائید وکړ .

ته سهې خبره کوې • زه اریون د ډېره وخته راهیسې پیژنم ، هغه په دې شمالي سیمو کې تر ټولو ډیر عیار او دوکه بازه انسان دی • هغه به هرو مرو پر مونږ شپینی حمله کوي •••

ماروی په ډیره مینه خینس ته وویل : په ښار کې تر اوسه پورې څوک مسلمان شوی هم دی او کنه ؟

هو! بی شمیره کسان مسلمانان شوي دي•

دهغوې عکس العمل څه ډول و •

هغوې به په هر حال زمونږ تر څنګ دریږي •

خینس یو ځل بیا ارطبون ته وویل : سرداره ! ایا پخوا به تاسو دد ځایه بیرته ستنیدئ •

هو! په دې ښار کې دا زمونږ اخري پړاو دې ، ددې نه وروسته مونږ بیرته ستنیدو او دبدخشان په لور ورتللو •

خو داځل به ددې ځایه بیرته نه ستنیږم ••• سرداره ! د سیحون دسیند په غاړه غاړه به مونږ نور هم دشمال په لور ور غځیږو او نوې ځمکې ځایونه به پید کوو •

ښنګه دې چې زره غواړي همغسې وکړه .... اوس ورشه او خپل لښکر تیار کړه ، په دې ورځو کې زمونږ لښکرې باید شپه او ورځ د تیارسئ په حال کې اوسي •

خینس بیرته راستون شو •

راځو چې ځو ••••

ارطبون ورسره یو ځاي شو قطونې خپل مخ تریو کړ او ویې ویل : مونږ دواړه خویندې هم له ځانه سره بوځی•

خینس بیرته ورستون شو او ورته یې وویل : نو ژاړی ولی .... راځئ ؟

ماروې او قطونې دواړو وخندل او د هغوې تر شاشا روانې شوې •••

***

په همغه ورځ ،کله چې ماښام تیرغونې کیده ،خینس په خپله خیمه کې د ارطبون ، ماروې او قطونې سره ناست و •

یوترک ځوان دننه را ننوت او ویې ویل : سرداره ! دښار نه یونوی مسلمان راغلې او تا ته څه ویل غواړي •

خینس تکان وخوړ •

د سردار ارطبون سره یو ځاي بیرون راووت او بیا یې هغه له ځانه بلې خیمی ته بوت او ویې ویل : هغه دننه راولی •

ماروه او قطونه هم د پردې تر شا ولاړې وې تر څو ددوې خبرې واوري ، په دې وخت کې هغه ترک ځوان هغه نوي مسلمان له ځانه سره راوست •

دا همغه کس و چې په ښار کې یې دخینس سره خبری کړی وی •

خینس له ځانه سره یو ځاي کیناوه اوترې ویې پوښتل : یقینا چې زمونږ له پاره به دې ښه خبر راوړي وي •

هغه بوډا سرې په ډیر خلوص سره وویل : نن شپه به دماسخوتن د لمانځه وروسته اریون پر تاسو شپینی حمله کوي ، تاسو محتاط اوسئ ، ما تاسو ته همدا خبر له ځانه سره درلود ، د ښار دټولو مسلمانانو دعا له تاسو سره دي • مونږ به تر هغه وخته پورې په اندیښنو کې ډوب اوسو تر څو چې اریون ماتې نه وي خوړلي •

خینس یې حوصله ورزیاته کړه وویل : فکر مه کوه .... زه به اریون ته داسې سبق وښایم چې بیا یې په ژوند کې هیر نه کړي •

زه اوس ورځم ، هسې نه چې د اریون جاسوسانو ته دلته زما دراتلو په اړه معلومات تر لاسه نه شي •

هغه بوډا پورته شواو ولاړ •

خینس اوارطبون دخیمې نه را بیرون شول اوپه ډیره پټه توګه یې خپل لښکر راټول کړ ،دهغوې څخه یې درې زره کسان دقبیلي د ساتنې له پاره وټاکل او پاته دولس زره کسان یې دجنګ له پاره تیار کړل •

خو ارطبون د خینس په دې کار اعتراض وکړ •

د قبیلي د ساتنې له پاره زر کسه ځوانان هم بسنه کوي • پاته څوارلس زره کسان جنګ ته ور ننه باسه •

خینس ورته په ډیره ارامی سره وویل : داریون له پاره دغه دولس زره کسه عسکر هم بسنه کوي ، خو بیا هم زه په یوه اسلامي روایت باندې چلند کوم •
زمونږ رسول الله صلي الله علیه وسلم د حنین په جنګ کې دولس زره عسکر استعمال کړي و، زه نن دبرکت په خاطر او د فتح او نصرت له پاره همغه شمیره استعمالول غـوارم •

ارطبون ډاډمن او خوشحاله شو •
خینس خپل ټول لښکر دښار ددروازې څخه تر ډیره لرې لرې پورې خپور کړ ، ټول لښکر په ځمکه څملاست او ددښمن دراتلو انتظار یې پیل کړ ، د ماسخوتن د لمانځه نه ډیر وروسته اریون خپل پنځلس زره فوځ را وویست او دشپینۍ خونړۍ حملې له پاره دخینس د پنډغالي په لور را روان شو •
کله چې هغوې دښار نه لږ څه بیرون راووتل نو په لاره کې دواړو لورو ته دخینس پرتو لښکرو پرې دغشو باران جوړ کړ •
د اریون لښکرې بدحواسه شوې ، دمسلمانانو له خوا د غشو داسې تیز باران روان و چې دهغوې زړونه اوسیني یې څیرې کولې •
اریون چغې چغې وهلې اوخپلو لښکرو ته یې د اسونو څخه د راښکته کیدو حکم کاوه اوهمدا دهغه تر ټولو ستره غلطي وه• کله چې د هغه سپاهیان داسونو څخه راښکته شول نومسلمانانو د خپلوتورو او ډالونو په مرسته پرې حمله وکړه او د هغوې په له منځه وړلو یې پیل وکړ•
اریون ددې حالاتو مقابله و نه شوه کولې او دښار په لورو تښتید •
د هغه لښکرې هم دهغه ترشا وتښتیدې خو مسلمانانو د هغوې تعقیب وکړ او دتعقیب په وخت کې یې هم هغوې له منځه وړل بیا دهغوې تر شاشا ښار ته ور ننوتل ، په ښار کې تر لږې شیبې پورې جنګ ونښت خود اریون پنځلس زره عسکر یا له منځه ولاړل اویا یې وسلې په ځمکه کیښودې •
پخپله اریون وسله په ځمکه کیښوده او امان یې وغوښت او بیا مسلمان شو •

خینس د خپل لښکر سره یو ځاي ځوورځي هم هلته په ښار کې پاته شو، په دې وخت کې بې شمیره ښاریان په ډلو ډلو راغلل او اسلام سپیڅلی دین په دایره کې داخل شو •

خینس هملته دهغه ځاې د اوسیدونکو اوخپلو لښکرو په مرسته ،دښار په مختلفو ځایو کې لس ستر جوماتونه اباد کړل او دخپل لښکر نه یې دښار دنوو مسلمانانو د روزنې له پاره معلمین و ټاکل •

ددې نه وروسته یې ددې ځایه کوچ وکړ د اصبیجان څخه ووت او د فاریاب په لور روان شو ،هلته یوه ورځ تم شو اوبیا یې د سیحون دسیند په غاړه د شمال په لور سفر وکړ، هغه د خپل کاروان نه مخته مخته روان و او دا سندره یې ویله

مونږ د جنګ د قربان ځاې په غاړه غاړه ترلرې لرې پورې خپاره شوي یو •

واوری ! ددښمن دهر زخم څخه د وینو لښتې روان دي •

دهغوې دسینو څخه د اور بخرکي راپورته کیږي •

په پوره ثابت قدمۍ سره دشپې په تیارو کې او د بهتر ژوند په لټه کې دژوند سندرې وایه •

مونږ.... مونږ د الله تعالي شکر اداکوو •

مونږ.... د هغه وفاداره بندګان یو •

مونږ.... د هغه سره ریښونې ژمنه کوو•

مونږ د نړیوال محبت او وروړګلوئ بیرغ پورته کونکې یو •

مونږ..... په خپل مقصد کې خلوص لرو •

د خینس د دې سندرې د ویلو په وخت کې ورته مارویې او قطونې په مینه مینه کتل او د لښکر یو شمیر خلکو دا سندره په ډیره مینه سره اوریدله •

واوره ! زما اواز دسیلاب په څیر تندو تیز دی •

زما د احساساتو توپان زما د وجودپه رګ رګ کې راپورته شوې دی •

زمونږ منزل د روښانه او تابناکه سهارپه څیر دی •

د تاریخ پریکنده وخت رارسیدلې دی •

زمونږ اواز ځواکمن لوړ او غضبناکه دی .
مونږ یودبل لاس په پوره قوت سره نیولې دی .
د ټولو زړونه په یوه مرکز را ټول شوي دي
الله اکبر .... الله اکبر ...

دخینس سره ارطبون ، ماروه ، قطونه او نـورو ساتونکو په یوه اواز د الله اکبر غږ پورته کاوه اوبیا یې دهغه په څیر د الله اکبر اسمان څیرونکې نعرې وهلې .

دایمان عزم او دقوت بنستونه به څوک له منځه یوسې .
د سهار راختل مو مبارک شه .
لاره مو پاکه او څرګنده ده .
نړۍ به مو دشجاعت او میړانې سندري ووایې .

دکاروان منزل دشمال په لور د ترستړګو کیدونکو غرونو په لور و چې په څوکو یې لا تر اوسه پورې د واروې ډیري موجود وو اوپه لمنو کې یې دپاکو اوښایسته چینو اوبه رابهیدې او میدانونه یې په تازه شنو وښو باندې پټ شوي وو.

***

## قتيله بن مسلم رحمه الله

د کاشغر سیمه له فتحه کیدو سره اسلامي لښکر د چین د ډیرو سیمو فتح کول پیل کړل، د دې په لیدلو سره د چین خاقان د صلح وړاندیز وکړ نو د اسلامي پوځ امیر لس کسان د استاذو په څیر ولیږل ، د چین خاقان له هغو سره له څو واره کتو څخه وروسته په آخري لیدنه کې د وفد د ویرولو زیار و ویست چې خپل سالار ته و وایه چې لدې ځایه بیرته لاړشه ما ته ستاسو شمیر معلومات شته که تاسو بیرته لاړئ نه نو زه تاسو په لوی پوځ باندې تباه او بربادوم.

د چین د خاقن د دی ځواب په اوریدو سره د وفد مشر و ویل چې هغه قوم څنګه کمولای شي د کومو چې یو سر ستا په ملک کې دی او بل سر یې په شام کې، مونږ خلک له مرګ څخه نه ویریږو، دمرګ وخت مقرر دی په کوم وخت کې چې هغه راځي نو دهغه مخه هیڅوک نشي نیولای او په جنګیدو سره ځان ورکول د عزت مرګ دی، نه مونږ له وژل کیدو څخه ویریږو او نه هغه بد ګڼو زمونږ سردار قسم خوړلی دی چې تر کله ستا ځمکه تر پښو لاندې نه کړو او جزیه تر لاسه نه کړو بیرته نه ځو.

لدې څخه وروسته خاقان په اطاعت باندې تیاری وښود او جزیه یې ورکړه خپله وفاداري یې وښودله او څه سوغاتونه یې مسلمان سپه سالار ته وړاندې کړل او له هغه سره یوځای یې یوه خاوره هم ورکړه ترڅو چې مسلمانانو سپه سالار خپل قسم پوره کړي، خبره دا وه چې خاقان د سمرقند په جګړو کې د اسلامي پوځونو او دښمنانو سره مرسته کوله او خپل زوی یې د مرستندویه پوځ سپه سالار وټاکه او وې لیږه، نو پدې وجه مسلمان سپه سالار د چین د خاقان د دې رویې په نظر کې نیولو قسم خوړلی و ترڅو پورې د دچین پلازمینه د آسونو تر سمونو لاندې پایمال نه کړم او جزیه وانخلم په کراره به کینم نو په دی توګه خپل قسم پوره کړ.

د سپه سالار قتيبه بن مسلمُ و رحمه الله شمير د اسلام په نامتو فاتحينو کې کيږي د هغه د قاصد نوم هبيره بن مشرحُ و•

قتيبه بن مسلم رحمه الله د يوې پوځي کورنۍ د ستر‌کو تورُو، له اختلاف سره يې کنيت ابوالحفص يا.ابو الحارثُ و، د هغه پلار د مسلم قبيلې بابله سردار و او د خليفه عبدالملک بن مروان د پوځ يو عسکري افسرُ و ( د اسلامي دائره المعارف ) له مخې قتيبه په نولسم هجري کې وزيږيد، د هغه د ابتدائي ښوونې او روزنې تفصيل هيچرې نه موندل کيږي مګر له قرائنو څخه ښکاري چې هغه ډير اوچت تعليمات ترسره کړي دي ځکه چې په ځوانۍ کې هغه د عامو خلکو منځ ته راغئ نو د هغه کردار د يوه نه ويريدونکي او د ښه کردار ځوانُ و، هغه د خليفه عبد الملک په دوران کې د حجاج بن يوسف په پوځ کې شامل شو او د عبدالرحمن بن محمد بن اشعث په ضد په جګړو په مکمله توګه برخه واخيستله او د خپلې ميړانې او زړورتيا رُعب يې په خلکو کښيناوه، حجاج بن يوسف د هغه له پوځي قابليت او وړتيا څخه دومره متاثره شو چې هغه له خليفه څخه منظوري واخيستله او په پنځه اتيايم په بل روايت کې شپږ اتيا يم هجرى سپوږميز کال کې يې قتيبه بن مسلم رحمه الله د خراسان والي وټاکه، لدې منصب باندې له ټاکل کيدو وروسته د قتيبه بن مسلم رحمه الله دهغه شانداره ژوند پيل شو کوم چې دى يې د نړۍ د لويو فاتحينو په ډله کې ودراوه•

قتيبه بن مسلم رحمه الله د خراسان پلازمينې ( مرو ) ته په رسيدو سره له ټولو څخه مخکې خپل پوځ ته په خاصه توګه د روزنې ورکولو اهتمام وکړ ځکه چې د هغه په نظر د برياليتوب لپاره د ايمان له جذبې سره سره اعلى پوځي روزنې ته هم اړتيا وه، هغه د خپل ژوند له ښکلې غونې وړاندې کولو څخه په پوځ کې لوړ همت، اوچت عزم او جراٴت بې حده جذبه پيدا کړه، کله چې هغه وليدل چې د پوځ نوى تنظيم او روزنه په ښه توګه ترسره شوې ده نو يوه ورځ يې ټول پوځ راټول کړ د هغو ترمنځ ترمنځې يې د جهاد اهميت او فضيلت د يوې ولولې اوچتونکي وينا په ترڅ کې بيان کړ، دى وينا د

سپاهیانو په زړه کې د شهادت مینه راولاړه کړه او د قربانۍ او ایثار د غاور لمبې یې د هغو په زړونو کې بلې کړې ، اوس وخت راغلئ و چې دغه مجاهدین چې زړونه یې د جهاد او شهادت له مینې څخه ډک و په عملي توګه ډګر ته راکوز شي، چې دهمدې مقصد تر لاندې په شپږ اتیایم .قتیبه بن مسلم رحمه الله په ترکستان ته ورغی .

د ترکستان په ځینو برخو سره لدې مخکې هم د مسلمانانو قبضه ټینګه شوې وه مګر د هغه ځای حکمرانانو هر وخت د بغاوت بیرغ اوچتولو او پدې وخت کې هم د هغو کړه وړه باغیانه و، لدې څخه پرته ځینو سیمو لا تراوسه پورې د اسلامي حکومت اطاعت نه و قبول کړئ، له ښه اتفاق څخه پدې ورځو کې د ترکستان د حکمرانانو ترمنځ جګړه وه، .قتیبه بن مسلم رحمه الله طالقان ته ورسید نو د بلخ سردار یې هم اطاعت قبول کړ او لده سره یوځای شو، لدې څخه وروسته قتیبه د جیحون له سین څخه تیر شو او د صفانیانو لوري ته پرمخ لاړ، د صفانیانو پادشاه د سیالی همت و نه کړ، هغه له سوغاتونو او تحفو سره د ده هرکلی وکړ او د سرو زرو کلی یې هغه ته وړاندې کړه او دی یې خپل میلمه وګرځاوه، له صفانیانو څخه قتیبه د تخارستان ( د بدخشان سیمه ) مخه وکړه، شاه اضرون و شومان ( تخارستان ) ته چې کله د خپل سیال شاه صفانیان د اطاعت خبر ورسید نو هغه هم یو لوی شمیر نغدې روپۍ د خراج په توګه ورکړه او اطاعت یې قبول کړ، د دې دواړو له مطیع کولو څخه وروسته قتیبه خپل ورور صالح بن مسلم یې د فتحه شویو سیمو د انتظام او نګرانۍ لپاره پرې ښود بیرته مرو ته راغئ، د هغه له بیرته راتګ څخه وروسته صالح له خپل آزمویل شوي سالار نصر بن سیار په مرسته د کاشان او فرغانه په سیمو کې پروت شهر خشک ( اخیشیکت ) بیرته مرو ته ورسید نو ده ته معلومات په لاس ورغئ چې د بادغیس له تورانې حکمران نیزک سره له ډیرې مودې راپدیخوا مسلمانان قیدیان دي، قتیبه نیزک ته د هغو د مسلمانانو د خوشې کولو لپاره لیک واستوه نو هغه مسلمانان بې له ځنډه خوشې کړل او پدې شرط یې اطاعت

قبول کړ چې مسلمانان په بادغیس باندې حمله و نه کړي، لدې څخه وروسته هغه د ترکستان په جګړو کې له قتیبه سره ډیرې مرستې وکړې.
په اووه اتیایم هجري سپوږمیز کال کې .قتیبه بن مسلم رحمه الله د الله تعالی په مرسته او ملاتړ باندې د جیحون له سین څخه تیر شو او د ماوراء النهر (یا د بخارا په ښارونو) د مهم ښار بیکند په لوري یې وړاندې تګ پیل کړ، بیکند د بت پرستانو ډیر لوی او کلک مرکزُ و او هلته د آسیا له ټولو څخه ښه وسله جوړیدله، بیکند خلکو ته چې د قتیبه د پرمختګ خبر ورسید نو هغو له صغد او چار چاپیره نورو اوسیدونکو څخه مرسته وغوښتله، دی اوسیدونکو مسلمانان له هر لوري څخه راچاپیر کړلو او ټولې لارې یې بندې کړې، تر دوو میاشتو پورې دا حالت جاريُ و چې نه د .قتیبه بن مسلم رحمه الله کوم قاصد اسلامي سیمې ته تللی شوای او نه د اسلامي حکومت کوم قاصد له هغه سره رابطه ټینګولای شوای، حجاج بن یوسف د بصری والي لدې حالت څخه ډیر پریشانه شو او هغه په ټولو جوماتونو کې د .قتیبه بن مسلم رحمه الله د لښکر د سلامتی او روغتیا لپاره دعا ګانې وکړې، دلته قتیبه د دې نازکو حالاتو په ډیر عزم او استقامت سره مقابله وکړه نه د دښمن د شمیر زیاتوالی دی و ویرولو او نه د دښمن دی خورو شویو آوازو چې حجاج مړ شوی دی خپله اراده بدله کړه ، یوه ورځ مسلمانانو پخپلو سرونو باندې کفنونه وتړل او په دښمنانو باندې یې داسې حمله وکړه چې دهغو محاصره ماته شوه او اوس هغوی د ښار لوري ته منډې وهلې او تښتیدل، مسلمانان په هغو پسې لاړل او د هغو یو زیات شمیر یې له منځه یوړل، بیا هم ډیر تښتیدونکي ښار ته ورننوتل او د دروازې یې بندې کړې، .قتیبه بن مسلم رحمه الله په ډیر سختۍ سره د ښار محاصره وکړه، د یوه روایت مطابق دا محاصره پنځوس ورځې وځنډیدله، په همدې وخت کې .قتیبه بن مسلم رحمه الله د ښار د کلاه د دیوال د راغورځولو لپاره په دیوال باندې وراونه پیل کړل، د بیکند خلکو ته چې کله یقین وشو چې د دیوال د ماتیدو په صورت کې د هغو ډیر نقصان کیږي نو هغو اطاعت قبول کړ او د

ښار دروازې يې خلاصې کړې، قتیبه بن مسلم رحمه الله ښار ته په ننوتو سره هلته څو ورځې تم شو او بیا يې ورقه بن نصر د بیکند مشر وټاکه او مرو ته يې د بیرته راتګ عزم وکړ، تر اوسه هغه لا پنځه فرسخه بیرته ستون شوی و چې د بیکند خلکو بغاوت وکړ او ورقه بن نصر يې شهید کړو، قتیبه بن مسلم رحمه الله ته چې دهغو خلکو د غداری اطلاع تر لاسه شوه نو هغه د یوه غضبناک زمري په څیر بیرته راغئ او ګار يې د تورې په زور بیرته ونیو او ټول شر اچونکي او باغیان يې ووژل او ورسره ورسره يې د ښار دیوالونه ړنګ کړل او له ځمکې سره يې برابر کړل، یو سترګې بیکندي چې د بغاوت مشر و ونیول شو او قتیبه ته يې وړاندې کړ نو هغه د ځان په فدیه کې د وریښمینو ټوټو د پنځو زرو ټانونو ورکولو وړاندیز وکړ، د هغو بیعه لس لکه درهمه جوړیدل مګر قتیبه د هغه وړاندیز رد کړ او پدې ویلو سره يې و واژه چې مومن له یوه سوري څخه دوه ځله نه چیچل کیږي، له بیکند څخه مسلمانانو ډیر غنیمت مال لاس ته راغی، پدې کې قیمتي کاڼي او مرغلرې، وسله او د سرو زرو او سپینو زرو بې شمیره لوښي شامل وو، مورخینو د بیکند د یوې بت خانې ذکر کړی دی په کوم کې چې څو بتان له خالصو سرو زرو څخه وو او د ځلویښتو زرو درهمو سپین زر وو، د یوه بت د سترګو په ځای کې دوه غمي و چې د کوترو د هګیو په اندازه وې، قتیبه بن مسلم رحمه الله دا دوه مرغلره یا غمي له نور سامان سره حجاج بن یوسف ته ولیږل•

هغه په یوه لیک لده څخه مننه وکړ او د هغه د میړانې او عقلمندي ستاینه يې وکړه، بیکندنه یوازې یو ښکلې او بډای ښار و بلکه له پوځي مخی هم د ډیر اهمیت وړ ښار و، هغه د ماوراء النهر ( د منځنی آسیا ) جنوبي دروازه ګڼل کیده، په بیکند کې د جوړیدونکی وسلې هم په ټوله آسیا کې چرچې وې•

ویل کیږي چې له هغه ځایه تر لاسه شوې غنیمت وسله سره لدې چې په سپاهیانو کې ویشل شوې وه بیا هم د هغه دومره غوښتنه وه چې یوه نیزه په

اويا درهمه خرڅيدله، توروه په دوه سوه درهمه او سپر له هغه څخه هم په ګرانه خرڅيدله، په بيکند باندې له پوره ولکې ټينګيدو څخه وروسته قتيبه بيرته مرو ته راغئ٠

د اته اتيايم هجري هجري سپوږميز کال د پسرلي په موسم کې قتيبه بن مسلم رحمه الله له مناسبو تياريو سره بيا له مرو څخه د بخارا لوري ته وخوځيد او نو مشکت يې فتح کړ رامينه ( راشنه ) ته ورسيد ، د هغه ځای اوسيدونکو د صلح غوښتنه وکړه چې قتيبه ومنله، لدې جګړو څخه په خلاصيدو سره هغه بيرته د مرو راتلو اراده وکړه، په لاره کې صغدی، ترکی، فرغانی او چيني پوځونو په اتحاد سره د اسلامي لښکر په لومړني برخه ( ساقه ) باندې يې حمله وکړه، دښمنانو د متحد لښر مشري د چين د خاقان وراره ( يا په بل روايت خور يې ) کوله، قتيبه له خپل لښکر څخه مخکې وتلی و، د ساقه امير عبدالرحمن بن مسلم پخپل واړه لښکر خبرداری ورکړ، قتيبه د خبر په اوريدو سره بيرته راستون شو او له دښمنانو سره مخامخ شو او د يوه قهر په څير وربانديې ولويد ، د دښمن د دوه لکو لښکر په مقابل کې مسلمانا ن ډير لږ و مګر هغو پخپل ايماني جوش سره د دښمن متحده لښکر ته ډيره شرمولې ماته ورکړه او خپله هم په اسلامي لښکر ورګډ شو او په ډير ميړانه او زړورتيا سره وجنګيد ، لدې جګړې څخه په فارغيدو سره قتيبه د ترمذ له لارې بيرته مرو ته راغئ٠

په نهه اتيايم هجري سپوږميز کال قتيبه بن مسلم رحمه الله بيا د بخارا په قصد د جيحون له سيند څخه تير شو، د خرقانه سفلی مقام ته چې ورسيد نو د دښمن يو ډير لوی لښکر د هغه مزاحم شو، قتيبه دې لښکر ته ماتې ورکړه او بخارا ته نيژدې ورسيد د علامه بلازري بيان دی چې د بخارا شاه صلح وکړه او او اطاعت يې قبول کړ مګر ابن اثير وايي چې د ځينو مشکلاتو له کبله قتيبه په بخارا باندې قبضه ونشوای کړئ، هغه حجاج بن يوسف ته ټول حالات وليکل هغه د بخارا نقشه وغوښتله او هغه يې وليدله او د پرمختګ او د جنګ په اړه يې ټول هدايات په مفصل دول وليږل چې په بخارا باندې يې

د حملې کولو لوري هم وټاکه او په لاره کې يې د تميدو سيمې هم وټاکلې، قتيبه د حجاج د هدا ياتو مطابق تياري وکړه او په کال نوي هجري سپوږميز کال کې بيا په بخارا باندې د حملې لپاره مروې ته لاړ، که د بلاذري دا بيان ومنو هم چې د بخارا شاه په ۸۹ هجری سپوږميز کال کې د مسلمانانو اطاعت قبول کړ نو په ۹۰ هجري سپوږميز کال کې د قتيبه د لښکر کشي دا توجيه کيدلای شي چې د بخارا پادشاه بغاوت کړی و او د مسلمانانو د اطاعت کړه يې ماته کړه.

د بخارا پادشاه ته چې د قتيبه بن مسلم رحمه الله د پرمختګ خبر تر لاسه شو نو هغه په ډير زور او شور سره د مقابلې تياری وکړه او د خپلې مرستې لپاره يې ترکانو او صفديانو ته بلنه ورکړه مګر تر اوسه پورې دا مرسته نه وه را رسيدلې چې قتيبه بن مسلم رحمه الله د بخارا محاصره وکړه، کله چې ترکانو او سفديانو لښکر د مرستې لپاره ورسيد نو د بخارا د خلکو همت ووچت شو او په ډير جوش او خروش سره د مقابلې لپاره را وړاندې شول، پدې توګه اسلامي پوځونه له دواړو خواو څخه د دښمن په منځ کې راګير شو، ترکانو په مسلمانانو زرو سره حمله وکړه چې د هغه يوه برخه شاته شاته کيدله ترڅو چې د ښځو خيمو ته ورسيدله، د دې په ليدلو سره ښځو چيغې وهلې او د خپلو نارينه و آسونه په وهلو وهلو سره بيرته د جګړې د ډګر په لوري ورټيل وهل.

د ښځو لدې کار څخه نارينه په ډير غيرت کې راغلل هغو ځانونه برابر کړل داسې زور داره او خطرناکه حمله يې په دښمن باندې وکړه چې ترکان او صفديان يې په ټيل وهلو سره د نيزدې سيند غاړو ته ورسول چيرته چې هغو په يوه اوچته غونډۍ کې پناه واخيستله، پدې وخت کې قتيبه په پارونې سره و ويل! نن کومه قبيله ده چې دښمن لدې غونډۍ څخه لرې کړي، د هغه پارونه يې واوريدله دوه سردارانو وکيع بن الاسود او هريم د خپلې قبيلې ځوانان له ځان سره واخيستل او په ډيره ميړانه له سيند څخه تير شول او په

دښمن باندې یې حمله وکړه، وکیع د حملې په وخت کې و ویل چې څوک د شهادت هیله من وي هغه دې له ما سره لاړشي ۰

ویل کیږي چې اته سوه سرتیرو وکیع په لاس باندې د وژل کیدو بیعت وکړ او د سیند له تیریدو څخه وروسته په دښمن باندې د آسماني تندر په څیر ورولویدل، تردې پورې چې د هغو پښې سستې شوې او د بخارا پادشاه هم د تیښتې لاره اختیار کړه او قتیبه رحمه" الله علیه بې له ځنډه په بخارا باندې د اسلام بیرغ ځوړند کړ، د مسلمانانو لدې شانداره فتحې څخه د صفدیانو حکمران و ویریده او د صلحې وړاندیز یې وکړ او اطاعت یې قبول کړ ۰

پروفیسر آرمینس ویمبری په ( تاریخ بخارا ) کې لیکلي دي چې قتیبه رحمه" الله علیه په عین جګړه کې د صفدیانو حکمران ته یو قاصد په پټه توګه ولیږه او هغه ته یې خبر ولیږه او پدې توګه یې هغه له خپلو اتحادیانو سره بدګمانه کړ او هغه له قتیبه سره په پټه صلح وکړه او د هر کال لپاره یې شل لکه درهمه د خراج په توګه منظور کړل، د دې لپاره چې په اتحادي لښکر د ده د کسانو شمیر له ټولو څخه زیات ونو د هغه تلل یا په شا کیدل د جګړې له ډګر څخه د بخارا او ترکانو د په شا تلو مجبوری هم مخې ته راغله د حالاتو حقیقت هرڅه چې و .قتیبه بن مسلم رحمه الله بریالی بیرته راغئ او له هغه ځایه یې حجاج ته د بخارا د نیولو زیری ورکړ۰

مرو ته د قتیبه رحمه" الله علیه د راتلو څو ورځې لا نه وې تیرې شوې چې هغه ته د بادغیس د حکمران نیزک د بغاوت خبر ورغئ نیزک تر اوسه پورې په هره جګړه کې له مسلمانانو سره ملګرتیا کړې وه مګر په ترکستان کې د هغه د مخ په زیاتیدو قوت یې ولید ودار شو نو د بخارا له جګړې څخه وروسته هغه له قتیبه رحمه" الله علیه څخه اجازه وغوښته او بادغیس ته راغی، بادغیس ته په را رسیدو سره هغه کابل، بلخ، تالقان، فاریاب، جوزجان او نور ځایونو ټول حکمرانان له ځان سره یوځای کړل د بغاوت بیرغ یې اوچت کړ او له تخارستان څخه یې مسلمان حاکم و ویست، پدې

وخت د ژمي موسم په راتلو کې و نو دوی لپاره هلته لوی لښکر لیږل شوني نه و مګر بیا هم قتیبه رحمه الله علیه خپل ورور عبدالرحمن بن مسلم ته دوولس زره کسان ورکړل او تخارستان ( یا په بل روایت بلخ یا بروقان ) ته یې ولیږل او هدایت یې ورته وکړ چې هلته دی ورسیږي او ده ته دی انتظار وکړي.

د یخنۍ د موسم په ختمیدو سره په یو نوي هجری سپوږمیز کال کې .قتیبه بن مسلم رحمه الله خپل له لښکر سره یوځای د باغیانو د ټکونې لپاره وخوځید ، له ټولو مخکښې طالقان له یوې خونړۍ جګړې څخه وروسته بیرته ونیو او باغیانو ته یې ډیره سخته سزا ورکړه، د یوه بل روایت مطابق د طالقانو خلکو بې له مقابلې څخه وسله وغورځوله، د دې لپاره قتیبه رحمه الله علیه هغه وبخښل، لدې څخه وروسته هغه د فاریاب لوري ته وړاندې شو د هغه ځای حکمران هم اطاعت قبول کړ، د دې لپاره قتیبه رحمه الله علیه له عفوې څخه کار واخیست له فاریاب هغه د جوزجان مخه وکړه د هغه ځای حکمران د غرونو خواته تیښته وکړه او د ښار خلکو اطاعت قبول کړ، .قتیبه بن مسلم رحمه الله عامر بن مالک ته جوزجان خوشې کړ او خپله د نیزک په لټولو کې بلخ څخه د خلم په لوري له خپل ورور عبدالرحمن بن مسلم سره د یوځای کیدو لپاره ورغئ چې هلته یې .قتیبه بن مسلم رحمه الله ته انتظار کاوه، دا یوه ډیره تاو را تاو سخته کمین ځای غوندې و او نیزک د هغه دننه خپله اډه ټینګه کړې وه، د کمین ځای پر خوله کې ډیرمسلح جنګیالي د هغه د ساتنې لپاره ګمارل شوي وو او شاته یې یوه ډیره کلکه کلاه وه تر کومې پورې چې په ښکاره هیڅ د رسیدو لاره نه وه، له ښه اتفاق څخه د هغه ځای یوه غرني اوسیدونکي .قتیبه بن مسلم رحمه الله ته هغه پټه لاره وښودله چې د غره شاته ځي او کلاه ته وتله، قتیبه یوه ډله پوځ لوی غني اوسیدونکي سره ولیږه، هغو خلکو د کلاه خلک یو یو رانیول ډیر یې و وژل او څوک چې ژوندي پاتې شول هغوی وتښتیدل، نیزک له هغه ځایه وتښتید د فرغانه په سیمه کې د الکرز په کلاه کې کلا بند شو، دا کلاه ډیر خوندي

وه او د کومې پوځي دلې ننوتل هلته ناشوني وو، قتیبه تر دوو میاشتو پورې د هغې کلاه محاصره وکړه مګر د هغې د نیولو څه صورت پیدا نه شو، آخر قتیبه یو تدبیر وسنجاوه هغه د نیزک یو پخوانی ملګری سلیم نومي هغه ته ولیږه چې څرنګه کیږي نیزک پوه کړي او هغه ته یې راولي سلیم نیزک ته د ځان بخښنې طمعه ورکړه قتیبه ته راووست. قتیبه بن مسلم رحمه الله هغه بندي کړ او بیا یې د هغه په اړه له خپلو ملګرو سره مشوره وکړه، په یوه روایت کې دي چې هغه له حجاج بن یوسف سره هم پوښتنه وکړه، ټولو د هغه د وژلو مشوره ورکړه ځکه چې هغه مسلمانانو ته ډیر زیات تاوان رسولی و. نو په همدې توګه نیزک د هغه له اوو سوو ملګرو سره و وواژه.

د نیزک د فتنې له پای ته رسیدو څخه وروسته .قتیبه بن مسلم رحمه الله د شومان مخه وکړه د کوم ځای حکمران چې د کش او نسف خلک له ځان سره یوځای کړي وو او د هغه په خلاف یې بغاوت ته تیار کړي وو.

د ابن اثیر رحمه الله بیان دی چې .قتیبه بن مسلم رحمه الله مخکې هغه دوه کسان لیږلي وو او د شومان حکمرن ته یې د اطاعت د قبلولو ترغیب ورکړ مګر هغه ته پخپل زور باندې ډیر غرور و، هغه یو قاصد و واژه او دویم خپل ځان وژغوره راوتښتید، اوس .قتیبه بن مسلم رحمه الله مجبور شو چې په هغه باندې حمله وکړي، کله چې نیزدې ورغئ د قتیبه رحمه" الله علیه ورور صالح بن مسلم یو ځل بیا هغه پوه کړ مګر هغه د وسلې غورځولو ته تیار نه شو او په کلاه کې دننه کیناست، .قتیبه بن مسلم رحمه الله له منجنیقونو څخه تیږې وار کړي او د کلاه په دیوالونو کې یې سوري وکړل، د شومان حکمران له کلاه څخه بهر راغئ او مقابله یې وکړه مګر مسلمانانو په یوه ټکر کې هغه او د هغه ملګري و وژل، په شومان باندې له قبضه کولو څخه وروسته قتیبه د کش او نسف سیمې ونیولې او خپل ورور صالح یې ولیږه او د صفدیانو له حکمران څخه یې خراج تر لاسه کړ، لدې کارونو څخه په خلاصیدو سره .قتیبه بن مسلم رحمه الله مرو ته بیرته راغئ، په دوه نوي هجري سپوږمیز کال کې سجستان لښکر کشي وکړه مګر د هغه ځای

حکمران له کوم مزاحمت څخه پرته اطاعت قبول کړ او قتيبه بيرته مرو ته راغئ•

په درې نوي يم هجري سپوږميز کال کې د خوارزم (خيوا) حکمرن (خورازم شاه) د قتيبه اطاعت قبول کړ، دا په داسې صورت کې وشو چې د هغې زمانې خورازم شاه يوه کمزوره حکمران ؤ، د هغې ورور خرزا د هغه مملکت له کارونو څخه ګوښه کړ او ټول يې په خپل لاس واخيستل، هغه يو سفاک او بد عمله سړی ؤ او ټول رعيت يې تر پوزې پورې راوستلي ؤ، خورازم شاه د هغه په مقابل کې بې وسه ؤ او هيڅ يې هم له لاسه پوره نه ؤ مګر هغه له خرزاد څخه ډيره کرکه کوله او د هغه د ظلم له منګلو څخه يې د خلاصيدو مناسبه موقع لټوله، کله چې په ترکستان کې د قتيبه قوت مخ په زياتيدو ؤ او د فتوحاتو کړه يې ورځ ارتيدله نو خوارزم شاه هغه ته په پټه پيغام وليږه چې که دی د خرزاد له ظلم څخه خلاص کړی شي نو اطاعت قبلوي، قتيبه د هغه وړانديز قبول کړ او په خرزاد باندې يې لښکر کښي وکړه او هغه ته يې ماتې ورکړه او بيا يې و واژه، د يوه روايت مطابق هغه خرزاد او د هغه ملګري ونيول او خورازم شاه ته يې وسپارل بيا هغوی ټول وژل•

قتيبه د وعدې له مخې د سيمې چارې يې خورازم شاه ته وسپارلی، هغه د خپل عهد مطابق د قتيبه بن مسلم رحمه الله اطاعت قبول کړ او ډيرې نغدې او جنس يې ده ته د سوغات په توګه ورکړل•

علامه بلاذری په (فتوح البلدان) کې ليکلي دي چې لدې پيښې وروسته خوارزم شاه هم ډيره موده حکومت و نه کړ ځکه چې د ده کمزوري او نا اهلي له وجهې څخه رعيت له هغه څخه ډير ژر بيزاره شو او بغاوت يې وکړ او دی يې و وژاه، قتيبه ته چې د ده مرګ خبر ورسيد نو هغه خپل ورور عبيد الله بن مسلم د خوارزم حاکم وټاکه•

په خورازم (خيوا) له قيضې څخه وروسته .قتيبه بن مسلم رحمه الله د سمرقند فتح کولو په اراده وخوځيد، د سمرقند چې پخوانی نوم يې مارکندا

و پدې وخت کې د منځنۍ آسيا د تجارت ډېر لوی مرکز و، د هغه تجارت تر تبت، چين او هندوستان پورې خور شوې و او په دې وجه دا تر لرې لرې پورې مشهور و، په همدې سبب سمرقند د خپل وخت ډېر ښکلې او مشهور ښار و د سمرقند خلکو يعنی صفديانو د مسلمانانو اطاعت قبول کړی و مگر بيا له خپل عهد څخه وا وښتل او د مسلمانانو په خلاف يې د ترکستان له باغی حکمرانانو سره مرسته وکړه، په سمرقند باندې د .قتيبه بن مسلم رحمه الله د لښکر ليږلو مقصد دا و چې د صفدو فتنه اچونکو کارنامې د تل لپاره ختمې کړي، لومړی هغه خپل ورور صالح (يا په بل عبارت عبدالرحمن) ته يوه ډله ورکړه اود سمرقند لوري ته يې ولیږه اود دې وروسته خپله هم له يوه چابک او تيز لښکر سره د هغه شاته وخوځيد، پدې لښکر کې د بخارا او خوارزم شل زره سپاهيان هم شامل وو، کله چې سمرقند ته نيژدې ورسيدل دواړه لښکرې يوځای شوې د سمرقند خلکو په خلاص ډګر له مسلمانانو سره د مقابلې همت ونه کړ او هغوی يې کلابند شول او کښيناستل، .قتيبه بن مسلم رحمه الله د ښار محاصره وکړه، کله چې د محاصرې يوه مياشت تيره شوه نو د سمرقند خلکو خپلو همسايه حکمرانانو (پادشاه شاش) د فرغانې حاکم او د چين خاقان او نورو ته وليکل چې که نن عربانو زه مغلوب کړم نو سبا تاسو هم لدې پايلې څخه نشې ژغورل کيدای د دې لپاره نو تاسو چې زما ژومره مرسته کولای شئ وی کړئ... دی حکمرانانو له مخکې څخه د .قتيبه بن مسلم رحمه الله خطر احساساوه نو هغو د سمرقند د خلکو په پيغام موندلو سره خپل خپل پوځونه د هغه د مرستې لپاره وليږل، په هغو کې د شاهي کورنيو غړی او ډير زړور جنګيالي شامل وو او د دې ټولو مشري د چين د خاقان زوی کوله، .قتيبه بن مسلم رحمه الله ته چې د دې مرستندويه لښکر د راتګ خبر وشو نو هغه صالح ته شپږ سوه غوره سواره ورکړل او د دې مرستندويه لښکر د مخې نيولو لپاره يې مامور کړل، صالح مخکې لاړ او خپل پوځ يې درې برخې کړ، دوه برخې يې په ښي او کين لوري کې په کمين کې کښينول او خپله يې

د مرستندویه پوځ په لاره کې خیمې و وهلې ، شپه ډیره تیره شوې وه په مجرد د دې چې د دښمن لښکر لدې ځایه تیریده صالح په هغه باندې حمله وکړه او نور مجاهدین هم له کمین ځایونو څخه راووتل او په دښمنانو باندې ور ولویدل، دې ناڅاپې حملې دښمنان هواس بایللي کړل، هغو لږ څنډ مقابله وکړه مګر په ډیره بده توګه یې ماته وخوړه، د هغو ډیر نوموړي توریالي او شهزادګان و وژل شول او کوم چې ژوندي پاتې شول هغوی وتښتیدل یا د مسلمانانو په لاس ونیول شول.

د مرستندویه پوځ خبر چې سمرقند ته ورسید نو صفدیانو ته سخت ټکان ورکړل شو مګر بیا هم هغو خپله مقابله جاري وساتله، دلته قتیبه بن مسلم رحمه الله محاصره نوره هم سخته کړه او له منجنیقونو څخه یې د ښار په دیوال باندې وارونه جاري وساتل تر دې چې په هغه کې سوری جوړ شو، د مسلمانانو سرتیرو یوه ډله د غشو په باران کې چې ډهالونه یې مخ ته نیولي وومخې ته لاړل او ټینګ شول، اوس د سمرقند د خلکو همت ځواب ورکړ او هغو پدې شرایطو باندې صلح وکړه او ښار یې مسلمانانو ته وسپاره.

د سمرقند خلک د کال دوولس لکه (یا په بل روایت دوه ویشت لکه) درهمه خراج ورکوي.

تر درې ورځو پورې د میلمستیا کوي.

په بت خانو باندې به د مسلمانانو اختیار حاصل وي.

د مسلمان به ښار ته فاتحانه راننوزي او د هغو دننوتو په وخت کې به دښار مسلح خلک له ښار څخه اووزي.

مسلمانان به په ښار کې جوماتونه جوړوي او لمونځ به کوي او خطبه به ورکوي.

د دې معاهدې مطابق مسلمانان ښار ته فاتحانه ورننوتل مګر له ټاکل شوي خراج څخه پرته هغو هیڅ شي ته لاس هم و نه لګاوه او هرڅوک یې پخپلو مالونو او جائیدادونو قابض پریښودل البته قتیبه رحمه" الله علیه بتان ونشوای زغملای هغو د بتانو د ماتولو اراده وکړه نو د سمرقند خلکو

دوی ته و ويل چې دا زمونږ معبدان دي مونږ تاسو ته خيرخواهانه مشوره درکوو چې هغو ته لاس مه وروړئ که نه نو دا تاسې بربادوي، .قتيبه بن مسلم رحمه الله د هغو په وهم پرستي او مشرکانه عقيدې باندې وخندل او هغوی يې په ډيره نرمۍ سره پوه کړل چې دا بتان چاته کټه او نقصان نشي رسولای، د دې خبرو په کولو سره يې پخپل لاس هغه بتان مات کړو ، وايي چې کله دا بتان مات کړل نو له هغو څخه پنځوس زره مثقاله سره زر راووتل، علامه بلاذری په (فتوح البلدان) کې ليکلي دي چې کله د سمرقند خلکو وليدل چې د بتانو له ماتولو څخه وروسته د قتيبه يو ويښته هم بې ځايه نه شو نو يو ډير لوی شمير په همغه وخت کې د اسلام په دين مشرف شول، لدې وروسته قتيبه په ښار کې جومات ودان کړ او په هغه کې يې د جمعې لمونځ ادا کړ او خطبه يې ورکړه.

ځينو مورخينو د سمرقند د فتحې په وخت کې يوه عجيبه کيسه بيان کړيده، د دې کيسې لنډيز دا دی چې قتيبه په کومه بهانه څلور زره بند صندوقونه د ښار دننه وليږل، په دې صندوقونو کې يې مسلح کسان کښينولي وو، د شپې هغه زره پوښ مسلح جنګيالي له صندوقونو څخه راووتل او ساتونکي يې له منځه يوړل او د ښار دروازې يې خلاصې کړې لدې سره سم قتيبه رحمه" الله عليه له خپل لښکر سره ښار ته ورننوتل او د سمرقند خلک يې پښو ټينګولو ته پرې نښودل، په ظاهره دا کيسه صحيح نه ښکاري.

د سمرقند له فتحه کيدو وروسته .قتيبه بن مسلم رحمه الله عبدالله بن مسلم د هغه ځای حاکم وټاکه او څه پوځ يې هغه ته پرې ښود او خپله مرو ته بيرته راغئ.

په څلورنوي هجری سپوږميزکال کې .قتيبه بن مسلم رحمه الله د هغو حکمرانانو د غوږ موښلو اراده وکړه چا چې د سمرقند خلکو ته مرسته ورکړې وه، له ټولو څخه مخکې يې يو لښکر د الشاش لوري ته وليږه کوم چې هغه ځای يې په څو ورځو کې فتح کړ بيا هغه خپله د فرغانې لوري ته ور

وړاندې شو، په لاره کې خوجندي د ده مزاحم شو، قتيبه هغه ته عبرتناکه ماتې ورکړه او پرمخ لاړ ترڅو چې د چين تر سرحد پورې ورسيد، پدې وخت کې حجاج بن يوسف مړ شو کله چې قتيبه د هغه له مرګ څخه خبر شو نو هغه د چين له سرحد څخه بيرته راغئ.

په ٩٦هجري سپوږميز کال کې .قتيبه بن مسلم رحمه الله په ډيره تياری سره په چين باندې د حمله کولو لپاره بوخت شو ځکه چې د چين خاقان د سمرقند د مرستې لپاره خپل زوی ليږلی ُو او له هغه څخه يې مخکې هم د مسلمانانو له دښمنانو سره مرسته کړې وه.

.قتيبه بن مسلم رحمه الله د مجاهدينو د کورنيو د خوندي ساتلو په خيال سره له يوه کلک او تکړه پوځ سره سمرقند پريښود او خپله يې پرمختګ وکړ او فرغانه ته ورسيد، له هغه ځايه يې يو لښکر چين ته وليږه چې د کاشغر سيمه يې ونيوله او د چين په سيمه کې دننه تر ډيره وړاندې لاړ، .قتيبه بن مسلم رحمه الله هم وړاندې لاړ په کاشغر کې يې خيمې و وهلې.

د چين خاقان ته چې د مسلمانانو د پرمختګ خبر ورسيد هغه و ويريده ځکه چې حمله کونکي هغه قوم ُو چا چې تر‌وله منځنۍ آسيا لاندې باندې کړې وه، د چين خاقان مصلحت پدې کې وليد چې د مسلمانانو له سپه سالار سره خبره اترې وکړي چې د همدې مقصد لپاره هغه يوه قاصد ته پيغام ورکړ قتيبه ته يې وليږه چې ماته خپل کوم د اختيار مند سفير راوليږه ترڅو چې زه له هغه څخه زه د ځان لپاره معلومات تر لاسه کوم.

د چين خاقان سفير چې کله قتيبه ته راغئ نو هغه له کاشغر څخه بهر خپل تم ځای کې له نورو مسلمانانو سره يې څادر غوړولی ُو او مازديګر لمونځ يې کاوه، کله چې سفير ته و ويل شول چې د مسلمانانو سپه سالار هغه سړی دی نو هغه ډير زيات حيران شو ځکه چې د قتيبه او نورو مسلمانانو د کاليو ترمنځ هيڅ فرق نه ُو، هغه خو د خپل حاکم د دربار شان او شوکت او جاه و جلال د ليدلو عادت ُو، د هغه په خيال کې لويې ماڼۍ، ښکلې جوړ شوي تختونه او د ښکلو کاليو د اغوستلو په حالت کې وُو، د ده په وهم او ګمان

کې هم دا خبره نه راتله چې د مسلمانانو سپه سالار به دومره ساده خوښونکی وي هغه بې درکه چیغې کړې! د کوم پوځ امیر چې دومره ساده وي هغه هیڅکله هم ماته نشي خوړلای.

سفیر د خاقان پیغام قتیبه ته ورکړ نو هغه د هبیره بن مشرح یا مثمرج کلابي په مشرۍ د لسو عقلمندو او د ښو خبرو کونکو کسان یوه ډله د چین خاقان ته ولیږله او هغو ته د خاقان په نامه پیغام ورکړ چې زه تر کله پورې د چین ځمکه تر پښو لاندې پایمال نه کړم او له تا څخه خراج تر لاسه نه کړم بیرته نه ځم.

دا ډله چې د چین د خاقان دربارته ورسیدله او هلته یې څو ورځې استوګنه وکړه، پدې دوران کې د ډلې د کسانو څو څو ځله له خاقان سره لیده کاته وشول په آخري لیدنه کې خاقان هبیره ته و ویل! ته عقلمند سړی نظر ته راځې او لاړشه خپل سردار ته و وایه چې د هغه خیر په بیرته ستنیدو کې دی، ماته ستاسې د کموالي او شمیر معلومات شوی دئ، که ته په جنګیدو باندې ټینګ پاتې شې نو زه داسې لوی پوځ ستا مقابلې ته درلیږم چې ستاسې نوم او نښان له منځه یووسي.

هبیره ځواب ورکړ: ای بادشاه! دی لښکر ته څوک لږ ویلی شي د کوم چې یو سر په چین کې وي او بل سر یې د شام په ملک کې وي مونږ مرګ لوبه شمیرو، له هغه څخه هیڅکله نه ویریږو، زمونږ عقیده ده چې د مرګ یوه ورځ ټاکل شوې وي، او د جګړې په ډګر کې خو مرګ مونږ خپله کامیابي او سعادت ګڼو.

هبیره و ویل! هغه قسم خوړلی دی چې تر هغه وخته پورې چې ستا ځمکه تر پښو لاندې ونه ځپي او له تا څخه خراج تر لاسه نه کړي بیرته نه ځي.

د چین خاقان ته د مسلمانانو د طاقت پوره پوره اندازه وه او هغه لدوی سره جنګیدل نه غوښتل، د دې لپاره هغه و ویل! زه ستا د سردار قسم پوره کوم بیا هغه په څو تشتونو کې څه خاوره او ډیر قیمتي سوغاتونه قتیبه رحمه الله ته ولیږه.

له هغه سره یوځای یې یو ډېر شمیر روپۍ یې د خراج په توګه ولیږل او د صلحې غوښتنه یې وکړه، .قتیبه بن مسلم رحمه الله خاوره تر خپلو پښو لاندې وځپله او د صلحې وړاندیز یې قبول کړ او مرو ته بیرته راستون شو •

د ابن اثیر رحمه الله بیان دی چې د .قتیبه بن مسلم رحمه الله مقصد په چین کې باندې د قبضې کولو نهُ و بلکه د هغه یوازینی مقصد د چین د خاقان د خطر بندول وو ځکه چې د چین د صلحې کولو رویه اختیار کړه د دې لپاره هغه له خاقان څخه د خراج په تر لاسه کولو اکتفا وکړه او بیرته مرو ته ستون شو •

په کومه زمانه کې چې .قتیبه بن مسلم رحمه الله د چین په کار کې بوخت وُ خلیفه ولید بن عبدالملک مړ شو او سلیمان بن عبدالملک د خلافت په ګدی کښیناسته، سلیمان د ولید د دورې د ټولو غټو شخصیتونو خصوصاً د حجاج بن یوسف او د هغه تر لاس لاندې عمالو مخلف وُ، .قتیبه بن مسلم رحمه الله هم په هغو کې شامل وُ، د ابن اثیر بیان دی چې یوځل ولید په کومه خبره باندې ناراضه شو او غوښتل یې چې سلیمان له ولي عهدۍ څخه لرې کړي نو حجاج او قتیبه دواړو د دې خبرې تائید وکړ، پدې اساس باندې د سلیمان په زړه کې د دوی دواړو په خلاف کرکه پیدا شوه حجاج خو د ولید په ژوند کې وفات شو، اوس یوازې .قتیبه بن مسلم رحمه الله پاتې وُ مګر کله چې سلیمان د حکومت واګې په لاس کې واخیستل نو په .قتیبه بن مسلم رحمه الله باندې یې مطلق کوم تعرض و نه کړ او هغه یې د خراسان په حکومت باندې برحاله پریښود مګر خپله .قتیبه بن مسلم رحمه الله د سلیمان له لوري څخه بدګماني وه او هغه پدې یقین و چې سلیمان ژر تر ژره د هغه د حریف یزید بن مهلب د خراسان والي مقرروي، ځکه چې هغه پخپلو خطونوکې سلیمان ته د خپلې وفادارۍ یقین ورکاوه او په منځنۍ آسیا کې یې د خپلو خدماتو یادونه کوله او دا اخطار یې هم ورکاوه چې که د هغه په ځای یې یزید بن مهلب د خراسان په ولایت باندې وټاکه نو هغه د سلیمان د اطاعت له کړۍ څخه اوزي، سلیمان لا تر اوسه پورې د هغه دا اخطاریه

ځواب لا نه و راليږلی چې د قتيبه د صبر پيمانه ډکه شوه او هغه د سليمان له بيعت کولو څخه انکار وکړ، پدې باندې .قتيبه بن مسلم رحمه الله د بنو تميم قبيلې ته سخت الفاظ و ويل ځکه چې همغو له ټولو څخه زيات د سليمان پلوي کوله، پايله دا شوه چې وکيع بن الاسود تميمي ټول بني تميم له ځان سره يوځای کړل د .قتيبه بن مسلم رحمه الله مقابلې ته راغلل په زرګونو عجميانو هم له سره ملګرتيا وکړه، په دواړو لوريو کې ډيره خونړۍ جګړه وشوه په کومه کې چې د خليفه سليمان ډله درنه وه او .قتيبه بن مسلم رحمه الله له خپلو ورونو او زامنو سره په ميړانه د جګړې په ډګر کې له منځه لاړل او بريالۍ ډلې د قتيبه سر پرې کړ سليمان ته يې وليږه، دا پيښه د ٩٦هجری سپوږميز کال ده٠

لکه قتيبه بن مسلم غوندې لوی فاتح پدې پايلې باندې چې څومره افسوس وکړی شي لږ ده، يو داسې سپه سالار د چا چې عسکري صلاحيتونو ډير لوی لوی او زورور حکمرانان د اسلامي حکومت اطاعت کولو ته اړ کړل او چا چې له خراسان څخه واخله تر چين پورې ټوله منځنۍ آسيا وښوروله، يوازې پخپل منځ کې د بدګمانۍ او مخالفت ښکار شو٠

ابن اثير رحمه الله ليکلي دي چې يوه خراساني د هغه د وژل کيدو خبره واوريد نو بې اختياره د هغه له ژبې څخه و وتل! په الله تعالی قسم که د .قتيبه بن مسلم رحمه الله غوندې فاتح په مونږ (عجمو) کې وای نو مونږ به د هغه مړی خوندی ساتلی و او له دښمنانو سره به مو د جګړې په وخت کې د هغه د تابوت په برکت سره د فتحې غوښتنه کوله ٠

د پيغام خپروندوی مرکزلخوا

***

سبحانک اللهم و بحمدک اشهد ان لااله الاانت استغفرک و اتوب اليک